

# اسلامي نهضت

د
نادري
کورنۍ
له
راوستو
د
روسانو
ت
ايستو

Ketabton.com

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب له متنه

په نړۍ واله سطحه هم په دريو جبهو کی شديد تنافس او رقابت روان وو، له يوې خوا د غرب او کمونيزم ترمنځ، له بلي خوا د کمونيزم او اسلام ترمنځ او په دريیمی جبهې کي د غرب او اسلام ترمنځ د سړې جګړي سنګرونه تاوده وو، کمونيزم د ځوانۍ مرحلې ته رسېدلی وو، د نړۍ په دوو سترو هېوادونو، شوروي اتحاد او چين باندي مسلط او د نړۍ تر ټولو ستر نظامي ځواك ترې جوړ شوی وو، هجومي حالت ئې درلود، غرب په دفاعي حالت کي وو، ورځ په ورځ شاته روان وو، يو په بل پسي ئې د شوروي اتحاد په ګټه خپلي اډې له لاسه ورکولې، د وسلو د خرڅلاو بازارونه، او د مصنوعاتو تجارتي مارکيټونه ئې کمونستي بلاك ته تخليه کول. کمونيزم نه يوازي په آسيا، شرقي اروپا او افريقا کي په ډېره چټکتيا مخکي روان وو او د غربي حريف سنګرونه ئې فتح کول، بلکي په لاتيني امريکا کي هم د غربي ځواك د مشرتابه د غوړ تر څنګ ئې د خطر زنګونه اوچت وو، ټوله شرقي اروپا، شمالي کوريا، ويتنام، کمبوديا، يمن، سوريه، عراق، مصر، سودان، کيوبا، چلي، او ګڼ شمير د بري په حال کي سياسي احزاب، د وارسا پکت سره تړلي او له مسکو نه خړوبېدل، پېښي د کمونيزم په ګټه او د غرب د مزيد کمزورتيا په لور رواني وي، غرب د پېښو له مهار ولو عاجز وو، په ويتنام کي د امريکا شرموونکې ماتې د غرب روحيه په کلکه ځپلي وه، او د کمونيزم د مقابلې او په دې مقابلې کي د بري طمع ئې ترې سلب کړې وه.. د اسلامي نړۍ په سترو سترو مهمو هېوادونو د کمونيزم سلطه او په مصر، سوريې او عراق کي د اسلامي ډلو ځپل، کمونيزم ته له اسلام سره په منازعې کي هم د برلاسۍ احساس وربښلی وو.

د افغانستان سياسي جريانات لدغه نړيوال بهير نه په کلکه متأثره کېدل، شاهي کورنۍ چي د بريتانيا له زواله وروسته ئي خپل حامي له لاسه ورکړی وو، د مسکو لوري ته مخه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

عنوان — صفحه

د ناشر وینا ---------- أ
سریزه ---------- ۱
نادري کورنۍ څنګه قدرت ته ورسېده؟ ---------- ۷
د نادر خان پاچایي ---------- ۲۱
د ظاهر خان واکمني ---------- ۴۱
شاهي نظام او د یموکراسی ---------- ۶۷
اساسي قانون او سیاسي احزاب ---------- ۸۲
د کمونستانو په وړاندي عکس العمل ---------- ۱۰۴
د مبارزې پرېکړه ---------- ۱۰۸
نشرات ---------- ۱۲۲
د پوهنتون سیاسي فضاء ---------- ۱۲۸
د تودو مناقشو بحثونه ---------- ۱۴۲
د قرآن بې حرمتی ---------- ۱۷۷
د محصلینو اتحادیه ---------- ۱۸۱
له مونږ او نورو سره د دولت چلند ---------- ۱۹۴
د اسلامي نهضت قیادت ---------- ۱۹۶
کمونستانو د نښتو لار غوره کړه ---------- ۲۰۳
د توقیف شپې ورځې ---------- ۲۱۵
د سردار داؤد کودتا ---------- ۲۲۵
لومړۍ تصفیه ---------- ۲۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه تصفیه ---------------------------------------------------------------۲۴۳
د مات وزرو خیل کي--------------------------------------------------------۲۵۲
بی رحمه گاونډی ------------------------------------------------------------۲۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناشر وينا

د افغانستان د اسلامي نهضت د ځلانده تاريخ د مينه والو لپاره مو دا ځل د ورور حکمتيار هغه مهم اثر غوره کړی چې د "ميثاق ايثار" درنې نشريې قسط وار نشر کړی او اوس ئې د يوه بېل کتاب په بڼه کې خپروي. پدې ارزښتناك اثر کې د هېواد د اسلامي نهضت ځلانده تاريخ د پېښو په لوړو ژورو کې څېړل شوی او د هېواد د لرغوني تاريخ هغه برخه احتوا کوي چې د انګريزانو په لاس د نادري کورنۍ له راوستو نه د روسي فوځونو تر ايستو پوري ئې دوام کړی.

ورور حکمتيار غوښتل چې لومړی همدا" ستاسو مخي ته پرته" برخه وليکي او بيا د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته برخه تکميل کړي، خو له هېواد نه د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته چې د روسانو او امريکائيانو د ګډ سازش په نتيجه کي کوم کړکېچن حالات راولاړ شول، د دې کړکېچن او حساس پړاو غوښتنه دا وه چې ورور حکمتيار لومړی د دغي مرحلې پېښې وڅېړي او افغان ولس له هغو خطرناکو توطئو خبر کړي چې د اسلام دښمنانو د اسلام په ضد او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه د مخنيوي په خاطر پيل کړې وې، هغه دې ته اړ شو چي د "پټې توطئې، بربنډې څېرې" تر نامه لاندې هغه کتاب وليکي چي همدا مرحله او د روسانو له وتو نه د طالبانو په لاس د کابل تر پرېوتو پورې د هېواد مهمې پېښې پکې څېړل شوې. بيا ئې لومړنۍ برخه پيل کړه خو متأسفانه دا لومړنۍ برخه لا نه وه تکميل شوې چي زموږ جنګ ځپلی هېواد له يوه بل ناورين سره مخامخ شو، امريکائيانو په افغانستان تېرى وکړ او په خپل ناروا او وحشيانه تېري سره ئې افغانان له يوې بلې لويې ستونزې او يوه بل ستر الهي آزمېښت سره مخامخ کړل. ورور حکمتيار له حالاتو سره د مقابلې لپاره هېواد ته ستون شو او دا مهم کتاب ئې تکميل نکړی شو، موږ دا غوره وګڼله چي همدا برخه هم د يوه کتاب په بڼه کي خپره کړو. د هېواد د لرغوني تاريخ له مينه والو سره وعده کوو چي انشاءالله پاتې برخه به هم د دوی مخې ته ږدو.

د دې کتاب په پای کي به د ورور حکمتيار هغه دوه ادبي ټوټې هم ستاسو مخې ته کېږدو چي د هېواد د اسلامي نهضت تاريخ او له افغانانو سره د دوی د بدو ګاونډيو بد سلوك پکي انځور شوی.

هدف مو دا دی چي خپل ولس له حقايقو خبر کړو، د دښمن توطئو ته ئې متوجه کړو، د دښمنانو د سپکو او ذليلو ملګرو کرغېړنې څېرې افشاء کړو او د افغان ولس راتلونکي نسل ته د مجاهدينو هغه ارزښتناکې تجربې انتقال کړو چي هره يوه ئې په ډېره ګرانه بيه او د زرهاوو سرتېرو د وينو په بيه ترلاسه شوې. پدې اميد چي ارحم الراحمين خدای مو د خپلي لارې د مجاهدينو په ډله کي قبول کړي.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه

و ارنا الباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

د افغانستان د لرغوني تاریخ څلور وروستۍ لسیزي، له تاریخي او سترو پېښو نه ډکي او له ډېرو حساسو شېبو او لوړو ژورو نه ډك کلونه وو، دا لړۍ د ظاهرخان د څلویښت کلني استبدادي واکمني په وروستۍ لسیزي کي له ۱۳۴۰ هجري شمسي کال نه پیل شوه او تر نن پوري دوام لري.

شاهي نظام د هېواد د حالاتو له سمبالولو نه عاجز شوی وو، دې نظام نه د ملك د ادارې استعداد درلود، نه د منطقې د حالاتو سره جوړېدی شو او نه ئې د بین المللي سریع تحولاتو او نویو غوښتنو سره اړخ لګولی شو. د شاه د انحطاطي او استبدادي دور په لسو وروستیوکلونوکي پنځه صدراعظمان یو په بل پسې راوړاندي شول، خو هریو له لنډې مودې وروسته له کار نه ګوښه او استعفا ته اړ شو او خپل ځای ئې د سلطنتي خاندان د خوښي بلي څېرې ته پرېښود. خو پدې سره شاه ونشو کړی چي حالات سمبال او وضعیت مهار کړي او د هغو پټو او څرګندو خوځښتونو مقابله وکړي چي د شاهي نظام د نسکورېدو او د یوه اجتماعي بدلون لپاره پیل شوي وو. سیاسي احزاب صحنې ته راووتل، له بین

المللي جرياناتو نه متأثر ځوانان، منورين او د دنيا له وضعيت نه مطلع افراد چي د خپل هېواد له پرېشان سياسي، اجتماعي او اقتصادي حالت نه سخت ناراضه او د نورو هېوادونو په پرتله ئې ځان ډېر وروسته پاتې ليدو، شاهي منحط نظام ئې د دې انحطاط، اختناق، فقر، لوږې، جهل او بې سوادۍ عامل گڼلو او دا ورته د پېغور خبره معلومېده چي د نورو هېوادو ولسونه دي د خپلي خوښي منتخب حکومتونه ولري خو په افغانانو دي د پرديو د خوښي يوه منحطه کورنۍ حکومت وکړي، داسي کورنۍ چي انگريزانو زموږ په هېواد مسلطه کړه. دا پداسي حال کي چي د بريتانيا امپراطوري ختمه شوې او ټوله منطقه د دوی له سلطې آزاده شوې، له موږ نه وروسته آزاد شوي ملکونه نن د خپل برخليك خاوندان دي او د خپلي خوښي حکومتونه لري، د خپل برخليك ټاکلو لپاره هر څو کاله وروسته د ټاکنو صندقونو په وړاندي ودرېږي، خپل زعيم ټاکي، باصلاحيته پارلمان جوړوي، خو په موږ لاتراوسه د رټل شوي زړې بريتانيا لاس پوڅې کورنۍ حکومت کوي، نورو ولسونو دا حق ترلاسه کړي چي د چارواکو کړه وړه وڅېړي، يو په بل تعويض کړي، نااهله واکداران لري او د خپلي خوښي باکفايته مشران راوړاندي کړي، خو زموږ په ولس يو داسي بې سواده پاچا او د ده کورنۍ حکومت کوي چي په کال کي يو دوه ځله د ده غږ له راډيو نه اوري ، هغه هم د څو دقيقو لپاره، گوري چي د کاغذ له مخي هغه وينا په ډېر زحمت او په وار وار غلطېدو سره لولي چي درباري مشاورينو ورته جوړه کړې او ليکونکو د دې خيال هم ساتلی چي همدا بې محتوی او تکراري وينا په پاچا باندي گرانه تمامه نشي او د ويلو په دوران کي ئې ستومانه نکړي!! گورئ چي په غولوونکي سياسي قانون کي د همدې پاچا په هکله ليکل شوي: "پاچا غير مسئول او واجب الاحترام دی" که پاچا وفات شو، نو د ده زوی، د زوی د نشتوالي په صورت کي ښځه، د ښځي د نشتوالي په حالت کي د ده لور د پاچا ځای نيسي!! يعنی پاچايي د همدې کورنۍ موروثي حق دی، نه د پاچا په انتخاب کي ولس څه حق لري او نه د پاچا لپاره اهليت او کفايت ضروري دی !!! درباري ملايانو او پيرانو د همدې اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


قانون په پاى كي گوتي لگولې، په منبر د همدې پاچا د تخت او تاج د بقا او د دوام لپاره دعا كوي، طبيعي ده چي د نړۍ پدې نوې فضاء كي روزل شوى نسل دا وضعيت ونه زغمي، له نورو ولسونو سره د سيالۍ هڅه وكړي او په خپل هېواد كي د بدلون لپاره ملا وتړي، نه نظام د ځوان نسل د قانع كولو جوگه وو او نه ئې حاميان او پلويان پدې توانېدل چي روانه وضع توجيه كړي، خلك دې ته چمتو كړي چي د سابق په شان روان حالت ومني، له مخالفت نه ډډه وكړي، سكوت غوره وگڼي او د مجهول مستقبل لپاره انتظار وكړي.

په نړۍ واله سطحه هم په دريو جبهو كي شديد تنافس او رقابت روان وو، له يوې خوا د غرب او كمونيزم ترمنځ، له بلې خوا د كمونيزم او اسلام ترمنځ او په دريېمې جبهې كي د غرب او اسلام ترمنځ د مبارزې سنگرونه تاوده وو، كمونيزم د ځوانۍ مرحلې ته رسېدلى وو، د نړۍ په دوو سترو هېوادونو، شوروي اتحاد او چين باندي مسلط او د نړۍ ترټولو ستر نظامي ځواك ترې جوړ شوى وو، هجومي حالت ئې درلود، غرب په دفاعى حالت كي وو، ورځ په ورځ شاته روان وو، يو په بل پسې ئې د شوروي اتحاد په گټه خپلې اډې له لاسه وركولې، د وسلو د خرڅلاو بازارونه او د مصنوعاتو تجارتي ماركيتونه ئې كمونستي بلاك ته تخليه كول. كمونيزم نه يوازې په آسيا، شرقي اروپا او افريقا كي په ډېره چټكتيا مخكي روان وو او د غربى حريف سنگرونه ئې فتح كول، بلكي د خطر زنگونه ئې په لاتيني امريكا كي هم د غربى ځواك د مشرتابه د غوږ تر څنگ اوچت وو، ټوله شرقي اروپا، شمالي كوريا، ويتنام، كمبوديا، يمن، سوريه، عراق، مصر، سودان، كيوبا، چلي او گڼ شمېر د بري په حال كي سياسي احزاب، د وارسا پكت سره تړلي او له مسكو نه خړوبېدل، پېښې د كمونيزم په گټه او د غرب د مزيد كمزورتيا په لور رواني وې، غرب د پېښو له مهارولو نه عاجز وو، په ويتنام كي د امريكا شرموونكې ماتې د غرب روحيه په كلكه ځپلې وه او د كمونيزم د مقابلې او پدې مقابلې كي د بري طمع ئې ترې سلب كړې وه. د اسلامي نړۍ په سترو سترو مهمو هېوادونو د كمونيزم سلطه او په مصر، سوريې او عراق كي د

(c) ketabton.com: The Digital Library




اسلامي ډلو ځپل، کمونيزم ته له اسلام سره په منازعې کي هم د برلاسی احساس وربښلی وو.

د افغانستان سياسي جريانات لدغه نړيوال بهير نه په کلکه متأثره کېدل، شاهي کورنۍ چي د بريتانيا له زوال نه وروسته ئې خپل حامي له لاسه ورکړي وو، د مسکو لوري ته مخه کړه، ترڅو له مسکو نه د خپلي واکمنۍ د ادامې تضمين ترلاسه کړي، مسکو خاص شرايط درلودل، افغاني چارواکو د دغو شرايطو منلو ته ځان اړ ګڼلو، لدې نه پرته ئې بله چاره نه ليدله چي په سياسي، نظامي او اقتصادي برخو کي روسانو ته د دوی د خوښي امتيازات و مني، د اردو د روزني او تجهيز کار ئې روسانو ته وسپارو، د هېواد په شمال، شرق او غرب کي ټولي پروژې لکه د تيلو او ګاز تفحصات، د معادنو استخراج، بند او انهار او د لارو جوړول د روسانو په واك کي ورکړی شوې، د تجارت لويه برخه مخصوصاً زراعتي او نساجي ماشين آلاتو، ترانسپورتي وسايلو او حربي تجهيزاتو اخيستل او د ګاز او پنبې پيرودل، د روسيی کمپنيو لاس ته ورغلل، خو روسانو دا امتيازات کافی نه ګڼل، افغاني چارواکي ئې تر فشار لاندې نيولي وو چي مزيد امتيازات ورکړي، مخصوصاً د کمونستي افکارو خورېدو ته لاره آواره کړې او پرېږدي چي افغاني کمونستان سياسي حزب جوړ کړي، آزاد فعاليت وکړي، آزاد نشرات ولري، په انتخاباتو کي د برخي اخيستلو حق ورکړی شي، له پارلمان نه د دوی د استازو غږ اوچت شي، شاهي منفوره کورنۍ چي له خپل ولس نه وېرېده او په اقتدار کي د پاتې کېدو لپاره ئې له بهرنۍ حمايې پرته بله هيڅ چاره نه ليدله، مجبوره وه د مسکو شرايطو ته غاړه کيږدي، د کمونستي ډلي د جوړېدو شرايط برابر او د ودي لار ئې آواره کړي او لازم امکانات او تسهيلات په اختيار کي ورکړي. پاچا غوښتل چي په هېواد کي داسي دوه حزبي سيستم رايج کړي چي دولتي حزب د شاهي نظام حامي وي او مخالف حزب د کمونستانو تر واکمنۍ لاندې وي خو د شاهي نظام درناوی وکړي. د "خلق ديموکراتيك ګوند" په همدې فضاء کي او له همدې روحيی سره جوړ شو، د خپلي ورځپاڼی په لومړۍ ګڼه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library




ئې د مشروطه شاهي نظام ملاتړ اعلان کړ، د دولت د حمايې تر سيوری لاندې د دوی رسمي او څرګند فعاليت پيل شو، په کمه موده کي د کابل په پوهنتون مسلط شول، ورو ورو ئې لمن نورو علمي مؤسساتو ته خوره شوه او د يوه داسي سياسي حزب په څېر راڅرګند شو چي هرچا د هېواد راتلونکې د دوی په لاس کي ګڼله او هيچا د دوی د مقابلې جرأت نشو کولی. شاه پرستان ونه توانېدل چي د "وحدت ملي" ترنامه لاندې دولتي حزب جوړ کړي، د دوی هلي ځلي ناکامي پاتې شوې.

په همدې داخلي او خارجي کړکېچنو شرايطو کي د هېواد اسلامي پاڅون، د څو با ايمانه زلميانو په لاس پيل شو، نه ئې داخلي حامي درلود او نه بهرنی مرستندوی، نه ئې وسايل او امکانات په اختيار کي وو او نه شرايط او حالات د دوی لپاره چمتو وو، نه چا دا انتظار درلود چي پداسي کړکېچنو ظروفو او شرايطو کي دي يو خپلواك اسلامي تحريك پيل شي او نه چا دا ګمان کولو چي دا د ګوتو په شمېر زلميان به پدې وتوانېږي چي د ځواکمنو سياسي جرياناتو مقابله وکړي، د داخلي او خارجي فشارونو په وړاندي خپل شته والی وساتي، مخکي لاړ شي، وده وکړي او يوه ورځ په يوه داسي ستر ځواك بدل شي چي د هېواد په روانو سياسي او اجتماعي جرياناتو کلکه اغيزه وکړي، د پېښو مسير بدل کړي، ستر ستر سياسي احزاب د هغه په وړاندي ماتې وخوري، د ده په لاس د کمونيزم تېغر ټول شي او د شوروي اتحاد ستره او وېروونکې امپراطوري په زوال محکومه شي.

راشئ وګورو چي دا کارونه څنګه ترسره شول؟ د هېواد اسلامي پاڅون څنګه پيل شو؟ د چا په لاس پيل شو؟ څنګه ئې وده وکړه؟ څنګه د سترو سترو تاريخي افتخاراتو د ترلاسه کولو جوګه شو؟ د تحريك له پيل نه وروسته تر نن پوري د افغانستان په لويو لويو پېښو کي د دې تحريك ونډه څومره وه؟ شاهي نظام څنګه نسکور شو؟ د سردار داؤد کودتا څنګه ترسره شوه؟ بيا ولې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کمونستانو په لاس په قتل ورسېد؟ د ثور د کودتا لاملونه څه وو؟ اسلامي انقلاب څنګه او د چا په لاس پیل شو؟ روسانو ولې زموږ په هېواد تېری وکړ؟ ولې پدې ونتوانېدل چې مقاومت وټکوي، په اوضاع مسلط شي او افغانستان د مرکزي آسیا د نورو هېوادونو په څېر د تل لپاره اشغال کړي؟ ولې له افغانستانه وتلوته اړ شول؟ او څنګه د شوروي اتحاد دا وېروونکې امپراطوري په زوال محکومه شوه؟ د دې ځواکمني امپراطورۍ په زوال کي دافغانستان د اسلامي تحریك ونډه څومره وه؟

دا کتاب د همدې پوښتنو ځوابونو ته مختص شوی، په سر کي به د نادري کورنۍ د استبدادي واکمنۍ د مسلط کېدو په څرنګوالي او کوم نظام چي دې کورنۍ زموږ په هېواد مسلط کړی وو په اختصار سره بحث کوو او لدینه وروسته به د هېواد هغه سیاسي او اجتماعي پېښې څېړو چي د شاهي کورنۍ له نسکورېدو نه بیا د روسي فوځونو ترو تلو پوري زموږ په هېواد کي ترسره شوې.

هیله مي دا ده چي پدې لیکني سره د افغانستان د لرغوني تاریخ د یوې ډېرې حساسې‌مرحلې هغه مهمي پېښې په صادقانه او منصفانه طور وڅېړلی شي چي د هېواد روان حالت د هغوی زېږنده ده او د افغان ولس په راتلونکي برخلیك باندي پرېکنده اثر لري.

و ما توفیقی الابالله علیه توکلت و الیه انیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نادري کورنۍ څنګه قدرت ته ورسېده؟

افغانانو د خپل لرغوني تاريخ په اوږدوکي يوازې هلته ښه ورځ ليدلې او له يرغلونو خوندي پاتې شوي چې ګاونډيان ئي ضعيف او له داخلي ستونزو سره مخامخ وو او پدوی ئې د يرغل او د جګړو د تپلو توان او فرصت نه درلود. خو هر کله چې د دوی ګاونډي هېوادونه ځواکمن شوي او يا د لويو استعماری ځواکونو په اډو بدل شوي، افغانان ئې له ستونزو او ګواښونو سره مخامخ کړي، کله ئې جګړې ورباندي تحميل کړې، کله ئې لاس پوڅي حکومتونه ورباندي مسلط کړي او کله ئې د دوی هېواد اشغال کړی.

افغانستان په وروستيو پيړيو کي داسي حساس ستراتژيك موقعيت درلود چې د نړۍ سترو سترو فاتحانو هغه ته د مهمي اډې او حساس معبر په سترګه کتل، د افغانستان په لوړو تسلط ئې په ټولي منطقې د خپل تسلط لپاره مقدمه ګڼله او د دې هېواد له اشغال نه پرته په ټولي منطقې د خپل تسلط له ادامې نه نشو مطمئن کېدی.

ګورو چې له يوې خوا په ايران کي نادر افشار سر رااوچت کړ، په ټول ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلط شو، فرانسوی توپونه په لاس ورغلل، دا توپونه پدې منطقې کې د لومړۍ ځل لپاره د ده له لوري استعمال شول، په هیڅا کې د هغوی مخې ته د مقاومت توان نه وو، دغو وسایلو او د شا او خوا سیمو د ولسونو ضعف او ناتوانۍ، دی دې ته وهڅاوو چې د خپلې واکمنۍ لمن خوره کړي، د افغانستان په لوري ئې مخه کړه، هرات او کندهار ئې له خاورو سره برابر کړل، هلته ئې د افغانانو له ککرو نه منارونه جوړ کړل، کندهار ئې خپله نظامې اډه وګرځولو، له هغه ځایه د شرق په لوري وخوځېدو، کابل، پېښور، لاهور او ډهلي ئې تصرف کړل.

همدا راز په اروپا کې انګریز ته باروت په لاس ورغلل، د جهازونو، ټانکونو او توپونو خاوند شو، په ټوله نړۍ کې ئې د ځان سیال نه لیدو، غوښتل ئې له همدې وسایلو نه په استفادې سره په ټولې نړۍ حکومت وکړي، د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه ئې تصرف کړل، د شرق په لوري وخوځېد، د هند په نیمې وچې مسلط شو، لویه بریتانیا ئې جوړه کړه، خو په هند باندې د خپل تسلط د دوام لپاره ئې د افغانستان نیول ضروري ګڼل، دې لوري ته ئې مخه کړه، له افغانانو سره درې ځله مخامخ وجنګېدل، هر ځل په زرګونو افغانان د دوی په لاس په قتل ورسېدل، خو پدې ونتوانېدل چې د افغانانو ټاټوبی د تل لپاره اشغال کړي، پس له لنډې مودې بېرته وتلو ته اړ شول، خو داسې وتل چې په ظاهر کې د دوی مسلح قطعاتو او فوځونو افغانستان پرې ایښی، خو خپل افغاني ګوډاګیان ئې تر شا پرې ایښې، په ظاهرکې افغانانو خپلواکې ترلاسه کړې او اشغالګر ځواکونه ئې د هېواد له پولو ایستلې، خو حقیقی خپلواکې ئې نده ترلاسه کړې، د خپلې خوښې حکومت او نظام ئې ندی جوړ کړی، که څه هم په ظاهر کې کندهار یا کابل د هېواد پایتخت ګڼل کېدو، خو په حقیقت کې دهلې او لندن د افغانستان پلازمینې وې، حکمرانه ډله بدلېده را بدلېده، خو د انګریزانو په خوښه، دا دوی وو چې یوه واکمنه کورنۍ ئې په بلې بدلوله، په ټولې هغې مودې کې چې انګریزانو د هند په نیمې وچې حکومت کولو، د افغانستان د سیاسي پېښو تر شا د انګریزانو لاس وو، د چارواکو د تعویض او یو په بل د بدلولو پرېکړه په دهلې او لندن کې کېده، نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار او کابل کې، اصلي واکمن به میکناټن وو او شاه شجاع به یو غولوونکی سمبول.

له نیمي وچي نه د بریتانیایي فوځونو له وتلونه بعد ، چي کله شوروي اتحاد د یوه سترځواك په څېر راڅرګند شو او د افغانستان تر شمالي پولو راورسېدو ، لدې نه وروسته د افغانستان د سیاسي جریاناتو لوري بدل شو او افغانستان د یوه داسي خطرناك سره سیلاب مخي ته پرېووت چي تم کول ئې هرچا ته محال برېښېدو. د بریتانیا د زاړه ښکیلاکګر ځواك د ختمېدو او د شوروي اتحاد د زبرځواك راوړاندي کېدو نه وروسته د افغانستان واکمنه کورنۍ چي د انګریزانو په لاس په افغانانو مسلط شوې وه، مسکو ته مخه کړه او د کرملین له واکدارانو نه ئې په واکمنۍ کي د پاتې کېدو د تضمین ترلاسه کولو هڅه پیل کړه. لدې نه وروسته د افغانستان ټولي خونړۍ پېښي، د واکدارانو په سیاستونو تغییر او یو په بل د دوی بدلول، د مسکو په لاس او د کرملین د واکدارانو په پرېکړه ترسره شوي.

له ډېرو افغانانو سره به دا پوښتني وې چي نادري کورنۍ څرنګه قدرت ته ورسېده؟ پداسي حال کي چي دا کورنۍ د انګریزانو په لاس په افغان ولس مسلط شوه څنګه د بریتانیا له زوال نه وروسته او د هند له نیمي وچي نه د انګریزی فوځونو له وتلو نه پس نسکوره نشوه؟ ولې په هند او پاکستان کي له انګریزانو نه د خپلواکۍ ترلاسه کولو نه وروسته منتخب حکومتونه رامنځته شول، خو په افغانستان یو منحط شاهي نظام او د یوې مستبدي کورنۍ واکمني په خپل حال پاتې شوه؟ اقتدار ته د دې کورنۍ د رسېدو او د اوږدې مودې لپاره د پاتې کېدو اصلي کیسه څنګه وه؟

نادري کورنۍ، د انګریزانو تر سلطې لاندې هند کي د اوږدې مودې تبعیدي ژوند تېرولو نه وروسته د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په وروستیو کلونو کي د انګریزانو په وینا کابل ته راستنه شوې وه، په هند کي د اقامت په دوران کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی مصارف انگریزانو ورکول، په کابل کي له اقامت نه وروسته د انگریزانو په وساطت د پاچا او نادري کورنۍ ترمنځ اړيکي ټينگي شوې، په دربارکي د دې کورنۍ د منل کېدو دوه مهم وجوهات وو: د انگريزانو وساطت او د نادرخان له خور سره په ۱۹۰۲ کال د حبيب الله خان نکاح، حبيب الله خان د انگريزی تاريخ ليکونکو د وينا له مخي ترسلو نه زياتي نکاح شوې ښځي درلودې چي هر مازديگر به ټولي د ده مخي ته ليکه کېدې او ده به د ټولو له منځ نه يوه د راتلونکې شپې لپاره انتخابوله. غلام محمد غبار افغان تاريخ ليکونکی پدې هکله ليکي: حبيب الله ته درباري ملايانو دا فتوی ورکړې وه چي پاچا کولی شي له څلورو نه زياتي ښځي په نکاح کړي، مخصوصاً د نورستان له خلکو نه چي گواکي په جنگ سره د دوی سيمه نيول شوې، د اسيرانو حيثيت لري او ښځي ئې وينځي گڼل کېږي.

دغه سياسي ازدواج دې کورنۍ ته موقع ورکړه چي لومړی په پاچايي دربارکي د پښو ځای پيداکړي او بيا اقتدار ته د رسېدو لپاره ځانته لار آواره کړي.

غبار د حبيب الله خان په دربارکي د دې کورنۍ د غړو د نفوذ په هکله ليکي:

امير حبيب الله خان ورو ورو دې کورنۍ ته ارتقاء ورکړه، نه يوازې په دربارکي، بلکي د افغانستان په فوځ کي هم، محمد آصف خان او محمد يوسف خان د "مصاحبين خاص" تر نامه لاندې د پاچا نديمان شول. محمدنادر خان او ورور ئې محمد علي خان د شاه د محافظي قطعې جنرال او غونډ مشر شول، د نادرخان دوه نور وروڼه، محمد عزيزخان او شاه ولي خان يو د "شاه آغاسی خارجه او رکاب باشي" ترنامه لاندې د خارجه چارو مسئول او بل ئې د شاهي کورنۍ د شاهزادگانو لپاره د آسونو د قطعې آمر (سرخان سپور) وټاکل شو.

همدا راز د نادر خان دوه ترونه، محمد سليمان خان او احمد شاه خان، د نظامي شاه آغاسی او (سرميرسپور) د امير زادگانو د سورلۍ د قطعې آمران

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکل شول، وروسته بیا احمد علي خان د دې کورنۍ بل غړی، په دربارکي وگمارل شو او محمد هاشم خان د نادر خان ورور هم د "سر، سراوسی" ترنامه لاندې د پاچا د حضور د خاصي ډلي آمر وټاکل شو. پدې ترتیب د حبیب الله دربار ورو ورو د دې کورنۍ لاس ته ورغی، خو دې نفوذ او درباري مقام، نه په ملت کي جرړی درلودې او نه څه وزن؛ خو یوه خاصه پېښه د دې باعث شوه چي د نادرخان شخصي وجاهت د دربار او کابل له محدودې نه د یوه زړه ور او باتور ولایت ترسطحی خور شو او هغه دا چي په ۱۹۱۳ ـ ۱۹۱۲ کي د پکتیا خلکو د دولتي فوځ د ظلم په خلاف پاڅون وکړ، د دولت ځواکونه ئې وځپل، شاه لالهانده شو، نادرخان د شاه د خوشحالولو لپاره د دې ملي پاڅون د ځپلو دندي ته داوطلب شو، په پکتیا ئې یرغل وکړ او د مقاومت په ټکولو بریالی شو او پاچا ورته د نایب سالاري رتبه ورکړه.

د دې ترڅنگ د حبیب الله خان د پاچایي په وروستۍ برخي کي د نادر خان ورور محمد هاشم خان ته د نظامي نائب سالاري رتبه ورکړی شوه او د دې ترڅنگ د هرات د فوځ قوماندان وټاکل شو او محمد سلیمان خان د نادر خان د تره زوی د هرات په شان د یوه لوی ولایت د والي په حیث توظیف شو او پدې سره د هېواد د غربی سیمو اوسېدونکو سره د دې کورنۍ اړیکي ټینگي شوې.

غبار د حبیب الله خان د استبدادي او مفسدي واکمنۍ د نسکورېدو په هکله لیکي: د مرکزي مطلق العنان دولت له ورځ په ورځ زیاتېدونکي فشار نه ولس ستومانه شو، دولت په خارجي سیاست کي د انگریزانو تر سلطې لاندې وو، ولس له بهرنۍ سلطې نه خپلواکي غوښتله او د مرکزي دولت له استبدادي سیاست نه متنفر وو، شاه چي د یوه مطلق العنانه واکمن په څېر د هېواد د ادارې واگی په اختیارکي درلودې، عملاً ئې د هېواد چارې بې مسئولیته او مفسدو درباریانو ته پرې ایښې وې او پخپله د عیاشۍ او اخلاقي فساد په ډنډ کي ترستوني غرق وو، تر سلو نه زیاتي ښځي ئې په خپل حرمسرای کي راغونډې کړې وې او په لسهاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیر قانوني زامن ئې درلودل. مولوی عبدالرب کندهاری د کابل د معارف مدیر مکلف وو چې د شاه د حرم هري ښځې ته عربي القاب راپیدا کړي او د ده نامحدودو کوژدو ته شرعي فتوی ولټوي، دغو درباري ملایانو به شرعي حیلې جوړولې او ویل به ئی: له دارالحرب نه د هر شمېر ښځو ترلاسه کول او په خپل حرمسرای کي ساتل، شرعي مانع نلري. د پاچا پلار امیر عبدالرحمن خان د نورستان سیمه د یوه جهاد په ترڅ کي فتح کړې او د سیمي اوسېدونکي ئې مسلمان کړي، دا سیمه د دارالحرب حیثیت لري او د ده زوی امیر حبیب الله خان کولی شي لدې سیمي نه د خپلي خوښي په شمېر ښځیولري!!

د پاچا سلوك له عام ولس سره خو څه کوې حتی له نږدې درباریانو سره داسي وو لکه د یوه آقا او بادار معامله له خپل ذلیل او سپك مریی سره.

دربار ته معزز کسان به ئې په معمولي خبره سپکول، وهل او د سیالانو مخې ته رټل، پدې سره ئې غوښتل چې ټول تر رعب لاندې وساتي او هیڅوك د ده په وړاندې د عزت النفس احساس ونکړي. یو ځل په استالف کي خپل مېله ځای ته تللی وو، نادرخان له خپل معین وخت نه لږ وروسته وروړسېدو، پاچا خپلو عسکرو ته امر وکړ چې هغه ته کرتۍ چپه وروا غوندي، په یابو ئې سپور کړي او د سورو عسکرو سره یوځای ئې د کابل په لوري وخوځوی، ترڅو ټول خلق دا منظره وګوري او د ده لپاره د عبرت سبب شي.

حبیب الله خان په ۱۹۱۹ کي د لغمان د کله ګوش په ښکارځي کي د شپې لخوا په خپلي خیمې کي په قتل ورسېدو، پهره کوونکي عسکر پداسي حال کي شجاع الدوله ونیو چې د شاه له خیمې نه راوتو، خو د قتل ځای ته د نادرخان په رارسېدو سره هغه پرېښودی شو، ویل کېږي چې د ده په قتل کي د شاهي کورنۍ غړو او د نادرخان په شمول ځینو درباریانو لاس درلود. د شاه له قتل نه وروسته سردار نصر الله خان په لغمان کي او امان الله خان په کابل کي د پاچاېي د عوا وکړه، په جلال آباد کي مېشت دولتي قطعاتو لومړی د سردار نصرالله خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچايي ملاتړ وکړ خو درې ورځي وروسته ئې د پاچا د زوی امان الله خان ملاتړ وکړ او عنايت الله خان معين السلطنة او نصرالله خان نائب السطنه ئې د نادرخان په شمول ونيول او لاس تړلي ئې د کابل په لوري وخوځول.

همدا کار د هرات د فوځي قطعاتو له خوا له محمد هاشم خان او محمد سليمان خان سره وشو، دواړه ئې لاس تړلي او په يابو سپاره کابل ته ولېږل، دا کار د خلکو د هغې ژوري کرکي ښودنه کوي چې د دې کورنۍ د غړو په نسبت ئې پدې خاطر درلوده چې له انګريزانو سره ئې ژوري اړيکې وې.

امان الله خان، نايب السطنه نصرالله خان ترهغه په بند کې وساتو چې مړ شو، نادرخان ئې سره له کورنۍ لومړی د ارګ په محبس کې واچاوو او وروسته ئې خوشې کړ او د خپل فوځ سپه سالار ئې کړ او د ده ورونه هر يو شاه ولي خان او شاه محمود خان ئې په فوځ کې د جنرالانو په حيث وټاکل او خپلې دوې خويندې ئې هم دوی ته په نکاح ورکړې.

له انګريزانو سره د درېيمې جګړې په دوران کې نادرخان د ټل او شاه وليخان د وزيرستان د محاذونو قومندانان ټاکل شوي وو، د وزيرستان مجاهدين په شاه ولي خان شکمن شول او د محاذ له قومندانۍ نه ئې عزل کړ او لاس تړلی ئې له سيمې وايست او د نادرخان خواته ئې ولېږو .نادر خان د ټل په محاذ کې غوښتل چې جنګيالي په شا کړي، پدې نامه چې ده ته اطلاع رسېدلې چې د انګريزانو زيات شمېر تازه قطعات د جنګ ميدان ته رالېږل شوي، خو نورو ورسره دا خبره ونه منله، جګړه پيل شوه، په لومړی سر کې د ټل فوځي قلعه د افغاني جنګياليو لاس ته ورغله، خو وروسته د ده د متزلزل قيادت په وجه بېرته انګريزانو ونيوله، نادرخان د تېښتی په حالت کې وو چې له کابله ورته د افغانانو او انګريزانو ترمنځ د متارکې اطلاع ورکړی شوه.

له انګريزانو سره په ۱۹۲۱ کې د روغی جوړې معاهده امضاء شوه او امان الله ته موقع په لاس ورغله چې په داخل کې د خپلې سلطې ټينګولو ته توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي.

د هېواد شمالي او غربي ولایاتو ته ئې هیئتونه ولېږل، فیصله ئې وکړه چې د قطغن، مزار، هرات او کندهار لپاره د وزیرانو په سطحه چارواکي وټاکي، نادرخان ئې قطغن ته ولېږو، خو نادر خان هلته له لنډې مودې پاتېکېدو نه وروسته د ۱۹۲۲ کال په وروستیو کي کابل ته راستون شو. لدې نه وروسته شاه په هغه بې اعتماده شو، امان الله غوښتل چیله روسانو سره خپلي اړیکي ټینګي کړي، نادرخان چي له انګریزانو سره په پټو دوستانه اړیکو متهم وو د شاه په نوی سیاست کي مفیده پرزه نه بریښېده، باید له صحنې لري کړی شوی وی، لومړی د ده وروڼه او ورپسې دی له خپلو ټولو مهمو دندو کناره کړی شوو او بالآخره ئې په کال ۱۹۲۴ کي پاریس ته د وزیرمختار په حیث ولېږو او محمد هاشم خان ئې په مسکو کي سفیر وټاکو، خو په ۱۹۲۴ کي لدې دندو هم منفك کړی شول.

امان الله په داخلي اوضاع له مسلط کېدو او د ده پاچایي ته د ګواښ کوونکو څېرو له تصفیه کولو نه وروسته له نړۍ والو سره د اړیکو ټینګولو لپاره د اروپا دوره وکړه، ځوان، بې تجربه او د دنیا له حالاتونه بې خبره شهزاده د افغانستان په شان له یوه وروسته پاتې هېواد نه د اروپا په دوره وتلی، د مسکو، لندن او پاریس په شان د لویو لویو ښارونو د لیدلو موقع په لاس ورغلې، د دې هېوادونو له ظاهري وضعي نه هومره متأثره شوی چي د اروپا هر څه ورته مقدس او غوره او د خپل ولس هر څه ورته سپك او حقیر په نظر ورغلي، همالته ئې د خپل ملت له هر څه نه د مقاطعې او په هر څه کي د اروپا د تقلید فیصله وکړه. هېواد ته له راستنېدو نه وروسته هغه پخوانی امان الله نه وو، غوښتل ئې د اروپائیانو په پل ګام کیږدي، خو دی نه پوهېدو چي اروپائیان څنګه دې مرحلې ته رسېدلی، د دوی د ترقي لاملونه څه وو، د دوی هېوادونه څنګه سمسور شوي، د سمسورتیا لپاره ئې څومره مظلوم ملتونه له خاورو سره برابر شوي، د دوی د سوکالي او خوشحالي لپاره څومره ملتونه قرباني شوي. د استبداد، اختناق او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهل له دور نه څنګه ژغورل شوي، خپلواکي، ديموکراسي او ترقي ته د رسېدو لپاره د هر هېواد ولس څومره قرباني ورکړې، څومره ويني توی شوې، څومره خولې تويې شوې، افغاني نازولی شهزاده پدې خبرو نه پوهېدو، هغه په اروپا کې لوڅ سرونه، بربنډې پونډۍ، نيکټايي، شپو، دريشي، د ښځو او نارينه وو اختلاط ليدلی وو، ګمان ئې کاوو چې که په خپل هېواد کې همدا شيان رايج کړي نو د اروپائيانو په شان به شي، د تمدن په کاروان کې به شامل شي، غوښتل ئې هرو مرو د اروپائيانو تقليد وکړي، که په بل څه کې تقليد نشي کولی کم له کمه په لباس کې خو بايد د دوی په شان شي، هېواد ته له راستنېدو سره سم، په يوې درباري غونډې کې د ده ميرمني ملکه ثريا د محمود طرزي لور خپل پړونی له سر نه لرې کړ او آخواته ئې وغورځاوو او د ښځو او نارينه وو په ګډې غونډې کې لوڅ سر او چاك ګريوان څرګنده شوه، د درباريانو له ښځو نه هم وغوښتل شوو چې همدا کار وکړي، د ده د پلار بې شمېره ښځو لا د مخه په حرمسرای کې د اروپايي لباس مشق کاوو، مأمورينو ته ئې امر وکړ چې لدې نه وروسته بايد دريشي واغوندي، شپو په سر کړي او نيکټايي واچوي، د جمعې د ورځې په ځای يکشنبه د رخصتي ورځ اعلان شوه او د هلکانو او نجونو ګډ درس پيل شو، د ښځو پښتني او اسلامي حجاب او د نارينه وو ملي جامه په اروپايي لباس بدله شوه.

اکثر تاريخ ليکونکي محققان، د امان الله خان په خلاف د ملي پاڅون لويه وجه د ده همدا ماشومانه اقدامات ګڼي، چې ولس ئې راوپاراوو او د ده مخالفينو ته ئې موقع په لاس ورکړه، خو د ده د اقتدار په نسکورېدو کې د انګريزانو ونډې ته خاصه پاملرنه نکوي. پدې کې هيڅ شك نشته چې افغان ولس د ديني جذباتو په حکم او له ملي عنعناتو نه د دفاع په خاطر د امان الله خان په خلاف راولاړ شو، خو پدې ملي پاڅون کې د هغو کسانو فعاله ونډه، چې تل د انګريزانو په اشاره کله د يوه واکمن او کله د بل واکمن په څنګ کې ودرېدلي او د انګريزانو د لاس پوڅو واکمنانو ملګرتيا ئې کړې، دا خبره ثابتوی چې انګريزانو پدې خاطر د امان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د نسکورولو د هڅو ملاتړ کړی چي دوی په افغانستان د سابق په څېر داسي واکمن غوښت چي یوازې له لندن نه هدایت اخلي او له بل لوري مخصوصاً د انګریزانو له رقیبانو سره د دوستی شوق او هڅه نکوي. انګریزانو دا نشو منلی چي امان الله دي مسکو ته نږدې شي. هغه درباري روحانیون چي د امان الله خان د پلار په دربارکي ټول اخلاقي فساد، عیاشي د دین او پښتني دود دستور خلاف ټول کرغېړن کړه وړه ئې زغملي شو او په خپلو سترګو ئې د پاچا هغه اعمال لیدل چي د شریعت خلاف وو خو لدې سره سره ئې د پاچا د تخت او تاج د بقا لپاره دعا کوله، څنګه ومنو چي نن هغوی د اسلام په خاطر امان الله کافر ګڼي او د ملي پاڅون ملګرتیا کوي. امیر حبیب الله د امان الله پلار تر ده نه ډېر غیر اسلامي کارونه کول، خو درباري مفتیانو هغه ته " ظل الله" ویل!! متأسفانه د کومو کارونو له مخي چي ځینو چپي عناصرو امان الله ته د مترقي پاچا نوم ورکړي، نورو بیا فقط د همدې کارونو له مخي هغه مرتد ګڼلی، شهزاده امان الله خان له ځینو شکلي کارونو نه پرته هیڅ ندي کړي، نه ئې ملت ته کوم خدمت کړی، نه ئې هېواد د ترقي په لار روان کړی، نه ئې په سیاسي او اجتماعي نظام کي دولس په ګټه څه تبدیلي راوستی او نه ئې ولس ته د خپل برخلیك د ټاکلو او د خپل مشر د انتخاب حق ورکړي، د یوه مفسد دیکتاتور پلار نه ئې تخت او تاج په میراث وړی وو، د اقتدار لپاره ئې د خپل پلار په شمول د نږدې خپلوانو له ترور، وژلو او بندي کولو نه هم ډډه ونکړه، هر پاچا یو غاصب انسان دی چي د خپل ولس یو ستر او بنیادي حق ئې سلب کړی او په زور یا د بهرني سازش له لاري په ولس مسلط شوی، هر شاهي نظام د انساني حقوقو منافي نظام دی، د بې عدالتۍ مظهر دی، په حق تلفی، فردي او خانداني استبداد ولاړ دی، هیڅ پاچا ته نه عادل ویلی شو نه مترقي، مګر کوم غله ته عادل ویلی شو؟ مګر کومي باغی ډلي ته چي په کومي سیمي مسلطه شوې په دې خاطر چي له ښکول شوی کاروان سره ئې په ورین تندي معامله کړې او د کاروانیانو له وژلو، وهلو او ټکولو نه ئې ډډه کړې، یوازې د دوی شته ئې تالان کړي، د ښو غاصبانو او باغیانو خطاب کولی شو؟! څوك چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله پدې خاطر مترقي پاچا ګڼي چې د افغانانو ملي جامه ئې بدله کړه، شپو او دریشي ئې رایج کړه، د ښځو پړوني ئې لري کړل، د جمعې ورځې رخصتي ئې د یکشنبې په رخصتي بدله کړه، دا کسان باید د انګریزانو ملکه تر ثریا نه هم زیاته مترقي وګڼي، ځکه هغې او کورنۍ ئې تر امان لله نه ډېر د مخه دا کارونه کړي وو!!

حقیقت دا دی چې افغاني چپي عناصر یوازې پدې خاطر د یوه دیکتاتور پاچا ملاتړ کوي او هغه ته مترقي پاچا وایي چې د دوی له آقایانو (د کرملین له واکدارانو) سره د ښو اړیکو غوښتونکی وو. افغاني درباري مفتیانو هم پدې خاطر امان الله مرتد ګڼلو چې له لندن نه ئې خپله قبله د مسکو په لوري اړولې وه، نه پدې خاطر چې ده د اسلام په خلاف ګامونه اخیستي وو!!

د امان الله خان په خلاف لومړی د شنوارو زړه ور قوم قیام وکړ، شاه خپل خارجه وزیر غلام صدیق خان دې قبیلې ته ورولېږو، هغه د شنوارو له مشرانو محمد علم خان او محمد افضل خان سره ولیدل، دوی د خپلو نورو غوښتنو په ترڅ کې د ملکه ثریا طلاق او د دې د پلار محمود طرزي د حبس مطالبه وکړه. پاچا دا شرایط ونه منل خو د ۱۳۰۷ کال د جدي په میاشت کې ئې په یوه ۱۸ فقره ایز فرمان کې اکثر هغه بدلونونه لغو کړل چې یا د ده د لس کلني پاچایي په دوران کې ترسره شوي وو یا ئې پرېکړه کړې وه خو نه وو ترسره شوي، په ملت کې د شاه په ضد احساسات هومره راپاربدلي وو او د هېواد ګوټ ګوټ ته رسېدلي وو چې پدې فرمانو سره د هغه مخه نیول او د ولس کرکه او نفرت راکمول ممکن نه وو.

د پروان دیندار ولس چې په حساس موقعیت کې او کابل ته ترټولو نږدې وو، د رژیم په ضد پاڅون وکړ، متأسفانه د پاڅون قیادت د داسې کسانو لاس ته ورغی چې د یوه ملي پاڅون د لارښوونې لپاره ئې لازمه وړتیا نه درلوده، نه ئې سواد درلود، نه تجربه، نه دیني معلومات، نه سیاسي پوهه او نه د افغانانو ملي جوړښت داسې وو چې دا ډله د ولس د اکثریت تائید ترلاسه کړي، د دې قیام مشري د حبیب الله خان کلکاني لاس ته ورغله، متأسفانه هغه صالح ملګری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشاورين نه لرل، که نه نو دا لومړی ځل وو چي د ولس له متن نه راولاړ شوی يو زعيم، د بهرنۍ مرستي او ملاتړ نه پرته، د يوه مستبد او مطلق العنان شاهي رژيم په خلاف د ملي پاڅون قيادت کوي، قيام کوونکي د کابل په لور وخوځېدل، د څه مقاومت نه پرته د کابل شمالي دروازې ته ورسېدل، کابل د دوی په لاس کي پرېووت او پاچا د کندهار په لوري وتښتېدو چي هلته د لنډ تم کېدو او څه ناکامو هلو ځلو نه وروسته، د رټل شوو پاچايانو وروستۍ اډې "روم" ته ئې پناه يووړه.

روسانو غوښتل چي د امان الله خان مرسته وکړي، له غلام نبي خان چرخي سره ئې د روسي فوځ يوه اته سوه کسيزه قطعه د کولونل (کی، ام. پريماکوف) تر قومندې لاندې ملګرې کړه، د څو جازونو ترحمايې لاندې ئې د ده مختلط لښکر له آمو نه را تېر کړ چي مزار شريف ببرته د حبيب الله خان کلکاني له پلويانو نه ونيسي. دوی مزار تصرف کړ او د سمنګان په لوري وخوځېدل، حبيب الله خان تازه نفس فوځ د سيدحسين ترمشري لاندې سيمي ته ولېږو، خو پداسي حال کي چي د غلام نبي خان لښکر مخ په وړاندې روان وو، ناڅاپي خبر شو چي د روسانو قطعه په شا شوې او له آمو نه ببرته د شوروي لوري ته اوښتې، له بليخوا اطلاع ورکړی شوه چي امان الله خان هم له کندهار نه د روم په لوري خوځېدلی، مجبور شو له خپل لښکرسره د شوروي اتحاد خاوري ته په شا شي.

حبيب الله خان کلکاني ته چي کومو درباري مفتيانو د خادم دين رسول الله لقب ورکړی وو همدغو کسانو د نادرخان له سلطې نه وروسته هغه د يوه غله په نامه معرفي کړ او د شاهي کورنۍ په خدمت کي مزدور تاريخ ليکونکو همدا فتوی په خپلو تاريخي ليکنوکي رانقل کړه او د همدغو تورلمنو مفتيانو په متابعت کي ئې د ده د اقتدار دوره يوه توره تاريخي دوره معرفي کړه، حال دا چي د مخکنيو او وروستيو دورو په انډول دې دورې ډېر غوره اړخونه لرل، که وطن پالونکو او صالح شخصيتونو د دې بدلون ملاتړکړی وی، پدې سره د بهرنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطه پای ته رسېده، د شاهي نظامونو ټغر د تل لپاره ټولېدو او د یوه ملي مقتدر حکومت لپاره لار آوارېده، خو انګریزان په کمین کې وو، یو ځل بیا ئې په کابل د خپلې خوښې لاس پوځي ډلې د تېلو لپاره پټې او بربنډې هڅې پیل کړې، بیا ئې هغه کورنۍ چې دوی له هند نه افغانستان ته رالېږلې وې، ځینو ته ئې مذهبي او روحاني وجاهت وربخښلی وو او ځینو ته سیاسي، اجتماعي او ملي وجاهت. دا کورنۍ وګمارل شوې چې د حبیب الله خان کلکاني په خلاف ملا وتړي او په ټول ملت، مخصوصاً د پښتنو په سیموکې د کابل د حکمراني ډلې په خلاف خلك راوپاروي، ځیني د امان الله خان د پلوي په پلمه او ځیني د ژبني تعصب په اساس او پښتنو ته د واکمنۍ د بیا انتقال په پلمه، انګریزانو نادرخان او د ده ورونه شاه ولي خان او محمد هاشم خان له فرانسې نه بمبئ ته او له هغه ځایه د لاهور او پېښور په لار افغانستان ته ولېږل، ترڅو د حبیب الله خان کلکاني په خلاف د قومي پاڅون مهار په لاس کې واخلي، محمد هاشم خان ننګرهار ته او نادر خان پکتیا ته داخل شو، دوی پښتنو ته داسي ښودله چې غواړي اقتدار بېرته د پښتنو په لاس کې پرېوزی، د امان الله خان پلویانو ته ئې هغه خط ورښودو چې د ده په نامه ئې له کندهار نه پاریس ته ورلېږلی وو او ورته لیکلي ئې وو چې د شوروي له لاري افغانستان ته داخل شي او د شمال له لوري د حبیب الله خان کلکاني په خلاف کار وکړي، د امان الله خان پلویان ئې پدې لیك غولول او ورته ویل ئې چې غواړي د امان الله خان واکمني بېرته اعاده کړي.

حبیب الله خان کلکاني ته ګرانه وه چې له بهرني ملاتړ نه پرته د داسي یوه حرکت په وړاندي مقاومت وکړي چې نه یوازې د ملت غالب اکثریت په هغه کې فعاله ونډه ولري، بلکې د انګریزانو ملاتړ هم ورسره وي.

نادر خان له پکتیا نه خپل عملیات پیل کړل، خو له مقاومت سره مخامخ شو، د حبیب الله کلکاني پلویانو د محمد صدیق خان او سورجرنیل ترمشرۍ لاندې د ده ټول یرغلونه په شا وتمبول، مجبور شو له انګریزانو نه مرسته وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو د سرحد آخوا قبایل لده سره ملګری کړي، د وزیرو مشرانو د ده ملګرتیا وکړه، د ځاځیو او وزیرو ګډ لښکر د دوبندي له لاري په لوګر برید وکړ، د لوګر له نیولو وروسته د تنګی واغجان له لاري د کابل په لوري وخوځېدل، د محمدګل خان ترمشرۍ لاندې د ننګرهار لښکر هم لدوی سره یوځای شو، د کلکاني ځواکونو ته ئې په محمدآغه او تنګی واغجان کي ماتې ورکړه، د چهار آسیاب له لاري کابل ته ننوتل او د شیردروازي د غره لوري ئې تصرف کړ، حبیب الله خان کلکاني غوښتل چي په ارګ کي ترهغه مقاومت وکړي چي د هېواد له نورو ولایاتو نه د ده پلوي فوځونه کابل ته راورسېږي خو له یوې خوا د ارګ سلاح کوټ منفجر شو، له بلي خوا د ده پیاوړی قومندان پردل خان پداسي حال کي په قتل ورسېدو چي غوښتل ئې د ده د مرستي لپاره ارګ ته داخل شي، مجبور شو له کابل نه ووځي او چاریکار ته ولاړ شي، د نادر خان لښکری کابل ته ننوتي او سملاسی ئې د درباري ملایانو یو ټولګی د امضا شوی قرآن سره حبیب الله کلکاني ته ورولېږو او د متارکې بلنه ئې ورکړه او هغه ته ئې ډاډینه ورکړه چي د جګړي د توقف په صورت کي ده او د ده ملګرو ته عفوه کوي، (دا قرآن د سیدحسین لمسی سیدمنصور د بغلان د ولایت د جهاد امیر په ۱۳۶۲ کال کي ماته وسپارو) حبیب الله خان کلکاني زړه نازړه وو، خو سیدحسین هغه تشویق کړ چي په امضاء شوي قرآن او د روحانیونو پدې هیئت اعتماد وکړي، ده هم باور وکړ او د سید حسین، شیرجان او خپلو وروڼو په شمول د ده ۱۷ کسیز هیئت کابل ته وخوځېد او نادرخان ته تسلیم شو، خو نادر خان خپلي ژمني تر پښو لاندې کړې او دوی ئې له ټولو ملګرو سره د ۱۹۲۹ کال د نومبر د میاشتي په لومړۍ نېټه په قتل ورسول او د مړو اجساد ئې څو ورځې د حضوري چمن په انګړ کي په دار ځوړند پرېښودل ترڅو د نورو لپاره د عبرت وسیله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نادر خان پاچايي

د افغانستان په تاریخ کي دا يوه ډېره سپیره او بد مرغه ورځ وه چي کابل د نادرخان په لاس کي پرېووت او دی د پاچايي په گدی کښېناست او پدې سره په افغانستان يوه داسي مفسده او د پردیو لاس پوځي کورنی مسلطه شوه چي نيمه پيړی ئي په افغانستان مطلق العنانه واکمني وکړه، نومیالي غازيان، ملي څېرې او لوی لوی شخصیتونه ئي یا اعدام کړل، يا ئې ترورکړل، يا ئې په زندانونو کي تر تعذيب لاندې ووژل، يا ئې له هېواده تبعيد او فرار ته مجبورکړل، افغانستان ئې بېرته د انگريزانو په يوې مستعمرې بدل کړ، اختناق، انحطاط، فقر، لوږه، جهل، د ترقي له کاروانه وروسته پاتې کېدل، د گاونډيو له سیالی نه لوېدل او د نړی تر ټولو وروسته پاتې، محتاج او ناتوانه هېواد باندي بدلېدل، د همدې کورنی د کرغېړني واکمنی نتائج وو.

نادرخان د ۱۳۰۸ کال د میزان په ۲۳ کابل ته ننووت او مخامخ د سلام خانې مانۍ ته ولاړ، په سلام خانې کي د پکتيا او وزيرو د مشرانو ترڅنگ د کابل ځيني سپين ږيري او د سابقه دولت ځيني ارکان را بلل شوي وو، دا غونډه د دې لپاره جوړه شوې وه چي نادرخان به په هغې کي وينا کوي، هلته به د هېواد لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زعیم د ټاکلو پرېکړه کېږي، لومړی به نادر خان وینا کوي او د وینا په ترڅ کي به د غونډي له برخه والو نه غواړي چي د لویي جرګې له جوړېدو او له هغي لیاری د هېواد د مشر له ټاکلو سره موافقه وکړي، خو د غونډي له منځ نه به ځیني کسان دا غږ اوچتوی چي همدا غونډه لویه جرګه ده، تاته د پاچا په حیث رأی درکوي، تا هېواد وژغورلو، ته تر بل هرچا د دې کار لپاره مناسب، وړ او مستحق ئی!! همداسي وشول، ده په خپلي لنډي وینا کي وویل: هېواد ته له راستنېدو نه زما یوازنی مقصد دا وو چي له غلو نه هغه وژغورم، دا مقصد ترسره شو اوس غواړم چي لویه جرګه دایره شي او د هېواد لپاره پاچا انتخاب کړي، د ده له همدې وینا سره سم مؤظفو کسانو د غونډي له منځ نه غږ وکړ چي د لویي جرګې رابللو ضرورت نشته، ته په خپله پاچا یې او موږ ټول تا د پاچا په توګه منو!! فیض محمد خان د اماني حکومت د معارف وزیر وویل: د امان الله خان د لویي جرګې اکثر غړي دلته موجود دي، ټول پدې ټینګار کوي چي باید تاسو دا دنده قبوله کړئ، موږ هم د جنوبي د مشرانو په څنګ کي تا د پاچا په حیث منو!! نادرخان له لنډ ځنډ نه وروسته وویل: ستاسو د ټینګار په خاطر دا دروند پیټی قبلوم!!

د لویي جرګې تر نامه لاندې د دغه خندوونکې ډرامې په ترڅ کي هغه د پاچایي په ګدۍ کېنښاست او پدې سره د افغان ولس هغه حرکت متوقف شو چي د سلطنتي رژیمونو نه د آزادی په لوري ئې پیل کړی وو او د نیمي پیړۍ لپاره نور هم د یوې بلي خانداني دیکتاتورۍ په منګولو کي اسیر پاتې شو.

کومه لویه جرګه چي نن ئې په غرب پوري تړلې ډلګۍ او د سلطنتي رژیم پلویان غواړي هماغه لویه جرګه ده چي د ظاهرخان پلار د کابل له نیولو وروسته دایرکړه او دی ئې د پاچا په حیث وټاکو، دوی غواړي چي د همداسي یوې خندوونکې ډرامې په ترڅ کي یو ځل بیا دغه کورنۍ په افغانانو مسلطه کړي، خو دوی دې خبري ته متوجه ندي چي نادرخان د کابل له نیولو نه وروسته او پداسي حال کي د خپلو پلویانو غونډي ته د لویي جرګې نوم ورکړي چي د ده مسلح

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلويانو کابل فتح کړی وو، د کابل د هر کور مخي ته مسلح کسان ولاړ وو، د غونډي غړو د ده د اسيرانو حيثيت درلودو، خو دوی په روم کي له وطنه بهر او پداسي حال کي چي په ټول هېواد کي د پل ايښودو ځای نلري، لويه جرگه غواړي!! پدې نه پوهېږي چي نن نه د افغانستان حالت هماغه د پرون ورځي حالت دی، نه افغانان هماغه پروني افغانان دي او نه نړيوال وضعيت هماغه زوړ حالت دی، پدې نه پوهېږي چي د دوی د بيا مسلطولو لپاره د بريتانيا په شان يوه داسي بهرني حامي ځواك ته ضرورت دی چي په گاونډيو هېوادونو مسلط وي، کابل د دوی لپاره فتحه کړي، دوی کابل ته ورسوی او هالته ورته لويه جرگه جوړه کړي، دوی پدې نه پوهېږي چي شاهي نظامونه يا په ډېرو ناپوه او جاهلو قومونو حکومت کولی شي، يا په ډېرو ضعيفو او ذليلو قومونو، چېري چي ولس ويښ شي، ځان وپېژني، پدې پوه شي چي خلك برابر پيدا شوي، هيڅوك له مور پلار نه پاچا ندی پيدا شوی، واکداران بايد د دوی خادمان وي نه باداران، هيڅوك حق نلري پدوی حکومت وکړي مگر هغه چي په خپله دوی انتخاب کړي وي، هيڅ واکدار دا حق نلري چي خلك خپل غلامان وگڼي، لدوی سره د اسيرانو سلوك وکړي، ملي شتمني داسي وگڼي لکه "دغنيمت مال" او د هر راز تصرف حق ځانته ورکړي، يوه خاصه کورنۍ او ټبر په ټول ولس مسلط کړي، واکمني د خپل ټبر موروثي حق وگڼي او مريبتوب، غلامي او په پټو سترگو اطاعت د خلکو دايمي او لازمي دنده. دا ډله نه پوهېږي چي دا توره شپه تېره شوې، بېرته ئې راگرځول گران او محال دی.

پدې ترتيب نادرخان د تخت او تاج خاوند شو، ده د خپلي کورنۍ د مطلقه واکمنۍ د تحکيم لپاره څو کارونه وکړل:

لومړی ئې داسي کابينه جوړه کړه چي د ده يو ورورمحمد هاشم خان ئې صدراعظم او بل ورور شاه محمود خان ئې د حرب وزير وو او د امان الله خان له وزراوو څخه فيض محمد خان او عليمحمد خان چي په هغي غونډي کي ئې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاچا کېدو ټینګار کړی وو، د خارجه چارو او معارف وزیران، فضل عمر مجددي ئې د عدلیې وزیر او محمد ګل خان مهمند ئې داخله وزیر وو، کابینه داسي جوړه شوې وه چي اصلي واك د ده د کورنۍ په لاس کي وي او نور د دوی مأمورین وي. د ده حکومت په اصل کي د ده او د ده د څلورو ورونو محمد عزیز خان، محمدهاشم خان، شاولي خان، شاه محمود خان او د دوی د اولادې حکومت وو، افغانستان ئې داسي ګڼلو لکه یوه مفتوحه سیمه او افغانان ئې داسي شمېرل لکه اسیران، پدې نظام کي د ده د ټبر هر محمدزایي ته سردار ویل کېدل، په مهمو دندو به له سردارانو نه پرته بل څوك په هغه صورت کي ټاکل کېدو چي په سردارانوکي به د دې دندي لپاره وړکس په نظر نه ورتلو او یا به هغه دومره د دې کورنۍ په وړاندي سپك او ذلیل وو چي د هر یوه په مقابل کي به لاس په سینه ولاړ وو. پیر، وزیر، جنرال او د ده د حکومت هر مأمور به د دې کورنۍ د هر غړي لاس ښکلاوو، درباري پیرانو به د سردارانو لاسونه ښکلول او بیا به دربار دې ته شرایط برابرول چي عام ولس او ساده زړي افغانان د دغو درباري پیرانو لاسونه ښکل کړي.

غلام محمد غبار پدې هکله چي د نادرخان د دولت ټولي داخلي او خارجي مهمي ادارې د ده د کورنۍ او د ټبر د غړو په لاس کي وې داسي لیکي:

"دغه حکومت د دولتي دندو په سپارلو کي لاندې مراتب په نظر کي نیول: د لومړۍ درجې دندي باید د شاهي کورنۍ د غړو په اختیار کي وي، بیا د دې کورنۍ د وړوکي محمدزایي قبیلې په لاس کي، وروسته هغه هندوستانیان چي د شاه د ملاتړ لپاره افغانستان ته لېږل شوي وو، وروسته د زیاتو ځمکو او شتمنیو خاوندان او په پای کي هغه روحانیون چي د دربار په خدمت کي وو، پاتې برخي باید په نورو مأمورینو ډکي شي. د مثال په توګه: د هېواد صدرعظم د پاچا یو ورور، د حرب وزیر شاه محمود خان د پاچا بل ورور چي وروسته د مخکني صدراعظم محمدهاشم خان په ځای وټاکل شو، د سلطنت د وکالت مقام د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربېم ورور شاه ولي خان په لاس کې، چې وروسته په لندن او پاریس کي د افغانستان سفیر شو، د دربار وزیر د ده د تره زوی احمد شاه خان، د ده اخښی محمد اکبرخان د طب د مستقل ریاست رئیس چي یو بې سواده کس وو او وروسته په روم کي دافغانستان وزیر مختار وټاکل شو، د شاه بل ورور محمد عزیز خان په مسکو کي سفیر او بیا په برلین کي وزیرمختار، احمد علي خان او علي شاه خان د پاچا دوه د تره زامن یو په پاریس او لندن کي سفیر او بیا د دربار وزیر او بل د حربي ښوونځي قومندان او بیا د کندهار والي او وروسته د پکتیا افسر، د شاه خوریی اسدالله خان په ۱۹ کلنۍ کي لومړی د شاهي گارد قومندان او بیا د وزیر او سفیر په حیث توظیف شو. د پاچا دوه نور د تره زامن نعیم خان او داؤد خان یو په اتلس کلنۍ کي د خارجه چارو د وزارت د سیاسي مدیریت عمومي مدیر او بیا مختار وزیر په ایتالیا کي چه د نړۍ د دیپلوماسی په تاریخ کي ترټولو کم عمره سفیر وو، وروسته د معارف وزیر، د فواید عامې وزیر او د صدارت د لومړی معاون په حیث، داؤد خان د ده ورور لومړی د ننگرهار د فوځ قومندان، بیا د کندهار او فراه والي او نظامي قومندان او وروسته د پلازمیني د قول اردو قومندان او د حربیی وزیر، داخله وزیر او په پای کي صدراعظم. دا خبره مو باید په پام کي وي چي دا مهمي دندي، د تل لپاره شاهي کورنۍ ته مختص شوې وې، فقط د مرگ یا ډېر زړښت په صورت کي دا تل والی ختمېدو، لکه چي هاشم خان تقریباً ۱۷ کاله د هېواد صدراعظم وو، شاه محمود خان ۲۳ کاله د حربي چارو وزیر او صدراعظم وو، داؤد خان ۳۴ کاله نظامي قومندان، وزیر او صدراعظم وو.

همدا راز د ده، د وروڼو واکمني یوه کلکه او بې رحمه نظامي واکمني وه، چي په ډېر قساوت او بي رحمۍ سره په ولس تطبیقېده، تقریباً د یوې مکملي پیړۍ تر دربېمي برخي پوري د نوموړي کورنۍ دې امتیازاتو او مطلقه واکمنۍ دوام وکړ او په پای کي د میراث په څېر د دې کورنۍ نارینه اولاد ته انتقال شوه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز غبار د هغو محمد زائیانو چي مهم مهم دولتي دندي ورکړی شوې یادونه داسي کوي:

"د محمد زائیانو له شجری نه چي مجموعی شمېريی له اوه زره کسانو نه تجاوز نکوي او د افغانستان د پنځلس ملیونه نفوس په نسبت د یو په دوه زره نسبت دی، لاندې کسان د دولتي اداراتو په سر کي گمارل شوي:

غلام فاروق خان عثمان د ننگرهار اعلی حاکم، د هرات والي، د کندهار والي او په پای کي داخله وزیر، فیض محمد زکریا خارجه وزیر، په ترکیه کي سفیر او وروسته د معارف وزیر. محمد عمر خان د کابلستان والي، محمد هاشم خان د ننگرهار والي او په روم کي سفیر. محمد عتیق خان د زراعت وزیر، نجیب الله خان د معارف وزیر او بیا لوی سفیر په هند او شمالي امریکا کې، عبدالرزاق خان د میمنې او فراه اعلی حاکم او په پای کي د شاه خاص مصاحب او ندیم، سردار عبدالحسین عزیز د روم سفیر، د مسکو سفیر، د معارف وزیر او د فواید عامه وزیر، سلطان احمد خان په ترکیه او مسکو کي سفیر او بالآخره خارجه وزیر، غلام احمد اعتمادي او شیراحمد خان په تهران کي سفیران، عبدالرسول خان په دهلي کي جنرل کنسل، محمد صدیق خان په مشهد کي جنرال کنسل، یارمحمد په تاشکند کي جنرال کنسل، محمد یحیی خان، محمد عثمان خان او حبیب الله خان په ترتیب سره لومړی، دوهم او درېیم معینان په خارجه وزارت کي چي وروسته سفیران شول، البته د هغو محمدزائیانو ذکر دلته لازم نه گڼل کېږي چي په دوهمه درجه دولتي وظایفو گمارل شوي او وروسته لوړو مراتبو ته رسېدلي، فقط غواړم دا څرگنده شي چي دې کورنۍ نه یوازې په افغانستان کي ډېر ثروت او شتمني ترلاسه کړې، بلکي داسي امتیازات ورپه برخه شوي چي فقط انگریزانو په خپلي هندي مستعمرې کي ترلاسه کړي، لدې نه وروسته اکثریت محمد زائیان له اقتصادي او سیاسي پلوه د ټولني ممتازه او پورتنۍ طبقه گڼل کېده."

(c) ketabton.com: The Digital Library



متأسفانه ځيني بې خبره تاريخ ليكونكي د دې كورنۍ واكمني د پښتنو واكمني ګڼي، وايي چې په افغانستان كي ملي ستم حاكم وو، پښتنو په نورو مليتونو حكومت كاوو، سلطه د پښتنو په لاس كي وه، حال دا چې د نادري كورنۍ د واكمنۍ په دوران كي زموږ هېواد د يوه خانداني ـ طبقاتی نظام شاهد وو، سياسي قدرت د يوه ټبر په لاس كي وو او نظام د ټولني د شتمنو او فيوډالانو حامي وو، د ځمكو لويه برخه د دوی په لاس كي وه، د ولس اكثريت د همدې طبقی په خدمت كي وو، د پښتنو نور قومونه، د پكتيا، ننګرهار، كنر، وردك او په ټول جنوب كي مېشت د پښتنو عام ولس د هزاره جات او بدخشان له عام ولس نه په هيڅ څه كي فرق نه درلود، دوی همدومره له لوږې او فقر سره مخامخ وو لكه د شمال خلك، دوی هم د دې كورنۍ د استبداد، اختناق، طبقاتی نظام، تبعيض او نابرابرۍ قرباني وو.

دغو تاريخ ليكونكو دا زحمت ندی ايستلی چي تر پكتيا، ننګرهار، كنر، غزني او وردك پوري تللي وی، په جنوب او غرب كي ئې د پښتنو پرېشانه او دردوونكی ژوند ليدلی وی او هغه ئې د هندوكش د غرونو له اوسېدونكو سره مقايسه كړي او بيا ئې د افغانستان د ټولنيز جوړښت او د هېواد د طبقاتی نظام په هكله د څه ليكلو جرأت كړی وی، متأسفانه دوی د بهرنيو منابعو مخصوصاً له روسي منابعو نه استفاده كړې او په پټو سترګو ئې تقليد كړی.

د ده دوهم كار دا وو چې په ولس كي ټول هغه با احساسه، پوه، مخور او با شخصيته كسان له خپلي مخي لري كړي چي يا ئې د حبيب الله خان كلكاني ملاتړ كړی، يا د امان الله خان په پلوي متهم وو، يا ئې د پرديو له سلطې نه د خپل هېواد په آزادولو كي فعاله او مؤثره ونډه درلوده او د خپلواكۍ په لوی جنګ كي ئې وجاهت ترلاسه كړی وو، مستقل او سرلوړی افغانستان ئې غوښت او د يوې كورنۍ له مطلقه واكمنۍ سره مخالف وو، د دوی لپاره مقتلونه جوړ شول، د محبسونو دروازې پرانستل شوې، په بالاحصار كي خاص توپونه د دې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصب شول چي د دولت همدا مخالفین د دغو توپونو خولې ته ورکړي، په سلگونو کسان په توپونو والوزول شول، ډېر له اعدام نه وروسته په دار ځوړند شول، ډېر نور په هېواد کي د ننه او بهر تبعید شول، مال او ځمکي ئې ضبط شول.

نادرخان کابل ته له ننوتلو سره سم لاندې کسان له محاکمې نه پرته اعدام او د دوی سینې ئې په گولیو سوری کړې:

جنرال پینن بیك خان، میرزا محمد اکبر خان، امرالدین خان، عبداللطیف خان کوهاتی، محمد نعیم خان کوهاتی، عیسی‌خان د قلعه سفید، تازه گل خان لوگري، سلطان محمد خان مرادخاني، محمد حکیم خان چهاردهی وال، احمد شاه خان کندك مشر، دوست محمد خان غونډ مشر د پغمان او سید محمد خان کنډك مشر د کندهار او سپدونکی.

او په هماغو لومړیو ورځو کي ئې لاندې مخور کسان یا محبسونو ته ولېږل او یا ئې تبعید کړل:

سید احمد خان آغا، میر احمد خان، احمد جان خان او زوی ئې، نیك محمد خان، عبدالرحیم خان د محمد آغی، شیردل خان او نوردل خان لوگری، عبدالرحیم خان پیاروخیل او محمد ولي خان د امان الله خان په دربارکي د شاه وکیل.

محمدولي خان ئې وروسته له لاندې کسانو سره یوځای په دهمزنگ کي په دارکړل: جنرال غلام جیلاني خان چرخي، جنرال شیرمحمد خان چرخي، فقیرمحمد خان او میرزا محمد مهدي خان.

نادرشاه د یوه کم ظرفه او ذلیل فاتح په څېر د ټولو هغوکسانو د ځپلو فیصله کړې وه چي د تېرو حکومتونو پلوي ئې کړې، یا د ده له یرغلگر لښکر سره جنگېدلي او یا ئې لدوی نه وېره درلوده او د دوی په وړاندي ئې د حقارت احساس کاوو. د حبیب الله کلکاني د نږدې ملگرو په اعدام او وژلو ئې اکتفاء ونکړه، بلکي د شمالي له ټول ولس نه د غچ په فکرکي وو، مناسب فرصت ته ئې انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوو او د مناسبي بهانې په لټه کې وو، دا بهانه د کلکان د مظلوم ولس هغه پاڅون په لاس ورکړه چې د محلي حکومت د نه زغمېدونکي ظلم او تېري په خلاف ئې پیل کړ، دوی د ۱۳۰۹ کال په دوبی کې د کوهدامن په محلي حکومت حمله وکړه، له کابل نه سیدعبدالله شاه جی او عبدالوکیل خان نایب سالار د یوې عسکري قطعې په سر کې دې سیمي ته ورغلل، خو دوی په جګړې کې ماتې وخوړله، نائب سالار په قتل ورسېد او هندوستاني شاه جی په تښتېدو موفق شو، وروسته جنرال محمد غوث خان له تازه نفس فوځ سره د خلکو د ځپلو لپاره سیمي ته ولېږلی شو، ده د لاري په اوږدو کې کلاګانو ته اور واچاوو، اسیران ئې له جګو برجونو نه لاس تړلي لاندې واچول، پدې وخت کې محمد ګل خان مومند د شمالي د انتظامیه رئیس په توګه سیمي ته ورسېدو او ورپسې له پکتیانه د قومي لښکر ټولګي یو په بل پسې راورسېدل، دا جنګي ټولګي د شاه جي له خوا تنظیم او د سیمي په ولس د برید لپاره لېږل شوي وو. د اصلاح ورځپاڼې د اسد میاشتي په ګڼوکي ولیکل چې د دې قومي لښکر شمېر پنځه ویشت زره مسلح کسانو ته رسېدو چې د احمد زیو، کړوخیلو، ځاځیو، منګلو، طوطی خیلو، وزیرو، وردك، میدان او تګاب له سرتېرو نه جوړ شوی وو، دا د هغه دولتي منظم فوځ په قطعاتو سربېره وو چې د جګړې لپاره سیمي ته سوق شوي وو. دا عملیات هومره وحشیانه وو چې د کورنیو جګړو په تاریخ کې ئې سابقه نه درلوده، کورونه تالان شول، باغونه او کلاګاني وسوزېدلې، د ښځو له لاس، غاړې نه ګاڼې وایستل شوې، بې رحمانه مرګ ژوبله وشوه، د اصلاح ورځپاڼې د دلوی د میاشتي په **۵۸** ګڼې کې ولیکل: محمد ګل خان د کاپیسا او پروان له خلکو نه **۲۳۷۸** توپکونه، ۱۷۰ تفنګچې، **۳۹۳۸۴** د سرو زرو سکې، **۱۴۹۲۰۲** د سپینو زرو سکې ترلاسه او کابل ته را انتقال کړل "حتماً دا غیر له هغه څه وو چې د قومي لښکر جنګیالیو غارت کړي وو" ده پنځلس کسان په خپل شخصي حکم همالته اعدام کړل، **۲۱۷** کسه ئې لاس تړلي کابل ته ولېږل، **۳۲۰۰** کسان ئې په شاقه کارونو وګمارل، د ولایت سرکونه او د پنجشیر ترخاواك پوري اوږده لار ئې پدوی جوړه کړه، د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات شمېر زلمیان ئې اسیر ونیول او په ۷ کنډکونو کي ئې تنظیم او نورو سیمو ته ولېږل، عسکري تهانې ئې پدوی جوړي کړې، یوه فرقه فوځ ئې هلته ځای په ځای کړ، د کلکان څلور کلي ئې وسوزول، چا ته اجازه نه وه چي مړي دفن کړي، باید همداسي په ډاك پاتې وي، وراسته شي، بوی وکړي اوسپي او مارغان ئې وخوري.

همدا کار په قطغن کي د شاه محمود خان تر مشرۍ لاندې وشو، دی د ابراهیم بیك د پلویانو د ځپلو لپاره سیمي ته ولاړ، ابراهیم بیگ لقی د روسانو په خلاف د ترکمن مجاهدینو مشري کوله او د مشهور انور پاشاه له ملگرو څخه وو، د بخارا د امارت له زوال نه وروسته ئې افغانستان ته هجرت وکړ، د کابل چارواکو د ده په خلاف جگړه پیل کړه، زیات شمېر فوځ ئې له قومي لښکرو سره سیمي ته ولېږو، ځای ځای ئې د ده په ملگرو بریدونه پیل کړل، په مېړانه ئې مقاومت وکړ، خو متوجه شو چي دلته د مقاومت دوام ورته گران دی، مجبور شو له آمو سیند نه واوړي، روسان ورته په کمین کي وو، له بریدونو سره مخامخ شو، له کافی مقاومت نه وروسته د ده زیات شمېر ملگری په شهادت ورسېدل، دی اسیر شو او لاس تړلی تاشکند ته ولېږلی شو.

شاه محمود خان د دې غازی ډلي د ځپلو ورځ ولمانځله او په خان آباد کي ئې د فتحی جشن جوړ کړ.

د شمال په خلکو ئې له ابراهیم بیگ سره د ملگرتیا په پلمه داسي محشر جوړ کړ چي چا د هغه تصور نشو کولی، گڼ شمېر مشران ئې د نیولو سره سم اعدام کړل، میرزا محمد یوسف خان د شاه محمود خان د قلم مخصوص مدیر چي د عملیاتو په دوران کي له شاه محمود سره وو، وایي چي په خان آباد کي د اعدام شوو کسانو شمېر له ۷۰۰ کسانو نه زیات وو.

شاه محمود خان د ترکمنانو زر کورنۍ د ښځو، ماشومانو او بوډاگانو په شمول د اسیرانو په څېر له خان آباد نه د یوې عسکري قطعې په نظارت کي بېلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښې او پیاده د کابل په لوري وخوځولې او عسکرو ته ئې امر وکړ چې هره ورځ به درې منزله وهي، هوا ډېره توده وه، د اسیرانو کاروان په لومړۍ ورځ یوازې یو منزل پلي کړ، محافظ افسر د شوراب له لومړي منزل نه شاه محمود خان ته احوال ولېږو چې محبوسین هره ورځ له یوه منزل نه زیات نشي پلي کولی، شاه محمود خان په ځواب کې ورته وویل چې حتماً به دوه منزله وهی، که څوك نشو تلای همالته ئې ووژني، سباته دا امر ټولو اسیرانو ته ابلاغ شو او کاروان د کابل په لوري وخوځېد، د آق چشمې دوهم منزل ته لانه وو رسېدلي چې محافظینو خپل افسر ته اطلاع ورکړه چې درې کسه سپین ږیري او علیل اسیران شاته پاتې دي او نشي تلی، افسر د شاه محمود خان امر محافظینو ته تلګرام کړ او هغوی درې واړه علیل اسیران په ګولیو وویشتل او د ژوند له زحمت نه ئې وژغورل.

دا د اسیرانو ډله په ډېر دردوونکي حالت کابل ته راورسول شوه او په بت خاك کې ځای په ځای کړی شوه او لدوی نه د شاه محمود خان او د نورو سردارانو د ځمکو کرلو لپاره د غلامانو په څېر استفاده کېده.

همداسي یوه وحشیانه معامله په پکتیا کې د ځدرانو د قوم له دریخیلو سره وشوه، ځدران ډېر باایمانه او په خدای مین قوم دی، دوی د نادري کورنۍ له مفسدي واکمنۍ نه په تنګ شول، غوښتل ئې د حکومت په خلاف څه وکړي، غلام نبي خان چرخي د دوی له مشرانو سره لیدنه کتنه وکړه، دوی ته ئې اطمینان ورکړ چې د حکومت په خلاف به په ګډه کار کوي، دوی په خپلې سیمې کې پاڅون وکړ، حکومت خپل د حرب وزیر شاه محمود خان له منظم فوځ او ډېرو پیسو سره ګردیز ته ولېږو، هغه د پکتیا نور قومونه د ځدرانو پر خلاف له حکومت سره ملګرتیا ته چمتو کړل، دغو مشرانو د پښتني دود خلاف له حکومت سره د خپلو قومونو او په دریخیلو باندي د یوه ګډ برید د چمتو کولو لپاره ملا وتړله، د احمدزیو، منګلو، طوطا خیلو، زرمتیانو او په خپله د ځدرانو ځینو قومونو د دولت له ځواکونو سره یوځای له شپږو خواوو د دریخیلو په درې لوی برید پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، ټول کلي ئې تر سخت بمبارد لاندې ونیول، که څه هم کلي کورونه لاد مخه تخلیه شوي وو خو د بمبارۍ په ترڅ کي د دریخیلو ډېر کسان د ښځو، ماشومانو او زړو په شمول په قتل ورسېدل، کورونه او فصلونه ئې وران کړی شول، سل نفره د لیوني فقیر په شمول ونیول شول او لاس تړلي گردیز ته انتقال شول. که څه هم دولتي ځواکونو دا مقاومت وځپلو خو لا څو هفتی نوی تېري شوی چي دریخیلو د وزیرو په شمول د خوست په لوري نوی برید پیل کړ، دولت د دوی له تحرکاتو نه خبر وو، په خوست کي ئې پوره تیاری نیولی وو، له توپچی قواوو نه د زیاتي استفادې په وجه وتوانېدو چي برید په شا وتمبوی.

حکومت چي د پکتیاوالو په خلاف له کوم زور زیاتي نه کار واخیست، نه ئې د دوی سابقه خدماتو ته وکتل، نه دې ته چي نادر خان د دوی په مرسته کابل ته ورسېد، په کوهدامن او شمال کي د نظام د بقا لپاره وجنگېدل، دې کار پکتیاوال متوجه کړل چي د دې نظام بې مروته چارواکي د خپلي واکمنۍ د بقا لپاره هر څه کول جائز گڼي.

له غلزیو سره هم دې ته ورته معامله وشوه، دوی په ۱۳۰۹ کال کي د عبدالرحمن خان تره کي ترمشرۍ لاندې د حکومت له منلو نه سرغړونه وکړه، حکومت کافی شمېر فوځ او ملیشې د الله نواز هندوستاني ترقیادت لاندې د دوی د ځپلو لپاره سیمي ته ولېږل، عبدالرحمن تره کي مقاومت ونشو کړی، د سیمي پرېښودو ته مجبور شو او له هېواد نه ووت.

نادري کورنۍ د مخالفینو په ځپلو کي خاص مهارت درلود، څو کاره ئې کول:

الف: د مخالفینو په ضد اقدام ته به ئې اسلامي رنگ ورکړ، د عدلیې وزارت پرېکړه او د درباري پیرانو او ملایانو فتوی به ئې ترلاسه او اعلان کړه، دوی به ئې عملاً له لښکر سره یوځای کړل او د عملیاتو سیمي ته به ئې ولېږل.

ب: د هر قومي پاڅون په خلاف ئې ژر اقدام کاوو، په خپل لومړي مورچل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي به ئي د هغه د ځپلو بندوبست کاوو او موقع ئي نه ورکوله چي هغه وده وکړي، خپور شي او نورو سيموته سرايت وکړي.

ج: له مخالفينو سره ئي په ډېره بي رحمۍ او قساوت چلند کاوو. د دوی د کورونو ورانول، د شتمنيو تالان، د مؤثرو مشرانو وژل او په دار خيژول، کليوته اور اچول، خپلوان ئي نيول او محبسونو ته لېږل او ترهغه دوی په زندان کي ساتل چي د بيا مخالفت ټول توان طاقت ئي وځپل شي، دا کار دوی له هر هغه چاسره کړی چي د دوی مخالفت ئي کړی که څه هم د دوی ملاتړی وو او قدرت ته د دې کورنۍ په رسولو کي ئي فعاله ونډه وه او دوی ئي د بې دريغه مرستو پوروړي وو.

د: د مخالفت کوونکو په خلاف د فوځي قطعاتو ترڅنګ د هغو قومونو له لښکرو نه استفاده کول چي د دوی مشران به ئي په پيسو واخيستل او د نورو په ضد به ئي جنګول، پدې سره به نه يوازې دوی روان پاڅون وځپلو بلکي په قومونو کي د دښمنۍ او عداوت راولاړولو له لاري به دوی د هرراز ملي قيام مخه نيوله او د دې امکان به ئي ختمولو چي قومونه يو بل ته لاس ورکړي او د دې کورنۍ ظالمانه واکمنۍ ته خاتمه ورکړي.

هـ: د مخالفينو په ضد په عملياتو کي برخه اخيستونکو قومي مشرانو ته به ئي ځمکي، پيسې او اعزازی رتبې ورکولې، پدې سره به ئي دوی له حکومت سره داسي وتړل او له نورو به ئي داسي را بېل کړل چي تل به د حکومت شا ته ولاړ او له هغه نه دفاع کولو ته اړ وو او نوری لاري ورباندي تړل شوې، دواکدارانو د جرم شريك.

حکومت ګڼ شمېر قيامونه داسي وځپل او د مختلفو سيمو د اوسېدونکو ترمنځ ئي د دښمنۍ او عداوت داسي فضاء را پيدا کړه چي د رژيم مخالفين له ملي پاڅون نه مأيوسه شي او لدې لاري د رژيم له پرځولو نه نا اميده شي او په نورو لارو فکر وکړي. په تشدد، زور زياتي او د مخالفينو په وژلو او تړلو هيڅ نظام خپله بقا نشي تضمينولی، دا د يوه نظام د نسکورېدو او زوال عوامل دی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بقا او دوام، له کفر سره نظام دوام کولی شي خو له ظلم سره نه، د ظلم او تېري پای تور او تریخ دی که څه هم وځنډېږي. حسیب خدای مهلت ورکوي خو هیڅکله له ظالم نه غچ او انتقام نه هیروی، دا کېدی شي چي ظالم او بې رحمه واکداران یو ځل، دوه ځله، لس ځله عدالت غوښتونکي وځپی او په ټولني کي داسي حالت راپیدا کړي چي د څه مودې لپاره هیڅوك د دوی پرخلاف د غږ اوچتولو جرأت ونکړي، په اوضاع داسي مسلط شي چي بادي الرأی او ساده لوح خلك گمان وکړي چي دا نظام نور د نسکورېدو ندی او په ټولني کي هیڅ داسي ځواك ندی پاتې شوی چي واکمن رژیم ته گواښ ثابت شي او د هغه اقتدار تهدید کړي، خو دا د الله سنت دی او د تاریخ په اوږدو کي په وار وار تکرار شوی چي د ظالمو واکدارانو اقتدار به خامخا د مظلومانو په لاس نسکورېږي او د دوی په لاس به له هغوی نه غچ اخیستل کېږي.

نادري کورنۍ پدې وتوانېده چي مؤقتاً د ملي قیامونو مخه ونیسي او په ټولني کي د وېرې او خوف فضاء راپیداکړي او د مخالفت هرغږ په سینه کي خفه کړي، خو د ټولني د عدالت غوښتني څپاند او نه خفه کېدونکي احساس بله لار غوره کړه، مجاهدو شخصیتونو، منورینو، ځورول شوو کورنیو او عدالت غوښتونکو، سري او پټې مبارزې ته مخه کړه، د واکمني کورنۍ د مهمو غړو د ترور سلسله پیل شوه، گڼ شمېر هڅي وشوې خو یوازې په څو مواردو کي غشی په هدف لگېدلی:

## د سردار محمد عزیز ترور

لومړی د نادرخان ورور سردار محمد عزیز د داؤد پلار چي په برلین کي د افغانستان له لوري مختار وزیر وو، دیوه افغان محصل په لاس په قتل ورسېد، د ده زړه ور قاتل چي د تحصیلاتو په پای کي د (ماکدی برگ) په فابریکه کي په کار مشغول شوي وو، له خپل یوه ملگري سره دا فیصله وکړه چي د انگریزانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطې نه د هېواد د آزادولو لپاره باید کوم مؤثر کار وکړي، دا ئې غوره وګڼله چې د انګریزانو د لاس پوځي کورنۍ یومهم غړی سردار عزیز ترور کړي او بیا د جرمني پولیس ته ځان تسلیم کړي او اعلان وکړي چې دا کار مو د دې لپاره وکړ چې نړۍ والو ته د افغان ولس په استازیتوب دا خبره ورسوو چې افغانان د انګریزانو سلطه نه مني، له واکمني ډله نه کرکه لري، دا زموږ له خوا د انګریزانو په خلاف یو احتجاج وو، انګریزانو د دغي کورنۍ په لاس زموږ هېواد اشغال کړی او د افغانستان د تباهی باعث شوی، پدې کار سره دوی غوښتل ټوله نړۍ د افغانستان له وضعیت نه مطلع کړي او ټولو ته څرګنده کړي چې افغانان د انګریزانو له خوا تپل شوي حکومت نه مني.

د عملیاتو د څرنګوالي په سر او دا چې یوکس یا دواړه دا عملیات تر سره کړي، مناقشه وشوه، هر یوه غوښتل چې دا کار د ده په لاس تر سره شي، بالآخره د قرعی له لاري د دوی مناقشه حل شوه او دا افتخار د سید کمال په برخه شو، تفنګچه ئې راواخیسته، له ملګری سره ئې خدای پاماني وکړه او د سفارت په لوري وخوځېد، سفارت ته له رسېدو سره سم ئې زنګ وواهو، جرمني محافظ د کارت پوښتنه تري وکړه، هغه خپل کارت ورکړ او له سفیر سره د لیدني غوښتنه ئې وکړه، د انتظار په حالت کي وو چې سفیر پداسي حالت کي له پورتني منزل نه راکوز شو چې سردارعتیق الله او انورعلي د ده ترشا وو، سیدکمال ورمخکي شو، خپله تفنګچه ئې راوایستله او په سردار محمد عزیز ئې دوه ډزي وکړې، چې ځای په ځای ولوېدو او مړ شو، سیدکمال خپل هدف ته رسېدلی وو، تفنګچه ئې آخوا واچوله او د پولیسانو راتلو ته منتظر شو، پولیسان راغلل، دی ئې ونیو او محبس ته ئې واستاوو، دوستانو ئې هڅه وکړه چې هغه پدې خبره قانع کړي چې د تحقیقاتو په دوران کي د اقدام وجه سیاسي نه بلکي شخصي وښیي ترڅو د ده په مجازات کي تخفیف راشي او له اعدام او دائمي حبس نه وژغورل شي، خو ده د محاکمې په ورځ په ډېر جرأت او زړه ورتیا او پوره صراحت سره وویل: د افغانستان شاهي رژیم چې سردار محمد عزیز ئې سفیر او د شاهي کورنۍ غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، د انگریزانو لاس پوڅی رژیم دی، هېواد ورانوي او د تباهي په لوري ئي خوځوي، زه يو افغان يم، دا کار مي د دې لپاره وکړ او هغه مي وواژو چي پدې سره د دې کورنۍ په خلاف د افغان ولس کرکه او نفرت نړیوالو ته څرګند کړم.

په کابل کي د انگریزانو مختار وزیر، (فریزر تتلر) پدې هکله لیکي: د ۱۹۳۲ کال د جون په میاشت کي سیدکمال افغاني محصل، محمد عزیز وواژو او دا خبره ئې اعلام کړه چي: د ده دا عمل د انگریزانو د سلطې په خلاف یو پروتست او احتجاج وو.

نادري کورنۍ د دې په ځای چي دې ته ورته اقدامات د خپل وحشیانه سیاست نتیجه وګڼي، له ظلم نه لاس واخلي، د بې ګناه افغانانو تړل او وژل متوقف کړي، برعکس د خپلي وحشیانه تګلاري په دوام ټینګار کوي او د تشدد مضاعف کولو لار غوره کوي. د هغو کسانو شمېر چي په همدې مودې کي په قتل رسېدلي سلهاوو ته رسېږي چي ځیني ئې دا دي:

سید احمد خان نایب سالار، اعظم خان کندك مشر، محمداکبر خان اکبر، محمد یوسف خان حقیقی، جنرال پینن بیك خان، دوست محمد خان غنډ مشر، احمد شاه خان کنډك مشر، سیداحمد خان د شاهي فرقې کنډك مشر، جنرال غلام جیلاني خان چرخي، جنرال شیرمحمد خان چرخي، امرالدین خان، عبداللطیف خان، محمد نعیم خان، عبدالرحمن خان لودي، فیض محمد خان باروت ساز، تاج محمد خان پغماني، جنرال شیرمحمد خان چرخي، محمد ولي خان، میرزا محمد مهدي خان قزلباش، فقیر احمد خان، علي اکبر خان غونډمشر، خواجه هدایت الله خان، مولاداد خان هزاره، محمدعظیم خان منشي زاده، دوران خان، زمان خان د نجات ښوونځي زده کوونکی، محمدایوب خان د نجات ښوونځي معاون، عبدالطیف خان چرخي، قربان خان هزاره، یو محمود خان، بل محمود خان پداسي حال کي چي زده کوونکی وو، محمد زمان د برېښنا د شرکت کاتب، میرعزیز خان، میرمسجدي خان، عبدالحکیم خان رستاقی، میرزا محمد خان، امیر محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان، میرعبدالعزیز خان او ډېر نور.

او هغه کسان چي په محبس کي د اوږدې مودې تکلیفونو، ستونزو، لوږو، وهلو او ټکولو او د راز راز تعذیبونو په نتیجه کي مړه شوي دا دي:

محمد سعید خان د محمدولي خان خوریی، نایب سالار جانباز خان چرخي، محمد اسعمیل خان د محمد صفرخان زوی، محمد عزیز خان غوربندي د شجاع الدوله ورور، دین محمد خان د فرانسی فارغ التحصیل، سیدغلام حیدر خان د کنر، محمد بشیر خان منشي زاده، میرزا عبدالله خان منصوری. محمد ابراهیم خان قاری زاده، اعظم خواجه د بریښنا د شرکت رئیس، خواجه میرعلم خان، میرزا شیرین خان چرخي، یحیی خان چرخي (څوارلس کلن هلك)، محی‌الدین خان انیس، محمد امین خان د ولي خان خوریی، شیرمحمد خان، محمد کریم خان منشي زاده، عبدالفتاح خان تلگرافی، مسجدي خان هزاره اوگڼ شمېر نور. ټولي بندي خانې په سیاسي بندیانو ډکي وی، په کابل کي د دولت وحشتناك محبسونه د ارگ محبس، د سرای موتی محبس، دهمزنگ، د کوټوالۍ محبس، دا محبسونه ټول د نادري کورنۍ د اقتدار په دوران کي له سیاسي بندیانو نه تر خولې ډك وو.

## د غلام نبي خان چرخي وژنه:

په وژل شوو کسانو کي د غلام نبي خان وژنه ډېره دردوونکې او له مروت نه لري وه: نادرخان هغه ته بلنه ورکړه چي د لېدو لپاره ئې قصر ته ورشي. غلام نبي خان له خپل ورور جنرال غلام جیلاني خان او د ترو زامنو، نایب سالار جانباز خان چي له نادرخان سره ئې په لوگر کي د حبیب الله کلکاني له فوځونو سره د جنگ په دوران کي مرسته کړې وه او دی ئې له مرگ نه ژغورلی وو او له جنرال شیرمحمد خان سره د دلکشا ماڼۍ په لور وخوځېدو. نادرخان په قصرکي د ده د وژلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص تدابیر نیولي وو او مسئولو کسانو ته ئې لازم هدایات ورکړي وو. له قصر نه بهر یوه عسکري منظمه قطعه درول شوې وه، نادرخان د دلکشا په مانۍ کي منتظر وو، غلام نبي خان له موټر نه راکوز شو او د گارد مخي ته په انتظار کي پاتې شو، نادرخان له څه ځنډ نه وروسته راڅرگند شو، د ده او غلام نبي خان چرخي ترمنځ موټر حایل وو، غلام نبي خان او ملگرو ئې احترام په ځای کړ، خو شاه له څه ځواب نه پرته هغه ته وویل:

غلام نبي خانه! له تا سره افغانستان څه بد کړي چي خیانت کوي؟

غلام نبي خان ورته وویل: افغانان پوهېږي چي څوك خیانت کوي؟!

د پاچا رنگ سور شو او په ډېر غصه ناك غږ ئې د گارد سپاهیانو ته وویل! وئي وهی! سپاهیان رامخکي شول او هغه ئې په ځمکه رانسکور او تر لنگتو، سوکانو او د کنداغونو تر برید لاندې ونیو، نادرخان بیا وربانديي غږ کړ: داسي ئې ووهئ چي ومري، پدې سره سپاهیانو د کنداغونو په ځای د توپك د میل په خولو سره په هغه مرگاني گوزارونه پیل کړل، هومره ووهل شو چي همالته ئې ساه وختنه، د ده مړی ئې چي ټول هډوکي او اندامونه ئې مات وو، کورنۍ ته ورولېږو.

## د انگریزانو په سفارت کي مسلحانه عملیات:

دوهم مهم عملیات په کابل کي د انگریزانو په سفارت کي ترسره شول، محمد عظیم خان منشي زاده د منشي محمد نذیرخان زوی چي ابتدائی تحصیلات ئې د حبیبیې په لیسه کي او لوړ تحصیلات ئې په جرمني کي تکمیل کړی وو، با احساسه او هدفمند انسان وو، په انگریزی او جرمني ژبو ئې تسلط درلود، د هېواد د دردوونکې وضعي له لیدو نه سخت ځورېدو، د انگریزانو ناولې مداخلې او له شاهي کورنۍ نه د دوی حمایت ورته د زغملو نه وو، هوډ ئې وکړ چي د انگریزانو د سفیر په وژلو سره نړۍ والو ته څرگنده کړي چي افغانان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګريزانو سلطه او د دوی د لاس پوڅي کورنۍ واکمني نه منې.

د ۱۳۱۲ کال د سنبلې په پنځلسمه د پنجشنبې په ورځ د سفارت په خوا وخوځېد، تفنګچه ئې په لاسی بکس کې کېښوده، د سفارت وره ته ودرېدو، محافظ د ننوتلو اجازه ورنکړه، محمد عظيم خان د سفارت يوه مأمور ته وويل چې غواړي شخصاً له سفير سره د يوې مهمې مسئلې په هکله خبري وکړي، د سفارت يوه مأمور د ستينجر په نامه ده ته خبر راووړ چې سفير مشغول دی، ما ته خپله خبره وکړه چې سفير ته ئې ورسوم، ده هم ورته وويل: سمه ده، صبر وکړه، زه خپل بکس خلاصوم، خپله تفنګچه ئې راوايسته، ستينجر په تېښته شو، خو محمد عظيم خان د تېښتې موقع ورنکړه او هغه ئې وويشت، ورپسې ئې دوه نفره د سفارت هندي او افغاني مأمورين هم وويشتل، بيا ئې تفنګچه لرې واچوله او د سفارت محافظينو ته ئې ځان تسليم کړ. د ډزو د ختمېدو او د محمد عظيم له تسليمېدو وروسته سفير له خپلې خونې راووت او محمد عظيم ته ئې وويل: زه داسې ګڼم چې دا ګولۍ زما په سينه لېګېدلې وې! هغه په ځواب کې ورته وويل: هو، دا کار مې د دې لپاره وکړ چې لندن پدې پوه شي چې موږ خپل اصلي دښمنان پېژنو.

## د نادرخان انقلابي اعدام

د انګريزانو په سفارت کې د محمد عظيم منشي زاده له تاريخي او نه هېرېدونکي عملياتو نه فقط يوه مياشت او يوه ورځ وروسته د ۱۳۱۲ کال د عقرب په ۱۷نيټه، د دلکشا د ماڼۍ په هغه چمن کې چې يوکال د مخه غلام نبي خان چرخي د نادرخان په امر او د ده د ګارد د سپاهيانو د کنداغونو د مرګاني وارونو لاندې په ډېره بې رحمۍ په قتل ورسېد، پدې ورځ همدلته محصلينو ته د جوايزو د ورکولو لپاره خاص محفل جوړ شوي وو، جوايز د نادرخان په لاس وېشل کېدل، ډېرو لوړ رتبه نظامي او ملکي مأمورينو په غونډې کې شرکت کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ، کله چي نادرخان د غونډي ځای ته راغی او درباريان د احترام لپاره ودرېدل او دی د استقبال کوونکو د ليکي مخي ته تېرېدو ، ناڅاپی‌عبدالخالق نومي ځوان له دوهم صف نه راووت او په نادرخان ئې ډزی وکړي، درې گولۍ د هغه په سينه ولگېدې او همالته په ځمکه راپرېوت او له هغه عاقبت سره مخامخ شو چي د ټولو مغرورو او ظالمو واکدارانو پای دی. عبدالخالق د غلام نبي خان چرخي په شمول د سلها وو مظلومو شهيدانو غچ له هغه نه واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ظاهر خان واکمني

د نادر وژنه ستره حادثه وه، که د حکومت په لاس د لویو شخصیتونو له وژلو او په شمال او جنوب کي د قومونو له ځپلو نه څه موده مخکي دا کار شوی وی نو له شك نه پرته به په وضعیت کي ژوره تبدیلي راتله او په همدې ورځ به د نادرخان د مفسدي کورنۍ واکمني د تل لپاره پای ته رسېده، خو دې کورنۍ د نادرخان د واکمنۍ په لنډې مودې کي ملت داسي ځپلی وو چي د یوې غیر مترقبه پېښي په نتیجه کي راپاځېدل او د رژیم نسکورول ورته ممکن نه وو.

د نادر خان ځواکمنو ورونو فیصله وکړه چي د ده ۱۹ کلن زوی د پاچایي په ګدۍ کښېنوي، په ظاهر کي ظاهرخان د تخت او تاج وارث وګڼل شي خو په حقیقت کي ټول واك د دوی په لاس کي وي. د نادرخان په وخت کي هاشم خان د رژیم دوهم ځواکمن کس وو، خو اوس اصلي واکمن دی وو او ظاهرخان فقط د یوه سمبول حیثیت درلود، سیاسي چاري کاملاً د محمد هاشم خان په لاس کي وي او نظامي چاري د ده د ورور شاه محمود خان په لاس کې. څوکاله وروسته د ترونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای د ده دوه تربرونو نعیم خان او داؤد خان ونیو، دوی ته هم په سیاسي او نظامي برخو کي واکمني په میراث ورسېده، په واکمنۍ کي د دوی ګډون د ظاهرخان ټولواك کېدل وځنډول، دې سلسلې د نړیوالي دوهمي جګړې تر پایه دوام وکړ، نولس کلن ماشوم پاچا ته یوازې نوم کافی وو، د واك په معنی او د هغه د استعمال په څرنګوالي نه پوهېدو، اصلي ټولواکان د ده ترونه او بیا تربورونه وو، ده ورو ورو دا احساس کاوو چي د ارګ په خونو کي د ده د پاچاهۍ حیثیت داسي دی لکه په طلائی قفس کي بندي مرغۍ، حتماً به ئې غوښتل چي لدې حالت نه ووځي او ټولواك شي، خو په ابتداء کي ئې نه د دې کار جرأت درلود او نه توان. باید د مناسب فرصت رارسېدو ته ئې انتظار کړی وی، دا انتظار ډېر اوږد شو، هومره ئې دوام وکړ چي دی په عمر پوخ او څلویښت کلنۍ ته نږدې شو او ځواکمن ترونه ئې له مخي لري شول. ده غوښتل چي له تربرونو نه ده ته د واکمني انتقال د یوې لویي جرګې له لاري ترسره شي او دې کار ته قانوني بڼه ورکړی شي، دا زړه ورتیا ئې نه درلوده چي پخپله او د یوه شاهي فرمان له لاري سردار داؤد او سردار نعیم له قدرت نه ګوښه او ځان ټولواك اعلان کړي، خو د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره ئې یو داسي اساسي قانون اعلان کړ چي پاچایي د ظاهرخان د کورنۍ او اولاد میراثی حق وګڼي، پاچا غیر مسئول او واجب الاحترام وشمېری او په دولتي چارو کي د پاچایي کورنۍ د غړوکارکول پای ته ورسوی. د اساسي قانون له اعلان نه د پاچا اصلي هدف دا وو چي پدې سره پاچا غوښتل ځواکمن تربورونه له مخي لري کړي. متأسفانه ځیني تاریخ لیکونکي داسي ګمان کوي چي د اساسي قانون د اعلان وجه یا دا وه چي د دوهمي نړۍ والي جګړې په پای کي اکثر استبدادي نظامونه رانسکور شول، د سلطنتي رژیمونو ځای دیموکراتیکو نظامونو او منتخبو حکومتونو ونیو، د رژیم اصلي بهرنی حامي په زوال محکوم شو او لدې نه وروسته د خپلو لاس پوڅو حکومتونو له حمایې نه عاجز وو، په انګریزانو پوري تړلي حکومت دې ته اړ شو چي د ولس د حمایت ترلاسه کولو لپاره څه وکړي،... دا تحلیل د ډېرو حکومتونو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدق کوي، په ډېرو هغو هېوادونو کي چي د دوهمي لويي جګړي نه مخکي د هغه وخت د طاقتورو ځواکونو مستعمرې وې او د جګړي په نتيجه کي د دغو ځواکونو زوال پدې منتج شو چي د دوی د مستعمرو سياسي جوړښت بدل شي او د زړو حکومتونو ځای نوی حکومتونه ونيسي، پدغو هېوادونو د استبداد او اختناق خورې توري وربځي ورو ورو لري شي او د تنفس نوې آزاده فضاء رامنځته شي، پدې کي هم شك نشته چي د افغانستان سياسي فضاء هم لدې عمومي نړۍ وال بهير نه حتماً څه ناڅه متأثره شوې وه، خو زموږ په هېواد کي دغه غولوونکي اصلاحات لکه د ظاهرخان د کورنۍ واکمني ته قانوني بڼه ورکول او له دولتي چارو نه د شاهي کورنۍ د غړو ګوښه کول اساساً پدې خاطر ترسره شوي وو چي ماشوم پاچا ځوان شوی وو، د ټولواك کېدو شوق ئې راپارېدلی وو او غوښتل ئې ځواکمن تربورونه له خپلي مخي لري کړي. د دې کار لپاره يو بل اساسي لامل هم په ګوته کولی شو او هغه دا چي:

د دوهمي نړيوالي جګړي په نتيجه کي د قواوو نړيوال مخکنی انډول متزلزل شو، جرمني مضمحل شو، د بريتانيا ځای امريکا ونيو او شوروي اتحاد د يوه نوی لوی ځواك په څېر سر رااوچت کړ، د اروپا لويه برخه د هغه ترسلطې لاندې راغله، د شرق په لوري د جاپان تر اوبو او په جنوب کي د افغانستان تر پولو ورسېد، د داسي يوه يرغلګر ځواك په وړاندي د افغانستان په شان وړوکي هېواد، له هغه منحط رژيم سره، نشو تم کېدای، واکداران له ولس نه وېرېدل، له خپلو خلکو سره ئې هغه څه کړي وو چي پدوی ئې اعتماد نشو کولی، د دې په ځای چي ولس ته رجوع وکړي، د نوی بهرني حامي په لټه کي شو، غوښتل ئې د مسکو حمايت ترلاسه کړي، مسکو خپل شرايط درلودل، مسکو اوس د داسي يوه استعماری ځواك پلازمينه وو چي د کمونيزم برلاسی ئې غوښتله او پدې باور وو چي کمونيزم بايد په ټولي نړۍ حکومت وکړي او د غرب پانګوال نظام په ختمېدو دی، ناچار به خپل ځای کمونيزم ته پرېږدي، د دنيا له هيڅ ځواك نه ئې سترګه نه سوه. د کابل واکمني کورنۍ فيصله وکړه چي مسکو په هري بيې راضی کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکو خپل شرایط درلودل، واکمني کورنۍ د دغو شرایطو منلو ته ځان اړګڼلو ، مسکو تر دې نه په کم شي نه راضي کېدو چي په افغانستان کي باید د دوی پلوي عناصر سیاسي حزب ولري، آزاد فعالیت وکړای شي. دولت د همدې لپاره داسي اساسي قانون اعلان کړ چي د سیاسي احزابو جوړول ئې مجاز ګڼل، له همدې قانوني جواز نه په استفادې سره سیاسي احزاب میدان ته راووتل. په عمومي توګه دا ډلي په دوو برخو وېشلی شو:

یوه هغه چي د روسانو په پانګه او د روسیې د سفارت تر مستقیمي لارښودني او حمایې لاندې ئې خپل کار پیل کړ، کافی امکانات ئې درلودل، دولت هم حمایه کول، کم له کمه د هغوی مخه ئې نه نیوله او داسي څه ئې نه کول چي دا ډله روسانو ته د دولت له چلند نه شکایت وکړي.

بله ډله هغه وه چي د هېواد له رواني وضعي نه شاکي او د بدلون په لټه کي وو، خو نه ئې ځواکمن حامي درلود او نه خاصه مفکوره، ملي احساساتو راپارولي وو او د نړیوالو تحولاتو نه متأثر شوي وو. د دې ډلي پلویان په یوه او بله بهانه وځورول شول، بندیان شول، تبعید شول او له راز راز کړاوونو سره مخامخ شول، د یوې ټینګي اعتقادي زېرمي د نه درلودو په وجه ونتوانېدل د کړاوونو په وړاندې خپل شته والی وساتي او کار ته دوام ورکړي، د لاري په نیمایي کي متلاشي شول او له صحنې ووتل. خو کمونستان وتوانېدل چي ورو ورو وده وکړي او په یوه داسي ډلي بدل شي چي د هېواد په وروستیو پېښو کي قاطع ونډه ولري، د دې لپاره چي د هېواد د هغه وخت سیاسي او اجتماعي حالات په دقیقه توګه درک کړی شو د هغه مختلف اړخونه په تفصیل سره څېړو:

## د شاهي کورنۍ وضعیت

د هاشم خان او شاه محمود خان له مرګ نه وروسته د دوی ځای داؤد خان او نعیم خان ونیو، داؤد د اقتدار لیوال وو، غوښتل ئې د روسانو په مرسته قدرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړي، له کمونستانو سره ئې نږدې اړیکي وې، کمونستانو هغه د افغانستان د مترقي نهضت مؤسس ګڼلو، ظاهرخان له هغه نه وېره درلوده، په حکومت کي د داؤد د شته والي په صورت کي د ده د ټولواك کېدو هیله نه ترسره کېده، د اساسي قانون په پلمه ئې هغوی له قدرت نه لریکړل. پدې سره قدرت ټول د ظاهرخان په لاس کي پرېووت، ده ته دا موقع پداسي حالت کي لاس ته ورغله چي بې رحمه ترونو او تربورونو ئې افغان ولس داسي ځپلی وو او د وېری داسي وحشتناکه فضاء ئې راپیدا کړې وه چي د رژیم په خلاف د عصیان او بغاوت جرأت ترکلونو کلونو په ولس کي ختم شوی وو، مخصوصاً د نادرخان له قتل نه وروسته، دوی په سلهاوو کسان پدې قتل کي د لاس درلودو په پلمه یا اعدام کړل، یا ئې د محبس تورو خونو ته ولېږل او په لاسونو پښو کي ئې ځینځیرونه ورواچول، یا ئې یوې خوا بلې خوا تبعید کړل، دا تصفیې او دا وحشیانه عملیات هومره شدید او غضبناك وو چي تر ډېرو کلونو په افغان ولس وېره او هیبت مسلط وو، مؤثر شخصیتونه ځپل شوي وو، د دې تصفیې په دوران کي هر هغه څوك قرباني شو چي ولس ورباندي راغونډېدی شو.

په شاهي کورنۍ کي له سردار داؤد نه پرته بل داسي څوك نه وو چي د ظاهرخان ټولواکي له ګواښ سره مخامخ کړي.

روسانو نه غوښتل چي ظاهرخان له واکه لري کړي. روسانو هومره امتیازات ترلاسه کړی وو چي د ظاهرخان لریکول ئې بې فایدې ګڼل، برعکس په قدرت کي د ده پاتې کېدل ورته مفید برېښېدو.

د ظاهرخان د پاچایي د اوږدېدو اصلي لاملونه همدا وو، که نه نو په ده کي نه د مشرتابه مواصفات وو، نه د هېواد د اداري کفایت او نه د دولت د چارو د سمبالولو استعداد. د افغانستان په اوږده تاریخ کي شاید تر ده زیات نا اهله، بې کفایته، ناپوه او تنبل پاچا نه وي تېر شوی. د ده کار دا وو چي په کال کي به ئې درې، څلور ځله د اخترونو، جشن او د کال د لومړۍ ورځي په مناسبت د ولس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه لنډه، بې محتوا او تکراري وينا کوله، هغه هم د کاغذ له مخې چې په هرې جملې کې به بند پدو او د الفاظو له سمې افادې نه به عاجز وو، د کال ډېرې ورځې به ئې په ښکار او مېلو تېرولې، ګڼ شمېر ښکارځايونه او د چرچو ځايونه ئې ځان ته جوړ کړي وو، هم په شرابو معتاد وو او هم په چرسو. په عياشۍ او اخلاقي فساد کې ترستوني غرق وو. نه ئې د دې پروا درلوده چې په ولس څه تېرېږي او نه ئې لدې شرم درلود چې نړۍ وال چېرې رسېدلي او موږ چېرې پاتې يو او افغانان څومره لدې کاروان نه وروسته پاتې شوي او له هيچا سره د سيالۍ کولو ندي، لدوی سره د ولس غم نه وو، دا ورته مهمه نه وه چې ولس په فقر، لوږې، جهل، بيمارۍ او احتياج کې ژوند کوي، نه د ولس پرې پرې جامې، ژېړ مخونه او بربنډې پښې او نه د هېواد غمناك او شرموونکی اقتصادي او اجتماعي وضعيت او نه دا چې نن افغانستان د نړۍ تر ټولو هېوادونو وروسته پاتې دی او په هرڅه کې نورو ته محتاج دی، دا مسائل هغوی ته مهم نه وو، د شاهي کورنۍ هرغړي ځانته د اروپا په سويه ژوند برابرکړی وو، د هېواد په هرې سيمې او هر ولايت کې ښه ځمکه د دوی وه، سمسور باغونه د دوی وو، لوی لوی قصرونه د دوی وو، چې هرولايت ته به ولاړې او سمسور باغ او آباده ښېرازه ځمکه به په نظر درغله، يا لويه قلعه او ستر قصر به دې تر سترګو شو او پوښتنه به دې وکړه چې دا د چا دی؟ نو د شاهي کورنۍ د يوه غړي نوم به ئې درته واخيست، د کابل په شا و خوا سيمو، لکه چهارآسياب، موسهی، چهلستون، بګرامي، پغمان، کاريزمير، ارغندي، لوګر، سروبی، جلال آباد، نورستان ... کې هر يوه ځانته د ځمکو او باغونو تر څنګ د چرچو او مېلو ځايونه جوړ کړي وو.

د خارجه وزارت مهمې دندې سردارانو ته مختص شوې وې، سفيران به يوازې په هغه صورت کې له سردارانو نه پرته بل څوك ټاکل کېدو چې مناسب سردار به ئې ورته نه وو موندلی. د حقوقو پوهنځي د ديپلوماسی شعبی‌کې يا د سردارانو زامن منل کېدل، يا د هغه اشرافو زامن چې د شاهي کورنۍ سره به ئې خاصې اړيکې وی. دا د اشرافو پوهنځی وو، لدې نه واکمنان او سياست مداران

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وتل، سیاست او واکمني د پاچایي کورنۍ حق وو، دوی له مورنه واکمنان پیدا شوي وو او "عوام الناس" دا حق نه درلود چي د دوی په موروثي حق کي تشبث وکړي!!! دوی خپله نیك بختی د ولس په بدبختی کي لټوله، هاشم خان به ویل: که ولس محتاج او وږی وو ستا په شا او خوا به راغونډ ېږي او که موړ وو د تا پروا نکوي. ده د فیل مرغانو فارم درلود، د کورنۍ غړي ئې یوه ورځ په داسي حالت کي فارم ته بوتلل چي فیل مرغان وږی ساتل شوي وو، د دوی په لیدو سره ټول په زغاسته د دوی مخي ته را غونډ شول، خو بله ورځ ئې دوی ته دانه ورکړې وه، چي د کورنۍ غړي ئې فارم ته راوستل گوري چي فیل مرغان د مخکي ځل په څېر د دوی خواته نه رازغلي، هاشم خان ورته وویل : ولس هم همداسي دی، که دي وږی وساتو ستا لاس ته به گوري او ستا په شا او خوا به راغونډ ېږي، خو که په گېډه موړ شو له تا نه بې نیازه کېږي. دا د شاهي کورنۍ فلسفه وه، د همدې منطق په حکم دوی عملاً خلك په لوږه او فقر کي ساتل.

د پاچا، ملکې او د شاهي کورنۍ د نورو غړو لاسونه ښکلول په درباریانو فرض وو، ممکن نه وو چي څوك د ی لوړو مقامونو ته د رسېدو شوق وکړي پرته لدې چي د شاهي کورنۍ په وړاندي سرټیټ کړي او لاسونه ئې په سترگو وموښي، عزت ته د رسېدو لار همدا وه چي د عزتمندو په وړاندي سپك او ذلیل شي.

## د هېواد اقتصادي وضعیت

لکه څنگه چي د هېواد سیاسي قدرت د یوې کورنۍ او په هغې پوري د تړلو کسانو په لاس کي وو، همدا راز شتمني، ځمکي، شرکتونه او بانکونه هم د همدې ډلي په واك کي وو. سیاسي نظام د داسي یوه اقتصادي نظام ساتونکی وو چي غریب مزید غریب کړي او غني مزید غني، د غریبانو په زبېښلو کي د اغنیاوو لاس آزاد پرېښودل شوی وو، دوی د ناداره طبقې د استثمار لپاره هرڅه کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، نه سود حرام وو، نه احتکار او نه د بې وزلو له مجبوريتونو نه ناروا استفاده، نه د ځمکه وال او بزګر ترمنځ، نه د تاجر او مشتری ترمنځ، نه د بډای او نادار ترمنځ او نه د فابريکې د خاوند او کارګر ترمنځ د تعامل په هکله نه کوم قانون وو او نه کومه ضابطه، استخدام کوونکي له استخدام شوو سره هرڅه کولی او د دوی له اړتيا او مجبوريت نه ئې هره استفاده کولی شوی.

د نادري کورنۍ د واکمنۍ په دوران کي افغانستان تل يو زراعتي هېواد پاتې شوی، ځمکه د توليد اصلي او اساسي وسيله وه، ځمکه د محدودو کورنيو په لاس کي وه، دا ځمکي يا له مسلط او حاکم نظام سره د ملګرتيا په وجه دوی ترلاسه کړې وی او يا د کمو ځمکو د خاوندانو له مجبوريتونو نه په استفادې سره ئې لدوی نه اخيستی او ورو ورو ئې خپلي ځمکي زياتي کړې وی، د زراعتي ځمکو زياته برخه د هغو کسانو په لاس کي وه چي تر ۱۰۰۰ جريبه ئې زياته ځمکه درلوده، که څه هم د ميراث د ويش اسلامي قانون په يوه لاس کي د ځمکو د تراکم مخه نيوله او مسلسل ئې لويي ځمکي په وړو وړو وېشلې خو په يوه غير اسلامي ماحول کي يوازې لدې لاري د فيوډالي نظام او د هغه له خطرناکو عواقبو مخنيوی ممکن نه وو، بزګران يا په ځمکو پوري تړلې کورنۍ وې، چي هم د دوی دنده له پلار نه اولاد ته په ميراث رسېده او هم په خپله دوی له ځمکه وال پلار نه د ده اولاد ته په ميراث رسېدل او يا ئې ځمکه په اجاره کرله. دوی دې ته اړ وو چي د حاصلاتو تر اخيستلو پوري خپل ورځني مالي مشکلات د پور له لاري حل کړي، د ځمکو خاوندانو به يا د سود په مقابل کي دوی ته پور ورکولو او يا به ئې د ځمکي حاصلات مخکي له مخکي لدوی نه په کمه بيه واخيستل، بزګران تل د مالکينو پوروړي وو، دا پور به کال په کال زياتېدو او خبره به دې حدته ورسېده چي بزګران خپله کمه ځمکه، د يوې (قلبې) غوايي او هرڅه وپلوري ترڅو د پور فشار راکم کړي. د کمو ځمکو خاوندان ورو ورو له صحنې نه وتل او خپلي ځمکي ئې د زياتو ځمکو د خاوندانو په نفع له لاسه ورکولې. د دوی خوراك اکثراً تريخ چای او وچه مړۍ د اوربشو، جوارو او کله د غنمو وه، يوازې هغه کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وزه يا غوا ئې ساتلی شوی، پدې توانېدل چي کله کله د شيدو، مستو او تروو خوند وڅکي. اکثراً پدې نتوانېدل چي په کال کي څو ځله هم د غوښي کټوه باندي کړي.

د اکثرو کورنيو وضعيت داسي وو:

يوه له تيرو يا ختو نه جوړه شوې توره کوټه چي لوړوالی ئې د انسان ترقد نه ټيټ وو، پدې خوني کي به ټولي کورنۍ ژوندکاوو، پخلی به د خوني منځ کي کېدو، په ژمي کي به د خوني يوې خوا ته د دوی مواشي، يوه کنج کي غله، بلي خوا ته د سوند لرگي وو، دېوالونه، مخصوصاً د خوني چت به له دوده تك تور وو، د باران او واورو په ورځو کي به خوني څڅېدې، د څڅوبي توري اوبه به پدوی را پرېوتې.

د پښتنو په سيموکي ئې جامو ته کالي ويل او دا د دې لپاره چي په کال کي به يو ځل بدلېدل، جامه به هلته بدلېده چي ورسته به شوه، په وار وار گنډلو او پيوندولو به نوره له استفادې لوېدلې وه، هغه خو بختور وو چي کالي ئې درلودل، په نورستان کي خلکو د وزو څرمني اغوستلې.

د مالدارۍ وضعيت هم همداسي وو، واړه مالداران ورو ورو له صحنې وتل او خپل هرڅه ئې د لويو مالدارانو په گټه له لاسه ورکول، د هېواد سياسي نظام د اقتصاد هره برخه په خپل رنگ کي رنگولې وه، تل همداسي کېږي، د ټولني د اقتصادي نظام جوړښت د سياسي نظام په لاس ترسره کېږي.

افغانستان د اوبو د زېرمو له ناحيې ډېر غني دی، شايد د دنيا کم هېوادونه له هغه سره پدې هکله سيالي وکړي شي، خو زموږ د اوبو زياته برخه بهرته درومي، زموږ ټول نهرونه طبيعي دي، مفسدو حکومتونو د اوبو مهارولو او د نهرونو کيندلو او د دښتو خړوبولو په هکله هيڅ څه ندي کړي. د افغانستان هم ځمکه د نفوس په تناسب زياته ده او هم د اوبو زېرمي، که دولت يوازې اوبه مهار کړي او د برق د توليد يا د بېدياوو د خړوبولو په برخه کي ترې کار واخلي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د ټول افغان ولس لپاره کفایت کوي او د فقر او لوږي مخه نیول کېدی شي، بلکي موږ د سیمي له نورو هېوادونو سره پدې هکله مرسته کولی شو.

د ظاهرخان د واکمنۍ تر وروستیو شپېو له څو لویو ښارونو نه پرته چي د پخو سړکونو په ذریعه سره وصل شوي وو او هغه هم د بهرنیو هېوادونو د مرستو له لاري، د هېواد اکثر سړکونه خام او خاورین وو. د زراعت د ودي لپاره د نهرونو ترڅنګ لارو ته ضرورت دی چي یوه سیمه له بلي سره وصل کړي، له یوې نه بلي ته د زراعتي محصولاتو انتقال آسانه کړي، خو تر دې نیټې یوازې د ننګرهار، هرات، کندهار او مزار لوی ښارونه د پخو سړکونو په ذریعه له کابل سره وصل شوي وو، پاتې ولایات او د پخو سړکونو یوې خوا بلیخوا ته ټولي سیمي له پخو سړکونو او په ډېرو مواردوکي له خاورینو سړکونو نه هم محروم وو.

په همدې شلمي پیړۍ کي زموږ په مظلوم هېواد کي د انتقالاتو لپاره له اوښانو، آسونو او خرو استفاده کېده، په کابل کي له یوه ځایه بل ځای ته انتقالات د هغو کراچیو په ذریعه ترسره کېدل چي سړو به په زحمت کشولې.

د کابل په شمول له څو لویو ښارونو نه پرته چي څه ناڅه ئې اوسېدونکو برق درلود، د ټول افغانستان خلك د برېښنا له نعمت نه محروم ول، په ډېرو سیمو کي خلکو د رڼا لپاره له هغو څراغونو نه استفاده کوله چي له قرون وسطی نه په میراث پاتې وو، له پخی ختې نه جوړ شوو کودوړوکي د شرشمو تېل اچول او په هغه کي له پنبې نه په لاس اوبدل شوې فیلته کېښودل او د رڼا لپاره هغه بلول. پداسي حال کي چي که د افغانستان د اوبو له زېرمو نه د برېښنا د تولید په کار کي استفاده وشي نه یوازې د برېښنا له ناحیې د ټول هېواد مشکلات حل کولی شو بلکي خپلو ګاونډیو هېوادونو ته کافی مقدار برېښنا صادرولی شو، یوازې د کنړ له سیند نه کم له کمه ۱۰۰۰ میګاواټه برق ترلاسه کېدی شي، خو لدې مهم سیند نه هیڅ استفاده نه کېږي، ټولي اوبه ئې د پاکستان په لوري درومي. د کنر سیند خواته د ګمبېری لویه دښته پرته ده چي تقریباً شپیته زره جریبه د کرلو وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه لري خو د کنر له سیند نه نه د بریښنا د تولید په برخه کي کار اخیستل شوی او نه د همدې دښتي د خړوبولو په برخه کي.

د هندوکش د دنگو غرونو د واورو له سترو سترو زېرمو نه چي کومي اوبه د شمال په لوري بهېږي اکثراً له مناسبي استفادې نه پرته د مرکزي آسیا هېوادونو په لور درومي، حال داچي ترهمدې اوبو لاندې د دښت میرعلم او دښت اودان په شان پراخی وچي دښتي پرتی دي چي په سلهاوو زره جریبه د کر وړ ځمکه ترې جوړېدی شي، خو له نا اهله واکمنانو سره نه د هېواد د سمسورتیا فکر وو او نه د غم ځپلي ولس د اقتصادي ستونزو د حل کولو اندیښنه.

دې ته ورته وضعیت د هېواد په جنوب او غرب کي گورو چي د افغانستان په اوبو دې سیمو ته نږدې گاونډي هېوادونه سمسور شوي او د دې سیمي ولسونه ډېره کمه استفاده ترې کوي.

د افغانستان په اکثرو سیموکي د ځمکي لاندې د اوبو زېرمي ډېری ژوري ندي په کم مصرف سره لدې اوبو نه د ځمکو د خړوبولو په برخه کي استفاده کېدی شي، له کابل نه غرب او جنوب غرب ته پراته ولایات له وردك میدان نه بیا تر بادغیس پوري، پدې پراخی سیمي کي ستري ستري دښتي دي چي د ځمکي لاندې اوبه ئې له (۸) نه تر (۳۰) مترو پوري ژوري دي، لدې اوبو نه د واټرپمپ په ذریعه په آسانۍ سره استفاده کېدی شي، که دولت د دې سیمي خلکوته فقط بریښنا رسولې وی دا ټوله پراخه سیمه وربانديي سمسورېده.

د هېواد اقتصاد په طبیعي امکاناتو متکي وو، که کله به دا طبیعي امکانات د معمول په څېر ترلاسه نشول نو ولس به لداسي سخت او دردوونکي حالت سره مخامخ شو چي مقابله به ورته گرانه شوه، د ظاهرخان د اقتدار په وروستیو کلونوکي دوه کاله پرله پسې وچ کالي راغله، ولس لداسي قحطي سره مخامخ شو چي خپل زامن به ئې په جوماتونو کي د نورو په اسره پرېښودل، دولت لداسي حالاتو سره د مقابلې هیڅ بندوبست نه درلود، پداسي حال کي چي قرآن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف علیه السلام کیسه د دې لپاره زمونږ مخې ته ږدي چې د احتمالي وچ کالي سره د مقابلې لپاره د واکمنانو په مسئولیت پوه شو، هغه د اوه کلني اوږدې مودې وچ کالي لپاره مخکې له مخکې تیاری ونیو او ولس ئې له لوږې او قحطي نه وژغورو.

د اسلام له نظره فقر او لوږه د انسان د ظالمانه تصرفاتو نتیجه ده نه په طبیعت کې د امکاناتو د کموالي نتیجه، اسلام هغه اقتصادي نظام عادلانه ګڼي چې په هغه کې ثروت د اغنیاوو ترمنځ لاس په لاس نشي، په اسلام کې حکومت د بې وزلو حامي دی نه د اغنیاوو استازی، دولت مکلف دی د اغنیاوو له شتمنیو نه معینه برخه واخلي او پدې سره د نادارو مشکلات حل کړي، دولت په ټولني کې د شتمن او نیستمن ترمنځ د تعادل وسیله ده نه د بې عدالتي او د غریب مزید غریب کېدو او د بډای د مزید شتمن کېدو عامل.

اسلام سود او احتکار پدې خاطر حرام کړي چې لدې نه غریبانو ته صدمه رسېږي، پدې سره د بې وزلو له مجبوریتونو نه ناروا استفاده کېږي، پدې سره یو د خپلو خولو او تناکو له حاصل نه محرومېږي او بل له کار او خولو تویولو نه پرته ګټه ترلاسه کوي.

د ظاهرخان د منحطي واکمنۍ په دوران کې دولت له بې وزلو نه د ښکولو وسیله وه، ټول بار د نادارو په اوږو وو، د سړکونو د جوړولو لپاره به دوی بیګار کېدل، مالیه به دوی ورکوله، د جومات ملا او طالب ته به د وظیفي په نامه دوی ډوډی ورکوله، عسکري خدمت به د دوی په غاړه وو، په جګړو کې به د دوی زامن د قرباني لپاره وړاندې کېدل، د مالیې او د ګمرکي محصولاتو نظام داسې وو چې ترهر چا زیات محرومه طبقه له هغه نه متضرر کېده، اسلام د ځمکې له حاصل نه یوه معینه برخه د بې وزلو حق ګڼي چې دولت به ئې ترلاسه کوي او د نیستمنو مستحقینو مشکلات به ورباندې حل کوي، دولت به دې ته هم جدي پاملرنه کوي چې دا حاصل د کومې ځمکې دی، د باران او سیند په اوبو خړوبېږي او خاوند ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځمکي په خړوبولو مصرف نکوي او که په خړوبولو باندي ئې مصارف کوي، په یوه صورت کي د حاصل لسمه او په بل صورت کي د حاصل شلمه برخه ترلاسه کولی شي. خو د ظاهرخان په نظام کي له ځمکي نه مالیه اخیستل کېده او هغه د بې وزلو نه؛ بلکه د واکمنانو حق ګڼل کېده، دا په اصل کي جزیه وه چي واکمني کورنۍ له افغان مظلوم ولس نه پدې خاطر ترلاسه کوله چي دوی اسیران وو او هېواد ئې مفتوحه سیمه.

افغانستان د ګاز او نفتو غني زېرمي لري، واکمنانو د دې زېرمو د تفحصاتو کار په سیاسي وجوهاتو روسانو ته وسپارو، دوی د شبرغان ګاز استخراج کړ، د ازبکستان له لاري ئې روسیې ته انتقال او اروپائي بازارونو ته عرضه کړ، د ګاز میتر د ازبکستان په خاوره کي او د روسانو ترکنترول لاندې وو، هم ئې بیه روسانو ټاکله او هم د انتقال شوي ګاز اندازه، د دې ګاز په مقابل کي روسانو د افغانستان حکومت ته هغه زړه وسله ورکړې چي نور د استفادې نه وه او د روسانو په ډیپوګانو کي ذخیره شوې وه، دې ته ئې تازه رنګ ورکاوو او په اوچته بیه ئې په افغانستان پلورله.

روسانو نه غوښتل چي د افغانستان له ځاګانو نه نفت استخراج شي، دا ځکه چي پدې کار سره د سرحد نه آخوا د روس تر کنترول لاندې سیمو په زېرمو باندي منفی اثر پرېوتو.

مورږ په حاجي ګك کي د اوسپني هومره ستر معدن لرو چي په نړۍ کي ئې ساری نشته، مورږ د مسو او طلا لویي زېرمي لرو د وروستیو تحقیقاتو په نتیجه کي معلومه شوې چي د کیان په درې کي د سرو زرو یو ستر معدن داسي دی چي له هر ټن تېږي نه تقریباً ۴۰۰ ګرامه طلا ترلاسه کېږي، حال داچی د نړۍ په هیڅ ګوټ کي داسي معدنونه نشو موندلی چي په ټن کي تر ۲۰ ګرامو زیاته طلا ورکړې.

مورږ هومره قیمتی تېږي لرو چي په نړۍ کي ئې ډېرکم مثال پیدا کېږي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه ترڅمکي لاندې پاتې شوي، نا اهله او وطن پلورونکو حکومتونو دې ته هیڅ پاملرنه نده کړې، ظاهر خان همدومره کافی ګڼل چې تشناب ئې د لاجوردو په تیږو پوښل شوی وي او د ارګ په خزانه کي د ده د کورنۍ د ضرورت وړ قیمتي غمي موجود وي.

## مذهب

چېرې چې واك د فرعون په لاس کي وي او شتمني د قارون په اختیارکي، هلته به مذهب د ولس د استخفاف او تحمیق وسیله وي، هلته به مذهبي پیشوایان سحره وي او د دې ډلې په سر کي به هامان وي، د فرعوني نظام ښې لاس. قرآن د یوه فرعوني نظام په هکله همداسي وایي:

هر استبدادي نظام درې برخي لري:

الف: هغه چې په ټولني حکومت کوي او د قدرت واګی ئې په لاس کي دی (فرعون او د ده ملأ او درباریان)

ب: هغه چې د ټولني د اقتصادي نظام مهار د دوی په اختیار کي دی، شتمني او د تولید وسایل ئې په واك کي دي او په بازار حکومت کوي (قارون)

ج: هغه ډله چې د همدې نظام د منلو لپاره خلك ذهناً تیاروي، نظام ته دیني او مذهبي بڼه ورکوي، ولس غولوي، د دوی په سترګو کي خاوري اچوي، له واکمن نه یوه مقدسه څېره جوړوي، کله له هغه نه د خدای سیوری، جوړوي او کله ده ته خدایي مقام ورکوي او له ولس نه غواړي چې نه یوازې په ژوند کي د دې ځمکني خدای لمانځنه وکړي، بلکه له مرګ نه وروسته هم د ده مجسمې ته سرټیټ کړي (هامان او د ده ملګری سحره.)

"فرعون" د "موسی علیه السلام" د مقابلې لپاره ترټولو د مخه "سحره" راوړاندي کوي، لدوی نه د "موسی علیه السلام" د وژلو فتوی اخلي، د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله د "موسی علیه السلام" او د ده د الهي مأموريت او دعوت په هکله وايي: ده دين له گوابښ سره مخامخ کړی، د ټولني له غوره دين نه وتلی، فساد خوروي، اقتدار غواړي، دا هڅه کوي چي ستاسو آرام او سوکاله ژوند پای ته ورسوي، تشنج او اختلاف راولاړکړي، امنيت ختم کړي او شرارت خورکړي.

زموږ د ټولني "فرعون" هم "هامان" درلود، د سحره وو مشر، هغوی به د ظاهرخان په هکله عوامو ته ويل:

د ده ملا اوه وليانو تړلې، کومي سترگي چي په ده ولگېږي د دوزخ اور ورباندي حرام دی، پاچا په ځمکه کي د خدای سيوری دی، پاچا ته د ورځي اوه ناروا قتلونه جائز دي، څوك چي د پاچا نه بغاوت وکړي مباح الدم دی، پاچايي خدای ورکړې، د خدای په ورکړې بايد قانع او راضي وو...

درباري روحانيونو به د ده لاسونه ښکلول د منبر په سر به په هري خطبی کي د ده د تخت او تاج د بقا او د سلطنت د دوام دعا کېده.

د دې خدمت په مقابل کي درباري روحانيونو ته خاص امتيازات ورکول کېدل، د هېواد دوهم درجه شتمن دوی وو، باغونه، قصرونه او پراخه سمسوری ځمکي ئې درلودې. له واکمنو نه ئې "اجوره" ترلاسه کوله او له عوامو نه "شکرانه"، دين او ديندارانو ئې د واکدارانو په پښو کي ذبح کول، هغه هم شرعي ذبح، "طاغوت" د دوی "معبود" وو، هماغه "طاغوت" چي ترڅو انسان د هغه په نسبت کافر نشي، په الله د ده ايمان نه منل کېږي، مذهب د واکدارانو په لاس کي د استخفاف وسيله وه او د درباري روحانيونو په لاس کي د پيسو د لاس ته راورو ذريعه، دين د دوی دکان وو، هغه دين چي له خپل حامل نه د قربانۍ غوښتنه کوي، د ظلم په خلاف د قيام بلنه ورکوي، د مظلومانو د ملگرتيا او د دوی د ژغورني په لارکي د مبارزې هدايت ورکوي، خو دين پلورونکو درباري ملايانو له ظالم نه د دفاع وسيله ترې جوړه کړې وه، دوی ظلم توجيه کاوو او له مظلوم نه ئې غوښتل چي په خپل مظلوميت قانع وي، د ظالم د سر دعا وکړي او د هغه سيوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای سیوری وګڼي.

اسلام د یوه صادق روحاني او درواغجن او ټګمار روحاني ترمنځ د تفکیك لپاره څو مهمي لاربښودني او مشخص معیارونه د مسلمان مخي ته ږدي:

۱ـ وګوره چي هغه د ظالم ملګری دی که د مظلوم؟

۲ـ هغه له خدای نه ویرېږي که له واکدارانو نه؟

۳ـ خپل اجر له خدای نه غواړي که له خدای نه پرته له بل چا؟ طمعه ئې خدای ته ده که له خدای نه پرته بل ته؟

۴ـ د دین په لارکي ځان قرباني کوي که دین د خپلو ګټو لپاره قرباني کوي؟

۵ـ د ظالم واکدار په دربار کي منلی دی که رټل شوی؟

۶ـ دین ئې د مبارزې سنګردی که دکان؟

۷ـ په دیني چاروکي له خلکو شکرانه او نذرانه غواړي که له خدای نه اجر او بدله؟

۸ـ ظالم ته وايي چي له مظلوم نه لاس واخله او که مظلوم ته وایي چي په خپل مظلومیت قانع او راضی اوسه او د ظالم د سردعا کوه؟

موږ په خپل اوږده تاریخ کي دغه دواړه نمونی روحانیون او علماء درلودل، یوه د دین د لوړتیا لپاره سر ورکړی او بل مذهب سپك کړی او د ظالمانو په پښو کي ئې ذبح کړی.

کمونستانو به له اسلام نه د ځوانانو د بېلولو او د اسلام په هکله د شبهاتو راولاړولو لپاره د درباري روحانیونو کړه وړه د دوی مخي ته کیښود ل، په خانقاه کي له عوامو سره د دوی سلوك او په دربارکي د واکمنانو سره د دوی معامله به ئې هغوی ته توضیح کړه او ورته ویل به ئې: اسلام همدغه دی، موږ د مظلومانو ملګری یو او دوی د ظالمانو، موږ انقلاب غواړو او دوی د موجوده نظام بقاء،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ عدالت او برابري غواړو، دوی نابرابري او تبعیض مقدس او الهي امر گني، موږ خلکو ته وایو چي د خپل حق د لاس ته راوړو لپاره قیام وکړي، دوی ولس ته وایي چي د خدای په ویښ قناعت وکړي،.... که د دین له حقیقت نه بې خبره ځوانان د دا راز تبلیغاتو په نتیجه کي لداسي مذهب نه کرکه وکړي او کمونیزم ته ترجیح ورکړې دا نه د کمونستانو د زرنگی نتیجه ده او نه د کمونیزم د قوت او کمال ثمره، بلکي دا د هغو روحانیونو د غلطۍ نتیجه ده چي له دین نه ئې یو کرغېړن تصوېر وړاندي کړي، د حق او باطل ترمنځ د ده دریځ داسي دی چي د هر عدالت غوښتونکي او حق پالونکي کرکه راولاړوي.

په شاهي نظام کي دین سپك او عالم خوار وو، هغه ځوك به مدرسی ته د دیني زده کړي لپاره تلو چي بل کار ئې نشو کولی، اکثراً به ړانده، گوډان، شل، معیوب او معلول کسان مدرسی ته تلل، هلته به دوی له دین نه فقط هومره څه زده کړل چي په یوه جومات کي امامت ورکړی شي، د اودس، لمانځه، نکاح او آذان په هکله د خلکو پوښتنوته ځواب وویلی شي، ټول هم او غم به ئې دا وو چي د فراغت پگړی ئې په سر وتړی او د کوم جومات امامت ترلاسه کړي، د درس په دوران کي به هغه د کلي له خلکو نه وظیفه ټولوله او په همدې به ئې شپه ورځ تېروله، د امامت په دوران کي به هم کلیوالو ته اړ وو، هغوی به ورسره مرسته کوله، اسقاط او خیرات ته به سترگي په لار وو.

د مدارسو درسی نصاب داسي جوړ شوی وو چي په هغه کي نه لیك لوست زده کول شامل وو، نه د اسلام او هېواد تاریخ شامل وو، نه قرآن او حدیث شامل وو، نه ورځنی ضروري علوم. پدې نصاب کي به طالب یوازې د عربي صرف او نحو زده کړه، هغه هم داسي چي نه به ئې په عربي خبري کولی شوی او نه لیکنه او بیا به ئې خلاصه او قدوری ولوستله او په ځینو ابتدایي فقهي احکامو به پوه شو، په مدارسو کي حاکمه روحیه دا وه چي فقه کفایت کوي، نباید په قرآن او حدیث د پوهېدو هڅه وکړو، موږ په قرآن نشو پوهېدی، فقهاوو موږ ته د قرآن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث خلاصه په فقهي احکامو کي توضیح کړي، همدا کفایت کوي، که کوم طالب غوښتل چي لږ مخکي ولاړ شي، نو د یونان زړه فلسفه او بې فایدې منطق به ئې ویلو چي نه د ده په درد خوړلو او نه د ټولني، نه د ده د دنیا په خیر وو او نه د آخرت. لوی او معروف عالم هغه وو چي منطق ئې لوستلی وو، هغه ته ئې (منطقی ملا) ویل، خو هغه غریب به خپل ټول ژوند پداسي څه کي ضایع کړی وو چي نه ئې د ده دین ښیرازه کاوو او نه دنیا، نه به دی د عوامو په خبرو پوهېدو او نه عوام د ده په خبرو، د عوامو لپاره ئې د ویلو څه نه درلودل، هم به قرآن ورنه پاتې وو او هم حدیث.

زموږ ستر ستر علما به داسي وو چي د عادي خط له لیکلو او لوستلو به عاجز وو، د منبر په سر به ئې خبري داسي وې چي ستا به زړه وربانديې سوځېدو. که به کوم ملا جرأت وکړ چي خپلو طالبانو ته قرآن او حدیث تدریس کړي او یا به طالب غوښتل چي په قرآن او حدیث پوه شي، نو دا کار به د دوری په پای کي ترسره کېدو، خو داسي چي په قرآن د پوهېدو لپاره به ئې جلالین لوستو، جلالین یو مختصر تفسیر دی چي په هغه کي اکثراً د آیتونو نحوي جوړښت څېړل شوی، د جلالین د لوستلو معنی دا وه چي دوی په قرآن کي هم نحو زده کوله او د حدیث لپاره به مشکوة لوستل کېدو، خو له "کتاب الجهاد" نه پرته، طالب ته به ویل کېدل چي اوس د جهاد او هجرت ضرورت منتفي دی، جهاد د صحابه وو کار وو او هجرت د مکې له فتحی نه وروسته ختم شوی، د دې باب لوستل او په معنی ئې پوهېدل ضروري ندي.

چي دین په ټولني باندي حاکم نه وي او اقتدار د دین په واك کي نه وي، طبیعي ده چي د دین عالم به د مشرتابه له مقام نه عزل کېږي او په ټولني کي د ده له پرېوتی حیثیت سره متناسبه دنده به ورته سپارل کېږي. د شاهي نظام په دوران کي علماوو ته د نکاح تړل، د ماشوم په غوږ کي آذان کول، د مړی جنازه او د جومات امامت پاتې وو. پدې کي دی د دود دستور تابع وو، ناچار وو هماغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي چي په ټولني کي رائج وو.

ده به نکاح تړله خو د نکاح هرڅه به د شریعت خلاف وو، لور له "مهر" نه محرومه وه، "مهر" د ښځی حق نه بلکي د پلار حق وو، د مهر په نامه به پلار خپله لور خرڅوله، "ایجاب" او "قبول" حتی د کونډو په باب هم نه مراعات کېدل، کونډي داسي ګڼل کېدی لکه د میراث مال چي له یوه نه بل ته په میراث رسېدي، کونډي پدې نه وې پوه کړی شوې چي شریعت دوی ته دا حق ورکړی چي په خپله خوښه ځانته خاوند انتخاب کړي، هیڅوك حق نلري هغه په زور نکاح کړي او د اخیستل شوې مینځي په څېر ورسره معامله وکړي، داسي نکاح تړل دي ته ورته ده چي څوك د سود په معامله کي شاهد، کاتب او ضامن شي.

کمونستانو به دا ټول د اسلام په حساب نیول، دوی به ځوانانو ته ویل: اسلام د روان دردوونکي وضعیت حامي او حتی باعث دی، اسلام نه زموږ پوښتنی ځوابولی شي او نه موغوښتنی ترسره کولی شي. اسلام له قرون وسطی نه په میراث پاتې مذهب دی. د شلمي پیړی له غوښتنو سره اړخ نشي لګولی، اسلام د حاکم استبدادي نظام په خدمت کي دی!!

ځوانان او منورین د خپل راتلونکي مسیر د انتخاب په درشل کي د کمونستانو تر شدید فکری هجوم لاندي دې ته اړکېدل چي دین ته شاکړي او اسلام د دې پیړی له مقتضیاتو سره متناسب ونه ګڼي. دوی د خپلو پوښتنو ځواب نه په جومات کي اورېدو او نه په خانقاه کې، د ده او جومات ترمنځ هومره ژور او عمیق خلیج حایل وو چي له هغه نه تېرېدل ورته ډېر ګران وو. ملا ته هرمکتبی مرتد برېښېدو او مکتبی ته هر ملا له دنیا بې خبره او د موجوده نظام مدافع او حامي. مکتبی پدې نه پوهېدو چي ملا تر ټولو زیات مظلوم او محروم انسان دی، لدې بې خبره وو چي اسلام پدې وضعي همدومره اعتراض لري او هغه په کلکه محکوموي چي دی ئې تصورکوي. اسلام د دې لپاره راغلی وو چي خلك لدې حالت نه وژغوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا لدې نه عاجز وو چې له ځوان نسل سره د پخلا کېدو لاري چاري ومومي، د دوی پوښتنو ته ځواب ووايي او د دين په حقيقت ئې پوه کړي.

اسلامي امت د خپل لرغوني تاريخ په اوږدو کي په فکری او اعتقادي لحاظ څلور مهمي مرحلې درلودې:

## الف: په قرآن د ترکيز مرحله

هغه مرحله چي قرآن د ټولو فکری هڅو محور وو، چي چا به د پيامبر عليه السلام د ملگرتيا اراده وکړه نو له لومړۍ ورځي نه به له قرآن سره آشنا شو، مخامخ به ئې د قرآن زده کړه پيل کړه، تل به له قرآن سره مشغول وو، که څه هم پيامبر عليه السلام به يوې داسي"امي" ټولني کي مبعوث شو چي په ليك لوست نه پوهېدل، خود قرآن همدا لومړيو مخاطبانو د قرآن په مطلب د پوهېدو په اړه نه يوازې څه مشکل نه درلود بلکي قرآن د دوی د الهام لومړۍ او وروستۍ منبع وه، د قرآن ترڅنگ ئې د بل هر څه ضرورت منتفی گڼلو، پدې باور ول چي قرآن يوازې کفايت کوي، پيامبر عليه السلام په قرآن هومره ترکيز کولو چي چا ته ئې د دې اجازه نه ورکوله چي د قرآن ترڅنگ په بل څه ځان مصروف کړي. حتی د احاديثو د ليکلو اجازه ئې چا ته نه ورکوله. قرآن يوازنی لاربنود وو، بلنه د قرآن په لوري وه، د مشاجراتو د حل او فصل مرجع قرآن وو، په هر محفل کي به قرآن زمزمه کېدو، يوازې د تلاوت او حفظ لپاره نه؛ بلکي د استدلال لپاره او د دعوت لپاره. کوم نسل چي پدې مرحله کي د قرآن په غيږ کي روزل شوی، مجاهد نسل وو، تل له دښمن سره د منازعې او مبارزې په حال کې. دا مرحله د پيامبر عليه السلام له بعثت نه پيل شوه او د اسلامي خلافت تر پايه ئې دوام وکړ.

## ب: په احاديثو د ترکيز مرحله

که څه هم د احاديثو د ليکلو او غونډولو کار د عمر رضی الله عنه په وخت کي پيل شو، خو عمر رضی‌الله عنه پدې هکله جدي اهتمام کولو او د احاديثو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایت خبره ئې ډېره جدي نیوله، چي چا به وویل: ما له پیغمبرصلی الله علیه وسلم نه اورېدلی، له هغه نه به ئې د شاهد غوښتنه کوله او ویل ئې چي څوك له پیغمبر علیه السلام نه د کوم حدیث د روایت ادعا وکړي، هرومرو به شاهد وړاندي کوي که نه نو دروته دي چمتو شي، د ده په مبارك دورکي د دې جدي اهتمام په وجه صرف هومره احادیث ولیکل شول چي شمېر ئې ۱۲۰۰ ته رسېدو.

د ابوبکر رضی الله عنه په هکله روایت کېږي چي یوه شپه ډېر مشوش وو، سبا ته عایشې رضی الله عنها ورنه تپوس وکړ، پلاره تېره شپه پرېشانه وې، ولې؟ هغه ورته وویل : هو ما څه احادیث لیکلي، له ثقه او معتبرو کسانو نه مي رانقل کړي، خو پدې نه پوهېږم چي دوی له چا اورېدلي او څومره ثقه دی، وېرېږم چي زه ومرم او دا احادیث له ما نه پاتې شي او پدوی کي داسي خبره پیغمبر علیه السلام ته منسوب شوې وي چي هغه نده کړې او پدې سره زه د هغه عذاب مستحق شم چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا لپاره بیان کړی چي ده ته غلطه خبره منسوب کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا چي ما ته هغه خبره منسوب کړه چي ما نده کړې په جهنم کي دي ځانته ځای ولټوي. ولاړه شه هغه احادیث ما ته راوړه چي وئی سوزم، ټولي پاڼی ئې وسوزولې.

خو وروسته د احادیثو د راغونډولو لړۍ خوره شوه او ورو ورو ئی لمن پراخه شوه، لوی لوی کتابونه ولیکل شول، په لکهاوو احادیث راغونډ شول، که څه هم د احادیثو راغونډوونکو ستر خدمت کړی، ډېر زحمتونه ئې گاللي، د حدیث د موندلو په کار کي د ډېر زیار او زحمت ترڅنگ ئې کافی اهتمام او دقت کړی خو د دې کار څو پایلي وې:

۱- په قرآن مخکنی ترکیز راکم شو، د احادیثو لمن هومره خوره وه چي پدې خور میدان کي مصروفیت بلي خوا ته د پاملرنی مجال له منځه یووړ، ورو ورو خبره دې ځای ته ورسېده چي قرآن هیر شي، مخکي به په هر محفل کي قرآن زمزمه کېدو، د شپې او ورځي به په هره غونډه کې، یوازې یوازې او د نورو سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای، له دوست او دښمن سره د قرآن خبري کېدې، خو اوس د ده ځای احادیثو ونیو.

۲ـ مخکي قرآن یوازنۍ مرجع وه، قرآن له یوې خوا مختصر وو او هر چاته دا کار آسانه وو چي په هغه پوه شي، له بلي خوا په قرآن کي نه چا څه زیاتولی شوی او نه کمولی، حرف حرف ئې خوندي وو، خو د قرآن په نسبت د احادیثو لمن ډېره خوره وه، شمېرئی ډېر زیات وو، هر څوك پدې نتوانېدو چي پدې خور او پراخ میدان احاطه حاصله کړي، د اسلام دښمنانو ته د دې موقع په لاس ورتله چي جعلي احادیث جوړ کړي، په مسلمانانو کي شکوك او شبهات راولاړکړي او د فتنو باعث شي، ځینو نورو د خپلو شخصي اغراضو لپاره هري هغي خبري ته د حدیث رنگ ورکاوو چي د دوی د دریځ په گټه وې، چاروا کو نه یوازې دا چي د خلفاوو په څېر ئې د احادیثو بلکي د روایت په هکله هغه مخکنی جدي اهتمام نه کاوو هغه کسان ئې تشویقول چي د دوی په گټه او د دوی د مخالفینو په ضد جعلي احادیث خواره کړي. گورو چي پدې مرحله کي په لکهاوو جعلي احادیث جوړ او خواره شول، امت د فکری تشنج او اضطراب له یوه سخت دور سره مخامخ شو، اختلافات راولاړ شول او امت په ډلو ډلو ووېشل شو.

## ۳ـ د "فقه" د تدوین مرحله:

پدې مرحله کي یوه نوې سلسله پیل شوه، چي هغه د مخکنۍ مرحلې طبیعي او حتمي پایله وه، د لکهاوو صحیح، ضعیف او جعلي احادیثو خورېدل خلکو ته دا خبره گرانه کړه چي د دیني احکامو په هکله په کوم حدیث عمل وکړي او په کوم نه؟ کوم ومنی او کوم نه؟ هرڅوك د دې پیچلي او ستر کار له عهدې نشو وتلی، څو د لوړ همت خاوندان راوړاندي شول، د دې ستونزې د حل کولو لپاره ئې ملا وتړله، احادیث ئې وچڼل راویان ئې وڅېړل، غوره ئې له ضعیف او جعلي نه او ثقه ئې له ناثقه نه بېل کړل، فقهي احکام ئې له قرآن او غوره احادیثو نه استنباط کړل او د عوامو غوښتنو او پوښتنو ته ئې ځواب ووایو. پدې کار سره که څه هم ډېری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزي حل شوي او په ځينو ديني احکامو د پوهېدو کار ئې خلکو ته آسانه کړ، خو ځو غير مترقبه عواقب ئې درلودل:

الف: خلکو په فقهي احکامو اکتفاء وکړه او قرآن او حديث ته رجوع ورنه پاتې شوه، پدې سره د قرآن ترڅنګ حديث هم هيرشو.

ب: په فقه کي د اسلام يوازې يو اړخ څېړل شوی او صرف د ورځنی ژوند احکام توضيح شوي، لکه اودس، حيض، نفاس، غسل، لمونځ، روژه، زکات، حج، نکاح، طلاق ... خو په نورو بنيادي او اساسي مسائلو بحث کول او د اسلام نور اړخونه څېړل نه د فقه د بحث موضوع وه او نه خلکو پدې باب د څېړنی او بحث غوښتنه کوله او نه چارواکو له ورځنيو ديني احکامو نه پرته په نورو اساسي او حياتی مسائلو بحث خوښولو، عملاً ګورو چي په فقه کي د امام د انتخاب د څرنګوالي په هکله، د ده د صلاحيتونو په هکله، د ده په انتخاب کي د عام ولس د ونډي او وظيفی په هکله، د شوری په باب، په بيت المال کي د چارواکو د تصرف په باب، د جهاد او هجرت په هکله، يا هيڅ ندي ويل شوي يا ډېرکم ويل شوي. په قرآن کي د اودس په هکله صرف يو آيت راغلی او د شوری په هکله درې آيتونه، په فقه کي بايد د شوری په هکله بحث او حيرنه د اودس په نسبت درې برابره زياته وی، خو خبره برعکس ده، د اودس په هکله مفصل او د قيق بحثونه ګورو، هر فقيه خپله رساله په همدې بحث پيل کړې، خو د شوری په هکله يا اصلاً بحث ندی شوی يا ډېر سطحی او ضمنی اشاره شوې.

ج: مخکي دين ولسی بڼه درلوده، هرچا هڅه کوله چي په خپله مخامخ له قرآن نه د دين حقيقت درك کړي، دا کار هرچا ته آسانه او ممکن وو، دين د کومي خاصي ډلي په انحصار کي نه وو، داسي نه وه چي ځيني کسانو به خلکو ته دين ښودو او خلکو به لدوی سره مالي مرسته کوله، ترڅو د دوی ورځنی مالي مشکلات حل کړي، نه چا په امامت له خلکو پيسې غوښتلې، نه په آذان او تدريس، هر چا هم په خپله د دين زده کړه کوله، هم ئې نوروته ښودو او هم ئې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالي مشکلات په خپله حل کول، خو دا حالت ورو ورو بدل شو، آذان او امامت د حرفې بڼه غوره کړه او دا کار په هماغو خطرناکو عواقبو منتج شو چې نن ئې ترخه نتائج گورو. مخکې به د خلکو امام او ديني مشر هغه څوك وو چې تر نورو به ئې د دين په لار کي زياته قرباني ورکړې وه، زياتي ستونزي او کړاوونه به ئې گاللي وو، خو اوس دا مقام په هر لاس کي پرېوت، ډېرو لدې آسان کار نه د امرار معاش لپاره حرفه جوړه کړه او دا کار اکثراً د داسي کسانو لاس ته ورغی چې له دين نه ئې ځانته دکان جوړ کړ، د ظالمو واکدارانو ملگري او حاميان وو او دين ئې د واکدارانو په پښو کي ذبح کاوو.

متأسفانه اسلامي فقه په داسي دوران کي تدوين شوې چې اقتدار د ظالمو او مفسدو واکدارانو په لاس کي وو، د اختناق او استبداد په سختو شرايطو کي دا کار گران او حتی محال وو چې زموږ فقها له عباداتو او معاملاتو نه علاوه د سياست، اجتماع، نظام، جهاد، هجرت، شوری، د خلکو حقوق، د واکدارانو مسئوليتونه او صلاحيتونه، د امير د انتخاب طريقه، د بيعت څرنگوالی او اهميت او دې ته ورته مسايل وڅېړي. چا چې پدې هکله د څه فقهي تحقيقاتو هڅه کړې، يا ئې خپل سر خوړلی، اعدام شوی، تبعيد شوی او د محبس تورو خونو ته لېږل شوی او يا ئې مدرسه او مسجد تړل شوي.

## ۴ـ د تصوف د زېږېدو مرحله

د فقهي مباحثو لوري ته پاملرنه پدې منتج شوه چې د اسلام معنوي او اخلاقي اړخ ته د تشريعي او قانوني برخي په نسبت اهتمام او اعتناء کمه شي، ځينو زړه سواندو داعيانو وغوښتل چې دا خلا ډکه کړي او د مسلمانانو پاملرنه يو ځل بيا معنوي لوري ته راواړوي او د دغو دواړو برخو ترمنځ مخکنی تعادل احياء کړي، له همدې ځايه د تصوف بنياد کېښودی شو، دوی پدې خبري ټينگار کولو چې په عباداتو کي اصلي او مهمه برخه د خدای ذکر، له الله سره مينه او تعلق بالله ده، شکلي عبادات که هرڅومره په ظاهر کي د فقهي احکامو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضوابطو مطابق وي خو چي لدې ناحيې ناقص وي هيڅ اعتبار او ارزښت نلري، دا خبره په خپل ځای کي صحيح وه، خو په تصوف باندي ترکيز ورو ورو خبره هغه ځای ته ورسوله چي قرآن، حديث او فقه له صحنې گوښه کړی شي او ځای ئې د ذکر حلقی ونيسي، يوازې دا نه بلکي پير او مرشد د خدای او بنده ترمنځ داسي واسطه وگڼل شي چي خدای ته د رسېدو هره لار د ده له اړخه تېرېږي او د قرآن د هغي خبري په ځای چي وايي: خدای ستا د غاړي تر رگ تا ته درنږدې دی، چي چېري يې خدای همالته دی، که ته يو يې دوهم دي خدای دئ، که تاسو دوه ياست دريم مو خدای دئ، عبادت او لمانځنه مو بايد خاص خدای لره وي او دعا مو خاص خدای ته، خو په تصوف کي دي خبرو رخنه وکړه چي:

که غواړې خدای ته ورسېږې د مرشد لمن ونيسه، نه ته مخامخ خدای ته رسېدی شې او نه ستا دعا، عبادت او لمانځنه، ته واسطې ته ضرورت لري، مرشد ستا شفيع دی، د ده له لاري ستا غږ تر خدايه رسېدی شي او ستا دعاگانی د خداي په دربار کي منل کېدی شي.

تر ټولو خطرناکه خبره دا وه چي د قرآن د صريحو نصوصو خلاف په تصوف کي دوه خبري راولاړې شوې:

- مرشد په غيب پوهېږي او په هر ځای او هر حال کي تا ته رسېدی شي.
- خدای د ځمکي ځيني چاري متصرفينو ته سپارلې، ځيني د يوه ملك،

ځيني د يوې لويې برخي او ځيني د ټولي نړۍ متصرفين دي، که غواړې ستا چاري تر سره شي نو مجبور ئې د دغو متصرفينو لمن ونيسي. دغو مشرکانه تصوراتو، مرشد ته هغه مقام ورکړ چي قرآن ئې يوازې د ځمکي او آسمانونو رب ته ثابتوي او له بل هر چا نه ئې نفی کوي، دا هماغه خبري وې چي د مکې مشرکينو به د "لات"، "منات"، هبل" او"عزی" په هکله کولې او پيامبر عليه السلام مأمور شوی وو چي دا بتان رانسکور کړي او دا مشرکانه تصورات پای ته ورسوي او خلکوته ووايي چي: خدای شريك نلري، له خدای نه پرته په ځمکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمانونوکي هیڅوك په غیب نه پوهېږي، عبادت مو باید خاص خدای لره او استعانت مو باید خاص له خدای نه وي. د خدای تر څنګ مه د بل عبادت کوئ او مه له بل نه مرسته غواړئ.

که د ملتونو د عروج او زوال عواملو او د ادیانو د ودي او ضعف تاریخ ته توجه وکړو نو په هري ټولني کي د مذهب په اړه همدا څلورمرحلې په څرګنده موندلی شو، په افغانستان کي هم همدا څلورمرحلې یوه په بل پسې تېره شوې، د نادري کورنۍ د واکمنۍ په دوران کي زموږ د ټولني په مذهبي جوړښت کي د دریمي او څلورمي مرحلې آثار په څرګند طور موندلی شو، په مدرسه کي د دریمي مرحلې آثار او په خانقا کي د څلورمي مرحلې.

شاید یو مثال له تاسو سره د دېمرحلې په وضعیت د پوهېدو په هکله ښه مرسته وکړي:

د درباري روحانیونو د کورنۍ یو غړی دائم الخمر وو، تل نیشه، اکثراً له ځانه بې خبره، ډېره ئې خربیله او ظاهر ئې د یوه اروپائی، نه ئې یوازې لمونځ کاوو او نه په جمع، خو د دې کورنۍ جاهلو مریدانو به ویل: زموږ د زړه سترګي ړندې دي ځکه نو د ده ډېره نه وینو، دی هر لمونځ کعبی ته رسوي، چي څوك د یقینمرحلې ته ورسېږي له عبادت نه معاف کېږي، عبادت د هغه چا کار دی چي لا د "یقین"مرحلې ته نه وي رسېدلی، شیرآغاجان، د وصل پوړي ته رسېدلی، دی د "شراب ان طهور" په شرابو مست دی، دی چي د شرابو په نامه څه څښي هغه د دنیا شراب نه بلکي د جنت شراب "شراباً طهورا" دي !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاهي نظام او د يموكراسي

نادري كورنۍ د بې شمېره وژنو، شديد اختناق او په پوره بې رحمۍ او قساوت سره د هر مخالف جريان له ټكولو نه وروسته، د هېواد داخلي حالت او په نړۍ واله سطحه د سياسي او اجتماعي تحولاتو وضعيت داسي وموند چي ناچار بايد د رژيم مخكنۍ كرغېړنه او وېروونكې بڼه بدله او داسي وضعيت غوره كړي چي له يوې خوا د هېواد دننه ورځ په ورځ زياتېدونكی ولسی مخالفت راكم كړي او له بلي خوا په منطقه او ټوله نړۍ كي د استبدادي نظامونو په خلاف د راولاړ شوي طوفان له څپو نه خوندي پاتې شي. شاهي نظام چي پدې اړه كوم اقدامات كړي، پدې هكله څو مهمو خبرو ته پاملرنه په كار ده:

۱. شكلي او غولوونكي اصلاحات د مجبوريت په وجه عنوان شوي نه په افغان ولس د پيرزوينی په وجه، د دې اصلاحاتو هدف يوازې دا وو چي د نادري كورنۍ د مطلقه واكمنۍ په خلاف د بغاوتونو مخه ونيسي او په قدرت كي د دې كورنۍ د پاتې كېدو شرايط برابر كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. لومړی ګام دا وو چې سردار هاشم خان له صحنې لرې او د ده په ځای بل سردار، شاه محمود خان را وړاندې کړي، هاشم خان په واکمنې کورنۍ کې د وحشت، قساوت او بې رحمۍ سمبول وو، ده د خپل صدارت په اوږدو مودو کې په افغان ولس هومره ظلمونه کړي وو چې نور نو په قدرت کې د ده پاتې کېدل نه ممکن وو او نه مفيد، شاهي کورنۍ غوښتل د ده په لرې کولو سره خپله لمنه د وينو له داغونو پاکه کړي او ولس ته داسې وښيي چې نور نو د ظلم او وحشت دور پای ته رسېدلی، د اختناق او استبداد اصلي عامل له صحنې لرې شوی او واکمنې کورنۍ په ولس د زړه سوي په وجه هغه ګوښه کړ. د سردار هاشم د لرې کولو يوه بله وجه دا وه چې ظاهرخان له ماشومتوب نه وتلی او د عمر هغې مرحلې ته رسېدلی وو چې غوښتل ئې د ملك واګې د ده په لاس کې وي، هاشم خان د ده د ټولواك کېدو په لاره کې لوی خنډ وو، د ده په لرې کېدو سره ظاهرخان ته د ټولواك کېدو لار پرانستل شوه.

۳. دولت غوښتل چې د سياسي ډلو او جرياناتو مهار ئې په لاس کې وي او د سياسي احزابو په سر کې داسې کسان راشي چې شاهي کورنۍ ته وفادار وي، د احزابو په مرکزي شورى ګانو کې بايد داسې کسان داخل کړي چې له يوې خوا د احزابو له داخلي جرياناتو نه ورځ په ورځ دقيقه اطلاع ترلاسه کړي له بلې خوا د رژيم په خلاف د څه کولو په ځای ئې تفاهم او ملګرتيا ته چمتو کړي او د دوی له لارې هغه کسان تشخيص کړي چې نه پخلا کېدونکي دي او د نظام ړنګول غواړي، تر څو د هر يوه لپاره مناسبه چاره ولټوي.

۴. له ځينو داسې ډلو نه دولت په خپلو خارجي ارتباطاتو کې د استفادې کولو اراده درلوده، د دوی په واسطه ئې هغه ځواکونه قانع کول چې په فکری بنيادونو جوړ شوي وو او په مختلفو هېوادونو کېږ نفوذ په لټه کې وو او هلته ئې په خپله ګټه د انقلابونو راوستل غوښتل، د دغو ځواکونو تر منځ د رقابتونو لړۍ هغه حد ته رسېدلې وه چې د نړۍ هيڅ هېواد ترې خوندي نشو پاتې کېدی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپائی هېوادونو مختلفو ځواکونو غوښتل چې په آسيائی او افريقايي هېوادونو کې نفوذ وکړي، له روسيې سره ئې پدې هکله شديد رقابت درلود، د امريکا متحده ايلات د دې رقابتونو يو مهم لوبغاړی وو، د روس په خلاف د اروپائی هېوادونو په څنګ کې ولاړ وو، د آسيايي او افريقايي هېوادونو جريانات لدې رقابتونو نه په جدي توګه متأثره کېدل، دلته د دې ځواکونو په پلوي مختلف سياسي جريانات راولاړ شوي او د دوی ترمينځ شديده منازعه روانه وه، په افغانستان کې هم د دې استعماری ځواکونو په پلوي يو په بل پسې سياسي جريانات صحنې ته راووتل، رژيم ته د دې لړۍ مخنيوی په خپل مخکني اسلوب، د ځپلو او ټکولو په زاړه سياست، ممکن نه وو، دا دور نور تېر شوی وو، ناچار بايد له نوي اسلوب نه کار واخلي، د شاهي کورنۍ د نوي سياست او په اقتدار کې د مزيد پاتې کېدو لپاره نوي اسلوب له همدې لاملونو نه راولاړ شوی وو.

**۵.** کومې سياسي ډلې چې پدېمرحلې کې صحنې ته راووتلې، څو ځانګړتياوې ئې درلودې:

الف: د "اصلاح" او "ترميم" په فکرکې وو، نه د بنيادي "تغيير" او "انقلابي بدلون" په فکر کې، ډېر انقلابي او وطن پالونکي ئې هغه وو چې د حکومت په کړو وړو به ئې اعتراض کاوو او د "اصلاح" او "تعديل" غوښتنه به ئې کوله، د دوی د اعتراض او انتقاد مخه به حکومتی چارواکو ته متوجه وه، نه شاهي کورنۍ او د دې کورنۍ په لاس مسلط شوي نظام ته، دوی غوښتل چې وښيي حکومت او سلطنت سره بېل دي، پاچا غير مسئول او واجب الاحترام دی، د هېواد د حالاتو مسئوليت د حکومتی چارواکو په غاړه دی، لدوی نه بايد تپوس وشي او پدوی بايد اعتراض او انتقاد وشي، شاهي کورنۍ ته دې خبري خاص اهميت درلود او د دې نظريې د خوروونکو په اړه ئې خواخوږی ښودله، طبيعي ده چې پاچا پدې خبري خوشحاله کېدو چې ولس ئې هم د "ټولواک" په حيث ومنی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ئې د ناخوالو په اړه "غير مسئول" وګڼي، ځوك پده د اعتراض كولو حق ونلري او د هېواد هر وګړی مخصوصاً "د سياسي احزابو كاركوونكي" ئې واجب الاحترام وګڼي.

ب: د دې مرحلې اكثر احزاب هم په فكري لحاظ په استعماري ځواكونو پوري تړلي وو او هم د توجيه او تمويل له پلوه.

۲- پدې فضاء كي لومړی علنی ډله د "ويښ زلميانو" په نامه راڅرګنده شوه، د دې ډلي د تأسيس په لومړی غونډي كي سردار داؤد د شاهي كورنی په نمايندګی برخه واخيسته، عبدالروف بې نوا د دې ډلي مشري په غاړه درلوده، د "انګار" تر نامه لاندې يوه جريده ئي راوايسته چي د امتياز خاوند ئې فيض محمد انګار وو او د دې ډلي د افكارو او غوښتنو ترجماني ئي كوله، د دې حزب مهم او معروف غړي دا وو:

عبدالروف بې نوا، ګل پاچا الفت، فيض محمد انګار، نورمحمد تره كی، غلام حسين صافی، محمد رسول پښتون، عبدالشكور رشاد، عبدالهادي توخی، محمد انور اڅكزی، قاضی بهرام خان، فتح محمد ختګر، محمد موسی شفيق، غلام محمد پوپل، قيام الدين خادم، صديق الله رښتين- كه څه هم "ويښ زلميانو" له دولت مخصوصاً شاهي كورنی سره همكاری درلوده او دې ډلي د يوه مؤيد "اصلاحی حركت" حيثيت درلود، خو دولت "اصلاحی انتقاد" هم نشو زغملي، د دې ډلي شته والی او مستقل فعاليت ئې د اوږدې مودې لپاره ونه زغملو، د "انګار" نشريه ئې توقيف كړه، د "انګار" ځای د "ولس" په نامه بلې خپرونی ونيو چي د امتياز خاوند ئې ګل پاچا الفت وو، د سردار داؤد د صدارت په وخت كي د دې ډلي ځيني كسان بنديان شول، ځينو له سياسي فعاليت نه لاس واخيست او له دولت سره ملګری شول او ځيني نور له حزب نه ووتل او پدې ترتيب د دې ډلي ټغر ټول شو او په وړوكو وړوكو ټولګيو ووېشله شوه.

۷- شاهي كورنی د "ديموكراسي ملي" تر نامه لاندې د يوه دولتي حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړولو هڅه وکړه، دا ډله د پاچا د لیکلې اجازی له مخې د سردار داؤد له خوا جوړه شوه، مهم غړي ئې دا وو:

۱ـ سردار داؤد ، د حزب مؤسس

۲ـ عبدالمجید زابلي

۳ـ سردار فیض محمد ذکریا

۴ـ علي محمد بدخشانی

پدې ډلي کي د فوځ جنرالان، د هېواد شتمن، تجار، د ځمکو خاوندان، وزراء او د دولت لوړ رتبه مأمورین شامل شول، د حزب اصلي مرام له شاهي نظام نه دفاع او د نظام د مخالفو ځواکونو مقابله وه.

دا دولتي ډله پس له هغه منحل شوه چي سردار داؤد د دفاع له وزارت نه د صدارت مقام ته ارتقا وکړه.

۸ـ په ۱۳۲۹ کي غلام محمد غبار د وطن په نامه د یوه حزب د جوړولو رسمي مطالبه وکړه، ده خپل وړاندیز پاچا ته وړاندي کړ او د کابل په ښار کي ئې خپل فعالیت پیل کړ، د حزب مؤسسین دا وو:

غلام محمد غبار، سرور جویا، میرمحمد صدیق فرهنگ، فتح محمد میرزاد ، نورالحق هیرمند ، برات علي تاج او عبدالحی عزیز. دوی د "وطن" په نامه نشریه درلوده، پس له کمي مودې نشراتی فعالیت نه دا ډله خوره وره شوه، د صدیق فرهنگ په شان ځیني کسان ئې له دولت سره یو ځای شول او مأموریتونه ئې قبول کړل، غلام محمد غبار بندي شو او په همدې سره ډله منحل شوه.

۹ـ همدا راز ډاکتر عبدالرحمن محمودي د لاندې کسانو په مرسته د یوې ډلي د جوړولو هڅه وکړه:

محمد نعیم شایان، مولوي خال محمد خسته، مولوي فضل الربی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالحميد مبارز، ډاکتر عبدالله واحدي، محمد يوسف آئينه او نورعلم مظلوميار.

دوی د "ندای خلق" ترنامه لاندې نشريه درلوده، د دوی حزب "د خلق" په نامه مشهور شو، خو د لنډ فعاليت نه وروسته، نشريه د حکومت لخوا متوقف شوه او محمودي سره له خپلو ګڼ شمېر ملګرو بندي شو او په همدې سره دا حزب ختم شو.

۱۰ـ د دغو ډلو يوه خاصه ځانګړتيا دا وه چي د دوی په تکوين کي د فکر او ايديولوژی په ځای د مشر شخصيت اساسي ونډه درلوده، د مشر په موندلو سره صحنې ته راوتلې او په تلو سره ئې ختم شوې. د مشر په مرګ سره د ډلې جنازه هم اخيستل شوې.

۱۱- شاهي کورنۍ د لنډې مودې لپاره قلابي ديموکراسي وآزمويله، نتيجه ئې دوی ته په زړه پوري نه وه، دوی په ديکتاتوری او مطلق العنانی عادت شوي وو، دا ئې نشوی زغملي چي په ولس کي څوك د هغه څه ويلو جرأت وکړي چي دوی ئې نه خوښوي او داسي کسان په ټولني کي تبارز وکړي چي د خلکو پام ورته واوړي، د شاه او د ده له کورنۍ نه پرته داسي ملي شخصيت بايد سر رااوچت نکړي او له آزادي فضاء نه په استفادې سره په ولس کي شهرت پيدا نکړي چي د دې کورنۍ واکمني له ګواښ سره مخامخ کړي. د قلابي ديموکراسي ټغر ئې ټول کړ او د اختناق يوه بله توره دوره ئې په مظلوم افغان ولس تحميل کړه.

دا دوره تر ۱۳۴۳ کال اوږده شوه، سردار شاه محمود او سردار داؤد د خپل سلف سردار هاشم خان په لار روان شول، هم ئې دولتي احزاب ختم کړل او هم ئې شاهي کورنۍ ته وفاداري مستقلي ډلي.

۱۲ـ په سياسي جرياناتو کي د پوهنتون او محصلينو ونډه ډېره څرګنده وه، د افغانستان اجتماعي جوړښت داسي وو چي له پوهنتون نه پرته د سياسي فعاليت لپاره بل ميدان نه موندل کېدو، نه فابريکې او شرکتونه وو چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارگرانو لويي لويي ټولني را منځته کړي او په هغوی کي د سياسي فعاليت شرايط برابر شي او نه بله داسي منظمه، پوه او متراکمه ټولنه چي د سياسي فعاليت لپاره مستعده وي او د رژيم په خلاف د څه کولو توان ولري. پوهنتون او د هېواد علمي مؤسسات چي ورو ورو ئې لمن خورېده او د زده کوونکو شمېر ئې زياتېدو او د دې ټولنو د غړو سياسي شعور د ودي په حال کي وو، د هېواد له اجتماعي او اقتصادي حالت نه ځورېدل، شاهي منحط نظام ئې د هېواد د انحطاط عامل ګڼلو، د نړۍ د نورو هېوادونو له حالاتو نه خبرېدل، دولت نشو توانېدی چي د دې ټولني خوځنده بهير مهار کړي، د دوی د سياسي شعور د ګړندۍ ودي مخه ونيسي او د ټولني د نورو پرګنو په څېر ئې په تياره کي وساتي.

په ۱۳۲۹ کي د لومړی ځل لپاره د پوهنتون محصلينو د يوې اتحاديی د جوړولو هڅه وکړه، دا يو مهم ګام وو، د هېواد په راتلونکو پېښو کي ئې خاصه ونډه درلوده، د ښوونځيو زده کوونکو هم د دوی ملاتړ وکړ، د محصلينو صحنې ته راوتل شاهي کورنۍ ته يو خطرناك ګواښ وو، پدې پوهېدل چي که دا حرکت ونه ځپی په يوه خطرناك بهير بدلېږي. د همدې لپاره ئې نوموړې اتحاديه وځپله، د اتحاديی ځيني مؤثر غړي ئې د تل لپاره له تحصيل نه محروم او له پوهنتون نه اخراج کړل، ځيني نور ئې د مؤقتی مودې لپاره او ځيني نور ئې له اخراج نه وروسته محبسونو ته ولېږل او پدې ترتيب دا اتحاديه ختمه شوه. د نوموړې اتحاديی د اجرائيه کميټی غړي دا وو:

مير علي احمد شامل، سيد محمد ميوند، محسن طاهری، حبيب الله صافی، حيدر خان نورس، عظيم طاهری، شاه علي اکبر شهرستانی او اخترخان برکي.

۱۳ـ د سردار شاه محمود او سردار داؤد د صدارت لس کلنه وروستۍ دوره د شديد اختناق، استبداد، رکود، مطلقه واکمني، د اعتراض کوونکو او نووښتون غوښتونکو د ټکولو او ځپلو توره دوره وه، ټول ځرګند سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه متوقف شول او د دولت په هر راز اجراءاتو د اعتراض او انتقاد مجال پای ته ورسېدو، مغرورو سردارانو فیصله وکړه چې په افغانستان کې د هاشم خان سیاست ګټور دی، فقط د زور له لارې پدې ولس حکومت کولی شي، افغانانو ته د آزادۍ ورکولو معنی دا ده چې د شاهي کورنۍ مطلقه واکمنۍ به پای ته رسېږي، دوی غوښتل چې په خپلو ګاونډیو کې د استالین په لار روان شي، د استالین په شان دیکتاتوری ئې په افغانانو د حکومت کولو لپاره ګټوره ګڼله.

**۱۴**ـ سردار داؤد د صدارت په دوران کې روسانو ته ډېر نږدې شو، مسکو پداسي یو پړاو کي وو چې غوښتل ئې د افغانستان له لارې د هند سمندر ته ځان ورسوي، افغانستان ته ئې خاصه توجه وه، پدې هېواد کې د سردار داؤد په شان یو کس ته ئې ضرورت درلود، د دې نږدې والي څو اړخونه د توجه وړ دي:

الف: خروشوف د کرملین واکمن، د بولګانین په شمول د **۱۹۵۸** کال د دسمبر له ۱۲ تر ۱۸ پورې د افغانستان دوره وکړه، د ده د تاوده استقبال لپاره خاص ترتیبات نیول شوي وو او پراخ تبلیغات وشول، دا دوره پداسي وخت کې ترسره شوه چې د امریکا او شوروي ترمنځ رقابت ډېر حساس پړاو ته رسېدلی وو، لدې دوری نه د غربي ځواکونو انتباه دا وه چې مسکو د افغانستان له لارې د هند سمندر په لوري د مخکې تګ اراده لري.

ب: په کابل کې د غربي هېوادونو سفارتونو، مخصوصاً د انګلستان سفارت، خپل ځیني زاړه افغاني ملګری وهڅول چې د دې سفر په خلاف څه وکړي، کم له کمه باید دا سفر وغندي، خو سردار داؤد هغوی ته مجال ورنکړ، وئی نیول او محبس ته ئې ولېږل.

ج: پدې موده کې له روسانو سره د کابل د واکمني کورنۍ اړیکي په ټولو برخو کې پراختیا ومونده، د ملي اردو روزنه او تجهیز روسانو ته وسپارل شو، دا هغه خطرناك اقدام وو چې د هېواد ټولي وروستۍ خونړۍ پېښې د همدې غلط

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خائنانه اقدام زیږنده او د کمونستي کودتا او د روسي فوځونو د یرغل مقدمه وه. په همدې سره لومړی د افغانستان اردو او بیا ټول هېواد د روسانو په لاس کي پرېووت، دا طبیعي خبره ده چي د افغانستان په شان د یوه کمزوری او وړوکي هېواد له یوه ستر او توسعه غوښتونکي ښکیلاکګر ګاونډي ځواك سره نظامي اړیکي او د فوځ د روزنی او تجهیز حساس کار دې ځواك ته د سپارلو نه بله معنا کېدی شوی او نه بله نتیجه. ولې ترکیه او ایران د روسانو له سلطې نه خوندي پاتې شول او افغانستان د دوی په منګولو کي پرېووت؟ دا ځکه چي د دې هېوادونو د فوځ روزنه او تربیه د روسانو په لاس کي نه وه او زموږ واکدارانو زموږ د فوځ مهار د روسانو په لاس کي ورکړ، د فوځ ترڅنګ د نفت او ګاز په ساحه کي تفحصات، د لویو لارو پرانستل، بند او انهار، د معادنو استخراج او ګڼ شمېر نورو حساسو برخوکي له روسانو سره پراخی او طویل المدت معاهدې وشوې، د روزنی تر نامه لاندې روسیی ته د فوځي افسرانو او افغاني محصلینو د لېږلو لمن خوره شوه، افغانستان ته د روسي نظامي او ملکي مشاورینو، انجنیرانو او استادانو راتګ پیل شو او پدې سره د افغانستان ټول ورونه او دړی د روسانو پرمخ پرانیستی شوې او د نفوذ ټول مساعد شرایط برابر کړی شول، دا کارونه پداسي وخت کي شوي چي کرملین په ټولو حریفانو د برلاسی احساس کولو، د دنیا په ګوټ ګوټ کي په ډېر سرعت مخکي روان وو، د کمونیزم لمن په خورېدو وه، غرب د کمونیزم په وړاندې دفاعی دریځ غوره کړی وو او تر شدید هجوم لاندې وو، یو په بل پسې ئې خپل ملګری له لاسه ورکول، د وارسا پکت لمنه به چټکتیا خورېده، نوي غړي ئې موندل، په آسیا، افریقا او لاتینی امریکا کي یو په بل پسې انقلابونه ترسره کېدل، غرب پلوه زاړه رژیمونه نسکورېدل او له کمونیزم نه متأثره انقلابي حکومتونه صحنې ته راوتل او د مسکو د ملګرو په صف کي ودرېدل.

جاه طلبه سردارانو ته نه د دې نږدیوالي راتلونکي خطرناك عواقب مهم وو او نه دا چي روسان په نړۍ واله سطحه څه کوي او د افغانستان په هکله څه عزایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، دوی ته فقط دې خبرې اهميت درلود چې څو ورځې نور په اقتدار کې پاتې شي، پرون د انګريزانو د حمايې ترسيوری لاندې او نن د روسانو.

د: روسانو غوښتل چې لومړی د سردار داؤد له لارې او په مختلفو برخو کې د پراخو معاهدو په ذريعه په افغانستان کې خپلې ريښې وزغلوي او د خپلو پښو د ټينګولو نه وروسته لدې هېواد نه د جنوب په لورې د مخکې تګ لپاره د يوې اډې او معبر په حيث استفاده وکړي، غوښتل ئې دا هدف لدې لارې ترلاسه کړي چې افغانستان له پاکستان سره جګړې ته تشويق کړي، افغانستان د خپلو متو په زور له پاکستان سره د جګړې توان نه درلود، ناچار به ئې روسانو ته پناه وړه، پدې سره به هم د جګړې مهار د روسانو په لاس کې پرېووت او هم د کابل د واکمنانو، پدې جګړې سره نه يوازې افغانستان د دوی لاس ته ورتلو بلکې پاکستان دړی وړې کېدو، په څو ايالتونو وېشل کېدو او پدې منطقې کې د غرب يوه خطرناکه اډه له منځه تله. روسان پوهېدل چې پدې جګړې کې به دهلي هم د دوی مرسته کوي، پاکستان ته ډېره ګرانه او حتی محال وه چې له دوو لورو د روس او هند په شان د لويو ځواکونو د ګډ بريد مقابله وکړي.

هـ: سردار داؤد د مسکو د مزيد توجه جلبولو او د روسانو د حمايت ترلاسه کولو لپاره دا ضروري ګڼله چې د پښتونستان قضيه مطرح کړي او له پاکستان سره په جګړې تأکيد وکړي، د همدې لپاره هغه د **۱۹۵۵** ميلادي کال د مې د مياشتې په **۴** له پاکستان سره د جګړې لپاره د احتياطی فوځيانو د غونډېدو امر وکړ، دا پرېکړه پداسې وخت کې اعلان شوه چې ظاهرخان شمال ته د ښکار لپاره تللی وو، د شاه په غيابت کې د "سفربري" فوق العاده فرمان صادرولو معنی دا وه چې روسان دا د سردار داؤد شخصي کار وګڼي او د مسکو په وړاندې د ده اهميت لازيات کړي. په کابل کې د پاکستان په سفارت او په جلال آباد او کندهار کې د دې هېواد په کنسلګريو د حملې او د پاکستان د بيرغ نسکورولو اقدام هم د همدې لپاره تر سره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۲۱ کال کي د جندول او ښار د خانانو ترمنځ د نښتي په دوران کي د کابل واکمني کورنۍ د جندول د خانانو مرستي ته له کنړ او ننګرهار نه د قومي لښکرو ترڅنګ حکومتی فوځي قطعات د جګړي لپاره هغي سیمي ته ولېږل چي نه یوازې له ماتې سره مخامخ شول او په تېښته له ساحی راووتل، بلکي پراخه مرګ ژوبله ئیلپه برخه شوه . دې ته ورته اقدامات ټول د روسانو او هندوانو د خوشحالولو لپاره ترسره کېدل، نه له پښتونستان سره د مرستي او د پښتونستان د آزادي لپاره، د پښتونستان په نامه له هند او روسیی نه دولت کافی امکانات ترلاسه کول چي ډېره کمه برخه ئې پدې لار کي مصرفېده.

له دې حوادثو نه روسانو کم له کمه دا ګټه ترلاسه کوله چي افغانستان تر زیات نه زیات په روسانو تکیه کولو ته اړ شي او له نوری نړۍ ئې اړیکي وشلېږي، هند غوښتل چي د کشمېر له لانجی د نړۍ والو پام بل لوري ته واړوي او پاکستان له افغانستان سره پداسي جګړي کي ښکیل کړي چي د کشمېر په هکله د څه کولو امکانات د تل لپاره له لاسه ورکړي.

څنګه ومنو چي نادري کورنۍ د پښتنو د یووالي او د پښتونستان د آزادي لپاره دا کار کولو، مګر د ګندمك معاهده چي پښتانه ئې په دوو برخو ووېشل، د سردار یحیی زوم سردار محمد یعقوب له انګریزانو سره امضاء نکړه؟ هغه کورنۍ چي د اقتدار لپاره ئې زموږ د ستر هېواد له تجزیی سره موافقه وکړه او د دیورند کرښه چي د پښتنو په زړه کي ئې د یوه خنجر حیثیت درلود، د ده په ذریعه په پښتنو تحمیل شوه، څنګه ومنو چي د همدې کورنۍ لمسی نن د پښتونستان آزادي او د پښتنو بیا یووالی غواړي؟ هغه مستبده او ظالمه کورنۍ چي د افغانستان له پښتنو سره ئې هغه څه کړي چي انګریزانو نه وو کړي، څنګه د پښتونستان د ولس حقوق غواړي او د پنجابیانو له سلطې نه د دوی د ژغورلو لپاره له پاکستان سره د جګړي لیواله دی؟ مګر روس او هند د پښتنو د ژغورلو لپاره د سردارانو مرسته کوله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



و: پدې لسيزه کې د نادري کورنۍ او روسانو ترمنځ د نږدې اړيکو ژوروالی لدې نه هم درك کولی شو چې شاه، صدراعظم او د وزراوو په سطحه عالي رتبه هيئتونه يو په بل پسې د مسکو دورې کولې، شاه د ۱۹۵۷ کال د جولای او د ۱۹۶۲ کال د اگست په مياشت کې او صدراعظم څلورځله د ۱۹۵۶ کال د اکتوبر، د ۱۹۵۸ کال د جون، د ۱۹۶۰ کال د مې او د ۱۹۶۱ کال د اپريل په مياشت کې د روسانو مېلمانه ول!!

ز: ظاهر خان د سردار داؤد له زياتېدونکې سلطې او له روسانو سره د ده له زيات نږدې کېدو نه ترهه درلوده، د ده په مقابل کې ئې خپل زوم سردار ولي د سردار شاه ولي زوی ته په فوځ کې وده ورکړه او هغه ئې د قوای مرکز قومندان وټاکو، د ظاهرخان وېره په ځای وه، دا ځکه چې د سردار داؤد د صدارت په اوږدې مودې کې ټول ملکي او نظامي اختيارات د ده په لاس کې وو، د دفاع وزارت، د داخله چارو وزارت او د پلان وزارت هم د صدارت ترځنگ مستقيماً د ده په واك کې وو او د خارجه چارو وزارت د ده د ورور سردار نعيم په اختيار کې.

بلآخره دې ته اړ شو چې د دې خطر د منتفی کولو لپاره سردار داؤد له صدارت نه لرې کړي، دا کار ئې مخامخ او د يوه فرمان له مخې نشو کولی، دې مقصد ته د رسېدو لپاره ئې بله لاره غوره کړه، د نوي اساسي قانون د تصويب او د دې قانون له مخې په دولتي چارو کې د شاهي کورنۍ د غړو د کار نه کولو د پرېکړې په اساس ئې د سردار داؤد د گوښه کولو اراده وکړه.

متأسفانه ځيني کسانو چې د هېواد د پېښو له اصلي او د پردې شاته لاملونو نه دقيقه اطلاع نلري يا د دولتي حلقو د تبليغاتو تر تاثير لاندې تللي، د نوي اساسي قانون د تصويب او له دولتي چارو نه د شاهي کورنۍ د غړو د گوښه کولو قضيه ئې، په افغان ولس د ظاهر خان د يوې پيرزوينې په څېر څېرلې او دا هڅه ئې کړې چې دا کار نه د شاهي کورنۍ د داخلي اختلاف نتيجه وگڼي، نه ئې په ملت کې د استبداد، اختناق او مطلقه واکمنۍ په خلاف د ورځ په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتېدونکي مخالفت زیږنده معرفي کړي او نه ئې د بهرنی فشار محصول وګڼي، دوی دې ته ندي متوجه چې شاهي کورنۍ هر کار د خپلي واکمنۍ د دوام په نیت کړی، د اقتدار لپاره ئې له هیڅ جنایت نه دریغ ندی کړی، دا د دیموکراسیغوښتنی اکتونه د ملت د اغفال او تحمیق لپاره او د شاهي رژیم په خلاف د قیامونو د مخنیوي په نیت ترسره شوي.

زموږ د ځینو تاریخ څېړونکو مشکل دا دی چې د پېښو ظاهري بڼې ته ئې کتلي، د داسي یوې ژوري ایدیولوژی خاوندان نه وو چې د آزادي، عدالت، برابري او انسانی حقوقو په هکله واقعی معیارونه د دوی په لاس کي ورکړي او د همدې معیارونو په اساس هر جریان وڅېړي او د هغه په هکله قضاوت وکړي، ځینو د نادرشاه په مقابل کي امان الله شاه ته ترجیح ورکړې، هغه ئې یو مترقي شاه ګڼلی، ځینو نورو د هاشم خان په مقابل کي د شاه محمود ملاتړ کړی او هغه ئې د دیموکراسي پلوي معرفي کړي، ځینو د سردار داؤد د دوران ټول وحشیانه او ظالمانه اجراءات د ده شخصي کارګڼلی، ظاهرخان ته ئې برائت ورکړي او د سردار داؤد د لري کولو اقدام ئې د ملت په نسبت د ظاهرخان یوه پیرزوینه ګڼلی او دا هڅه ئې کړې چې ظاهرخان د یوه داسي پاچا په حیث معرفي کړي چې غوښتل ئې ملت ته آزادي ورکړي، استبداد او اختناق پای ته ورسوي او مطلقه واکمني په مشروطه شاهي بدله کړي، خو د شاهي کورنۍ نورو قدرتمندو غړو دا موقع نده ورکړې!! دوی پدې نه پوهېږي چې شاهي نظام له انسانی حقوقو او د انسانانو ترمنځ د عدالت او برابري له تصور سره تصادم کوي، چېري چې شاهي نظام مسلط وي او یوه کورنۍ په ولس حکومت کوي، هلته انسانی حقوق تر پښو لاندې شوي او هلته د عدالت جنازه اخیستل شوې، ښه پاچا په اصل کي یو ظالم واکمن دی.

که تاسو د غلام محمد غبار او صدیق فرهنګ او د دوی په شان د ځینو نورو تاریخ لیکونکو آثار مطالعه کړئ دا لوی عیب به په څرګنده وګورئ، غلام محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبار د نادري کورنۍ د معرفي کولو په کار کي ډېر موفق وو او د قدر وړ کار ئې کړی. خو متأسفانه ده په خپل کتاب (افغانستان در مسير تاريخ ) کي تل د امان الله خان په څېر د يوه نازولي شهزاده ملاتړکړی، د ده هر کار ئې ستايلی او د ده هره غلطي ئې توجيه کړې. صديق فرهنگ هم چي د ظاهرخان په واکمنۍ کي ئې په حساسو پستونوکي کارکړی، د پېښو په څېړلوکي د همدې عامل تر تاثير لاندې تللی، هځه ئې کړې چي په خپل کتاب (افغانستان در پنج قرن اخير) کي د ظاهرخان په نسبت خپل زړه سوی څرگند کړي.

د دغو تاريخ ليکونکو اصلي مشکل دا وو چي د يوي صالح واکمنۍ او سالم نظام لپاره ئې واضح معيار او مشخص "مثال" نه درلود ، همدا چي يو واکمن ئې په ځينو چارو کي داسي موندلی چي تر بل نه ده ته غوره معلوم شوی، له هغه ئې دفاع کړې، د دغو ليکوالانو د "قصو اتلان" پاچايان دي، نه عام خلك او نه د عام ولس له غيرِ نه راولاړ شوي " اتلان"، دوی د "اسوه" او "قدوه" د نه موندلو له مشکل سره مخامخ وو، د دې خلا د ډکولو لپاره ئې ناچار د واکمنو کورنيو په چاپيريال کي ځانته قدوه" او "اسوه" لټولي.

ح: د سردار داؤد د صدارت توره دوره د ده او د ده د ورور سردار نعيم په استعفا پای ته ورسېده، شاهي مکاری کورنۍ وغوښتل چي يو ځل بيا د خپلي واکمنۍ د دوام لپاره د سردار شاه محمود د صدارت د دوران په څېر د قلابي ديموکراسي يوه بله مرحله وآزمويي، د سردار داؤد په ځای ئې ډاکتر يوسف د صدراعظم په حيث وټاکو، د ده د انتخاب په هکله څو خبري د توجه وړ دي:

• دی د سردار داؤد په کابينی کي د معادن او صنايع وزير وو.

• د شاهي کورنۍ په غيږ کي ستر شوی وو، شاهي کورنۍ ته وفادار او د پاچا په وړاندي ډېر خاضع او مطيع وو.

• څومره چي د سردار داؤد په صدارت کي ټول دولتي اختيارات د صدراعظم په واك کي وو او شاه صرف يو سمبول وو، د ډاکتر يوسف په صدارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د دې برعکس، ظاهرشاه ټولواك وو او صدراعظم يو بې اختياره لاس پوڅی سمبول، د هاشم خان او داؤد خان مطلقه صدارتونو چي په ظاهر خان کي کومي عقدې را پيدا کړې وې، د دغو عقدو د چولو لپاره هغه د ډاکتر يوسف په شان يوه مطيع صدراعظم ته ضرورت درلود ، عجيبه ده چي شاهي کورنۍ ته وفادار تاريخ ليکونکي د ډاکتر يوسف ټاکنه د ديموکراسي په لوري يو مؤثر گام او په دولتي چارو کي د شاهي کورنۍ د غړو د توظيف پای گڼي، حال دا چيخبره کاملاً برعکس ده، د ډاکتر يوسف د صدارت په دوران کي شاه "ټولواك" وو ، هر کار د ده د سترگو په اشاره ترسره کېدو ، حکومت د شاهي کورنۍ له ولکې نه د داسي صدرعظم په وسيله نشي ايستل کېدی چي د شاه له خوا د ده د ضعيف شخصيت او شاهي کورنۍ ته د وفادارۍ په وجه ټاکل شوی وی، ترڅو چي د حکومت په سر کي يو داسي ځواکمن صدراعظم رانشي چي ولس ئې تر شا ولاړ وی او ټاکنه ئې د ولس له لوري تر سره شوې وی، په دولتي چاروکي د شاهي کورنۍ د لاس وهنو مخنيوی نشي کېدی، دغو تاريخ ليکونکو هڅه کړې چي د خلکو په سترگو کي خاوري واچوي او دا خبره د خلکو له نظره پټه وساتي چي د ډاکتر يوسف په صدارت کي د شاهي کورنۍ يو بل مهم غړی او د پاچا زوم، سردار ولي، خپل هغه موقعيت خوندي ساتلی وو چي د ده له صدارت نه مخکي ئې په اختيار کي وو .

ط: د دولت لومړی کار دا وو چي د نوي اساسي قانون لپاره يو داسي کميسيون وټاکي چي غړي ئې شاهي کورنۍ ته وفادار وي او هماغه څه په سياسي قانون کي ځای کړي چي پاچا ئې غواړي، دا اساسي قانون بايد د يوې داسي انتصابی جرگې له لوري تصويب شي چي اکثريت غړي به ئې انتصابی او شبه انتصابی وي او د غونډې افتخاری رياست به هم د شاه په غاړه وي.

د کميسيون غړي دا وو:

۱ـ سيد شمس الدين مجروح د عدليی وزير د رئيس په حيث.

۲ـ سيدقاسم رښتيا د مطبوعاتو وزير، غړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- میرنجم الدین انصاری غړی.

۴- عبدالصمد حامد غړی.

۵- محمد موسی شفیق غړی.

۶- میرمحمد صدیق فرهنګ غړی.

د اساسي قانون به مسودې کي د شاه او شاهیکورنۍ په هکله لاندې مهم ټکي ذکر شوي وو:

۱- شاه غیر مسئول او واجب الاحترام دی.

۲- د مسلح قواوو اعلی قوماندان دی.

۳- په هېواد کي د اضطراری حالت د اعلان صلاحیت لري، حکومت او شوری منحلولی شي.

۴- دی به د صلحی او جنګ حالت اعلانوي.

۵- صدراعظم او کابینه به د ده له لوري او د ده په موافقې شوری ته د اعتماد رأی ترلاسه کولو لپاره معرفي کېږي.

۶- پاچا دائم العمره ټولواك دی، د ده د مړینی په صورت کي پاچایي د ده زوی ته او د زامنو د نشتوالي په صورت کي د ده ښځي او لور ته په میراث رسېږي.

۷- د شاهي کورنۍ غړي په دولتي چاروکي نشي توظیف کېدی.

ی: په اساسي قانون کي د انساني حقوقو په هکله ځیني ځرګندونی ګورو، لکه د بیان آزادي، د اجتماعاتو او ټولنو د جوړولو حق، د منتخب پارلمان ضرورت او ولس ته د خپلو استازو د انتخابولو اختیار ورکول، د باصلاحیته محکمې د حکم له مخي د چا حبس او مجازات، د کار او مسکن د انتخاب حق، په داخلي او خارجي سفرونو د سابقه بندیزونو الغاء، د تعلیم حق...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په سیاسي او اجتماعي برخو کي د اساسي قانون دا فقری په داسي فرعی قوانینو پوري مربوطي شوي وي چي هیڅکله تصویب نشول. د سیاسي احزابو مربوط قانون ترپایه تصویب نه شوو.

ك: اساسي قانون د قواوو د تفکیك غوښتنه کوله، باید مقننه قوه، اجرائیه قوه او قضاء مستقلي او له یوې بلي جلا وي، شاه د مشرانو د جرگې یو ثلث غړي په انتصابی توگه ټاکل، د ستري محکمې د رئیس او قضاء ټاکل، د افسرانو ترفیع.... ټول د ده په اختیار کي وو، خو لدې سره سره دی غیر مسئول او واجب الاحترام وو.

ل: د اساسي قانون د ۴۲ مادې په اساس د هېواد مقننه قوه له دوو جرگو نه جوړه شوې وه، ولسی جرگه او د مشرانو جرگه، د ولسی جرگې غړي انتخابی وو، چي د هري ولسوالۍ او علاقه دارۍ نه به د آزادو انتخاباتو له لاري انتخابېدل، خو د مشرانو د جرگې غړي یو ثلث انتخابی ول چي د هر ولایت نه یو کس د خلکو له خوا، یو ثلث د ولایتی جرگو له خوا او پاتې دریېمه برخه ئي د شاه له لوري غوره کېدل.

م: د اساسي قانون د تصویب لپاره د لویي جرگې د انعقاد پرېکړه و شوه چي د ۱۹۶۴ کال په منی کي دائر شوه، د جرگې ترکیب داسي وو:

د یوولسمي دوری د ملي شوری ۱۷۲ غړي

د انتخاباتی حوزو نه ۱۷۲ غړي

د مجلس اعیان ۱۹ غړي

د کابینی ۱۴ غړي

د تمییز د عالي محکمې له اعضا وو نه ۵ غړي

د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون ۷ غړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشورتی کمیسیون ۲۳ غړي

د شاه له لوري انتصابی اعضاء ۳۴ غړي

جمعاً ۴۵۴ غړي

نوموړې لویه جرگه د ۱۹۲۴ کال د سپتمر په ۹ نیټه د سلام خانی په مانی کي د شاه له خوا افتتاح شوه او د څو ورځو بحث په نتیجه کي ئې د اساسي قانون مسوده له معمولي ترمیم او تعدیل نه وروسته تصویب کړه.

ن: د ۱۹۲۵ کال د اگست له ۲۲ نه د سپتمبر تر ۹ نیټې د مشرانو د جرگې لپاره انتخابات تر سره شول او ۲۷ غړي ئې له ولایاتو نه غوره شول او لدې نه وروسته د ولسی جرگې ۱۱۲ غړي انتخاب شول، د دې انتخاباتو څو خاصي ځانگړتیاوي وې:

۱ـ د هېواد په تاریخ کي د لومړی ځل لپاره یو نسبتاً منتخب پارلمان جوړ شو.

۲ـ غوره شوي غړي اکثراً خانان، اربابان، ملکان، بډایان او د ځمکو خاوندان ول.

۳ـ که څه هم د سیاسي احزابو ضمیمه قانون لا نه وو تصویب شوی، خو دریو ډلو پدې انتخاباتو کي په حزبی توگه برخه واخیستله: د وحدت ملي حزب، افغان ملت او د خلق دیموکراتیك گوند.

"د ملي وحدت" حزب د استاد خلیلي له خوا جوړ شوی وو، دی د شاه مشاور او دربار ته منلی شاعر وو، د ده حزب په اصل کي شاه پلوه حزب وو، د دولت په مرسته وتوانېدو چي کافی شمېر د دولت طرفدار استازی شوری ته ولېږي. خو دا حزب له همدې انتخاباتو نه او په بغداد کي د سفیر په حیث د خلیلي له ټاکلو نه وروسته متلاشي شو.

"د افغان ملت" گوند چي انجنیر غلام محمد فرهاد جوړکړی وو، د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت په نامه ئې نشریه درلوده، په پښتنو کې د هغه فعالیت محدود شوی وو، د پښتنو د یووالي او برلاسی داعیه ورسره وه، د شاهي نظام حامي او د دولت ملګری وو، پدې موفق نشو چې کوم غړي شوری ته ولېږي. خو "د خلق دیموکراتیك" ګوند پدې و توانېدو چې خپل درې غړي، ببرك کارمل، اناهیتا او نوراحمد نور شوری ته ولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اساسي قانون او سياسي احزاب

شاه غوښتل چي په هېواد کي دوه حزبه نظام رایج کړي، خو مخالف او موافق حزبونه باید مشروطه شاهي نظام ته وفادار وي، دواړه باید د شاهي نظام د ښې او کیڼ لاس حیثیت ولري، د موافق حزب لپاره ئې استاد خلیلي د مشر په حیث ټاکلی وو، ده د ملي وحدت په نامه د یوه حزب د جوړولو هڅه وکړه، د دولت لوړرتبه مأمورینو، د هېواد تاجرانو او شتمنو د دې حزب د اندراج په کتابونو کي خپل نومونه ثبت کړل. محصلینو ته د بورسونو، مأمورینو ته د ترفیع، تاجرانو ته د تجارتي امتیازاتو او بډایانو ته د دولتي حمایت وعدې ورکړی شوې.

د کیڼ لاس حزب په هکله د شاه اراده دا وه چي دا حزب باید له هغو کسانو نه جوړ شي چي له مسکو سره د ملګرتیا لیوال دي، پدې سره به مسکو قانع کړی شي او د رژیم د نسکورولو په ځای به د رژیم حمایې ته ترجیح ورکړي، د ده ګمان دا وو چي کمونستان په افغاني ټولني کي د نفوذ مجال نلري، د افغاني ټولني مذهبي جوړښت داسي دی چي په کمونستي افکارو ولاړ حزب په هغې که نفوذ نشي کولی، د منورینو شمېر کم دی، که ټول هم د کمونستانو په څنګ کي ودرېږي د ده واکمني له جدي ګواښ سره نشي مخامخ کولی، د ولس له مذهبي احساساتو نه په استفادې سره د هغوی مخنیوی آسانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده گمان کاوو چې که د دې ډلې په سر کې د رادیکالو عناصرو په ځای معتدلې څېرې راوړاندې کړی شي، نو د دې حزب شته والی پدې خاطر د ده په ګټه دی چې د مسکو مزید مرستې او ملاتړ ترلاسه کولی شي.

## د خلق دیموکراتیك ګوند

په حقیقت کې د شاهي کورنۍ د غلطو سیاستونو زیږنده دی، دې کورنۍ په لاندې توګه د نوموړي ګوند په جوړولو او ودې کې فعاله ونډه اخیستې:

الف: له روسانو سره ژوري اړیکې قائمول.

ب: روسیې ته هر کال زیات شمېر زده کوونکي لېږل.

ج: د افغاني فوځ د افسرانو روزنه روسانو ته سپارل.

د: هرکال په زرهاوو روسي مشاورین، په نظامي، اقتصادي، تخنیکي او تعلیمي برخو کې په هېواد کې منل.

هـ: د معادنو د استخراج، د نفت او ګاز د تفحصاتو، د بندونو او نهرونو جوړولو او د لویو لارو د پرانستلو په برخو کې له روسانو سره پراخ قراردادونه او د دوی د نفوذ ټولې لارې پرانستل.

و: د کرملین د واکدارانو د حمایې جلبولو لپاره د شاهي کورنۍ د غړو ترمنځ شدید رقابت او مسابقه، له یوې خوا سردار داؤد د دې هڅه کوله چې له کمونستانو سره د ملګرتیا له لارې د کرملین توجه ځانته جلب کړي، له بلې خوا ظاهرخان کوشش کاوو چې کمونستانو ته د امتیازاتو ورکولو له لارې مسکو له ځانه راضی کړي.

په دې کې شك نشته چې د نړۍ په کچه د کمونیزم تهاجمي حالت او د کمونستي خوځښت چټکه پراختیا او د نړۍ په پېښو د هغه ژوره اغیزه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په کورنيو حالاتو خاصه اغيزه درلوده، مخصوصاً چي زموږ هېواد د شوروي اتحاد د لوی ځواك نږدي ګاونډی وو او د افغانستان په څېر يوه وړوکي هېواد ته ګرانه وه چي د شوروي ځواك د نفوذ مخنيوی وکړي. خو د کمونيزم د خوربېدو لپاره چي کوم اقتصادي او اجتماعي شرايط په کار دي او د کمونيزم فلسفه ئې لازمي او حتمي شرايط ګڼي، په افغانستان کي نه يوازې نه موندل کېدل بلکي د دې فلسفی له نظره زموږ هېواد په فيوډالي مرحلې کي وو او له کمونستيمرحلې نه ډېر لري او وروسته وو، بايد د سرمايه داري او بورژوازي مرحله ئې پلي کړې وی ترڅو د کمونستي افکارو او تګلارو منلو ته چمتو شوی وی.

که زموږ په هېواد باندي د کمونستانو د سلطې څرنګوالي ته لږ ځير شو نو پدې حقيقت په ډېره آساني پوهېدی شو چي کمونيزم په افغانستان کي له روسانو سره د شاهي کورنۍ د سازش او د کرملين د واکدارانو د توجه جلبولو په لار کي د دې کورنۍ د ځواکمنو غړو ترمنځ د مسابقی او رقابت ناولی مولود دی. مګر نه ګوری چي کمونستان د يوې داسي کودتا له لاري قدرت ته ورسېدل او د خپلي کاملي سلطې لپاره ئې لار آواره کړه چي د شاهي کورنۍ د يوه غړي تر مشرۍ لاندې د هغو افسرانو په لاس ترسره شوه چي په روسيی کي روزل شوي وو. کمونستان د خپلي فلسفی له مخي بايد د يوه کارګري انقلاب له لاري قدرت ته رسېدلی وی او د دوی قيادت هم بايد د کارګرانو د ټولني له منځ نه راولاړ شوی وی، نه په يوه فيوډالي نظام کي د شاهي کورنۍ د يوه جنرال له کورنۍ نه او يا د دولتي مأمورينو له ډلي نه، د "پرولتريا د يکتاتوری" خو د "پرولترياېي مشرتابه" غوښتنه کوله!! دا څنګه په افغانستان کي د "پرولترياېي انقلاب" مشري د ببرك په شان د يوه جنرال زاده او د تره کي په شان د يوه بيروکرات او د يوه "بډای" د منشي لاسته ورغله؟ او دا ولې د دې انقلاب مدعيان د داسي عسکري کودتا له لاري قدرت ته ورسېدل چي د سردار داؤد په شان يو مستبد او مطلق العنان واکمن او د شاهي نظام يو قسی القلبه او بې رحمه صدراعظم د هغې په سر کي وو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "خلق ديموکراتيك گوند" د ۱۹۶۵ کال د جون په مياشت کي د هغي غونډي په ترخ کي جوړ شو چي د نورمحمد تره کي په کورکي جوړه شوې وه او لاندې کسانو په کي برخه درلوده:

نورمحمد تره کی، ببرك کارمل، صالح محمد زيری، سلطانعلي کشتمند، دستگير پنجشيری، ظاهر افق، نوراحمدنور، ډاکتر شاه ولي، شهپر، عبدالکريم ميثاق، عبدالحکيم شرعي جوزجانی، سليمان لايق، اناهيتا راتب زاد، بارق شفيعی، نظام الدين تهذيب، عبدالقدوس غوربندي، هادي کريم، عبدالحکيم هلال، طاهر بدخشي، ډاکتر ظاهر، ياور شيرزی، اسمعيل دانش، آدم خان ځاځی.

په دې غونډي کي د گوند اساسنامه تصويب شوه او د پلينوم په نامه يوه اتلس کسيزه کميټه جوړه شوه، نوموړي پلينوم د گوند مرکزي کميټه چي اوه اصلي او څلور علی البدل غړي ئې درلودل تأسيس کړه، د مرکزي کميټې اصلي غړي دا وو: تره کی، ببرك، زيری، بدخشي، کشتمند، پنجشيری او شهپر او علی البدل غړي ئې دا وو: ډاکتر شاه ولي، ظاهر افق، ډاکتر ظاهر، نور احمد نور.

مرکزي کميټي نورمحمد تره کي د منشي په حيث او ببرك کارمل د ده معاون وټاکلو.

د دې گوند د ښه پېژندنی لپاره لاندې ټکي د توجه وړ دي:

الف: کمونستي افکار ئې درلودل، له مسکو نه ئې الهام اخيستو، توجيه او تمويل ئې د روسانو له خوا کېدو.

ب: د ايران د "حزب توده" له خوا ليکل شوي او يا ترجمه شوي آثار د دې گوند فکری مراجع گڼل کېدل، گوند له فکری شخصيتونو نه محروم وو، ليکوالان ئې د نورو د آثارو ترجمانان وو، يوازې تره کي څو "کيسی" ليکلې، چي د محتوی او حجم له لحاظه ډېره ټيټه مستوی لري، د ده "کيسی" د جهاد په دوران کي د راڅرگند شوو لنډو کيسو له عادي ليکوالانو سره هم د مقايسی وړ ندي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په کیسو کې د افغاني ټولني د ملا، ملك، بزگر او ختگر ځېرې انځورشوې خو په عامیانه ژبه او پرېوتی مستوی. دې گوند په کابل کي دفتر درلود او د "خلق" ترنامه لاندې ئې یوه اونیزه خوروله چې د هغې څو خصوصیات وو:

الف: په مارکسیتی فرهنگ کي استعمال شوي اصطلاحات، له ترجمې نه پرته او په لاتینی ژبه کي د دې نشریې په هر مضمون کي په پراخه پیمانه د لوستونکې پام ځانته اړولو.

ب: اکثر مضامین ئې له روسي ورځپاڼو او "حزب توده" له خوا ترجمه شوو آثارو نه اقتباس کېدل.

ج: په ټولو نړۍ والو پېښو کي د مسکو د دریځ په کلکه ملاتړ او د امریکا غندنه.

د: له مشروطه شاهي نظام نه حمایت او له ملي دیموکراسي او د پراختیا له غیر پانگه وال اسلوب نه دفاع.

دوی د افرادو د جلب او جذب لپاره داسي کړنلاره خپله کړې وه چې مهمي برخي ئې دا وې:

الف : په ملایانو او پیرانو کلك گوزارونه او لدوی نه داسي یوه ځېره وړاندې کول چې نه یوازې د دوی په هکله په ځوانانو کي کرکه او نفرت راولاړ کړي بلکي دین ته هم شا کړي، د ملایانو په هکله به ئې ویل: دوی له نفاس، اسقاط، خیرات، زکات، د ماشوم په غوږ کي آذان، د مړی جنازه او دې ته له ورته مسائلو نه پرته څه د ویلو لپاره نلري، د ټولني موجوده وضعه هغه ته سل په سلو کي د دین مطابق او د خدای د رضا وړ بریښی، د ده له نظره عدالت همدا دی چې زموږ په ټولني حاکم دی، هغه خوارکی نه په سیاست پوهېږي، نه د نړۍ له حالت نه خبر دی، نه د فقر او لوږې اصلي عوامل پېژندی شي، نه په ټولني کي د بې عدالتي، طبقاتی نظام، د یوه د شتمن کېدو او د بل د نیستمن کېدو په کارکي د نظام او واکدارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اغیزی نه واقف دی، د هغه ټول هم او غم دا دی چې د کلي له خلکو "وظیفه" ترلاسه کړي او د مړی په ورځ د اسقاط برخه ورکړی شي. دا مفت خواره دي، د نورو په "وظیفو" ستر شوي، د بل دسترخوان ته ئې سترګې وي، د خانانو نوکران دي، د واکمنانو د سر دعا کوي، د پاچا د تخت او تاج د بقا خطبی وایي، دا یوه ارتجاعی ډله او د انقلاب ضد ځواك دی، د دین په نامه خلك غولوي، خلکو ته وايي چې په روانی وضعي شکر وکړي، دا د خدای له لوري په موږ مسلطه شوې، تقدیر همداسي تللی، د تقدیر مخالفت له خدای نه بغاوت دی، هرڅه خدای ته پرېږدئ، په فیصلو ئې راضی اوسئ، اعتراض مه کوئ، د وضعي د بدلون هڅه مه کوئ، تر قیامته پوري به همداسي هره ورځ تربلي بدتره وي، که په ټولني کې نابرابري ده خدای راوستی، یوه ته زیات یوه ته کم خدای ورکړي، وینی د ده له لوري دی، د دین حقیقت همدا دی، که دین غواړې نو نه به په روانی وضعي اعتراض کوئ، نه به په نظام کي تبدیلي غواړئ، نه به د عدالت او برابری غوښتنه کوئ او نه به له ظلم او ناروا سره د مخالفت لپاره ملاتړئ. خو که غواړئ چې ولس لدې دردونکي حالت نه وژغورلی شي، فقر، لوږه، غربت او نادارای پای ته ورسېږي، خلکو ته کور، کالي، ډوډۍ ورسېږي، ډېرای او نادار، شتمن او نیستمنن، بزګر او ځمکه وال، کارګر او سرمایه دار، حاکم او محکوم ترمنځ تفاوت له منځه ولاړ شي، حکومت د غریبی طبقی او کارګرانو په لاس کي وي، هېواد مو ترقي وکړي، نو راځی زموږ ملګری شئ، دین ته شا کړئ، له ملا او پیر نه رابیل شئ، مارکسیزم لینینزم ستاسو ټولي هیلي تر سره کوي، ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب وایي، باید د یوه سوسیالیستی انقلاب راوستو لپاره ملا وتړو، دا فیوډالي نظام پای ته ورسوو، دین د فیوډالي نظام زیږنده او د همدې نظام د بقا لپاره صحنې ته را ایستل شوی. کومو ولسونو چې دین پرېښی ترقي ته رسېدلی، دین او ترقي، مذهب او علم له یوه بل سره اړخ نه لګوي، یا به دا غواړې یا هغه !! د دې لپاره چې د بډایانو او فیوډالانو ژوند د جنت په څېر وي او بزګران او کارګران د دوزخ په څېر ژوند کي قانع او راضی وي، ملا خلکو ته همدا وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آخرت جنت ستا دی او د دنیا جنت د نورو. اعتراض مه کوه هغه تر دې غوره دی!! دا هغه خبري وې چې د ماکسیم گورکي او جك لندن په شان ناول لیکونکو په کیسوکي د هر مخاطب مخي ته ایښود ل کېدې، ځوانانو د دین حقیقت یا د ملا او پیر په کړو وړو کي لټولو او یا پداسي ناولونو کې. دې ته نه وو متوجه چې دا ناولونه په غربی ټولني کي "دینداره" طبقه تمثیلوي، دا د کشیش او کلیسا په هکله لیکل شوي، پدې هم نه پوهېدل چې دین باید په دین کي ولټوو نه د دیندار په کړو وړو کې، که د دین مدعی منحرف شو، له دین نه ئې ځانته دکان جوړ کړ او دین ئې د حاکمانو په پښو کي ذبح کړ، باید په همدې کس اعتراض وکړو نه په هغه دین چې په خپله د همدې کس په لاس قرباني شوی، نه په هغه دین چې خلکو ته وایي: ورانه دنیا د وران آخرت ښنه ده، دنیا د آخرت مزرعه ده که دي کښت خوار وو، د سمسور آخرت هیله مه کوه، هیڅوك حق نلري د دین په نامه له نورو نه څه ترلاسه کړي، بې عدالتي، فقر او لوږه، ستا د کړو وړو او ستا د غیر عادلانه ویښې نتیجه ده، نه په بندگانو د مهربان خدای د نه پیرزویني، دین د ظلم دښمن دی او له ظالم نه بیزار، دین راغلی چې د ظلم ټغر ټول کړي، مظلومان له ظلم نه وژغوری، خلکو ته ووایي چې له الله نه پرته بل ته سر ټیټ نکړي، ټول برابر پیدا شوي یاست، له یوه مور پلار نه، هیڅوك په بل د لويي حق نلري، کوم ملا چې د ظالم واکمن په څنگ کي ودرېدو هغه یو ټگمار دیندار دی چې دین د دنیا لپاره د حاکمانو په پښوکي ذبح کوي. د داسي دیندارانو په عمل باندي د خدای دین همدومره اعتراض لري چې د دین دښمنان ئې ورباندي لري.

کمونستانو به په خپلو حزبی غونډو کې، د نجونو او هلکانو د گډې نڅا او رقص محفلونه جوړول، د ودکا جامونه به ئې وېشل او پدې سره به ئې ځوانان جذبول، نورمحمد تره کي یوه ورځ پیغلو ته مخ کړ او ویې ویل: د بلغاریې پیغلو په خپلو سپینو لیچو انقلاب بري ته ورساوو، له تاسو نه همدا انتظار لرو.

زما په یاد دي چې یوه ورځ د پوهنتون په انگړ کي د پرچمیانو د یوې غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ ته تېرېدم، يوې پيغلې چې سر، غاړه، سينه او لاسونه ئې بربنډ وو د ستيج په سر ئې شعر وايو او ځوانانو ته ئې خطاب کاوه چې: که انقلابي شوې او انقلاب دې بري ته ورساوو، بيا راشه زما شونډې وزبيښه. دا د دوی اسلوب وو او د دعوت او بلنې مواد.

ماته د دوی د اکثرو کتابونو او ليکنو د لوستلو فرصت په لاس راغلی، له کپيټال نه تر ناولونو پورې، د مارکس، لينن، استالين او ماکسيم ګورکي له کتابونو نه د مائوتسيتون او جك لندن تر ليکنو پورې. پدې ليکنو کې د عقل په ځای احساسات پارول شوي، د فلسفی په ځای په کيسو ترکيز شوی، د "دين" په ځای "ملا" تر بريد لاندې نيول شوی او لدې لارې دين ټکول شوی.

دا ګوند د تأسيس په لومړيو کلونو کې ډېر سريع مخ په وړاندې روان وو، ډېر ځوانان ئې بې لارې کړل، په اکثرو علمي مؤسساتو مسلط شو، پوهنتون د دې ګوند په مهمې اډې بدل شو. له يوې خوا د ټولنې بد وضعيت، فقر، لوږه، جهل، له دين نه بې خبري، استبدادي نظام، د يوې کورنۍ واکمنې په ټول ملت او شديد اختناق او له بلې خوا په نړۍواله سطح د کمونيزم سريع او چټك خورېدل او غربي پانګه وال نظام ته د دنيا په ګوټ ګوټ کې ماته ورکول او په اروپا، آسيا، افريقا او لاتيني امريکا کې يو په بل پسې ستر ستر انقلابونه او بدلونونه راوستل د دې باعث شو چې افغاني ځوانان د دوی په لومو کې پرېوزی، له ځوانانو سره چې د هېواد داخلي وضعيت او نړۍ والو پېښو کوم سوالونه را پيدا کړی وو، د دې ځواب ئې نه په مسجد کې موندو او نه په خانقا کې، دوی غوښتل چې هېواد لدې دردناك او شرموونکي حالت نه وژغورل شي او له نورو هېوادونو سره د سيالۍ وړ شي، که پدې هيله جومات يا خانقا ته تلل نو نااميده او خالي لاس راګرځېدل.

خو د دې حالت عمر ډېر لنډ وو، د خلق ګوند ډېر ژر په ګڼ شمېر ډلو ووېشل شو، لومړی انشعاب د ۱۹۲۷ کال د جولای په مياشت کې د حزب د منشي او د ده د معاون ترمنځ تر سره شو، له کارمل سره د خلق ګوند هغه غړي ملګری شول چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرفه او شتمنو کورنیو پوري مربوط او غیر پښتانه وو او له تره کي سره هغه کسان پاتې شول چې پښتانه ول او د ټولني په محرومي طبقې پوري تړلي وو، تره کي د گوند لومړی نوم له ځان سره وساتو او کارمل له خپلو ملگرو سره د پرچم په نامه نشریه راوایستله او ډله ئې په همدې نامه معروفه شوه.

په دوهم قدم کي دستگیر پنجشیری له گوند نه ووت او د"خلق کارگر" په نامه ئې ځانته ډله جوړه کړه.

وروسته طاهر بدخشي له گوند نه بېل شو او ډله ئې د ستم ملي په نامه مشهوره شوه. د ده ډلي په ملي ستم باور درلود او ویل ئې چي د پښتنو په خلاف باید نور ملیتونه متحد شي او د دوی سلطه پای ته ورسوي، دې ډلي د کمونستي فلسفې خلاف د طبقاتی ستم په ځای د ملي ستم مفکوره وړاندي کوله. اکثر غړي ئې د تخار او بدخشان وو، شمېريې هومره محدود وو چي تر پایه ئې د کومي لویې غونډې د جوړولو او د کومي نشریې د خورولو توان ونه موند.

د اختلاف او په څو ډلو د وېشل کېدو لاندي لاملونه وو:

الف: د زعامت فکری او اخلاقي ضعف.

ب: قومي او ژبني تعصبات او په همدې بنیاد د گوند په منځ کي د مختلفو ډلو جوړېدل او په پای کي د هر سمت او سیمي مربوط غړي په بېل بېل گوند کي را غونډېدل: پښتانه له تره کي سره، تاجکان له کارمل سره، د بدخشان او تخار خلقیان له طاهر بدخشي سره او شمالي وال له دستگیر پنجشیری سره.

ج: له دولت سره د اړیکو په اړه بېل بېل نظریات، کارمل او ملگرو ئې د تفاهم او عدم تشدد د مفکورې پلوي کوله او د تره کي پلویانو د شاهي کورنۍ له غړو، مخصوصاً سردار داؤد سره د کارملیانو په نږدې اړیکو اعتراض درلود.

د: په نړیواله سطحه په کمونستي بلاك کي د روسیې او چین ترمنځ د شدید رقابت او په کمونستي جریان کي د بنسټ پالو او اصلاح طلبانو تر منځ تودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منازعې د افغانستان د کمونستي جريان په وضعي دا اغيزه درلوده چي دلته هم مختلفې ډلي را منځته شي. ځينو د مسکو له هغي تګلاري سره ځان عيارکړ چي د خروشوف په دوران کي رامنځته شوه او د استالين د دوران له سياستونو او تګلارو سره ئې ژور اختلاف درلود، ځينو نورو دا تجديد نظر په کلکه محکومولو او هغه ئې ناجائز ګڼلو او د کرملين نوې تګلاره ئې د کمونيزم له اصلي خط نه انحراف شمېرو او نوي واکداران ئې په ليبراليزم او نفاق متهمولو، ځينو نورو دا وپتيبله چي حق لري د کموږم په هکله خپل ځانګړی نظر ولري او د کمونستي افکارو په چوکات کي ځانته د خپلو خاصو شرايطو له تقاضا سره سم تګلاره وضع کړي. د کرملين د واکدارانو تر منځ اختلاف د مسکو د سياستونو په هکله په نورو هېوادونو کي هغه مخکنی تصور او تعامل بدل کړ چي له آخوا صادر شوي تحليلونه او لارښووني به مقدس شمېرل کېدې او له هر راز تصرف او تجديد نظر نه پرته به په کار وړل کېدې.

هـ: د اختلاف يوه وجه دا وه چي تره کی، حفيظ الله امين چي نوی له امريکا نه راغلی وو، په حزب کي ومانو او هغه ته ئې ارتقاء ورکړه، د ګوند سابقه دارو غړو ته دا د منلو وړ نه وه، امين ته ئې د شك په نظر کتل او دا تبليغات ئې کول چي دی د (سی، آی، ای) له خوا ګمارل شوی دی.

## شعله جاويد:

د دې ډلي اصلي نوم "جمعيت ديموکراتيك نوين" وو، خو د نورو ډلو په څېر د خپلي خپروني "شعله جاويد" په نامه مشهوره شوه، د دې ډلي په هکله په اختصار سره ويلی شو چي:

الف: پداسي وخت کي راپيدا شوه چي له يوې خوا د "خلق ديموکراتيك ګوند" له انشعاباتو سره مخامخ شوی وو او له بلي خوا په نړۍ واله سطحه چين د "مائوتستون" مشرتابه لاندې د مسکو په خلاف نوې، خو توده جبهه پرانستلې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كمونستي جريان د مشرتابه ادعا ئې كوله، كرملين به ئې په ريويزيونيزم او له ماركسيزم ليننيزم نه په انحراف متهم كاوو، تقريباً په ټولو هېوادونو كي ئې د مسكو پلوه احزابو تر څنگ، پيكنگ پلوه ډلي جوړي كړې وې، په افغانستان كي د "شعله جاويد" په جوړلو موفق شو.

ب: دې ډلي په مسلحانه، نه پخلا كېدونكې او انقلابي مبارزې باور درلود، پارلماني مبارزه، سوله ايز بدلون، له ارتجاع او امپرياليزم سره روغه جوړه ئې د ماركسيزم لينينيزم له كرښلاري سره معارض گڼله، د چين كمونستي انقلاب د دوی قدوه او د مائوتستون كتابونه د دوی لارښود وو، دوی د خپلو چيني مشرانو په څېر، د كارگری انقلاب په ځای د بزگرانو په انقلاب تأكيد كولو، ويل ئې چي افغاني ټولنه لا د بورژوازي او سرمايه دارۍ مرحلې ته نده رسېدلې، كارگری ټولني نلري، د توليد اصلي منبع ځمكه ده، زموږ كارگران بزگران دي نه د فابريكو كارگران، د كارگری انقلاب شعارونه دلته بې ځايه او بې محتوی شعارونه دي، بايد بزگرانو ته سياسي شعور وركړو، د نظام د نسكورلو لپاره ئې متحد كړو. دوی دا تحليل پداسي حال كي وړاندي كاوو چي مسكو او پلويان به ئې په ريويزيونيزم متهم كول، حال دا چي د كارگری انقلاب په ځای د بزگری انقلاب عنوانول پخپله په ماركسيزم لينينيزم كي يو تجديد نظر وو!! ماركس او انگلس د كمونستي انقلاب لپاره د بورژوازی مرحله ضروري گڼله او پدې باور وو چي دا انقلاب د كارگرانو په لاس تر سره كېږي، د دوی په مسلك كي د بزگرانو د انقلاب تصور نشو موندلی.

ج: د ی ډلي اكثراً په اهل تشيع كي نفوذ وكړ، له اهل تشيع نه بهر په نورو پرگنو كي د دوی نفوذ له هيڅ سره برابر وو، تر پايه پدې ونتوانېدل چي په نورو ساحو كي نفوذ وكړي، وجه ئې دا وه چي د لومړی كچی مشران ئې په شيعه كورنيو پوري مربوط وو.

د: مهم غړي ئې دا وو: ډاكتر عبدالرحيم محمودي، ډاكتر عبدالهادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمودي، انجنير عثمان لنډی، صادق ياری او اکرم ياری او د دوهمي کچې غړي ئې دا: حيدر علي لهيب، شاکر، عبدالاله رستاخيز، مجيد کلکاني، قيوم رهبر، مينا کشور کمال، ليلا فيض.

هـ: دې ډلې د تبارز په لومړيو کلونو کې سريع وده وکړه، په ځوانانو کې ئې نفوذ ډېر تند او چټك وو، د خلق ديموکراتيك گوند او له هغه نه بېلې شوې ډلې ئې له جدي گواښ سره مخامخ کړې، په پوهنتون او علمي مؤسساتو کې د دې گوند مخکنۍ سلطه ئې پای ته ورسوله، لکه څومره چې پيکنگ د مسکو لپاره پدې مرحلې کې په جدي گواښ بدل شوی وو "شعله جاويد" د مسکو پلوه جريان لپاره همداسې گواښ وو. خو دا ډله له هغه وروسته له شديدو داخلي ستونزو سره مخامخ شوه او په گڼ شمېر ډلگيو ووېشل شوه چې د "مسلمانو ځوانانو" له اسلامي نهضت سره ئې د کابل پوهنتون په انگړ کې څو نښتې درلودې او په هري نښتې کې ئې ماتې وخوړه.

و: دوی به د مائوتستون کتابونه لوستل، د چين سفارت به دا کتابونه په ډېره پراخه پيمانه خورول، د ده کتابونه اکثراً د جاپان له سلطې نه د چين د آزادۍ د تاريخي جگړې او بيا د چين د انقلاب د بېلابېلو برخو په هکله ليکل شوي وو، که څه هم له علمي او فکری لحاظ ئې خاص څه نه درلودل خو د يوه انقلابي جريان د مختلفو اړخونو په څېړلو او معرفي کولو کې د نورو کمونستو ليکوالانو تر ليکنو ډېر غني وو.

د "شعله جايد" ځينو غړو د مائوتستون له افکارو نه لاس واخيست او د البانيا مشر "انور خواجه" ئې ځانته قدوه غوره کړ. ځينو نورو د افغانستان شرايط، نه د چين په شان د يوه بزگری انقلاب لپاره مساعد گڼل او نه د روسيې او البانيا په شان د انقلابونو لپاره، د دې په ځای ئې د "چگوارا" په څېر د پارتيزاني مبارزې ملاتړ کولو، دې متضادو تگلارو هم د دې ډلې په وېشلو او انشعاب کې خاص تاثير درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز: په ځوانانوکي د دې ډلي د لومړيو ورځو د چټك نفوذ يو اساسي لامل دا وو چي دوی په نړۍ واله سطحه هم د امريکا امپرياليزم غندلو او هم د روس سوسيال امپرياليزم او د هېواد د ننه ئې د حاکم نظام د ړنگولو او د يوه انقلابي بدلون غوښتنه کوله. له دولت سره سازش، روغه جوړه او سوله ايز تعامل ئې محکومولو، اصلاح طلبی ئې د نظام په گټه او د يوه انقلابي بدلون په وړاندي خنډگڼلو. د يوې محرومي او محکومي ټولني کوم ځوان نسل چي د استبداد او اختناق، فقر، لوږي او بې عدالتي په غيږ کي سترکېږي، انقلابي افکار او د يوه تند او انقلابي بدلون تګلاري تر غير انقلابي افکارو او اصلاح طلبه تګلارو ژر خوښوي، يوازې په مرفه ټولنو او د حاکمو کورنيو په غيږ کي ستر شوي ځوانان د رفورمستی او اصلاح طلبه حرکتونو ملاتړکوي، زموږ په ټولني کي د داسي کسانو شمېر ډېر کم وو. که د افغانستان د سياسي احزابو جوړښت ته لږ ځير شو په ځرگند طور گوروچي: د پرچم له ډلي سره د کابل د مرفه کورنيو او په حاکمي طبقی پوري تړلي کسان يو ځای شول، د دوی اجتماعي وضعيت د دې تقاضا کوله چي اصلاح طلبه تګلاره غوره او په انقلابي افکارو او تګلارو هغې ته ترجيح ورکړي، په مقابل کي ئې د تره کي پلويان که څه هم د دواړو د الهام منبع يوه وه او د سياسي اړيکو په اساس بايد د پرچميانو په څېر وی خو پدې خاطر چي په غريبو کورنيو پوري تړلي وو، له پرچميانو نه ئې په تګلارو کي انقلابي تمايلات زيات وو او شعله جاويد د همدې عامل په اساس د دواړو خلاف د سوله ييزي مبارزې په ځای په انقلابي او مسلحانه مبارزې ټينگار کولو، په همدې خاطر په ځوانانو کي د دوی نفوذ تر نورو چټك وو.

لومړۍ ډله چي له شعله جاويد نه بېله شوه د " گروه انقلابي خلق افغانستان" تر نامه لاندې ئې خپل کار پيل کړ، دا ډله ورو ورو تقويه شوه، د مجيد کلکاني ډله هم لدوی سره يوځای شوه، خو په ۱۳۵۴ کي د "اخگر" ترنامه لاندې يوه ډله لدوی نه بېله شوه او د اوم ثور له کودتا نه وروسته د مجيد کلکاني ډله لدوی نه بېله شوه او ځانته ئې د "سازمان آزادی بخش مردم افغانستان" په نوم بېله ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړه، گروه انقلابي خلق افغانستان ځانته نوی نوم غوره او د سازمان رهايي تر نامه لاندې ئې فعاليت پيل کړ. د سردار داؤد له کودتا نه وروسته د دې ډلي گڼ شمېر غړي د دولت سره يوځای شول، دا کسان وروسته بيا له خلق او پرچم سره ملگری شول او لدوی سره د شعله جاويد د ځينو نورو غړو د يوځای کېدو واسطه شول، د سردار داؤد د اقتدار په دوران کي شعله جاويد د هغو سياسي ډلو لار غوره کړه چي ځيني غړي ئې له دولت سره يوځای شول، ځينو ئې له مبارزې نه لاس واخيست او ځينو نورو مناسب فرصت ته د انتظار کولو فيصله وکړه. د دوی هغو کسانو چي غوښتل ئې د خپلي ډلي شعارونو ته وفادار پاتې شي، دا پرېکړه وکړه چي د پاکستان پيپلز پارتی له حکومت نه د مسلحانه مبارزې لپاره مرسته ترلاسه کړي. پيپلز پارتی له چين سره ډېرې تودې اړيکي درلودې او پدې حزب کي يوه فعاله ډله داسي وه چي له شعله جاويد سره ئې په فکری لحاظ خواخوږی درلوده او د دوی په شان د مائوتستون د افکارو پلويان وو.

د شعله جاويد هيئت د جمعيت الله جلال تر مشرۍ لاندې پاکستان ته ولاړ، د بوتو حکومت، جنرال محمد موسی چي په خټه هزاره وو، لدوی سره د تفاهم او تماس لپاره توظيف کړ، د ده په لاس دې هيئت ته د مالي مرستي تر څنگ څو ميله وسله او څه منفجره مواد ورکړ شول او د مؤثر کار په صورت کي د کافي مالي او نظامي مرستو وعده ورکړی شوه، د پيپلزپارتی هغه اړخ چي چينائی کمونستي افکار ئې درلودل، دې ارتباط ته خاص اهميت ورکولو او دا ډله ئې له فکری لحاظه ځانته ډېره نږدې گڼله او دې ته ئې ترجيح ورکوله چي دا ډله وپالي، وده ورکړي او د مؤثر کار شرايط ورته برابر کړي، خو شعله يانو څو ستر مشکلات درلودل:

- له شديد داخلي اختلاف سره مخامخ ول، په گڼ شمېر متخاصمو ډلگيو وېشل شوي وو، لداسي مشرتابه نه محروم وو چي د دې ډلي اکثر غړي پری راغونډ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• وسله وال فعاليت له كافي ولسي ملاتړ او په ملت كي له ژور نفوذ نه پرته ممكن ندی. دا ډله د ولسي ملاتړ له ناحيې پداسي موقعيت كي نه وه چي د رژيم په خلاف مؤثر كار وكړي شي، پاكستان د هغو انفجاراتو په مقابل كي لدې ډلي نه د فوری اقداماتو انتظار درلود چي د داؤد د حكومت له خوا په ټول پاكستان كي ترسره كېدل او لمن ئې ورځ په ورځ خورېده. كه دا ډله پدې توانېدلې وی چي مؤثر كار وكړي، د بوټو د حكومت انتظار تر سره كړي او د كابل له لوري د هغه وخت د فشار په راكمولو كي له اسلام آباد سره مرسته وكړي، شايد د بوټو حكومت بلي افغاني ډلي ته مخصوصاً داسي ډلي ته چي اسلامي هويت ولري، هيڅكله له پاكستان نه په افغانستان كي د څه كولو موقع او فرصت نه وی وركړي، خو د شعله جاويد په ډلي كي دا توان نه وو چي لدې شرايطو نه استفاده وكړي.

په ۱۹۸۱ كي دې ډلي يو ځل بيا هڅه وكړه چي له اسلام آباد سره هغه تت شوې زړه رابطه راژوندی كړي، د رهائي گروپ مشر ډاكتر فيض احمد د يوه هيئت په مشرۍ له هماغه جنرال موسی سره ليدنه كتنه وكړه، څه تحفی او هديی ئې هم نوموړي جنرال ته له ځان سره درلودې، جنرال صاحب تحفی په ورين تندي ومنلې خو هيئت ته ئې داسي وعدې ورنكړی شوې چي هيئت انتظار درلود.

دغه عوامل باعث شول چي افغاني چينائي كمونستان د اسلامي انقلاب په دوران كي فعال او ځرگند حضور ونلري، په داخل كي د جنگ د مستقلي جبهې له پرانستلو نه عاجز پاتې شي او په لاندې شكلونو كي فعاليت وكړي:

• په هغو ډلو كي نفوذ وكړي او د دوی له نوم او بيرغ نه په استفادې سره كار وكړي چي يا التقاطی افكار لري، هر څوك په خپلو ليكوكي منلی شي، وسايل او امكانات لري خو افراد نلري او يا په هغو ډلو كي چي نه تنظيم لري، نه د سياسي كار تجربه او نه د كمونستانو په هكله معلومات. د شمالي د سيمي غړي ئې په شوری نظار كي ننوتل، د هرات غړو ئې د حركت انقلاب اسلامي ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کړه، د مرکزي صفحاتو او په شيعه ټولني پوري مربوط غړي ئې په شيعه تنظيمونو کې او ځيني کسان ئې له جبهه نجات او محاذ ملي سره يوځای شول.

د: د سازمان رهايي ډلي دا وپتييله چي خپلي مخکنۍ تګلاري بدلي کړي او نوې تګلاره غوره کړي، نوې تګلاري دا غوښتنه کوله چي: د مجاهدينو په شان بايد له ښارونو نه د کليو په لوري مخه کړي او د خپلي مبارزې لپاره د ښارونو په ځای کلي غوره وګڼي.

## افغان ملت

دا ډله د انجنير غلام محمد فرهاد په لاس جوړه شوې، هغه خپل تحصيلات په جرمني کي ترسره کړي وو. د جرمني د سوسيال ديموکرات ګوند له افکارو او تګلارو نه متأثره وو، خپل ګوند ئې د افغان سوسيال ديموکرات په نامه ياد کړ، د "افغان ملت" په نامه ئې نشريه درلوده، ډله ئې په همدې نامه مشهوره شوه، دا ډله د طاهر بدخشي د ستم ملي ډلي مقابل ډله ګڼلی شو، په نشنليزم ئې باور وو، د پښتنو برلاسی ئې غوښتله، د پښتونستان د داعيې کلکه پلوي او پدې هکله ئې د دولت ملګرتيا کوله، د شاه له خوا نومول شويو صدراعظمانو ته ئې تل د اعتماد رأی ورکوله. انجينر غلام محمد فرهاد هلته شهرت ترلاسه کړ چي د کابل ښاروال وټاکل شو او پدې وتوانېدو چي د کابل ښار ښه تر ډېره حده بدله کړي، په ښاروالۍ کي د ده برياوو ده ته نه يوازې کافی شهرت ورپه برخه کړ، بلکي د يوه حزب د جوړولو موقع ئې په لاس ورکړه، د دې ډلي غړي اکثراً مشرقي وال وو، په ځوانانو کي ئې نفوذ ډېرکم رنګه او له هيڅ سره برابر وو. ويلی شو چي تر ټولو سياسي ډلو وروسته وه، مهم غړي ئې دا وو:

غلام محمد فرهاد، قدرت الله حداد، علي احمد ملت يار، حبيب الله رفيع او فدامحمد فدائی. دا ډله هم ډېر ژر له انشعاباتو سره مخامخ شوه، لومړی د ملت او افغان ملت په نامه دوو ډلو او وروسته په نورو ډلګيو ووېشل شوه، زيات شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي ئې د سردار داؤد او د کمونستانو د اقتدار په دوران کي له دولت سره يوځای شول.

## صدای عوام

د عبدالکريم فرزان تر مشرۍ لاندې يوه ډلګۍ د خپلي نشريې "صدای عوام" په نامه مشهوره شوه، عبدالقيوم وردك او ښځه ئې معصومه عصمتی او ذبيح الله عصمتی ئې مهم غړي وو.

عجيبه دا ده چي پد ېمرحلې کي هيڅوك داسي پيدا نشو چي د يوه اسلامي ګوند د جوړولو لپاره د سياسي مبارزې ډګر ته راووځي، د بې دينه او لائيك ګوندونو په مقابل کي د اسلام پالو سياسي حزب جوړکړي او د هېواد د سياسي، اجتماعي او اقتصادي ستونزو د حل اسلامي تګلاره وړاندي کړي او ځوان نسل د دښمنانو په لوموکي له لوېدو وژغوری!! له چا نه چي د داسي يوه حرکت د پيلولو هيله کېده هغوی يا د نظام په خدمت کي او د موجوده وضعي د دوام او بقا غوښتونکي وو او يا د روان وضعيت له خطرناکو عواقبو نه بې خبره وو او يا په هېواد حاکم نظام ورته د اسلام له غوښتنو سره سم او د الله د رضا مطابق معلومېدو، دوی له اسلام نه همداسي يو ناقص تصوېر په خپل ذهن کي انځور کړی وو، روان وضعيت دوی ته خاص امتيازات ور په برخه کړي وو، هره تبديلي ئې د خپلو امتيازاتو لپاره ګواښ ګڼلو، له واکمني طبقی سره لدې لحاظه ورته ول، د دواړو ګټې سره غوټه شوې وې، دوی د هماغي ډلي غړي وو چي شاه ئې په سر کي وو. دوی حتی د يوې دولتي ډلي له جوړولو نه هم ډډه کوله. که تاسو د هېواد د سياسي احزابو تاريخ ته لږ ځير شئ په څرګنده به وګورئ چي د "مسلمانو ځوانانو" د پاڅون تر پيل پوري د سياسي مبارزې ډګر غير اسلامي ډلو ته تش پاتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمونستانو په وړاندي عکس العمل

د کمونستانو سريع او چټکي ودي څو ځانګړې نتائج درلودل:

× مغرور شول، د لومړيو ورځو هغه احتياط ئې شا ته وغورزاوو چي د ولس له مقدساتو سره د تصادم په اړه ئې درلود او لدې نه ئې ډډه کوله چي خپل الحادي ماهيت بربنډ کړي او د خلکو په مقدساتو تېرى وکړي. دوى په ځوانانو کي خپل سريع او چټك نفوذ داسي تعبير کړ چي ځوان نسل له دين نه بيزاره او کمونستي افکارو منلو ته چمتو دي، کمونيزم په خپلي اصلي بڼې کي وړاندي کول نه يوازې اشکال نلري او دوى ته خنډونه نه راولاړوي بلکي په ځوانانو کي د دوى د مزيد نفوذ باعث ګرځي. د ټولني د وضعيت په هکله د کمونستانو غلط تشخيص او ناسم تصور دوى دې ته وهڅول چي له ديني شعائرو سره په خپل چلند کي په پوره بې باکۍ سره عمل وکړي او له عکس العمل نه بې پروا وي.

× د کمونستانو تهاجمي حالت او سريع ودي په ځينو کي وېره راپيدا کړه، ځيني ئې د هېواد د راتلونکې په هکله مشوش کړل او ځيني نور ئې راوپاړول چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دین او هېواد نه د دفاع په خاطر په مختلفو لارو چارو غور وکړي. پدغو کسانو کې ځینې داسې وو چې غوښتل ئې څه وکړي؛ خو یا د څه کولو په موقعیت کې نه وو، یا ئې د څه کولو جرأت نه درلود، یا د وضعیت له دقیق تشخیص او د کمونستانو د پیدا ښت د لاملونو له پېژندنې نه عاجز وو او د کمونیزم د مقابلې په غلطو لارو چارو غور کاوه او غوښتل ئې د دولت په مرسته د کمونستي خطر مقابله وکړي. له پوهنتون او علمي مؤسساتو نه پرته د ټولنې په نورو برخو کې د یوه منظم او ځواکمن سیاسي تحریك روانول ممکن نه وو، د پوهنتون او علمي مؤسساتو په زده کوونکو کې ډېر کسان داسې وو چې د یوه اسلامي جریان په روانولو کې ئې هم د خوځنده او فعالې ونډې اخیستو جرأت درلود او هم کفایت او استعداد. دوی د کمونستانو له تحرکاتو، جلسو، تظاهراتو، د ځوانانو د جلب او جذب له جدي هلو ځلو او په خپل دین او ایمان د دوی له بې باکانه او پاروونکې تېرې نه ځورېدل، له ډېرو سره دا آرمان وو چې د کمونستانو د سرو بیرغونو په مقابل کې شنه بیرغونه اوچت شي، د کمونیزم په غېږ کې د افغاني ځوانانو د پرېوتو مخنیوی وشي، داسې فعال اسلامي حزب صحنې ته راووځي چې دا ځوانان په خپلو لیکو کې تنظیم کړي او د هغه خطر مقابله وکړي چې کمونیزم زموږ دین او هېواد ته متوجه کړي. زه یو له دغو کسانو څخه وم، د کندز د شیرخان لیسې په لسم ټولګی کې وم چې دا احساس راسره پیدا شو، قصه داسې وه: له ۱۳۴۵ نه وروسته د کمونستي ډلو لمن له کابل نه اطراف ته خوره شوه، په ولایاتو کې د دوی فعالیتونه ورځ په ورځ ګړندي کېدل، دا کار اکثراً د هغو کسانو په لاس ترسره کېدو چې له ولایاتو نه د زده کړې لپاره کابل ته تللي او هلته د کمونستي ډلو په لوموکې لوېدلي او له ځان سره ئې کمونستي افکار اطراف ته انتقال کړي وو او یا د هغو کسانو په لاس چې له مرکز نه اطراف ته منتقل شوي وو.

په ۱۳۴۲ کې چې زه د لسم ټولګی زده کوونکی وم، زموږ لیسې ته له کابل نه ځینې داسې متعلمین راغلل چې له کمونستي افکارو نه متأثر شوي وو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خلق" او "شعله جاوید" غړي وو، د دوی حرکات او سکنات، ناسته پاسته، یوه بل ته لاس ورکول، خبري، تبصری.. هرڅه له نورو متعلمینو نه فرق درلود، لدې نه مخکي به له مرکز نه راتلونکو کسانو له ځان سره د لباس نوی موډ، د ویښتانو د جوړولو نوې طریقه، دشقیقو او بریتونو نوې اندازه، د پتلون د پایڅو او د بوټونو د څوکو او تلو نوی شیپ د اطراف پیغلو او ځوانانو ته له ځان سره هدیه راوړل، خو کمونستانو د دې ترڅنګ څه نور شیان هم له ځان سره اطراف ته راانتقالول، نوي او پردي اصطلاحات لکه بورژوازی، فیوډالیزم، امپریالیزم، سوسیالیزم، پرولتریا او دې ته ورته ډېر نور اصطلاحات چي د اطراف ځوانانو ته نوي او جالب وو، دوی له ځان سره د مبارزې د فرهنګ ډېر اصطلاحات خپلو اطرافی ملګرو ته هدیه کول، اعتصاب، مظاهره، انقلاب، سوله ایزه مبارزه، مسلحانه مبارزه، له رژیم سره د مقابلې لپاره په سیاسي احزابو کي شاملېدل... اطراف ته د دوی په راتلو سره دلته د سیاسي مناقشې نوی باب پرانیستل شو، د لوړو ټولګیو په زده کوونکو کي د ی مناقشې جدي رنګ غوره کولو، هره ورځ به په ټولګیو کي مخصوصاً د ښوونکي د غیرحاضری په صورت کې او د تفریح په وخت کي د دوی ترمنځ سختی مناقشې روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مبارزې پرېکړه

له کابل نه د راغلو متعلمينو په ډلي کي د حفيظ الله امين وراره اسدالله امين زمونږ د لسم ټولگی په زده کوونکو کي شامل شوی وو، د ده پلار د کندز د سپين زر شرکت د رئيس غلام سرور ناشر سکرتر وو، تره ئې د خلق گوند د منشي معاون وو، دی د حفيظ الله امين د اقتدار په وخت کي د "واد"، وزارت امنيت دولتي رئيس شو او د روسانو د تېري په ورځ له امين سره يوځای په قتل ورسېدو، لده سره مي يوه ورځ جدي مناقشه پيل شوه، دې مناقشې د هغي ورځي په ټولو فارغو ساعاتوکي دوام وکړ، چي د ښوونځي د رخصتي زنگ ووهل شو او کورونو ته روان شوو، په لاره مو بياهم بحث او مناقشې دوام وکړ، چي کله زه د هغه سرای خولې ته نږدې ورسېدم چي په کرايي اطاق کي ئې اوسېدم نو اسدالله امين ما ته مخ کړ او وئی ويل: ماته اجازه راکړه چي يوه ورځ ستا اطاق ته راشم او ته ماته خدای ثابت کړه، دا لومړی ځل وو چي ما په خپل ژوند کي له چا نه د خدای(ج) په هکله داسي خبره اورېده، ما گمان نه کاوو چي کمونستان به واقعاً خدای نه مني او دا مي په خيال کي نه گرځېده چي په افغاني ټولني کي به څوك له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه انکار کوي او له بل نه به د اثبات دلایل غواړي، د اسدالله امین پدې خبري سره سخت تحریك شوم، نږدې وه زما او د ده نښته وشي خو نورو متعلمینو مداخله وکړه او د نښتي مخه ئې ونیوله. زه خپل اطاق ته ولاړم خو ډېر پارېدلی، حساس او مشوش، ما او زما په شان ډېرو نورو کسانو دا گمان کولو چي د دولت ضد مبارزین د اجتماعي بدلون لپاره مبارزه کوي، غواړي شاهي نظام په یوه جمهوری نظام بدل شي، هېواد ترقي وکړي او ولس له فقر او لوږې نه وژغورل شي، هیچا دا گمان نه کاوو چي د دې په ځای دي له عام ولس سره مبارزه پیل شي، د دوی د مقدساتو او دیني شعائرو په خلاف دي مبارزه وشي او دا مبارزه دي له خدای نه د انکار له نقطی شروع شي.

له اسدالله امین سره زما دغي مناقشې زما د ژوند مسیر بدل کړ، لدغي شپې نه وروسته ما د مبارزې فیصله وکړه، خو داسي مبارزه چي هم د رژیم په ضد وي او هم د هغو جریاناتو په ضد چي زما دین او عقیده تهدیدوي، د اجتماعي بدلون لپاره، خو د ربښتني اسلام په چوکاټ کې، د نظام د نسکورولو لپاره، خو د هغه په ځای د یوه اسلامي نظام د قائمولو په خاطر، له دغي شپې نه وروسته چي زه کله هم د موسی علیه السلام د ژوند په هکله د قرآن هغه تبصره لولم چي د یوه مظلوم اسرائیلي د ژغورني لپاره ئې له قبطی سره نښته درلوده، هغه ئې په څپیړه وواهو او همدا څپیړه د قبطی لپاره مرگانی گوزار وو او له همدې پېښي نه وروسته موسی علیه السلام له استبدادي نظام سره د مقاطعی فیصله وکړه او وئی ویل:

فلن اکون ظهیراً للمجرمین: لدې نه وروسته به هیڅکله د مجرم او ظالم ملاتړ ونکړم. چي کله دا قصه په قرآن کي لولم نو د هغي ورځي پېښه او له هغې وروسته د مبارزې پرېکړه مي مخي ته ودرېږي او د دې قصی په هېنداري کي د خپلي مبارزې د پیل څرنگوالی گورم.

ما د مبارزې په لاري د سفر فیصله وکړه خو یوازې وم، نه مي همسفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، نه زاد راه، نه لاربښود، نه د سفر د څرنګوالي او لوړو ژورو په هکله معلومات، نه سياسي پوه، نه تجربه او نه مطالعه، ما بايد د دې مبارزې لپاره کافی مطالعه کړې وی خو کتاب مي نه موندلو، ما بايد پدې خطرناکې لارې د روانېدو لپاره ملګري پيدا کړي وی او د مبارزې لپاره مطمئن سنګر، خو نه هغه مطمئن سنګر موجود وو چي زه ئې په لټه کې وم او نه هغه ملګري په نظر راتلل چي له ما سره پدې لار د تلو لپاره تيار وي، له ځان سره مي ويل: که هر چاته د دې راز مبارزې بلنه ورکړم راته وابي به: رهبر مو څوك دی؟ ډله مو څه نومېږي؟ مرام مو څه دی؟ اهداف مو کوم دي؟ کوم کتاب لري چي مطالعه ئې کړم؟ هره سياسي ډله ترشا يو حامي قوت لري، مسکو د خلق او پرچم ملاتړی دی، پيکنګ د شعله جاويد مرسته کوي، موږ به د کوم هېواد په مرستې او ملاتړ حساب کوو؟ که څه هم زه دغو پوښتنو ته د ډاډمن ځواب ورکولو په درېځ کې نه وم، خو ما لدې سره سره د مبارزې فيصله او په خپلې پرېکړې د ټينګ پاتې کېدو عزم وکړ. له ځان سره مي وپتيبيله چي ځوانانو ته ووايم: له کمونستانو سره د يوځای کېدو نه بايد ډډه وکړي، دوی په پرديو پوري تړلي دي، زموږ د دين او عقيدې دښمنان دي، بايد له يوې اسلامي ډلي سره د يوځای کېدو په لټه کي وو، دا ډله شته خو اوس د ځمکي لاندې فعاليت کوي، ظروف او شرايط ورته ندي برابر شوي چي راڅرګنده شي، بايد انتظار وکړو او ځوانان لداسي ډلي سره د يوځای کېدو لپاره چمتو کړو.

په کندز کي د متعلمينو له خوا څو مظاهرې وشوې، ما پدې مظاهروکي فعاله ونډه واخيسته، د همدې ونډې په وجه څو ورځي له ښوونځي نه اخراج شوم، دا مظاهرې په اصل کي له کابل نه خړوبېدې، فيصله ئې په کابل کي کېده او د هغو سياسي فعاليتونو يوه کړۍ وه چي سياسي احزابو د ملت په مختلفو پرګنوکي د نفوذ او د نويو غړو د جذبولو او د هېواد په جرياناتو کي دمؤثری ونډې درلودو لپاره پيل کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتور محمود حبیبی د کندز والي وو، ده له پرچمیانو سره خواخوږی درلوده، د مظاهراتو لاربښوونکي ئې ولایت ته وغوښتل، زه هم پدې ډله کې وم، غوښتل ئې موږ ته څه توصیې وکړي، چې یوازې خپلو درسونو ته متوجه وو او له مظاهرو ډډه وکړو او یو څه مو تهدید کړي، ما ته په هغې غونډې کې د خبرو موقع په لاس راغله، د هغه وخت د پوهی او احساساتو په محدوده کې مې څو خبري وکړي، د غونډې نتیجه دا وه چې بېرته خپلو ټولګیو ته ستانه شو.

زه په لسم ټولګی کې د صنف اول نمره وم، له لسم نه یوولسم ته هم اول نمره کامیاب شوم، له فارسی نه پرته چې نه نیمي نمرې مې پکې اخیستې وې په نورو ټولو مضامینوکې مې نمرې ۱۰ او په زیاتو کې له تحسین او آفرین سره یوځای وې. د ریاضی له مضامینو سره مې ډېره علاقه وه، په خپلو استادانو ګران وم او همزولو راته په درنه سترګه کتل، په داسې یوه موقعیت کې له کمونستانو سره زما د مخالفت نتیجه دا وه چې دوی په هغې لیسی کې د جلب او جذب په کارکې ناکامه وې او پدې ونه توانېږي چې د پاملرنې وړ کسان جذب کړي.

د دغه دوران او په کندز کې زموږ د اوسېدو په اړه څو خبرې د یادولو وړ ګڼم:

× یوه ورځ د کندز د فوتبال میدان په لوري له څو همصنفیانو سره روان وم، د یوه سردار د کور له مخې تېرېدو، د کور له منځه مو د اوچتی موسیقی غږ تر غوږ شو، ملګرو راته وویل: دا پدې ولایت کې د پرچمیانو د مشر کور دی، هره هفته دلته د پرچمیانو غونډه وې، دی ورته آرمونیه وهی، یوه خور ئې په غونډې کې نڅا کوي او بله ئې ساقی وي او د غونډې برخه والو ته د شرابو جامونه وړاندې کوي، د کمونستانو اکثره غونډې همداسې وې، قمار، شراب او نڅا د هرې غونډې ضروري او لازمې برخې وې، په همدې سره دوی ځوانان جلبول او په اخلاقي او فکری لحاظ ئې په حزب کې د غړیتوب لپاره تیارول.

× زه له لسم ټولګی نه مخامخ دولسم ته ولاړم، د یوولسم صنف مې داو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلبی امتحان ورکړ، د یوولسم صنف درسونه ما د ژمي په رخصتي کي ولوستل، د روژی د میاشتي هر سهار به مي له سیمي (پیشلمي) نه وروسته تر لمرختو پوري خپل کتابونه لوستل، تر ټولو آسانه مضامین راته د ریاضی، فزیك او کیمیا مضامین وو، د راتلونکي کال په شروع کي مي امتحان ورکړ، نتائج ئې راته راکړل، که گورم چي زما نمرې د دولسم ټولگي تر اول نمره نه زیاتي وې.

× د داوطلبی امتحان په ورځو کي د الجبر معلم درمحمد خان راته سوالونه راکړل، زه ئې په صنف کي یوازې پرېښودم، دی مخامخ ټولگی ته ننوت او د دولسم صنف زده کوونکو ته ئې درس شروع کړ، ما سؤالونه ځواب کړل، پارچه مي ورته وسپارله، له ما نه ئې وغوښتل چي په دولسم ټولگی کي کښېنم او د ده درس واورم، په تخته ئې یو سوال ولیکو، ټولو ته ئې مخ کړ چي څوك ئې حل کولی شي؟ هیچا لاس اوچت نکړ، ماته ئې مخ کړ، ما ته د ده سوال ډېر آسان برېښېدو، لاس مي اوچت کړ، وئی غوښتم، تباشیر ئې راکړ، سوال مي له څه ځنډ او اشتباه نه پرته حل کړ، زه هم ډېر خوشحاله شوم خو تر ما نه استاد ډېر خوشحاله شو.

× د دولسم ټولگی په آخری میاشتو کي د کانکور په هکله مشوش وم، یوه شپه مي خوب ولید چي د کانکور امتحان مي ورکړی، نتائج د یوه دیوال په مخ اعلان شوي، لستونه گورم، خپل نوم مي د یوه لست په سر کي ولید او خواته مي ۷۹ نمرې، دا طمع مي په زړه کي راولاړه شوه چي شاید زه په ټول افغانسان کي اول نمره کامیاب شوی یم، له خوبه راویښ شوم، خپل د اطاق ملگری عبدالله ته مي وویل چي ما په کانکور کي ۷۹ نمرې اخیستی، خپل خوب مي هغه ته تېرکړ، دوه میاشتي وروسته مي د کانکور امتحان ورکړ، په انجنیري کي مي د شاملېدو پرېکړه وکړه، د پری انجنیري کورس لپاره کابل ته ولاړم، هغه کورس هم پای ته ورسېدو او زه له هغه کورس نه اول نمره فارغ شوم، د کورس په پای کي د کانکور نتیجی اعلان شوې، لستونه د حقوقو د پوهنځي په دیوالونو نصب شوي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ورغلم، که ګورم چي د يوه لست په سر کي زما نوم ليکل شوی او مخي ته ئې هماغه ۷۹ نمرې، ژر ژر مي ټول لستونه وکتل چي وګورم دا ترټولو اوچتی نمرې دي که نه، آيا زما هغه د خوب طمع صحيح وه که نه؟ خو ومي ليدل چي ترټولو اوچته نمره ۸۱ وه او د ټولو هغو کسانو شمېر چي له ۷۹ نه تر ۸۱ پوري نمرې ئې اخيستې وې جمعاً يوولس کسان وو.

× ما ته خپل شهيد پلار په نوې ځوانۍ کي واده وکړ، په لسم ټولګی کي زه د واده خاوند وم، د واده په شپه مي فقط څو شېبې د سحر له لمانځه نه مخکي خوب کړی، چي سترګي مي پټي شوې په خوب کي ګورم چي د تره له يوه زوی سره مي چي سپين ږيری وو او محمد نذير نومېدو، يوځای د آسمان په لوري اوچت ولاړو، د ستورو ځای ته ورسېدو، ستوری راکد وو، خو زما په رسېدو سره وخوځېدل، له شرق نه د غرب په لوري روان شول، ناڅاپی زرينه ټوټه ورنه جوړه شوه، دا زرينه تکه په خپله په زرينو خوليو بدله شوه، له مانه څو ګامه آخوا د دغه زرينو خوليو يوه وړه کوټه جوړه شوه، هغي خوا ته ورروان شوم چي وګورم دا څنګه خولۍ دي، ناڅاپی څه نور کسان چي شمېر ئې تر څلورو پنځو زيات نه وو، را پيدا او له يوې خوا بلي خوا د خوليو په لور راروان شول، هر يوه لدې کوټی نه يوه خولۍ په لاس کي واخيسته پرته لدې چي په خپل سر ئې کښيږدي، ماهم يوه خولۍ را واخيسته او په خپل سرمي کيښوده او له همدې سره له خوبه راويښ شوم. په ابتداء کي مي ګمان کولو چي د دې خوب به زما له واده سره ارتباط وي، شايد ما ته الله پاك نيك اولاد راکړي چي سر مي ورباندي لوړ وي، خو ډېر وروسته کله چي زه د ورونو له خوا د امير په حيث وټاکل شوم او دا هغه وخت وو چي زموږ مجاهدين به له شرق نه د غرب په لوري، د غرونو او سردرو، لوړو ژورو نه تېرېدل، په داخل کي به ئې خلك تنظيمول، په پاکستان او ايران کي ګڼ شمېر ډلي جوړي شوې، ډېر کسان د مشرتابه لپاره کانديد شول او غوښتل ئې د قيادت پګړۍ په سر وتړي، پدې وخت کي پوه شوم چي زما د هغه خوب تعبير څه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



× د پرچم له يوه غړي سره مي په امام صاحب کي مناقشه وه، هغه آغا شيرين نوميدو، د سردارانو له جملي نه او د حقوقو د پوهنځي محصل وو، په مناقشې کي ئې د ماتې احساس کاوو، د بحث د ختمولو لپاره ئې ما ته وويل: ستا افکار د دغه وروسته پاتې محيط افکار دي، چې پوهنتون ته راشي او د هغه ځای نوې او مخکي تللې فضاء وګورې ناچار به دا افکار شا ته غورځوې، ما ورته وويل: ته خو له هغه محيط نه راغلی يې او د هغي فضاء او محيط نمايندګی کوي، مهربانی وکړه زما ځواب ووايه، زما د نظرياتو د ترديد دلايل ووايه!!

په اطراف کي دا خبره مشهوره وه چي په پوهنتون باندي کمونستان مسلط دي، په هغه محيط کي نه څوك ملي لباس اغوستی شي او نه په خپلو ديني شعائرو د نورو له تمسخر او استهزاء نه پرته عمل کولی شي، له آغا شيرين سره په هغي مناقشې کي که څه هم له خپل برلاسی نه خوشحاله وم خو د ده وروستۍ خبري ډېر تشويشونه او سوالونه راته پيدا کړي وو، له ځان سره مي ويل: آيا په رښتيا د پوهنتون محيط داسي دی چي هلته بايد محصلين خپل دين، ملي عنعناتو او فرهنګ ته شا کړي، بايد د پرديو فرهنګ او کلتور قبول کړي، بايد خپل دين او عقيده د وارداتی افکارو په پښو کي ذبح کړي!! که زه لمونځ کوم، روژه نيسم او خپلي ملي جامې اغوندم او هغه څوك په ما اعتراض کوي او اعتراض ئې د تمسخر او استهزاء شکل غوره کوي چي په خپله د پرديو مقلد دی، په خپل شکل، جامه، اخلاق او افکارو کي د پرديو د تقليد کوي او له خپل ولس، تاريخ او فرهنګ نه پردي شوي، زه به د دې تېري په مقابل کي څه کوم، څنګه به د دوی مقابله کوم !! له همداسي يوه ذهني تشويش سره زه د پوهنتون په لوري وخوځېدم.

× د شيرخان په ليسی کي مرحوم مولوي سراج الدين زموږ د ديني علومو استاد وو، زما د امتحان پارچه ئې هومره خوښه شوې وه چي هغه ئې له ځان سره اخيستی وه او د تخارستان د مدرسی طلابو ته ئې لوستلې وه او هغوی ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي وو: راشئ خپله دیني پوهه د لیسی لدغه متعلم سره مقایسه کړئ! مولوي صاحب چي په کندز کي د ډېر اعتبار او حیثیت خاوند وو او د کندز ولس په ډېره درنه سترګي ورته کتل، دی او د ده ټوله کورنۍ او ټول مخلصین ئی، د جهاد په دوران کي له موږ سره یوځای شول، د ده مشر زوی قاضی محمود الحسن په حزب اسلامي کي د اجرائیه شوری د عضویت تر پوړي ارتقا وکړه، شاید د دې اصلي وجه زما هماغه د امتحان پارچه وه چي د مرحوم مولوي صاحب ډېره خوښه شوې وه.

× دا باید توضیح کړم چي زه د ۱۳۲۷ کال د میزان په میاشت کي د کندز د ولایت د امام صاحب د ولسوالۍ د ورته بز په کلي کي زیږېدلی یم، زما کورنۍ په همدې کال له غزني نه کندز ته انتقال شوه، والد مي شهید حاجي عبدالقادر خان د شاه جوی اوسېدونکی او مور مي د قره باغ اوسېدونکې وه، مخکي زموږ کورنۍ کوچیانی ژوند درلود، غزني، ګومل او دیره اسمعیل خان زموږ مېلي وې، د دغي سیمي کوچیانو به تر هند پوري تګ راتګ کولو، په دوبی سړو سیمو ته او په ژمي کي تودو سیمو ته.

زما کورنۍ د نائب الحکومه شیرخان په وخت کي له غزني نه کندز ته انتقال او په امام صاحب کي مېشت شوه، پلار مي له خپلو دوو ورونو حاجي غلام سرور او حاجي غلام قادر سره په یوې کلا کي یوځای اوسېدو. بل تره مو عبدالمالك خان نومېدو، چي د شاه جوی ولسوالۍ د بازرګانو په کلي کي پاتې شو او زامن ئې له هغه ځایه د هلمند ولایت نهر سراج ته منتقل شول.

دومره زراعتي ځمکه مو درلوده چي ګزاره مو ورباندي کېده، دوه دکانونه، دوه او بیا درې لویې باروړونکې لارۍ او دوې ژرندي مو درلودې، اقتصادي وضعه مو ښه وه، پلار مي له ښکار سره ډېره مینه درلوده، دا مینه لده نه موږ ته په میراث پاته ده، زه وړوکی ماشوم وم چي له ځان سره به ئې ښکار ته بوولم، مور مي راته وایي چي ته ترټولو زامنو ورباندي ګران وې، چي کله به امام صاحب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه، صدراعظم او وزیران د تفریح لپاره راتلل نو زما والد به یو له هغو کسانو څخه وو چي په مېلمستیاوو او بیا ښکار ته د تلو په قطار کي به شامل وو، زما په یاد دي چي شاه محمود خان د خپل صدارت په وخت کي امام صاحب ته راغلی وو، له پلار نه مي وغوښتل چي ما هم له ځان سره ښکار ته بوځي خو هغه لدې کار نه ډډه وکړه او له ما نه پټ له کوره ووت او له مېلمنو سره ښکار ته ولاړ.

یو ځل د زراعت له وزیر محمد حسن خان او غلام سرور ناشر سره ګډ ښکار ته تللی وو، په ځنګله کي ئې چرګ مخي ته والووت، په هوا کي ئې وویشت، درې سره یوځای ولاړ وو او ده خپل لاس د توپك په خوله ایښی وو چي ناڅاپی ډز وشو او د ده د لاس رغوی په چرو سوری شو، د کندز شفاخانې ته انتقال شو، غوښتل ئې ما همالته روغتون ته ورولي، ډېر مشوش وم، د روغتون په بسترکي د ده په لیدو په لومړی سر کي وارخطا شوم، خو وروسته له هغه چي پوه شوم یوازې د ښی لاس رغوی ئې زخمي شوی، تشویش مي راکم شو.

زما څلور ورونه او درې خوندي وې، مشر ورور مي اخترمحمد، ترما نه وروسته شهاب الدین، ورپسې نورالدین او کشری ورور مي نظام الدین نومېدو، پلار مي له دوو ورونو ( اختر محمد او نورالدین) سره د کمونستانو په لاس په زندان کي په شهادت ورسېدل، چي د شهادت څرنګوالی او د دفن ځایونه ئې څرګند ندي، خو یوه سرباز راته وویل چي ستا پلار ئې له زندان نه وایست، د آودان دښتي ته ئې یووړ، هلته ئې په جیپ پسې وتاړو او جیپ ئې په هغي لویي دښتي کي په ډېر سرعت روان کړ او پدې ترتیب ئې هغه په بې رحمۍ سره په شهادت ورساوو.

ما تر پنځم ټولګی پوري د امام صاحب په متوسطی کي زده کړه وکړه، د ښوونځي د زده کړي تر څنګ مي، ابتدائی دیني زده کړه له مرحوم مولوي قربان محمد څخه کړي چي د چاه آب د ولسوالۍ مشهور عالم او زما خصوصی استاد وو، ما د ښوونځي د درسونو ترڅنګ، دیني کتابونه له هغه نه لوستل. مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب قربان محمدخان د نورو علماوو خلاف ښه تاریخي معلومات درلود، په لیك لوست پوهېدو، ښه خط ئې درلود او ښایسته مشق ئې کولو، پدغو برخو کي هم ما له هغه نه ډېر څه زده کړي.

له پنځم ټولگی نه د حربي ښوونځي لپاره غوره شوم، د حربي ښوونځي په هکله مي خاص معلومات نه درلود، خو لدې انتخابه خوشحاله وم، شهید اختر محمد له ما سره کابل ته ولاړ چي حربي ښوونځي ته مي ورسوي، چي کله د لیسی اوسپنیزی دړی مخي ته ورسېدو او پهره داران مي ولیدل، لیسه مي د یوه جگ دیوال په احاطی کي ولیده او زده کوونکي مي په خړو عسکري جامو کي ولیدل، هرڅه د زندان په څېر راته معلوم شول، ورور ته مي مخ کړ چي زه دا لیسه نه وایم، دا خو د محبس په څېر ده، هغه هڅه وکړه چي ما قانع کړي، ما په ژړا ژړا هغه ته ویل چي زه دا لیسه نه وایم، یا مي په کومي بلي لیسی کي شامل کړي یا بېرته کورته ځم، هغه راته وویل: مورِ خو د دې کار واك او اختیار نلرو، ته خو هیئت غوره کړی یې، د هیئت فیصله څنگه بدله کړو، دا ښه لیسه ده، روښانه راتلونکې لري، ته شامل شه، یوکال درس ووایه، که دي خوښه نه شوه، پلار ته به ووایم چي په بلي لېسې کي دي شامل کړي، په همدې خبري مو توافق وکړ او زه له اوښکو ډکو سترگو سره لیسی ته داخل شوم. د شپږم اووم او اتم ټولگی درسونه مي په همدې لیسه کي ولوستل، پدې کلونوکي زه تل اول نمره وم، خو له اتم نه نهم ټولگی ته زما یو بل همصنفی چي محمد آصف نومېدو اول نمره شو او زه دوهم نمره. دی د میدان اوسېدونکی وو، تره ئې لومړی بریدمن عاشق الله خان په همدې کال په لیسه کي د یوه ټولگی د قومندان په حیث وټاکل شو، ما داسي گمان کاوو چي محمد آصف د تره په وجه اول نمره شوی او زما په حق کي بې انصافی شوې، هسي هم د لیسی عسکري وضعیت زما له سلیقی سره اړخ نه لگاوو، فیصله مي وکړه چي نور نو دا لیسه پرېږدم، کورنی ته مي وویل چي باید په خپلي وعدې وفا وکړي او ما په بله لیسه کي شامل کړي، هغوی زما خبري ته اعتناء ونکړه، ما له لیسې نه خدای پاماني وکړه، له کور نه مخامخ شاه جوی ته د خپلي مشري خور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته ولاړم، پدې سره کورنۍ مجبوره شوه چي له ما سره موافقه وکړي، د حربي ښوونځي قومندان جنرال عثمان د اسنادو د راکولو په وخت کي ډېره هڅه وکړه او ډېری تشویقی خبري ئې وکړي چي زه په همدې ښوونځي کي زده کړي ته دوام ورکړم، خو ما دا خبره ونه منله، اسناد مي ترلاسه کړل او له څه ځنډ نه وروسته د شیرخان لیسی په نهم ټولگی کي شامل شوم.

× یوه ورځ له کوره راووتم، د ښار په لوري روان شوم، چي کله عمومي سړك ته راورسېدم گورم چي د قوای کار د عسکرو یوه ټولگی یوه لارۍ ودرولې او ډریور ځوروي چي دوی حتماً تر خپل ځای پوري ورسوي، هغه ورته عذر کوي چي زه نشم توانېدی خو دوی ئې نه پرېږدي او گواښونه ورته کوي، ما ته لدې صحنې همداسي بې اعتناء تېرېدل بې مروتی معلومه شوه، مداخله مي وکړه او عسکرو ته مي وویل چي لري شئ، دا سړی پرېږدئ او له بې ځایه ځورولو ئې لاس واخلئ، تاسی حق نلرئ چي د خلکو موټرې ودروئ او په زور ئې له ځان سره رواني کړئ، خو دوی چي عسکري دریشي مغرور کړي وو او هیڅ گمان ئې نه کاوو چي پداسي یوې سیمي کي څوك دوی ته دا راز خبري وکړي، له یوې خوا بلي خوا ئې په ما حمله وکړه، د کمربندونو په هغې خوایي په ما گوزارونه وکړل چي د اوسپني سر لري، یو گوزار مي د غوږ بیخ ته ولگېدو چي مات شو او ویني ترې وبهېدې، پدې سره عسکرو زما له وهلو لاس واخیست او له صحنې خواره شول، زه ئې د بې هوشۍ په حالت کي ډاکتر ته ورسولم خو هلته نه روغتون وو او نه د معاینې داسي وسایل چي زما د پرهار چاره وکړي، ډاکتر توصیه وکړه چي ما کندز ته ورسوي. هماغه روغتون ته چي یو وخت مي پلار پکي بستر وو، هلته زه د ده بستر خوا ته ولاړ وم او دی په زخمي حالت کې او اوس زه ټپی وم او دی مي خواته ولاړ وو او ډاکتر زما د روغېدو ډاډینه ورکوله، خو فرق دومره وو چي دی له حکمرانانو سره په ملگرتیاکي په خپل ټوپك ټپی شوي وو او زه د واکمنو په خدمت کي عسکرو پدې خاطر زخمي کړی وم چي د دوی د ظلم مقابله او د یوه مظلوم دفاع مي کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پری انجنيري په کورس کې

د شيرخان له ليسې نه له فارغېدو وروسته زه د پری انجنيري کورس لپاره کابل ته ولاړم، دا کورس د هغو محصلينو لپاره وو چې د انجنيري پوهنځی ئې غوره کړی وو او د انجنيري پوهنځي لپاره مقدماتې دوره وه، پدې دوره کې محصلين د انجنيري پوهنځي لپاره تياربدل او لازمي زده کړې ئې کولې. ما ته د دې کورس څو خبرې د يادونې وړ برېښي:

× زموږ ليليه په ثانوي تخنيك کې وه، په واړه اطاق کې اته کسان اوسېدلو، دوه منزله کټونه مو درلودل، دوه کسان چې يوه ئې له پرچم سره او بل ئې له ستميانو سره اړيکې درلودې، يو سلطان نومېدو چې د امام صاحب اوسېدونکی او بل عبدالحی د تخار او سېدونکی وو، پدې اطاق کې له موږ سره يوځای شول، په لومړيو ورځو کې مې لدوی سره مناقشې وې، خو دوی ډېر ضعيف وو، په څه نه پوهېدل، د مناقشې نه وو، سلطان له مناقشې نه لاس واخيست او عبدالحی وويل چې زه کافی مطالعه نلرم، بل څوك د مناقشې لپاره راولم، بديع الزمان د ستميانو يو فعال غړی ئې له ځان سره راووست، په همدې اطاق کې زموږ مباحثه پيل شوه، د اطاق ملګرو او ځينو نورو محصلينو زموږ د مناقشې څارنه کوله، که څه هم زما معلومات ابتدايي او محدود وو خو پدې مناقشې کې مې پوره سرلوړي او برلاسی په برخه شوه، هومره چې بديع الزمان دې ته اړ شو چې ووايي: زه ستا د ځينو خبرو او سؤالونو ځواب نلرم، د دغو مسائلو په هکله زما معلومات کم دي، پدې اعتراف کوم، خوکه ته تيار يې زه له ځان سره راتلونکې هفتې ته يو معروف استاد، انجنير عثمان لنډی راولم، ما موافقه وکړه او د راتلونکې اونۍ يوه شپه مو د مناقشې لپاره وټاکله او په همدې توافق سره زموږ هغه مناقشه پای ته ورسېده، له غونډې نه وروسته زما دا حالت وو چې له يوې خوا پدې خبرې خوشحاله وم چې د بديع الزمان په څېر يو معروف او فعال کمونست ته مې ماتې ورکړې او اوس د دوی له يوه داسې کس سره د مناقشې وعده لرم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونستانو د لومړۍ پوړي له رهبرانو څخه دی او پدې معروف دی چې په ټول هېواد کې د ده په کچه په ساینس کې پوه او په کمونستي افکارو کې وارد شخص ډېر کم موندل کېږي، له بلي خوا پرېشانه وم چې مبادا له ده سره په راتلونکې مناقشې کې له ماتې سره مخامخ شم او پدې سره د پری انجنیري ټول هغه محصلین لدوی سره ملگری شي چې تر ننه ئې زما په وجه د دوی له ملگرتیا ډډه کوله. خو هغه شپه راورسېده، زه او نور محصلین د دوی راتلو ته منتظر وو، خو هغوی په خپلې وعدې وفا ونکړه او انجنیر عثمان لنډی په آخری شېبو کې له راتلو نه ډډه وکړه.

د پری انجنیري کورس څو نوری خبرې هم د یادونې وړگنم:

انجنیر سیف الدین نصرتیار او انجنیر عثمان زما اطاق ته څېرمه اوسېدل، د دواړو اطاقونو ترمنځ بنده ور وو، دوی به د همدې دړی له چولو نه زموږ بحثونه څارل اودس او لمانځه ته په تلو راتلو کې به مو یو بل لیدل، ما هم غوښتل چې کومه ورځ لدوی سره کښېنم او دوی هم، خو متأسفانه دا فرصت میسر نشو، د کورس په پای کې کله چې پوهنتون ته ولاړو او په لیلیه کې شامل شوو، ناڅاپی زه او دوی د لیلیی په گډ اطاق کې مېشت شوو، هلته ما دوی ته وویل چې د پری انجنیري کورس په دوران کې مې ډېرځله غوښتل چیکومه ورځ له تاسو سره کښېنم او دوی راته وویل چې له کمونستانو سره مو ستاسو مباحثی د دروازې له چولې تعقیبولې.

زه له نوموړي کورس نه اول نمره فارغ او د انجنیري پوهنځي په لومړی ټولگی کې شامل شوم.

ما د انجنیري پوهنځی د دې لپاره غوره کړی وو چې غوښتل مې له فارغېدو نه وروسته د دولت د مأمور په حیث کار ونکړم او په شخصي کار ځان مصروف کړم. د دولت په اداراتو کې له کارکولو نه مې کرکه درلوده، ما ته د دولت د مأمور په څېره کې داسې څوك مجسم کېدو چې په ظلم، خیانت او رشوت لړل شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك ځوروي، له مظلومانو نه شوكي كوي او په حرامو پيسو پړړ شوي. غوښتل مي د خپل لاس له تنځاكو نه حلاله روزی ترلاسه كړم او له يوه مفسد او ظالم سره له مرستي نه په ډډه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نشرات

په دې وخت کې د ورځپاڼو بازار ډېر تود وو، ګڼ شمېر نشريې خپرېدې چې مشهورې ئې دا وې:

## افغان ملت

دا د افغان سوسيل ديموکرات ګوند جريده وه چې د **١٣٤٥** کال د حمل په مياشت کې راووته، د امتياز خاوند ئې انجنير غلام محمد فرهاد او مسئول مدير ئې ملت يار وو، ليکوالان ئې پښتانه ول، د لوستونکو شمېر ئې کم وو، د پښتونستان د داعيې کلکه پلوې ئې کوله، اصلاح طلبه نشريه وه، په دولت ئې دوستانه اعتراضات کول، په مهمو او بنيادي مسائلو کې ئې د دولت ملاتړ کولو، د شاه له خوا نومول شوي صدراعظمان ئې تائيدول.

## پرچم

د جمعيت ديموکراتيک خلق افغانستان د پرچم ډلې نشريه وه. مسئول مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې سلیمان لایق وو، هره هفته خپرېده، په لومړی سر کې ئې لوستونکي زيات وو، خو ورو ورو کمېدل، مسکو ته وفاداري، د روسي ورځپاڼو مهمي مقالې ترجمه کول، د ایران حزب توده له خپرونو نه اقتباسات، د پارلماني مبارزې ملاتړ، د شاه تائید او د شاه له خوا د نومول شويو حکومتونو مخالفت، په شعله جاوید او چین کلك او مسلسل گوزارونه، ... د دې نشريې ځانگړتیاوي وې.

## شعله جاوید

د جمعیت دیموکراتیك نوین نشریه وه، جمعیت د نشريې په نامه مشهور شو، د امتیاز خاوند ئې دکتر رحیم محمودي او مسئول مدير ئې هادي محمودي وو، هره هفته خپرېده، مصارف ئې د چین سفارت ورکول، مائویستی افکار ئې خورول، د مائو له کتابونو نه اقتباسات، د چینايي ورځپاڼو د مهمو مقالو ترجمه، د مسکو په ریوزیونیستی تگلارو کلکي نیوکي، دسوله ییزي او پارلماني مبارزې مخالفت، په انقلابي، نه پخلا کېدونکې او قهرجني مبارزې ټینگار، د شعله جاوید د اونیزی ځانگړتیاوي وې، د پرچم په څېر دې نشريې هم د کمونستي فرهنگ لاتیني اصطلاحات په پراخه پیمانه کارول، لوستونکي ئې ځوانان وو، په ابتداء کې ئې د ځوانانو په مختلفو اقشاروکي لوستونکي او مینه وال درلودل، خو د دوی شمېر ورو ورو کمېدو او په پای کې د شیعه ټولني په منورینو کې ئې لوستونکي رامحدود شول.

## گهیځ

دا یوه مستقله اونیزه وه، اسلامي تمایلات ئې درلودل، شهید منهاج الدین گهیځ ئې مؤسس او د امتیاز خاوند وو، د ۱۳۴۷ کال د میزان په میاشت کې د مطبوعاتو ډگر ته راووته، کمونستانو هغه ځانته جدي گواښ گڼلو، ما گمان کاوو چي دا نشریه به هم د نورو نشراتو په څېر د کومي سیاسي ډلي نشراتی ارگان وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمدجان خان واټ په هغه اپارتمان کي د گهيځ دفتر ته ورغلم چي د پرچم دفتر هم پکي وو ، له مرحوم گهيځ سره مي تفصيلي خبري وکړي، پدې پوه شوم چي هغه يوازې دی او په خپل همت سره دا نشريه خپروي، نه کوم سياسي حزب لري او نه مبارز ملگری، څه کسان ورسره قلمي مرسته کوي، اکثر ئې د حق الزحمې په مقابل کې، له هغو کسانو نه ئې سخته گيله وه چي ځان ورته عالم او په دين پوه معلومېږي، د څه ويلو او ليکلو توان هم لري، خو لده سره د دې نشريې په خپرولو کي قلمي مرستي ته چمتو ندي، ما ورته څو مقالې ولېږلې چي په امانت او له کوم تصرف نه پرته ئې نشر کړې، پدې سره زما علاقه ورسره زياته شوه، يوه ورځ مي ورته وويل چي يوازې په نشراتی فعاليت که هرڅومره پراخ او د واقعيتونو په انعکاس کي موفق وي، څه نه جوړېږي او پدې سره په هېواد کي مثبته تبديلي نشي راتلای، نشراتی فعاليت يوازې د سياسي فعاليت په څنگ کي په زړه پوري نتائج ورکولی شي، زه نه پوهيږم چي موږ ولې نشوتوانېدی د نورو په څېر داسي منظم حزب جوړکړو، چي گهيځ ئې نشراتی ارگان وي، کمونستان له خپلو وارداتی افکارو او داسي نظراتو او شعارونو سره کار کولی شي چي د ولس له معتقداتو سره تصادم کوي او د ولس اکثريت ته د منلو وړ ندي، خو موږ مسلمانان دا کار نشو کولی؟! هغه په افسوسناکه لهجه راته وويل: ما ډېره هڅه وکړه خو پدې کار موفق نشوم، له چانه چي د دې کار توقع کېدی شي هغوی دې ته تيار ندي، ملايان له وضعيت نه بې خبره دي او د سياسي مبارزې توان او جرأت نلري، پيران د دولت ملگری دي او ځوانان د کمونستانو په لوموکي لوېدلي.

خبري مو پدې پای ته ورسېدې چي دی به يو ماښام خپل هغه ملگری په خپل دفتر کي راغونډ کړي چي لده سره د دې نشريې په خپرولو کي مرسته کوي، زه به هم راشم، پدې هکله به تفصيلي خبري وکړو چي څنگه کولی شو يو سياسي جريان جوړ او روان کړو.

په هغه ماښام زه د ده دفتر ته ورغلم، څلور کسان نور ورسره په ځمکه ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، له روغبړ نه وروسته ئې خپل ملګری رامعرفي کړل: مولوي صاحب محمد یونس خالص، بسم الله کمکی، غفوری صاحب او والد ئې مدیر صاحب عبدالغفور، زما نظر ئې دوی ته تشریح کړ او هغه ئې ضروري وګڼو، په همدې سره بحث پیل شو، له دوستانو نه یوه ماته وویل: ته څنګه حزب غواړې؟ ما ورته وویل: لکه دا نور حزبونه، چې واضح مرام لري، خط مشی لري، رهبر او شوری لري، غړي او ارکان لري، سیاسي فعالیت کوي، خلك خپل حزب ته رابلي او په ټولنه کي د تبدیلي راوستو هڅه کوي. یوه بل خپله رأیه وړاندي کړه، د دوی له نظراتو نه زما انتباه دا وه چي دا ورونه د یوه سیاسي جریان د روانولو په موقعیت کي ندي، شهید ګهیځ راته مخ کړ او وئی ویل: معلومېږي چي د ورونو له نظراتو سره موافق نه ئی؟! ما ورته وویل: هو، زه دغه کارونه چي ورونه ئې وړاندیز کوي کافی نه ګڼم. غونډه مو له تفصیلي بحث نه وروسته پدې پای ته ورسېده چي بله غونډه به کوو او زه به خپل لیکلي نظرات ورونو ته وړاندي کوم. خو دا غونډه بیا دائره نشوه.

ګهیځ په ډېر حساس وخت کي خپل کار پیل کړی وو، اعتبار ئې ورځ په ورځ زیاتېدو، په ځینو حلقو کي ئې خواخوږی او لوستونکي زیاتېدل، د دې نشریې اعتبار هلته خپل اوج ته ورسېدو چي د "جوانان مسلمان" له جریان نه ئې په ډاګه او جدي توګه ملاتړ پیل کړ. په وروستیو کلونو کي ئې د پاکستان له جماعت اسلامي سره ارتباطات ټینګ شول، جماعت یو شمېر هغه کتابونه ورکړل چي د جماعت باني مرحوم ابوالاعلی مودودي لیکلي او په پښتو ژبی ترجمه شوي وو. د دې کتابونو په خورولو او له "جوانان مسلمان" نه کلك ملاتړ ګهیځ پداسي حساس موقعیت کي ودراوو چي دین دښمنه حلقو ته د ده تحمل ګران شوی وو، په همدې خاطر مرحوم منهاج الدین ګهیځ په ۱۳۵۱ کال کي په ګذرګاه کي د خپل کور مخي ته پداسي حال کي په شهادت ورسېدو چي بې نمبر پلیټ روسي جیپ ئې د محقر کور مخي ته و درېدو، یو کس راکوز شو، د کور ور ئې وټکولو، مرحوم ګهیځ ورته راووت، چي سم د لاسه ئې پده ډزی وکړي او همالته په شهادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېدو او قاتل په خپل روسي جيپ کي وتښتېدو ، دا افواه خوره شوه چي شهيد ګهيځ د صمد اظهر په لاس په شهادت رسېدلی، ځينو حلقو ويل چي صمد اظهر دا کار د دولت په اشاره کړی، ځينو نورو ويل چي د پرچميانو په اشاره ئې کړی، خو دولت نه پدې ارتباط څوك ونيول او نه ئې څه وويل، هغه ئې يو مرموز قتل وښودو او په هغه ئې برغولی کېښود . د شهيد منهاج الدين ګهيځ په شهادت سره د ګهيځ نشريه متوقف شوه.

## مساوات

دا د جمعيت ديموکراتيك مترقي ګوند نشريه وه چي محمد هاشم ميوندوال د هغه لارښودنه کوله، ګوند ئې د همدې نشريې په نامه مشهور شو، د امتياز خاوند ئې پوهاند عبدالشکور ارشاد او مسئول مديران ئې پوهاند عبدالرحيم الهام او عبدالغني ميوندي وو. په لومړيو ورځو کي ئې زيات لوستونکي درلودل، له پرچم او شعله جاويد سره ئې رقابت کولو، خو ورو ورو ئې لوستونکي کم شول، ليبرالي افکار، د دين او سوسياليزم تلفيق، د دولت په اداري کړنلاري نيوکي، د اجتماعي عدالت غوښتنه، د ديموکراسي ملاتړ، مشروطه شاهي ته وفاداري، د غرب په نسبت تمايل او له روسانو سره محتاطانه چلند او په ځينو مواردو کي د مسکو د توجه جلبولو لپاره هڅه، د دې نشريې ځانګړتياوي ګڼلی شو.

مساوات خپله لومړۍ ګڼه د ۱۳۴۵ کال د سرطان په درېيمه بازار ته وايستله، تر شپږو مياشتو منظمه خپرېده، خو د نور احمد اعتمادي حکومت پدې خاطر د هغې د توقف فرمان صادر کړ چي د ده په حکومت ئې سختی نيوکي کولې، خو اتلس مياشتي وروسته او د اعتمادي د حکومت له ړنګېدو پس ئې خپل نشرات بېرته پيل کړل. د محمد هاشم ميوندوال له اعدام نه وروسته د مساوات نشريه متوقف شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاروان

دا یوه خپلواکه او بې طرفه نشریه وه، په کومې سیاسي ډلې پورې تړلې نه وه، د امتیاز خاوند ئې صباح الدین کشککي د هغه وخت د مطبوعاتو وزیر او مسئول مدیر ئې عبدالحق واله وو، د سردار داؤد ترکودتا پورې خپرېده.

همدا راز د ترجمان، پیام وجدان، صدای عوام، پروانه، پیام امروز، خیبر او کمك په څېر ځیني نوري وړې نشریې هم خپرېدې چې نه ئې زیات شمېر لوستونکي درلودل او نه ئې په پېښو باندي خاصه اغیزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پوهنتون سياسي فضاء

پوهنتون د سياسي مبارزې په تود او متشنج انګړ بدل شوی وو، د کال په پيل کې به سياسي ډلو د نويو محصلينو د جلبولو لپاره له يوه بل سره په شديد رقابت لاس پورې کاوو، نن به د يوې ډلې غونډه، اجتماع او ميټنګ وو او په هغېکې به ئې د خپل قدرت او نظم مظاهره کوله، خپل اهداف او مقاصد به ئې بيانول، په خپلو رقيبانو به ئې کلکې نيوکې کولې، تر نورو ډلو به ئې ځان انقلابي، با دسپلينه، قدرتمن، د مظلومانو خواخوږی، د استبداد او اختناق دښمن، د اجتماعي عدالت غوښتونکی او د هېواد د استقلال، خپلواکۍ او ترقي جدي مدافع معرفي کولو، سبا به بلې ډلې همدا کار کاوو او د حريف نيوکو او اعتراضاتو ته به ئې ځواب وايو، يوه به دا ډله له دولت سره په ملګرتيا او پټو اړيکو متهم کوله او بل به هغه. شعله يانو به خلقيان او پرچميان د سوسيل امپرياليزم لاس پوځي ګڼل او خلقيانو، پرچميانو به د شعله جاويد په هکله ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دوی د دولت په لمسون راپورته شوي، غواړي په بې محتوی انقلابي شعارونو او جنون آميزه پوچو نعرو سره د سياسي مبارزې فضاء مکدره کړي، دولت ته د دې بهير د ټکولو موقع په لاس ورکړي او د سوله ييزي قانوني مبارزې امکانات ختم کړي!! هره ورځ به د پوهنتون د انگړ په يوې او بلې گوښې کي غونډه وه، سره، سپين او تور بيرغونه به اوچت وو، چا به دا او هغه توره ورځ غندله او چا به دا او هغه تاريخي پيښه لمانځله، يوه به په سوله ييزي مبارزی ټينگار کولو، د شوروي اتحاد ستاينه به ئې کوله، د بين المللي کارگری انقلاب د قدرتمن لاربنود لقب به ئې ورکولو، د افغانستان نږدې مطمئن او رښتوني دوست به ئې گڼلو، د چين اقدامات به ئې غندل او هغه به ئې د امپرياليزم په گټه او د بين المللي مترقي نهضت او کارگری خوځښت په زيان او پدې پکت کي د تفرقې او اختلاف راولاړولو عامل ثابتولو. په ځواب کي به بل ورته ويل: شوروي اتحاد خپل مارکسيستی ماهيت له لاسه ورکړي، په کمونستي تگلارو کي ئې تجديد نظر کړی، مرتد شوی، په ريويزيونيزم مبتلا شوی، شوروي ځواك د امريکا په څېر يو امپرياليستی ځواك دی، له نورو ملکونو سره هماغه څه کوي چي امريکا ئې کوي، د دوی په تگلارو کي هيڅ تفاوت نشته، شوروي ځواك يو سوسيل امپرياليستی ځواك دی، پر نورو هېوادونو خپله برلاسی غواړي، پدوی پوري تړلې ډلي ارتجاعی او سازشکاره ډلي دي، په هېواد کي د يوه انقلابي بدلون د راتلو مانع گرځي، له دولت سره پټي اړيکي لري، د کابل او مسکو ترمنځ د يوې پټي معاملې په نتيجه کي رامنځته شوې، غواړي ځوانان د سوله ييزي مبارزې په غولوونکو شعارونو سره تخدير کړي، له انقلابي او نه پخلا کېدونکې مبارزې نه ئې مخ بل لوري ته واړوي، روسيه او امريکا يعنی ژيړ سپی د ليوه ورور. يوه به د خروشوف د سياستونو ستاينه کوله او د ده په اوږدو ويناگانو به ئې استتناد کولو او له هغې نه به ئې اقتباسات کول او بل به د مائوتستون د اوږدې انقلابي مبارزې ستاينه کوله، د هغه د جنگونو کيسی به ئې کولې او د هغه له سرو کتابونو نه به ئې اقتباسات کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډو له وضعیت نه په ډاګه معلومېده چي د شعله جاوید ډله تر نورو مخکي ده، ورپسې د پرچمیانو ډله او لدوی دواړو وروسته خلقیان وو، نوری ډلي ډېری کمزوری وې او د پاملرني وړ فعالیت ئې نه درلود.

موږ د دغو غونډو وضعیت، ویناگاني، شعارونه، د ګډون کوونکو شمېر او د دوی قومي او ژبني جوړښت، په ډېر غور او دقت سره څېړلو، یوه مو له بلي سره مقایسه کوله، پدې ډېر خواشیني وو چي ولې د مسلمانانو کوم ټولگی نشته، ولې د سرو بیرغونو ترڅنګ شنه بیرغونه نه گورو، ولې په کومي غونډي کي نه د ستیج په سر اسلامي وینا اورو او نه کوم اسلامي شعار ګورو، آیا په ټول کابل کې، مخصوصاً په پوهنتون کي داسي څوك نشته چي مسلمانان راغونډ کړي، د اسلام بیرغ اوچت کړي!! دا ولې د شرعیاتو د پوهنځي استادان او محصلین دا کار نکوي؟ آیا دوی خطر ته متوجه ندي که د دې کار جرأت نلري؟ دې حالت له ځینو ځوانانو سره دا سوالونه راولاړول چي شاید د اسلام دور تېر شوی، شاید په اسلام کي دا توان ندی پاتې چي په دغو ظروفو کي مسلمانان د مبارزې ډګر ته راوباسی، شاید هغه کسان چي په اسلامي شریعت د پوهېدو دعوا لري او سره لدې په رواني وضعي اعتراض نلري او د مبارزې ډګر ته نه راوځي له اسلام نه سم پوه شوي وي، شاید اسلام دوی ته همدا ویلي وي!! که خبره داسي وي نو نباید د کومي مبارزي اسلامي ډلي د جوړېدو او د اسلامي شعارونو د پورته کېدو انتظار وکړو!! که د پیر، حضرت، نقیب، ملا، مولوي او آخوند په هکله د کمونستانو خبره رښتیا وي چي دا ارتجاعی ځواکونه دي، د نظام په خدمت کي!! که لدوی نه د یوې سوچه اسلامي مبارزې د پیل کولو توقع نشو کولی نو له چا نه به دا توقع کوو؟! دا سؤالونه په استدلال سره نشو ځواب کېدی او دا خلجانات په شفوي ځوابونو نشو رفع کېدی، یوه عملي حرکت ته ضرورت وو. له هغه چا نه د دې حرکت د پیل کولو انتظار ډېر بې ځایه او بې بنیاده انتظار وو چي په هغه کرغېړن محیط کي ئې عمر خوړلی وو، د هغي متعفني فضاء په مقابل کي ئې حساسیتونه مړه شوي او له وضعیت سره عادي شوي وو، هرڅه ورته طبیعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومېدل، چا چي په ځواني کي د يوه ظالم او فاسد اجتماعي او سياسي نظام په خلاف د څه کولو توفيق ترلاسه نکړ او د ځواني شېپې ورځي ئې د همدې نظام په غېږ کي له کوم عکس العمل او حساسيت پرته تېرې کړې، په هغه کي حساسيتونه ورو ورو مري، له وضعيت سره د روغې جوړې او سازش احساس په کي وده کوي، سکوت، سازش او له حاکمي وضعي سره سر خوځول ورته منطقي او معقول برېښي او له روان حالت سره تصادم ورته جنون او ليونتوب برېښي. دا چي په هر اجتماعي پاځون او انقلاب کي د ځوانانو ونډه تر بل هر قشر او پرګنې نه، تل ځلانده او رغنده وي او محوري رول دوی تر سره کوي او دا چي د تاريخ په اوږدو کي د هر پيامبر او مصلح په څنګ کي ځوانان ودرېدلي، دا يو طبيعي بهير او د الهي سننو مطابق جريان دی، د افغانستان اسلامي نهضت هم بايد د تاريخ د نورو نهضتونو په څېر د ځوانانو په لاس پيل شوی وی.

مسلمان محصلين مشوش او لالهانده ول، له يوې خوا په پوهنتون د کمونستانو سلطې او د غير اسلامي سياسي ډلو ورځ په ورځ خورېدونکو هڅو او په ديني شعائرو د کمونستانو بې باکانه تېري ځورول، له بلي خوا د يوه اسلامي جريان نشتوالي ځورول، په پوهنتون کي چا ملي جامه نشوی اغوستی، په ديني شعائرو عمل کول ګران وو، بدسترګو کمونستانو به هغه څوك د تمسخر او استهزاء تر بريد لاندې نيول چي يا به ئې ملي جامه اغوستېه او يا به ئې په ديني شعائرو عمل کولو، شايد د شرعياتو د پوهنځي وضعيت تاسو ته د ټول پوهنتون د هغه وخت فضاء ښه انځورکړی شي: پدې پوهنځي کي له استادانو څخه هيڅا ږيره نه درلوده، په محصلينو کي يوازې هغو محدودو کسانو ږيره درلوده چي يا به د اطراف له محلي مدرسو نه غوره شوي وو، يا به ئې په کابل کي د کوم مسجد امامت په غاړه وو او يا به په داسي کورنيو پوري تړلي وو چي په ديني چارو کي ئې تساهل نشو منلی. د دغو کسانو شمېر ډېر کم وو، لسو کسانو ته ئې شمېر نه رسېدو، دوی به هم ورو ورو د پوهنتون د مسلطې فضاء تر تأثير لاندې خپله وضعه بدلوله، په لومړيو اونيو کي به ئې خپلي ږيري ورو ورو کمولې، وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ئې یا فرانسوي شکل ورکړو، یا داسي چي له خرېيلو نه وروسته فقط دوه درې ورځي وربانديې تېري شوې وي!! کمونستانو به د ډوډی خوړلو په ځای کي د شرعیاتو د پوهنځي هغه محصلین له یوې خوا بلي خوا د وچي مړی له مغز نه جوړي شوو غونډارو باندي ویشتل چي یا به ئې ږيري درلودې او یا به ئې پگړی په سر وې. کمونستانو د لیلیی هغې برخي ته د "هندوگذر" نوم ورکړی وو چي د شرعیاتو د پوهنځي محصلین په کي مېشت ول. یو کال مخکي لدې چي موږ پوهنتون ته راشو، ځینو دیندارو محصلینو د لیلیی مدیر دې ته اړکر چي د لمانځه لپاره دوی ته کوم ځای خالي کړي، د دوی د ټینگار په وجه د دریم منزل یو داسي ځای چي مخکي به کله کله د کنسرتونو لپاره ورنه استفاده کېده، د لمونځونو لپاره تخلیه شو، پدې کار کي غلام سخی د خان آباد اوسېدونکي او صوفی قربان د بدخشان اوسېدونکي لویه برخه وه، که څه هم دې جومات ته به ډېر کم کسان د لمانځه لپاره راتلل، خو د اسلامي نهضت په پیل کېدوکي د همدې مسجد لویه ونډه وه، همدلته هغو کسانو یو بل سره وپېژندل چي وروسته دا نهضت د دوی په لاس پیل شو.

زه تل پدې لټه کي وم چي جومات ته د راتلونکو کسانو په ډله کي هغه څېرې وپېژنم چي د اسلامي مبارزې روحیه لري، د یوه منظم صف جوړولو ضرورت احساسوي، روان وضعیت ئې ځوروي او عواقب ئې ورته وخیم بریښي، له حالاتو سره د مقابلې جرأت لري او قرباني ته چمتو وي، کله به مي یو له لاس نه ونیو، یوې گوښې ته به ولاړو، د وضعیت په هکله به مي له هغه سره خبري پیل کړې او کله به مي بل ته وویل چي له تاسو سره څه کار لرم، د جومات په یوه کنج کي به ورسره کښېنستم، له تفصیلي خبرو نه وروسته به راته معلومه شوه چي روحیه ئې څنگه ده او څه طمع ورنه کېدی شي، پدې ترڅ کي له شهید مولوي صاحب حبیب الرحن سره آشنا شوم، هغه د ډېر قوي ایمان خاوند وو، حساس، جدي، زړه ور او هري قرباني ته چمتو وو، د ده په څېرې، خبرو، ناستي پاستی، د لمونځ څرنگوالي او له نورو سره مخامخ کېدو کې، ما هغه څه لیدل چي زه ئې په لټه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم، ما د ده په څېر ملګری لټول، یو له هغو کسانو چي د ملګرتیا له لومړۍ ورځي نه بیا تر هغي شېبې چي د ده شهادت له یوه بل نه بېل کړي یو، مینې ئې زما په زړه کي ځای نیولی او ورځ په ورځ زیاته شوې، شهید مولوي صاحب حبیب الرحمن وو، په کومه ورځ چي ما د ده د دردوونکي شهادت غمناك خبر واورېدو، دا خبر زما د اعصابو لپاره داسي سخت ګوزار وو چي تر اوږدې مودې ئې زما په ټولو حواسو پرده غوړولې وه، داسي احساس مي کاوو چي له لاسو پښو مي دمه وتلې وي.

د شهید مولوي صاحب حبیب الرحمن له لاري د شرعیاتو د پوهنځي له څو نورو ورونړو سره آشنا شوم، د معرفت حلقه ورو ورو خورېده، د الله (ج) اراده داسي تللې وه چي زه او سیف الدین نصرتیار شهید د لیلیې په یوه اطاق کي مېشت شو، همدا اطاق زموږ د لیدنو کتنو، دعوت او سیاسي فعالیتونو په مرکز بدل شو. شهید سیف الدین نصرتیار ډېر با احساسه، دیندار، هوښیار، زړه ور او د ښه استعداد خاوند وو، له کومي ورځي چي له یوه بل سره آشنا شوو او د ګډې مبارزې فیصله مو وکړه بیا تر هغي ورځي چي د دهمزنګ په محبس کي د خپلو ګڼ شمېر زنداني ملګرو په څنګ کي په شهادت ورسېدو، د دعوت او مبارزې په کار کي په دومره انهماك او اخلاص مصروف وو چي د اسلام لپاره ئې هرڅه ته شا کړې وه، غوښتل ئې یوه شېبه ضایع نکړي، یوه لحظه آرام او وزګار پاتې نشي او هیڅ فرصت له لاسه ورنکړي. زه پوهېږم چي که هغه ژوندی پاتې شوی وی، څومره ستر شخصیت به ترې جوړ شوی وو.

د ځینو لیدنو کتنو نه وروسته مو پرېکړه وکړه چي د یوه منظم سیاسي کار د روانولو لپاره چېري د بحث لپاره کېنېنو او ټول هغه ورونړه راوبلو چي د دې کار لپاره مو وړ تشخیص کړی وو، د هماغه پسرلي په یوې داسي شپې کي چي باران ورېدو او د پوهنتون په انګړ کي هیڅوك نه لیدل کېدو، د تعلیم او تربیی د پوهنځي په یوه صنف کي لاندې کسان راغونډ شوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. شهید عبدالرحیم نیازی

۲. شهید مولوي حبیب الرحمن

۳. شهید سیف الدین نصرتیار

۴. شهید عبدالقادر توانا

۵. شهید غلام رباني عطیش

۶. شهید سید عبدالرحمن

۷. شهید استاد گل محمد خان او

۸.زه

په دې غونډې کې مو له اوږدو خبرو آترو نه وروسته فیصله وکړه چې منظم کار روان وو، ځوانان اسلام ته رابلو، ولس راویښوو، د کمونستانو مقابله کوو، د دوی لخوا چې زموږ هېواد ته کوم جدي گواښ متوجه دی او د دوی د سیاسي هلو ځلو په ماهیت خلك خبروو. فیصله وشوه چې دا کار د یوې داسي "شب نامې" په ذریعه پیلوو چې له یوې خوا د حاکم نظام غیر اسلامي ماهیت او د کمونستي ډلو په پیدا ښت کې د دې نظام ونډه په گوته کړي او له بلي خوا د کمونستي ډلو ماهیت بربنډ کړي او له ځوانانو نه وغواړي چې د اسلام تر بیرغ لاندې د اسلامي بدلون راوستو لپاره ملا وتړي. هماغه شپه دا شب نامه تیاره او تصویب شوه، د "شب نامې" په پای کې ولیکلی شو: "جوانان مسلمان"، شب نامه د یوه ورور په مرسته چې د ملل متحد په کوم دفتر کې ئې مأموریت درلود، ټیپ او تکثیر شوه او بیا د شپې لخوا په پوهنتون، د کابل په ټولو لیسو او د خلکو د گڼې گوڼې په ډېرو ځایونو کې خوره شوه.

دې "شب نامې" په ټول کابل کې مخصوصاً په ځوانانو کې لویه انگازه خوره کړه، په هر ټولگی کې د مناقشاتو وسیله شوه، هري خوا ته به دې لیدل چې څوکسان راغونډ شوي، یو کس دا شب نامه لولي، نور ورته غوږ دی، پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چي دا د چا لخوا خوره شوې، "جوانان مسلمان" څوك دي؟ د دوی رهبر څه نوم لري؟ مهم او معروف غړي ئې څوك دي؟ مرام ئې څه دی؟ مرکز ئې چېري دی؟ دفتر ئې په کوم ځای کي دی؟! کمونستانو به له ځانه دفاع کوله، یوه به ویل: دا شب نامه دولت خوره کړې، بل به ویل: دا د حضرتانو له خوا خوره شوې؟! په همدې سره حرکت پیل شو، با ایمانه ځوانان وخوځېدل، په چا کي چي څه ایماني شیمه وه، له وضعي ځورېدل او د یوه اسلامي صف د جوړېدو ضرورت ئې احساسولو او په همدې لټه کي وو، دغي شب نامې وهڅول، په حقیقت کي همدې "شب نامې" هغه هوا وخوځوله چي ورو ورو په یوه ستر طوفان بدله شوه، طوفانونه همداسي پیل شي، په سر کي د سحار د ملایم نسیم په څېر وخوځیزی، څو میله آخوا او پس له لنډې مودې ستر طوفان ترې جوړ شي. د دغي شب نامې په هر سطر کي ځینو خپل احساسات او تمنیات انځور شوي لیدل، د دې او هغه په وړاندي ئې لوستله او د کمونستانو په وړاندي ئې له هغې دفاع کوله او پدې ترتیب د مبارزې ډګر ته راوتل او همدغه کار دې ته اړ کول چي وګوري څوك ورسره موافق دي او څوك مخالف، دا کار چا روان کړی، دا شب نامه چا خوره کړې، دا د کومي منظمي پټي ډلي ترځمکي لاندې فعالیت نتیجه ده !! لدې نه وروسته له کمونستانو سره زموږ د مناقشاتو یوه نوې او توده لړۍ پیل شوه.

## د لومړۍ غونډې څو ځانګړتیاوي

- که څه هم پدې غونډې کي پدې هکله نه بحث شوي او نه کومه پرېکړه چي مشر به څوك وي، زموږ د حرکت د پیل کېدو څرنګوالي دا تقاضا کوله چي د مشرتابه فیصله به ئې په طبیعي طور، د مبارزې په ترڅ کي داسي ترسره کېږي چي د دې مقام لپاره اهل کس به په خپله، د خپل استعداد، کفایت، اهلیت او عملي کار په نتیجه کي تبارز کوي، نور به د ده قیادت مني او دی به د دې کار لپاره اهل ګڼي. زموږ په ډلي کي شهید عبدالرحیم نیازی ورو ورو داسي راڅرګندېدو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ئې د قیادت لپاره اهل وګڼي، د ده ديني پوهه، آفاقی معلومات، درونډ شخصیت، د افادې ښه استعداد، جدیت، نشاط، جرأت، قوي استدلال او ډېرو نورو صفتونو ده ته امتیازی مقام ورکړی وو. زه ټولو هغو کسانو ته چې د ډله ایز سیاسي کار ضرورت احساسوي د خپلو تجاربو په رڼا کې دا مشوره ورکوم چې پرېږدې د دوی د ډلي مشر، په طبیعي طور او د کار په ترڅ کې تبارز وکړي، په عملي ډګر کې د شخصیتونو د تبارز نه وروسته ترټولو غوره کس انتخاب کړي.

• مبادا دا طبیعي چلند پرېږدي او د مشرتابه لپاره، د خپلي ډلي له شخصیتونو نه بهر، داسي څوك غوره کړي چې د غولوونکي او کاذب شهرت خاوند وي او د عمل په ډګر کې نه وي آزمویل شوی.

• موږ ټول محصلین وو او تقریباً همزولي، زموږ له اته کسیزی ابتدایي غونډې سره څلور لاندې ورونه په بېل بېل وخت کې یوځای شول:

۱. شهید انجنیر حبیب الرحمن

۲. شهید ډاکتر محمد عمر

۳. شهید عبدالحبیب حناني

۴. شهید خواجه محفوظ منصور

لکه چې ګوری د دې تحریك د ۱۲ مؤسسینو نه ۱۱ غړي په شهادت رسېدلي او یوازې زه لدې سعادت نه محروم پاتې شوی یم، دوی عملاً او په خپل شهادت سره ثابته کړه چې له خپل رب سره په خپل تعهد کې رښتوني وو، د هغي لومړۍ شپې تعهد ئې صادقانه وو، د زړه له کومي ئې له خدای سره تعهد کړی وو او خپل سر او ويني ئې پدې لار کې قرباني کړې. دوی خپله نذرانه وړاندي کړه او زه د منتظرینو په لست کې، امید دی ټول د دې آیت مصداق وو:

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صدَقُوا مَا عَٰهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضى نَحْبَهُ وَ مِنهُم مَّن يَنتَظِرُ وَ مَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً *

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاحزاب: ۲۳

له مؤمنانو نه ځینو میړنو خپلي هغه ژمني رښتوني کړې چي له خدای سره ئې کړې وې، د دوی ځینو خپلي نذرانې ترسره کړې او ځیني نور ئې انتظار کوي، پداسي حال کي چي "په خپلو ژمنو کي ئی" هیڅ تبدیلي نده راوستلې.

دا مناسب گڼم چي دلته د اسلامي نهضت د نورو مؤسسینو لنډي سوانح هم وړاندي کړم:

## شهید انجنیر حبیب الرحمن:

د نجراب اوسېدونکی او د پولي تخنیك د پوهنځي محصل وو، د دروند شخصیت او ډېر اوچت استعداد خاوند وو، په ډېر کم وخت کي ئې ځان اوچتی پوړي ته ورساوو او د دیني پوهی د ژوري زېرمي خاوند شو، په خصوصی او څرگندو غونډو کي به هرچا د ده خبري په ډېر غور سره اورېدلې، په څبرې کي ئې د قوي ایمان او عمیق اخلاص او صداقت نښی له ورایه بریښېدې، له هر چا سره په روغبړ او ملاقات کي ډېر صمیمي وو، له ضرورت نه پرته به ساکت او خاموش وو، له خپلو ملگرو سره په ناسته پاسته کي هومره حیاناك وو چي د ده په څېرکسان پدې زمانه کي او بیا د پوهنتون په سطح کم موندلی شو، خو له مخالفینو سره په مناقشاتو کي به ډېر جدي وو، له کومي ورځي چي ده د اسلامي مبارزې فیصله وکړه او بیا ترهغي ورځي چي د داؤد جاني نظام په اعدام محکوم کړ او په شهادت ورسېدو، له هري شېبې نه په استفادې سره د دعوت او مبارزې په کار کي په ډېر شور، شوق او انهماك لگیا وو، د ده شهادت د اسلامي نهضت لپاره ډېر سخت گوزار وو:

## استاد غلام رباني عطیش:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پغمان اوسېدونکی او د شرعیاتو د پوهنځي محصل وو، د جذابې څېرې او جالب شخصیت خاوند وو، د دیني پوهې ترڅنګ ئې آفاقی معلومات هم درلودل، تل پدې هڅه کې وو چې له فکری او علمي لحاظه ځان ورسوي او یوازې په رسمي دروسو اکتفاء ونکړي، د ستیج په سر ئې وینا تر ډېره حده جالبه وه، له فارغېدو نه وروسته ئې د استادي دنده غوره کړه، پوهېدو چې د دعوت او مبارزې لپاره ترټولو غوره دنده معلمي ده، د ده په څېرې کې هر چا د یوه سیاستمدار آثار په څرګنده توګه لیدلی شو، د داؤد استبدادي نظام په لاس زنداني شو او تر هغه په محبس کې پاتې شو چې د کمونستانو له مسلط کېدو نه وروسته له ۱۴۲ کسانو سره یوځای په شهادت ورسېدو.

## شهید استاد ګل محمد:

د میدان اوسېدونکی او د شرعیاتو د پوهنځي زده کوونکی وو، د ده کلك ایمان، زړه ورتیا، اخلاص، قاطعیت، هیبتناکي څېرې او دنګې ونې هرچا ته بلال رضی الله عنه ور په یاداوو، په ټولو ښېنتو کې به دې هغه په لومړی خط کې لیدو، بې همته انسان ئې نه خوښېدو، په خپلو خبرو کې صریح او سپین وو. له فارغېدو وروسته ئې د استادي دنده غوره کړه، د داؤد له کودتا وروسته کله چې د نهضت د غړو نیوني پیل شوې او موږ له نظام سره د نظامي مقابلې فیصله وکړه، استاد ګل محمد خان پاکستان ته ولاړ، د عملیاتو لپاره هېواد ته راستون شو، د پاکستان او افغانستان په پولې ودرېدو او درې تېرې ئې د پاکستان په لوري ګوزاری کړې او خپلو ملګرو ته ئې وویل: دې خوا ته بیا راتلو ته په دریو تیږو طلاق ورکوم، رښتیا ئې ویلي وو، په عملیاتو کې ئې برخه واخیسته، ونیول شو او په محبس کې له خپلو نورو زنداني وروڼو سره په شهادت ورسېدو.

## شهید ډاکتر محمد عمر:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طب د پوهنځي محصل او د کشم اوسېدونکی وو، د ډېرو اوچتو استعدادونو او ژور فکر خاوند وو، د دعوت او مبارزې له کار سره ئې ژوره مینه وه، تل به دي یا د دعوت په کار کي مصروف لیدو، یا په مطالعی کي یا په لیکني کې، د ده په ویناوو او بحثونو کي به هر چا داسي احساس کاوو چي لده نه به ستر متفکر جوړ شي، په یوې درنې دینداري کورنۍ کي روزل شوی وو، درونډ با شخصیته پلارئی وکیل عبدالقدوس او ځلور وروڼه ئې د اسلام په لاره کي په شهادت ورسېدل، دی د سفاك داؤد پولیسو، د ملیشو په مرسته ونیوو، په اعدام محکوم شو او په شهادت ورسېدو او پدې سره د روسانو لاس پوڅي رژیم زموږ ولس له یوه ستر شخصیت او لوی متفکر نه محروم کړ.

## شهید استاد عبدالحبیب حناني:

د بټی کوټ اوسېدونکی او د ساینس د پوهنځي محصل وو، په خپلي اسلامي مبارزې کي ډېر نشیط او جدي وو، له دښمن سره ئې په روغی جوړې، مداهنت او سازش باور نه وو، د اسلام په لارکي هري قرباني ته چمتو وو، د سردار داؤد د واکمنۍ د هغي تصفیوي لړۍ په ترڅ کي ونیول شو چي د اسلامي نهضت د ټکولو لپاره پیل شوې وه او له خپلو نورو زنداني وروڼو سره یوځای په شهادت ورسېد. وروریې جګتورن غلام حبیب حناني هم د اسلامي انقلاب په دوران کي د ده په لار ولاړ او خپل سرئی د الله په لارکي قرباني کړ.

## شهید عبدالقادر توانا:

د مزار شریف د مارمول د سیمي اوسېدونکی او د شرعیات د پوهنځي محصل وو، د اسلامي نهضت په روانولو کي د ده مخلصانه هلي ځلي د ډېری ستاینې وړ دي، هڅه ئې دا وه چي هر هغه چا ته ځان ورسوي او د مبارزې بلنه ورکړي چي د ایمان څه نښی او له اسلام سره د مینې او تعهد څه آثار ئې په کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل، په ټولو اجتماعاتوکي ئې فعاله ونډه وه، د لومړی شب نامې په خورلو کې د ده سهم تر ټولو زیات وو، دی هم د داؤد د واکمنی د هماغه تصفیوي اقدام په ترځ کې بندي شو او له نورو سره یو ځای په شهادت ورسېدو.

## شهید سید عبدالرحمن آغا:

د تخار اوسېدونکی او د شرعیاتو د پوهنځي محصل وو، په یوې درنې او متدینې کورنۍ کې پیدا شوی وو، په اخلاص او تقوی کې د ځلانده ستوری په څېر وو، که څه هم له خپلو ایمانی ورونړو سره په چال چلند کې ډېر حیاناك او مهربان وو، په نرمه لهجه به ئې خبرې کولې، خو د دښمنانو په نسبت شدید او قاطع وو، له دوه مخي او نفاق نه ئې کرکه درلوده، په ټولو تحرکاتو کې ئې فعاله او خوځنده ونډه وه، د سردار داؤد د واکمنی په وخت کې زموږ یوه مهمه غونډه د ده په کور کې دائره شوه، دی هم د هغې تصفیې په ترځ کې ونیول شو او زندان ته ولاړ چې د اسلامي نهضت د ټکولو لپاره پیل شوې وه او د تره کي له کودتا نه وروسته د نورو ورنړو په څنگ کې په شهادت ورسېدو.

## شهید خواجه محفوظ منصور:

د پلخمری اوسېدونکی او د ساینس د پوهنځي محصل وو، مصمم، صبور او د متین شخصیت خاوند وو، له کومې شېبې نه چې له اسلامي تحریك سره یو ځای شو او د مبارزې فیصله ئې وکړه بیا د شهادت تر ورځې په ډېر اخلاص او جدیت او سترېیا نه منونکې توگه په کار بوخت وو، د مسلحانه مبارزې مفکوره ئې ډېر ژر او له ځنډ او تردید نه پرته قبوله کړې او د دې نظریې له ډېرو جدي حامیانو څخه وو، د لومړنیو مجاهدینو لوی شمېر د ده په لاس روزل شوي، د نفاق او د وه مخي توب سخت دښمن وو، جبن او وېره ئې د نفاق نښه گڼله، د قرآن د هر آیت په اورېدو سره به د ده له څېرې نه څرگندېده چې د زړه دړه ئې ورته پرانستله او د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دماغ په تل کي ئې د اسی خوندي کړ چي په هیڅ صورت کي ترې هیر نشي.

د نظامي روزني په کورسونو کي د خپلو مجاهدینو لپاره نه یوازې یو تکړه نظامي روزونکی وو، بلکي یو غوره دیني لارښود هم وو. په **۱۳۵۴** کي د هغو عملیاتو قومنده د ده په لاس کي وه چي په پنجشیر کي ترسره شول، عملیات موفقانه وو، د پنجشیر ولسوالۍ د مجاهدینو په لاس فتحه شوه، خو له عملیاتو نه وروسته داسي خواشینوونکی حالت راولاړ شو چي د دې ستر قهرمان په تېښی کېدو او نیول کېدو منتج شوو، چي وروسته په اعدام محکوم او د سردار داؤد د جلادانو په لاس په شهادت ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تودو مناقشو بحثونه

له نوموړي "شب نامې" نه وروسته چې په پوهنتون او نورو علمي مؤسساتو کي د ځوانانو ترمنځ د کومو مناقشو لړۍ پیل شوې وه، پدې کې د کمونستانو هغه خبري چې موږ ئې ځوا ب ویلو ته اړ وو دا وې:

خدای نشته، په خدای ایمان د هغه وخت زیږنده ده چې انسانانو ته د طبیعي پېښو عوامل نه وو څرګند شوي، طوفان، باد، باران، زلزله او دې ته ورته طبیعي پېښې ئې نامرئی موجود ته منسوبولې، همدغه نامرئی موجود ته ئې د خدای نوم ورکړ.

موږ به هغوی ته وویل:

د دې عالم هرڅه د خدای په شته والي شهادت ورکوي، په خدای له ایمان نه پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبیرولی شو او نه پدې عالم کي نظم، ښایست او هدفمندي تفسیرولی شو. دلته موږ د "ربوبیت" او پالني آثار ګورو چې د "رب" او "پالونکي" په شته والي شهادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي، گورو چي هرڅه له هيڅ نه پيل شي، ورو ورو وده کوي، پالنه او روزنه ئې ترسره کېږي، اړتياوو ته ئې ځواب ويل کېږي، د خپلي ودي او تکامل آخری پوړي ته ورسېږي، په هغه سره يوه خلاء ډکه شي، يو ضرورت رفع شي، د خپل مأموريت په پای کي د هغه زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانی په لوري وخوځېږي، په زړښت محکوم شي او عمر ئې پای ته ورسېږي، نابود شي، خپل ځای نوي ځوان توکي ته پرېږدي، زموږ عقل د دې بهير تر شا د يوه داسي پالونکي ذات، د قدرت لاس احساسوي چي د هرڅه پالنه او روزنه د ده په لاس ترسره کېږي.

موږ د دې خور عالم په پراخی غېږ کي داسي شي نشو موندلی چي پيدا ايښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسي شی نشو په گوته کولی چي ځای ئې خالي وي، هرڅه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدا ايښت کي ئې د "علم"، "حکمت" او "قدرت" څرگند آثار گورو.

موږ پدې عالم کي د "رحمت" او " پيرزوينې" څرگندې نښی گورو او د ښو تر شا د داسي ذات نامرئی لاسونه چي په پوره زړه سوي او خواخوږی د هرڅه پالنه او روزنه کوي. "انسان" لا د ځمکي په سر قدم نه وی ايښی چي د مور په تی کي ده ته داسي شيدې برابري شوې وي چي ټولو اړتياوو ته ئې ځواب وايي، دا کار څوک کوي، د چا په اراده د راتلونکو پېښو لپاره تياری نيول شوی، کوم مهربان ذات د انسان اړتياوي په پام کي نيولې او د ده له پيدا ايښت نه مخکي ئې د مهرباني مور په تی کي ورته تياری کړې؟ چي کله انسان، حيوان او نبات باران ته اړ شي دا څوک دی چي د هغه په اراده باران ورېږي، چي کله رڼا او حرارت ته اړ شي دا څوک دی چي لمر ئې ورته پيدا کړی چي د دوی مېشت ځای روڼ او تود کړي، چا په دوی کي د هري بيماری او د هر مکروب د مقابلې استعداد ايښی؟! موږ گورو چي د دې عالم هر څه د خاصو سننو او ضوابطو محکوم دی، هري خواته د سننو او ضوابطو د حاکميت شاهد يو، هرڅه د دغو سننو مطابق تر سره کېږي، موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواياست چي دغه ضوابط چا وضع کړي، د چا اراده د دغو سننو په څېر څرګنده شوې او هرڅه د ده په وړاندي خاضع او محکوم شوي؟!

همدا راز هر "مخلوق" او "مصنوع" د "خالق" او "صانع" په شته والي شهادت ورکوي، د "بی خالقه" مخلوق او "بی صانع" مصنوع تصور د انسان عقل نشي قبلولی. د هر "رسم" په ليدو سره زموږ عقل فيصله کوي چي دا حتماً يو ماهر رسام لري، هر "تصوېر" خپل مصور موږ ته را په يادوي . که تا ته څوك ووايي چي دا "رسم" له "رسام" نه پرته په خپله جوړ شوی، دا "تصوېر" د "مصور" نه پرته په خپله ترکيب شوی، دا "کتاب" د ليکوال نه پرته ليکل شوی، ستا عقل حتماً پداسي خبرو تمسخر کوي، نه پوهېږو چي ستا "عقل" څنګه مني چي دا ټوله هستی، پدې کي بې شمېره ښکلي او ښايسته مخلوقات، په هري برخي کي ئې د "علم"، "هنر"، "دقت" او "هدف والي" خورې ښبی، له "عليم"، "قدير" او "حکيم" خالق نه پرته پيدا شوي؟! په يوه "مصنوع" او "جوړ شوي" شي کي د "علم" او پوهی ښبی موږ دې ته هدايت کوي چي پيداکوونکی ئې پوه دی، د "دقيق" او "ظريف" انځورني ښبی موږ ته وايي: پيداکوونکی ئې ماهر رسام دی، په ظرافت پوه دی، که څه هم موږ د دې توکي "پيداکوونکی" او "رسام" ندی ليدلی، فقط د ده په "پيدا کړي" شي کي مو د ده د لاس آثار ليدلي، زموږ عقل له آثارو نه د خالق، صانع، رسام او مصور په شته والي باور کوي.

د "مصنوع" هر "صفت" د صانع صفت په ګوته کوي. که مصنوع سترګور وي صانع به ئې حتماً بصير او سترګور وي، په مخلوق کي د علم او پوهی صفت پدې شهادت ورکوي چي پيدا کوونکی او خالق ئې حتماً پوه او عليم دی. بې سترګو طبيعت سترګور انسان نشي پيدا کولی، مړ طبيعت ژوندی موجود نشي پيدا کولی، کوڼ طبيعت غوږور مخلوق نشي پيدا کولی، د هيڅ انسان عقل دا خبره نشي منلی چي ړوند، کوڼ، مړ او بې عقله طبيعت دي داسي مخلوق پيدا کړی چي سترګي لري، غوږونه لري، ژوندی دی، خوځېږي، د عقل او ارادې خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، د همدې طبیعت مهار په لاس کې نیسي او د خپلې خوښې مطابق په هغه کې تصرف کوي!!

۲- کمونستانو به ویل: څه چې په سترگو نه لیدل کېږي او د انسان حواس ئې نشي درك کولی، موږ ئې شته والی نه منو.

موږ د دوی په ځواب کې ویل:

د انسان "حواس" د "شته والي" لپاره معیار نشو منلی، زموږ حواس محدود دي، ډېر کم شیان درك کولی شي، د هستۍ ډېرې برخې داسې دي چې زموږ حواس د هغوی له درك څخه عاجز دی. موږ په خپلو حواسو فقط په هغه صورت کې د مادې شته والی درك کولی شو چې د "جامد" او " مایع" په حالت کې وي، خو چې کله د "گاز" حالت غوره کړي او یا په انرژۍ بدله شي، موږ ئې له درك نه عاجز شو، د مادې هر توکی چې په خپلې شا او خوا کې د جذب کومه ساحه لري، موږ ته دا ساحه قابل درك نده. دا ټول حقایق له نښو او آثارو څخه درك کوو، د کمونستانو دا ادعا ډېره بې بنیاده او غیر منطقي ده چې د انسان محدود حواس د شته والي لپاره معیار گڼي.

۳ـ کمونستانو به ویل:

دین د ملتونو افیون دی چې د بډایانو له خوا د نیستمنو د غولولو لپاره جوړ شوی، دین محرومې طبقې ته وایي چې د شتمنیو د ویش په څرنگوالي به اعتراض نه کوي، بډای، خدای بډای کړی او نیستمن، خدای نیستمن کړی. که دنیا دې خرابه ده، له فقر او لوږې سره مخامخ ئی، پدې حالت شکر کوه، مه په حاکم نظام اعتراض کوه او مه د وسایلو د ویش څرنگوالي ته د انتقاد گوته نیسه او مه په اقتصادي او اجتماعي نظام کې د تبدیلۍ هڅه کوه، په تقدیر رضایت په کار دی او د الله په ویش قناعت.

موږ به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دین په هکله ستاسو دا قضاوت ډېر ظالمانه او د واقعیت خلاف دی، هر دیني حرکت په ابتداء کي د مظلومانو د ژغورني لپاره د ظالمانو په خلاف پیل شوی، تاریخ شهادت ورکوي چي دین د "فرعون" او "نمرود" مقابله کړې، مستضعفانو د مستکبرینو له سلطې نه د نجات لپاره دین ته پناه وړي، راشئ د نړۍ د موجوده لویو ادیانو تاریخ ته لږ ځیر شئ، قرآن مطالعه کړئ، د تورات او انجیل هغه برخي وګورئ چي ندي تحریف شوې، نه به د ظالم په خلاف مظلوم ته د سکوت سپارښتنه وګوری، نه له ظالم سره د ملګرتیا توصیه، نه به د "قناعت" او "صبر" هغه تعبیر ومومي چي تاسو ئې وړاندي کوي او نه د "تقدیر" هغه ترجمه چي معنا ئې له "عمل" نه لاس اخیستل او د پېښو په وړاندي لاس تر زنې کښېناستل دي. قرآن خو خلکو ته وایي:

خدای د هیڅ قوم وضع نه بدلوي تر څو هغوی خپل حالت بدل نکړي.

إِنَّ اللَّهَ لا يُغَيرُ مَا بِقَوْمٍ حَتى يُغَيرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ

قرآن لومړی له "طاغوت" نه د انکار غوښتنه کوي، بیا په الله د ایمان دعوا قبلوي، "طاغوت" هغه واکدار دي چي خلك خپلي بندګی ته اړکوي.

فَمَن يَكْفُرْ بِالطغُوتِ وَ يُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ استَمْسك بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لا انفِصامَ لَهَا وَ اللَّهُ سمِيعٌ عَلِيمٌ * البقرة:۲۵۶

نو څوك چي د طاغوت نه منونکی شي او په الله ایمان راوړي، پداسي کړۍ ئې منګولي لګولې چي شلېدل ئي نشته او خدای اورېدونکی پوه ذات دی.

دا تاسو چي دین د ملتونو افیون ګڼئ او ادعا کوئ چي دین د بې وزلو د تخدعی لپاره د بډایانو په ګټه جوړ شوی، کوم دین ته ګوته نیسئ؟ د دین په کوم اړخ استناد کوئ؟ کوم دین خپلو پلویانو ته ویلي چي په ظلم او بې عدالتي اعتراض مه کوئ، د آخرت په طمع په خپلي خرابی دنیا قناعت وکړئ؟! تا ته چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي چي د دین له نظره "صبر" د "سکوت" او "سازش" هغه حالت دی چي د ظلم او بې عدالتي په وړاندي غوره کېږي؟ د قرآن له نظره خو "صبر" هغه "ثبات" او استقامت ته وایي چي د بې عدالتي او ظلم په خلاف د جهاد په سنگرونو کي باید غوره شي، صبر یعنی دا چي د مبارزې په دوران کي مأیوسه نشو، بې حوصلې نشو، د ستوماني احساس ونکړو او مبارزه په نیمایي کي پرې نږدو.

دین خو موږ ته وایي: دنیا د آخرت مزرعه ده، ښه دنیا د سمسور آخرت ننبه ده، چا چي له حرامو لارو خپله دنیا سمسوره کړه، په آخرت کي ئې ځای دوزخ دی، جنت د هغه چا ځای دی چي په دنیا کي ئې له الله نه پرته بل چا ته سر ټیټ نکړ، طمع او وېره ئې یوازې له یوه خدای نه وه، عمل ئې صالح وو او روزی ئې له حلالي لاري ترلاسه کړې وه.

دین خو موږ ته وایي: انسانان د یوې کورنۍ غړي او د یوه بل ورونه دي، خدای ئې یو دی او مور پلار ئې یو، د دوی په رگونو کي د یوه نسل وینه جاري ده، نه به یو په بل د لویي احساس کوي او نه به یو د بل په وړاندي د حقارت احساس، چا چي ظلم ته سر ټیټ کړ، په حقارت راضي شو، د بل لویي ئې ومنله، له ذلت نه د نجات لپاره ئې کم له کمه دومره هم ونکړل چي د ظلم کورگی پرېږدي او داسي سیمي ته ولاړ شي چي هلته سرلوړی ژوند وکړي، د داسي کس ځای دوزخ دی، قرآن پدې هکله په واضحو الفاظو وایي:

**إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَئِكَةُ ظالمِى أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُستَضعَفِينَ فِى الأَرْضِ قَالُوا أَ لَمْ تَكُنْ أَرْض اللَّهِ وَسِعَةً فَتهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَئك مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَ ساءَت مَصِيرا*** النساء:۹۷

بی شکه هغه کسان چي ملائکي د دوی روح پداسي حال کي قبض کوي چي په ځان ئې ظلم کړی، ورته وایي: تاسو په څه حال کي وی؟ وایي: موږ مستضعف وو "ضعیف گڼل کېدو" ملائکي به په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ورته وايي: آيا د خدای ځمکه پراخه نه وه چي په هغې کي مو هجرت کړی وی؟! نو د دوی ځای جهنم دی څومره بد ګرځنځی.

دين خو خلکو ته وايي: انسان د ځمکي په سر د خدای خليفه او نائب دی، ځمکه د ده په وړاندي مسخر شوې او د ده په واك کي ورکړی شوې، دا د ده کار دی چي لدې ځمکي نه ځانته د جنت مقدمه جوړوي که د دوزخ پيلامه. د ځمکي ټول نعمات د ده لپاره پيدا کړی شوي، وېش ئې ده ته سپارل شوی، که وېش ئې عادلانه وو، نو دا نعمات د ټولو لپاره کفايت کوي، فقر د ده د ناعادلانه وېش نتيجه ده، نه په بندګانو د الله د نه پيرزويني نتيجه.

د "قضاء" او "قدر" معنا دا نده چي انسان بې اختياره او بې ارادې مخلوق دی، چي نه د انتخاب اختيار لري او نه په خپل تقدير او برخليك کي د ده اراده او عزم څه اغيزه لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دی، "قدر" يعنی دا چي دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونکې اندازه ټاکل شوې او "قضاء" يعنی دا چي دلته هرڅه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، دا هماغه خبره ده چي نن ئې ساينس کوي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کي د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوي، دا داسي وګڼي لکه چي د کوم ستر داسي باغ خاوند چي جګ جګ ديوالونه لري، د خاوند له اجازی پرته هيڅوك هغه ته نشي ننوتی، د راز راز ميوو وني لري، خپل کوم ګران دوست ته د باغ کلي ورکوي او ورته وايي: دې باغ ته لدې کلي نه په استفادې سره ننوتی او هر راز ميوې خوړی شي، لدې نه وروسته د دې باغ اختيار ستا په لاس کي دی، خو متوجه اوسه چي د دې باغ يوه لوري ته داسي وني دي چي ميوې ئې ستا لپاره مضري دي، که دا ميوه دي وخوړله تا ناروغه کوي او زما د نارضايتی باعث ګرځي. باغ ته له ننوتو وروسته چي نوموړی کس هرڅه کوي مسئوليت ئې د ده په خپله غاړه دی، هم مفيده ميوه خوړی شي او هم مضره، د انتخاب واك ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، د خپل انتخاب نتائج به گالي، ښه انتخاب ئې ښه نتائج لري او بد انتخاب ئې بد. د ځمکي په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندي د هغه محکوميت او ده ته د "اختيار" او "انتخاب" صلاحيت ورکولو معنا همداسي ده.

**۴ـ** کمونستانو به ويل: "ماده" تل وه او تل به وي، نه چا پيدا کړې او نه ئې څوك ختمولی شي.

موږ ورته ويل: د "مادې" په هلکه دا تصور د نولسمي پيړۍ زوړ او غيرواقعی تصور دی. اوس خوساينس نه اتم ته جزء لايتجزا وايي او نه ماده داسي هستی گڼي چي نه پيدا شوې او نه ختمېدونکې ده او نه ماده د کائناتو د ستري ماڼۍ لومړۍ خښته گڼي، بر عکس د "مادې" په هکله وايي چي هغه د هستی يو متحول او مؤقتی حالت دی، پيدا کېږي او ختمېږي، له انرژی جوړه شوې او په انرژی بدلېږي، کمونستانو به ويل: تجربی دا خبره ثابته کړې چي په کيمياوي تعاملاتو کي نه څه خلق کېږي او نه له منځه ځي، بلکي شکل ئې له يوه حالت نه په بل بدلېږي، پدې خاطر دا خبره کولی شو چي ماده نه خلق شوې او نه له منځه ځي، تل وه او تل به وي!! خو دوی دې ته متوجه ندي چي د انساني علومو د دې پرېکړي اطلاق يوازې د انسان په "توان" او قدرت کېدی شي، يعنی انسان نشي کولی څه خلق کړي يا ئې له منځه يوسی، دې پرېکړي ته عموميت ورکول نه معقوله خبره ده او نه علمي، نه ساينس دا خبره کړې او نه د انسان عقل دا خبره مني. همدا اوس اوس انسان ته دا خبره ثابته شوې چي په نويو کشف شويو کهکشانونو کي "انرژی" په "ذراتو" د بدلېدو په حالت کي ده او همدا ابتدائی ذری ورو ورو د مادې شکل غوره کوي او ستوری ترې جوړېږي.

علم نه يوازې دا خبره ثابته کړې چي "ماده" "خلق" شوې، مخکي نه وه، په يوې خاصي مرحلې کي پيدا شوې، بلکي د مادې تل پاتې تصور هم تکذيبوي، علم د لاوازيه هغه نظريه ترديد کړې چي ويل ئې: "د کتلې مجموعي مقدار ثابت دی، نه کمېږي نه زياتيږي" دا يوه زړه بې بنياده نظريه وه چي ډېر د مخه تکذيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې، انشتین دا خبره ثابته کړه چي که ماده د نور د سرعت په اندازه حرکت وکړي په انرژی تبدیلېږي او کتله ئې لایتناهي کېږي. د ده دا نظریه د فزیك په لاندې منل شوي فورمول کي توضیح شوې:

$$M= M_O / \sqrt{١-(V/C)^٢} \qquad\qquad E=MC^٢$$

په لومړي فورمول کي E د انرژي لپاره، M د کتلې لپاره او C د نور د سرعت لپاره او په دوهم فورمول کي $M_0$ د لومړۍ کتلې لپاره، V د جسم د سرعت لپاره، C د نور د سرعت لپاره او M د وروستۍ کتلې لپاره راوړل شوی.

دا فورمولونه ثابتوي چي که د مادې سرعت یوه معین مقدار ته ورسېږي په انرژی بدیلېږي او کتله ئې لایتناهی کېږي، د انسان عقل همدا حکم کوي چي که ماده متکاثفه انرژی وي او له انرژی نه جوړه شوې وي، لابد به د تجزیې په صورت کي بېرته په انرژی بدلېږي، ماده په انرژی له بدلېدو وروسته خپل مادي ظواهر له لاسه ورکوي، لدې وروسته نه کتله لري، نه حجم او نه وزن، نه د مکان په درلودو مقید ده او نه د "زمان" په مراعات، له ټولو مادي محدودیتونو نه ووځي.

ساینس د شلمي پیړۍ تر نیمایي پوري د مادې په هکله ویل چي هغه د انرژی متکاثف حالت دی، ماده له الکترون، پروتون او نیوترون نه جوړه شوې، خو وروسته ورته معلومه شوه چي اتم له الکترون، پروتون او نیوترون نه علاوه ګڼ شمېر نور اجزاء لري، د اتم د مزید تجزیې په بهیر کي هغه ځای ته رسېدلی چي د "مقناطیسی میدان" او "ساحی" نوم ورکوي، داسي څه چي نه "حجم" لري، نه "وزن"، نه "کتله" او نه د "مکان" او "زمان" تابع.

ماده په خپل هر شکل کي د اجزاوو له ترکیب نه جوړه شوې او عقل وايي: هر مرکب باید د پیدا ایښت یوه معینه نیټه ولري او حتماً به د ختمېدو او بېرته تجزیې ثابته نیټه ورته انتظار کوي، د یوه "مرکب" په هکله دا خبره کول چي تل وو او تل به وي، د عقل خلاف او غیر علمي خبره ده.

که د انسان علم دې نتیجې ته ورسېږي چي وايي: انسان نه څه پیدا کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او نه ئې نابودولی شي. دا هماغه خبره ده چي قرآن ئې کوي او وايي:

**أَمَّن يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ**

**هغه څوک دی چي پيدا ايښت ئې پيل کړی او بيائې اعاده کوي.**

خو د انساني علم دې پرېکړي ته عموميت ورکول او دا ادعا کول چي: که انسان نشي کولی څه پيدا کړي يا ئې له منځه يوسی، نو موجود شيان نه پيدا شوي او نه له منځه تلونکی دي، يوازې شکل ئې بدلېږي رابدلېږي، دا يوه نامعقوله ادعا ده، د واقعيت خلاف او يوه محدود او مشروط اصل ته عموميت ورکول.

**۵ـ کمونستانو به ويل: ژوندون د مادې د طبيعي تکامل نتيجه ده.**

مونږ ورته ويل:

ستاسو دا ادعا "علم" نه مني، د ژوند په هکله د علم وروستۍ پرېکړه د دې ادعا خلاف ده، علم وايي: هر ژوندی شي له بل ژوندي شي نه پيدا کېږي. د بيولوژی مشهور عالم پاستور دا خبره ثابته کړه چي ژوندی له ژوندي پيدا کېږي، مړه توکي په خپله په ژونديو توکو نه بدلېږي، بلکي ژوندی توکی له ژوندی نطفې را پيدا کېږي او ژوندي شيان له مړو توکو نه خپله نطفه جوړوي. د پاستور د تجربی له مخي د هر ژوندي شي د پيدا کېدو لپاره ژوندی غيږ پکار ده. هغه د خپلي خبري د ثبوت لپاره د (S) په څېر يو ټيوب غوره کړ، په منځ کي ئې تعقيم شوې غوښه کښېښودل، د ټيوب دواړه خولې ئې داسي بندي کړې چي د ژوندي شيانو تېرېدل ترې ممکن نه وو، خو هوا ترې تېرېدی شوه، د ټيوب داخلي جدار ئې په داسي سريښناکي مادې غوړ کړ چي د هوا د تېرېدو په دوران کي هر ژوندی توکی جذب کړي او غوښي ته د رسېدو مخه ئې ونيسي، پدې ترتيب هغه د ټيوب داخلي فضاء داسي جوړه کړه چي د ژوندون لپاره مساعده وه، که مړه توکي په خپله په ژونديو بدلېدلی؛ نو د پاستور په ټيوب کي به حتماً له هغې غوښې نه


(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی موجود جوړ شوی وو خو دا ثبوت تر اوسه د پاستور په لابراتوار کي پاتې دی، خو هغه غوښه په ژوندي موجود نده تبدیله شوې. د پاستور لدې مهمي تجربی سره ټولو بیولوژی پوهانو توافق وکړ او د ده خبره ئې د یوه قاطع علمي اصل په حیث قبوله کړه، تر ننه د پاستور همدا تجربه عملي کاروړنه لري او د خوراکي موادو ساتنه د همدې علمي اصل له مخي تر سره کېږي، غوښه، شیدې او نور خوراکي مواد هومره واېشوي چي ژوندی نطفې پکي ختمي کړي، بیا ئې پداسي ظروفو کي ځای په ځای کړي چي ژوندي موجودات ورننوتی نشي، پدې عملیی سره د خوراکي موادو د د ورستېدو مخه نیسي، دې عملیې ته پاستوریزه وايي، د پاستوریزی د عملیې بنسټ پدې مفکورې ولاړ دی چي ژوند له ژوند نه را پیدا کېږي.

همدا راز موږ هغوی ته ویل: که ژوندون د مادې د تدریجي تکامل نتیجه ومنو له څو سترو اشکالاتو سره مخامخ کیږو:

دا مفکوره موږ دې ته اړکوي چي له یوې خوا د مادې د پیدایښت په یوې ثابتي نیټې باور وکړو او له بلې خوا د مادې ابتدایي سکون ومنو!! دا ځکه چي د مادې مایل گراف حتماً د زمانې له افقی گراف سره د تقاطع یوه نقطه په گوته کوي چي د مادې د پیدایښت او د حرکت د پیل نقطه ده، گراف باید په لاندې شکل وي:




که موږ د اوسنی زمانې له انسان نه شروع وکړو او ورو ورو مخکي زمانې ته په شا ولاړ شو او وگورو چي د ماتریالیستی فلسفی له مخي باید په انسان کوم مراحل تېر شوي وي، پدې سفرکي باید هر څو ملیونه کاله د مخه، انسان په داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼه کي وګورو چي اوسنی شکل ئې د زمانې د تېرېدو په تناسب تر هغه شکل نه مخکي تللی او متکامل دی، یعنی د ده تکامل د زمانې په فکتور پوري تړلی دی، هر څومره چي زیات وخت ورباندي تېرېږي زیات تکامل کوي، د غیرمتکامل او بسیط حالت یوازنی وجه ئې دا ده چي د متکامل حالت په نسبت کم وخت ورباندي تېر شوی، پدې سفرکي خامخا باید داسي پړاو ته ورسیږو چي ماده ساکنه ده او "صفر" زمانه ورباندي تېره شوې، خو کمونستان نه د مادې "سکون" مني او نه ئې د پیدایښت نیتېه، خو لدې نه عاجز دی چي د تدریجی تکامل نظریه څنګه د مادې د دائمي حرکت او په لایتناهی کي د مادې د پیدایښت له غلط تصور سره تلفیق کړي.

**۲ـ** کمونستانو به ویل: د "مادې تکامل" د اضدادو تر منځ د دائمي نزاع نتیجه ده، د مادې هر توکي په خپل زړه کي دوې برخي لري، یوه د بل ضد ، "تز" او "انتی تز" چي په مسلسل او انقطاع نه منونکې توګه په خپلو کي په دائمي نزاع بوخت دي، همدا دائمي نزاع ماده د تکامل په لوري خوځوي.

موږ ورته ویل: د مادې په هکله ستاسو دا تصور هم د نورو غلطو تصوراتو په څېر بې بنیاده او غیر علمي دی، عالم د اضدادو مجموعه نه؛ بلکي د ازواجو مجموعه ده، یوه برخه ئې د بلې برخي ضد نه بلکي مکمله ده، هر ترکیب د ازواجو له یووالي څخه جوړېږي او د ازواجو د ګډ کار په ترڅ کي وده کوي، د عالم هر لوري ته چي سترګي واړوئ او د هر "تکامل" لاملونه چي ولټوئ، حتماً به دې نتیجی ته ورسېږئ چي د مادې هر توکی له داسي برخو جوړ شوی چي یو د بل زوج او یو د بل مکمل دي، همدا ازواج یوه بل ته لاس ورکوي او د مادې د تکامل موجبات برابروي.

په حیواناتو او نباتاتو کي ګورو چي زوج زوج پیدا شوي، نر او ښځه لري، یو د بل مکمل، همدا ازواج د یوه بل د دفع کولو او نفی کولو په ځای یو بل جذبوي، یوه بل ته لاس ورکوي، د دوی د یووالي په نتیجه کي نوی، ځوان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



متکامل موجود پیدا کېږي او د زړو ځای نیسي، د دوی په هکله د "اضدادو" فلسفه اصلاً صدق نکوي او د واقعیت کاملاً خلاف او د "تکامل" د لاملونو له توضیح نه عاجز ده.

همدا راز په عناصرو کي ګورو چي یو په خپل آخری مدارکي داسي اضافی شیان لري چي له بل سره ئې شریکولی شي او بل په آخری مدارکي داسیخلا لري چي د ډکولو لپاره ئې د بل مرستي ته اړ دی، همدا دواړه د یوه بل زوج شي، یو بل جذب کړي، آخری مدار سره شریك کړي، د دې عملیی په نتیجه کي نوی ترکیب جوړ شي، موږ د عناصرو په دنیا کي هم د اضدادو په ځای ازواج ګورو او په ځرګند طور ګورو چي تکامل د زوجینو د یوځای کېدو او دوستانه تعامل په نتیجه کي ترسره کېږي، کوم عناصر چي د یوه بل زوج نه وي نه په خپلو منځونوکي تعامل کولی شي او نه د نوي توکي په څېر ځرګندېدی شي او نه د تکامل مقدمه کېدی شي.

۷ـ کمونستانو به ویل: "انسان" د مادې د طبیعي تکامل نتیجه ده، د ده تکامل او د انسان په څېر راځرګندېدل ئې له "یوه سلولي" حیوان نه پیل شوی، بېلا بېلي مرحلې ئې پلي کړې، کله د یوه حیوان په څېر او کله د بل حیوان په څېر، له موجوده حالت نه مخکي د بیزو په بڼه او په پای کي د "کامل انسان" په شکل کي راځرګند شوی.

موږ ورته ویل: د انسان د پیدایښت په هکله دا نظریه نه علمي بنیاد لري او نه هغو ګڼ شمېر سؤالونو ته ځواب ویلی شي چي ورسره مخامخ ده، سؤالونه دا دي:

- باید د مادې له ساده توکي نه تر انسان پوري ټول نباتات او حیوانات په یوه ثابت مسیر کي یو په بل پسې د تدریجی تکامل په حال کي وی او له معمولي او بسیط تفاوت سره، باید ټول د انسان په بڼه کي د بدلېدو په لوري خوځېدې!!
- دا نظریه د ژوندیو موجوداتو د بې شمېره تنوع له توضیح نه عاجزه ده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنوع معنا دا ده چي هر صنف له ځانګړې او مستقلي نقطی پیل شوی او وده او تکامل ئې په خپل ځانګړی مسیر کي دي.

• د ژوندیو موجوداتو او جامدي مړی مادې ترمنځ هومره ژور او عمیق تفاوت ګورو چي د یوه "فوق مادي" ذات له تصرف نه پرته په ژوندي موجود د هغې بدلېدل د انسان عقل نشي منلی، ژوندي موجودات؛ احساس، شعور، عقل، علم، ابتکار، انتخاب، مینه، دښمني، خندا، ژړا او ګڼ شمېر نور داسي صفات لري چي باید له "فوق مادي" مرجع نه ئې ترلاسه کړي وي. دغو صفاتو ته مادي مبنا نشو پیدا کولی، ناچار باید دا ومنو چي په ژوو کي نوموړي صفات له بهر نه تعبیه شوي او د دوی پیدا کوونکي ذات د دوی په خټه کي دا صفات ایښی او په همدغو صفاتو د متصف کېدو لپاره ئې هغوی ته خاص جوړښت ورکړی، د انسان پیدایښت او د ده خاص صفات داسي وګڼي لکه یو مجهز کمپیوټر چي ټولي برخي ئې مکملي او فعالي وي، په هغه کي د جمع، ضرب، تقسیم، د غړ ضبطول، د لیکنو اساسي ساتنه او د ګڼ شمېر نورو عملیو خاص پروګرامونه تعبیه شوي، دا کمپیوټر هغه عملیه ترسره کولي شي چي مربوطه پروګرام او SOFT WARE ئې په حافظه کي نصب شوی وي، که نه نو د نوموړې عملیی له اجراء نه عاجز پاتې کېږي. د انسان په کروموزم کي ۳۰۰۰۰ ژنه دي، هر ژن د یوه WARE SOFTحیثیت لري، چي هر یو ئې د انسان د یوه خاص صفت او کړني اصلي لامل دی. موږ ته وواياست چي دا ژنونه، چي هر یو ئې د خاص صفت حامل دی او انسان ته خاص خصوصیت ورکوي او د انسان د خاصو کړو وړو لامل دی، چا په انسان کي ایښی؟

۸ـ کمونستانو به ویل: مرګ د ژوندون پای دی، له مرګ نه وروسته بل ژوندون نشته، نه قیامت شته او نه حساب او کتاب او نه جنت او دوزخ.

موږ ورته ویل: تاسو د بیا ژوندون د نفی کولو لپاره څو خبري کولی شي:

یوه دا ده چي انسان ومری، هډوکي ئې وراسته شي او په خاورو بدل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه به بېرته را ژوندی کېږي؟

زموږ ځواب دا دی: هماغسی به راژوندی کېږي لکه چي په ابتداء کي له خاورو را پيدا کړی شو، مجدد پيداينبت تر لومړی پيداينبت آسانه دی، هماغسی به را ژوندی کېږي لکه چي د هر ژمي په پای او د پسرلي په راتلو سره د ځمکي تر قشر لاندې توکي راژوندي شي. هغه ذات چي انسان ئې د لومړی ځل لپاره را پيدا کړي بيا به ئې را پيدا کوي.

• دوهم دا چي: له بيا ژوندون نه وروسته حساب او کتاب، مکافات او مجازات نه منو او د دې لپاره عقلي دلايل نلرو.

• په دې ارتباط زموږ ځواب دا دی: که انسان د هري پېښي او صحنې په اړه خامخا قضاوت کوي، يوې ته په بلي ترجيح ورکوي، يوه تائيدوي، بله ترديدوي، دوه کسان د دوو بېلا بېلو کړو وړو په حال کې ګوري، يوه ته ښه او بل ته بد وايي، دوه کسان د جګړي په حالت کي ګوري، يو ظالم او بل مظلوم، د يوه په نسبت په خپل زړه کي ترحم او زړه سوي احساسوي، غواړي دهغه مرسته وکړي، د بل په نسبت په خپل زړه کي کرکه محسوسوي، غواړي د هغه مخنيوی وکړي، که ئې له وسه پوره وه حتماً د مظلوم مرستي ته راوړاندي کېږي او د ظالم مقابله کوي، ظالم ته د خپل ظلم جزا ورکوي. موږ ته ووایاست: په انسان کي دا د قضاوت استعداد چا ايښی، دا د مکافات او مجازات تصور چا ورکړی، دا د ښه او بد د تفکيك او تمييز فهم ئې له کومه کړی؟ ته ځنګه دا مني چي په انسان کي دي دا صفت وي او د ده پيدا کوونکي ذات دی پدې صفت متصف نه وي؟ د عقل تقاضا خو دا ده چي د انسان پيداکوونکی او خالق بايد په اتم او اکمل صورت کي د "قضاوت" او مکافات او مجازات په صفت متصف وي.

• متأسفانه تاسو د مکافات او مجازات هغي سلسلې ته پاملرنه نلري چي همدا اوس اوس په پوره قوت سره د انسان په انفرادي او ټولنيز ژوند حاکمه ده، نه دې ته اهميت ورکوي چي اکثر مجرمان د خپل جرم جزا ګوري، چي بد ګرځي بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



به پرځي، په خپل شخصي ژوند کي د هر انحراف او له خپلو طبيعي حدودو نه د هر تېري بد عواقب ګالي. او نه دې ته توجه لري چي يو په بل پسې د ظالمو واکدارانو د اقتدار مانۍ نسکورېږي، د استبدادي نظامونو جرړی قطع کېږي، مستکبرين له منځه ځي، ځای ئې مستضعفينو ته تخليه کېږي، که پدې عالم کي د مکافات او مجازات سلسله حاکم نه وی نو ظالم واکداران به تل په واك کي پاتې کېدل او مظلومان به تل د محروميت اوضعف ګاللو ته اړ ول، نه به د دوی مرسته کېده او نه به له هاغه بل نه غچ اخيستل کېدو، د مکافات او مجازات همدا سلسله به په قيامت کي تکميل شي، هغه نقيصه به رفع شي چي انسان ته د نسبی اختيار او واك ورکولو په وجه د ده فوری او مکمل مجازات او مکافات ځنډول شوي، فوری جزا د انسان اختيار سلبوي، ده ته د اختيار او واك ورکولو غوښتنه دا وه چي کامل مکافات او مجازات ئې د څه مودې لپاره وځنډول شي.

۹۔ کمونستانو به په انساني ټولني کي د بې عدالتۍ او ظالم او مظلوم په شته والي د خپلي الحادي عقيدې لپاره د دليل په توګه استدلال کاوو او ويل به ئی: خدای څنګه پدې "بی عدالتي" راضی کېږي، د دې بې عدالتي له شته والي سره سره څنګه د "عادل خدای" په شته والي باور وکړو؟

موږ د دوی په ځواب کي ويل: په انساني ټولني کي بې عدالتي او ظلم د انسان د غلطو تصرفاتو نتيجه ده، د دې اعتراض په خپله انسان ته راجع دی چي له خپل "اختيار" او "واك" نه غلطه استفاده کوي، نه هغه ذات ته چي انسان ئې بااختياره پيدا کړی، که انسان په نورو ظلم کوي، د نورو په حقوقو تېری کوي، يوه ډله په بلي ډلي د خپلي خوښي داسي نظام تحميلوي چي هغه له خپل حق نه محروم کړی او ده ته امتيازات ورکړي او که محرومان او مظلومان ظلم ته غاړه ږدي، د بل لوبي مني، په خپل حق د بل د تېري په وړاندي عکس العمل نه ښيي، مسئوليت ئې انسان ته متوجه دی، نه خدای ته چي انسانان ئې برابر پيدا کړي، هرڅه ئې د ټولو لپاره پيداکړي، په عدالت امر کوي او ظلم حرام ګڼي او خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندگانو ته وايي: مه په بل لويي کوي او مه د بل لويي مني، مه ظلم کوي او مه مظلوميت مني، ټول ورونه ياست، له يوه نژاد نه، له برابرو حقوقو سره.

د انسان امتياز په نورو مخلوقاتو پدې سره دی چي هغه "خپلواك" پيدا شوی، له دوو لارو نه يوه غوره کولی شي، په څو شيانو کي يو انتخابولی شي، ابتکار لري، د انتخاب او غوره کولو توان لري، که له هغه نه دا امتياز سلب شي، بيا ئې نه ښه کار د ستايلو دی او نه بد کار د غندلو، نه د ښه کار په کولو سره د مکافات مستحق دی او نه د بدکار په مقابل کي د مجازات وړ، په هر کار کي ئې هغه چا ته گوته نيول کېږي چي دی ئې هغه کار ته اړکړی. ترافيك په هر تصادم کي ډريور مجازات کوي نه موټر، دا ځکه چي ډريور د واك خاوند دی او موټر محکوم او مجبوره وسيله. په انساني ټولني کي د بې عدالتي اعتراض يوازې په هغه صورت بل چا ته راجع کېدی شوی چي انسان د موټر په شان محکوم او مجبور وی او مهار ئې د بل په لاس کې.

عادل خدای نه يوازې په بې عدالتي او ظلم ندی راضی؛ بلکي هم ظلم حرام گڼي او هم ظلم ته تسليمېدل. د مظلومانو د ژغورني لپاره ئې پيامبران رالېږلي، له ظلم نه د نجات لاري ئې هغوی ته ښودلې، دوی ئې د ظلم د ختمولو او د عدالت د تأمين لپاره په جهاد مکلف کړی، که دوی د ظلم په خلاف ملا وتړی او د عدالت د تأمين لپاره د جهاد لاره غوره کړې، خامخا د دوی مرسته کوي او خپل تائيد او نصرت پدوی پيرزو کوي، د الله سنت همدا دی او د عدالت تقاضا همدا او د انسان د "واك" او "اختيار" غوښتنه همدا، که خدای له انسان نه د گناه کولو واك سلب کړی، لده نه هغه "اختيار" ببرته واخلي چي له همغه نه په استفادې سره د بل په حق تېری کولی شي، پدې صورت کي انسان له نورو مخلوقاتو نه خپل اصلي امتياز له لاسه ورکړی او په مجبور مخلوق بدل شوی، بيا نه د ده "ښه" ارزښت لري او نه ئې "بد" د تقبيح او غندلو وړ دی.

۱۰ـ کمونستانو به ويل: انسان هرڅه په خپله "خوښه" او خپله "اراده" کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي نامرئی ذات شته والی نه محسوسوي چي د انسان په "ارادې" اغیزه وکړي او د ده د عمل مخه ونیسي، ځینو به په ډېره بې باکۍ ویل: که خدای وي نو زما دا غزېدلی لاس دي راغونډ کړي!

موږ د دوی په ځواب کي ویل: ستاسو دا خبره د مخکنۍ خبري خلاف ده، د یوې قضیې په اړه دوه متناقضی خبري کوي، که انسان هر څه په خپله "خوښه" او خپله "اراده" کوي نو د ده د فردي او اجتماعي حالت مسئولیت په خپله د ده په غاړه دی، د "ظلم" عامل دی دی، د بې عدالتي موجبات ده برابر کړي او اعتراض ئې ده ته متوجه دی.

که څه هم دا خبره چي انسان هر کار په خپله "خوښه" او "اراده" کوي په اصل کي سمه خبره ده خو نه پدې بڼه کي چي کمونستان ئې وړاندي کوي، پدې خبري هغه نتیجه مرتب کول چي دوی ئې ادعا کوي، د حیرت وړ مغالطه ده. انسان نه کامل "واکمن" دی او نه مطلق "محکوم"، د اختیار خاوند دی خو محدود اختیار، انتخاب کولی شي؛ خو له ځو ممکنو کارونو نه یو. د ده دا محدودیت ثابتوي چي د بل د ارادې په وړاندي محکوم دی. قرآن دا حقیقت په ځومره دقیق انداز بیانوي او وایي:

> فلو لا ان کنتم غیر مدینین ترجعونها ان کنتم صادقین.
>
> که تاسو (د خدای د ارادې په وړاندي "محکوم" نه یاست خپله روح مو هغه وخت" بېرته وګرځوی "چی ستاسو ستوني ته راورسېږي" که صادق یاست.

ستا مرګ پدې شهادت ورکوي چي ته د یوه داسي ذات د ارادې په وړاندي محکوم ئې چي په تا او پدې ټولي هستۍ د ده حکم نافذ دی، ته نه غواړې زوړ شي، استعدادونه دي ضعیف شي، توانمندي دي کمه شي، په مرض اخته شي او په مرګ محکوم شي، خو دا ټول ستا د خوښي خلاف ترسره کېږي. دنیا ته ستا د راتلو او تلو نیټه بل ټاکلې، ستا وده او زوال د بل په اراده ترسره کېږي، نه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ مخنيوی کولی شي او نه ئې نيته ځنډولی شي.

دا سمه ده چي تا ته د خپل لاس د غزولو او غونډولو توان درکړی شوی او د دې اختيار ستا په لاس کي دی، خو که د همدې لاس د غزولو او غونډولو د کنترول هغه مرکز صدمه وګوري چي ستا په مغز کي تعبيه شوی او سويچ ئې ستا د ارادې تر ګوتي لاندې ده، بيا نه خپل لاس غزولی شې او نه ئې غونډولی، ته بې تنفسه ژوند نشې کولی، ناچار به سا باسې چي ژوندی پاتې شې، د ژوندي پاتې کېدو لپاره به ناچار هماغه څه کوې چي ستا خالق او پيداکوونکي ذات مقرر کړي.

۱۱ـ کمونستان پدې باور وو چي انسان خپل افکار او عقايد له خپل محيط نه اخلي، دا د توليد وسايل دي چي د انسان د اجتماعي نظام څرنګوالی تعينوي، اقتصاد بنسټ دی او اجتماعي نظام، سياست او فرهنګ د هغه زيږنده او پدې بنسټ ولاړ ديوالونه، اقتصاد "زير بنا" ده او نور هرڅه "روبنا"، د ټولني هر څه له "اقتصاد" نه رنګ اخلي، د انسان د ټولو کړو وړو محرك اقتصاد دی، دوستی او دښمني ئې اقتصادي انګيزه لري، ښه او بد عمل ئې له اقتصادي تمايلاتو نه راولاړيږي. د توليد د وسايلو د تدريجی تکامل په وجه د انسان اجتماعي نظام هم په تدريج سره له يوه حالت نه بل ته ارتقاء کړې. دوی تاريخ په لاندې پنځو مرحلو ويښي:

۱ـ لومړنۍ ټولنه "کمون اوليه " پدې مرحلې کي د توليد له وسايلو نه په ګډه استفاده کېده، نه فردي ملکيت وو او نه د يوه انسان په لاس د بل استثمار.

۲ـ مرييتوب "بردګی": د لومړۍ مرحلې برابري او مساوات او د يوه انسان په لاس د بل نه استثمار له منځه ولاړ، فردي ملکيت رامنځته شو، شتمنو نيستمن، زورورو کمزوری په اسارت ونيول، مرييتوب پيل شو. مريی د توليد وسيله ګڼل کېدو او بازار ته د خرڅلاو لپاره عرضه کېدو.

۳ـ فيوډاليزم "د پراخو ځمکو د خاوندانو نظام": پدې مرحله کي کرهڼه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولید مهمه او اساسي وسیله وه. د پراخو ځمکو خاوندان راڅرګند شول، مریبی په بزګر بدل شو، یعنی د کر په ځمکي پوري ترلی مریبی.

**۴ـ** کپتلیزم "پانګه وال نظام": د تاریخ پدې پړاو کي د تولید د مخکنیو وسایلو ځای ماشین ونیو، فابریکې رامنځته شوې، فیوډال د فابریکې په خاوند بدل شو او بزګر په کارګر، فابریکو کارګران راغونډ کړل، د ګډی مبارزې شرایط ئې ورته برابر کړل، کارګری اتحادیی جوړي شوې او د کارګرانو مبارزه پیل او جدي بڼه ئې غوره کړه.

**۵ـ** کمونیزم: بورژوازی د کارګرانو "پرولتاریا" په لاس نسکوربږي، فابریکې، ځمکي او د تولید ټول وسایل د کارګرانو په لاس کي پربوزی، د بډایانو سلطه پای ته رسیږي، قدرت د کارګرانو لاس ته ورځي، کارګری ټولنه جوړیږي، د فردي ملکیت په ځای ټولنیز ملکیت رامنځته کیږي، د ټولني هرڅه د ټولو په ګډ ملکیت بدلیږي، هماغه د انساني تاریخ لومړنۍ مرحله "کمون اولیه" په خپلي مترقي او متکاملي بڼي کي بیا تکراریږي، دولت او دولت ته ضرورت ورو ورو له منځه ځي او بې دولته ټولنه جوړیږي، همدا د انسان د ټولو ستونزو د حل یوازنۍ لاره ده. کمونستانو به ویل: دا تاریخیمرحلې او یوه په بل پسې د هغوی راتګ د تاریخ حکم او غوښتنه ده، خامخا به راځي، هیڅ څوك ئې مخه نشي نیولی، هیڅوك ئې مخي ته نشي و دربدی، دا د تاریخ جبر دی....!!

مورږ د دوی په ځواب کي ویل:

د انسان د ځینو خاصو کړو وړو انګیزه اقتصادي وي، نه د ټولو، د ده د ټولو فعالیتونو د لاملونو په هکله ستاسو نظریه غیر واقعی او بې بنیاده ده. هیڅ عاقل انسان له هغې سره توافق نشي کولی، ډېر فعالیتونه داسي دي چي نه یوازې اقتصادي انګیزه نلري بلکي انسان د هغه لپاره خپل اقتصادي تمایل تر پښو لاندې کوي او له خپلو مادي امتیازاتو نه لاس اخلي. که یو مبارز انسان د عدالت لپاره ملا تړی، د جهاد لار غوره کوي، زندان ته ځي، هجرت ته اړکیږي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مأموريت نه محروم کېدل مني، له خپلي شتمنۍ، اجتماعي اعتبار، سوکالي او آرامي نه لاس اخيستو ته چمتو کېږي، له مظلومانو او محرومانو نه د دفاع په لارکي شهادت ته تيارېږي، په هغه وخت کي چي گوري د دار کړۍ ئې په غاړه کي لوېږي، په خپل دريغ ټينگارکوي، نه له مبارزې لاس اخيستو ته چمتو کېږي او نه د دښمن په وړاندي سر ټيټولو ته، ستاسو دا فلسفه د دغه شان کارونو له توجيه نه عاجزه ده. د انسان دا راز اقدامات ستاسو په نظريې د بطلان خط کاږي، که يو انسان د يوه بې وزلي همنوع په ليدوسره په خپل زړه کي ترحم او عاطفه احساسوي، تحريك کېږي، له هغه سره مرستي ته راوړاندي کېږي، د هغه لاس نيوی کوي، د مظلوم په څنگ کي ودرېږي، له خپل اولاد سره مينه کوي، د دوی لپاره خولې تويوي، خطر قبلوي، که مور د خپل اولاد په نسبت زړه سوي لري، د ده د روزني او ساتني په کار کي بې خوبی گالي، هر زحمت په ورين تندي زغمي، د هر خطر مقابلې ته چمتو کېږي، که يو کس د شهرت لپاره د مرگ تر پولي مخکي درومي، په اسرارو د پوهېدو لپاره سختی ستونزي گالي، ... دې ته ورته د بې شمېره نورو اقداماتو له توجيه نه ستاسو فلسفه کاملاً ناتوانه او عاجزه ده.

همدا راز ستاسو دا ادعا د منلو نده چي انسان خپل افکار او عقايد له محيط نه اخلي، که داسي وی، نو هغو کسانو به حتماً ورته عقايد او افکار درلودل چي په ورته محيط کي ژوند کوي، بايد د يوې کورنۍ د غړو ترمنځ هيڅ فکری اختلاف نه وی. د يوې ټولني د ټولو غړو افکار بايد يوه بل ته ورته وی. بايد د جوزيف استالين، د کمونستانو د ستر مشر او د ده د لور ترمنځ هومره ژور اختلافات نه وی پيدا شوي چي له روسيې وتښتی او امريکا، د روسيې ستر دښمن ته پناه يوسی او هلته په يوه مطبوعاتی کنفرانس کي خپل پلار متهم کړي او هغه ته د قاتل او جاني خطاب وکړي؟!

موږ عملاً گورو چي د توليد وسايل نه فقط د انسان د افکارو او عقايدو زيربنا نده، بلکي په خپله د انسان د افکارو زيرېنده ده، دا انسان دی چي د توليد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسايل جوړوي، په هغوی کي تبديلي راولي، وده ورکوي، تر مخکي حالت نه غوره والی ورکوي، نن د يوه کس کار تر سره کولی شي، سبا ئې داسي جوړ کړی چي د دووکسانو کار وکړي او بله ورځ د څلورو، لسو او شلو... انسان ابتکار لري، پټ اسرار کشفوي، نوي نوي وسايل اختراع کوي، د انسان همدا استعداد د توليد د وسايلو او د ټولني د اقتصادي وضعي د ښيرازه کېدو اصلي عامل دی، په انسان کي د "ابتکار" او "اختراع" استعداد ته نه يوازې دا چي ستاسو ناکاره فلسفی اعتناء نده کړې بلکه هغه ئې نفی کړې.

په دې کي شك نشته چي انسان له خپل محيط نه متأثره کېږي، په عقيدې، فکر، اخلاق، دود دستور او اجتماعي نظام ئې محيط اثر کوي، خو دې خبري ته هومره عموميت ورکول چي له انسان نه د يوه مجبور او محکوم توکي څېره انځور کړي، داسي چي خپل هر څه له محيط نه اخلي، جهت ئې محيط ټاکي، افکار او اخلاق ئې د محيط زيږنده ده، نه "ابتکار" لري، نه "اختراع" کولی شي او نه د محيط د غوښتنو خلاف قدم اوچتولی شي، دا غلطه انگيرنه ده او د انسان د عملي ژوند له واقعيتونو سره ټکر کوي. که داسي وی نو ټولو انساني ټولنو به يو شانته اجتماعي نظام درلود، ټولو به يو شانته وده کوله، د توليد وسايل به ئې ورته وو او اجتماعي نظامونه به ئې د يوه بل شبيه . ستاسو فلسفی تحليل دې سؤال ته له قانع کوونکي ځواب نه عاجز دی چي ولې د دې او هغي ټولني تر منځ د توليد د وسايلو مستوی فرق کوي، دا وروسته پاتې دی او هغه مخکي تلی او ولې د دې ټولني اجتماعي نظام له هغي بلي نه فرق لري؟! د انسان له "ابتکار" نه پرته بل کوم عنصر دی چي دا "تفاوت" توجيه کړی شي؟! مخصوصاً چي تاسو په "تاريخيجبر" باور لري او هغه داسي ځواکمن بهير گڼي چي هيڅوك د هغه مخي ته نشي ودرېدلی او هيڅوك دا حتمي بهير نشي بدلولی.

د کمونستانو په "تاريخي دورو" او "تاريخي جبر" لاندې اعتراضات لرو:

- دوی په تاريخي پېښو کي يوازې د توليد د وسايلو اغيزه څېړلی او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې یوازنی مؤثر عامل ګڼلی، ټول نور عوامل ئې له نظره غورځولي. څوك چې په تاریخي پېښو کې د بېل، لور، ترکتور او ماشین اغیزی ته ګوته نیسي خو د انسان ابتکار، د متېو زور، د قلم، توری او ژبې تأثیر له پامه غورځوي، لویه مغالطه کوي، ما ته وواياست چې د تاریخ په جوړولو کې د لور زیاته ونډه ده که د توری، بېل زیات تأثیر لري که نیزه، ترکتور زیات مؤثر دی که ټانك؟!

• کمونستي انقلاب د دنیا په هیڅ ګوټ کې د هغې فلسفې مطابق بري ته ندی رسېدلی چې کمونیزم ئې وړاندي کوي، په هیڅ هېواد کې داسې ندې شوې چې د بورژوازی مرحله خپل پای ته رسېدلې وي او ورپسې کمونستي انقلاب راغلی وی، د دې فلسفې مطابق باید لومړی په انګلستان او امریکا کې کمونستي انقلاب ترسره شوی وی، د مارکس انتظار همدا وو او د ده د تاریخي فلسفې تقاضا همدا وه، خو پدې هېوادونو کې لا تراوسه هماغه د بورژوازی مرحله پای ته ونه رسېده او د کمونیزممرحلې ته ئې ارتقا ونکړه، کمونستي انقلاب، د مارکس د فلسفې خلاف، لومړی په روسیې کې ترسره شو، حال دا چې روسیه د پانګه وال نظام په لومړی پړاو کې وه، نور هېوادونه چې د روسیې د توری، توپ او ټانك په ذریعه د کمونیزم په کومي کې پرېوتل اکثراً ئې فیوډالي مرحله هم نه وه تکمیل کړې، چین د کمونستي انقلاب لیار پدې خاطر غوره نکړه چې د تولید په وسایلو کې ئې انقلاب راغلی وو او همدغو وسایلو د کمونستي انقلاب غوښتنه کوله!! برعکس د روسیې نظامي مرستو دا انقلاب بري ته ورساوو!! دا څنګه د اروپائی هېوادونو په ځای چې اکثراً د بورژوازی په پړاو کې وو، کمونستي انقلابونه په افریقایي او آسیایي هېوادونو کې، چې ټول ئې په فیوډالي مرحلې کې وو، ترسره کېږي، دا انقلابونه د کارګرانو په لاس نه؛ بلکې د فوځي افسرانو په لاس او د عسکري کودتاګانو په ذریعه پلي کېږي!! موږ نه پوهیږو چې کمونستان د عراق، یمن، سودان، مصر، سوریې، ویتنام، کامبوج، ایتوپیا، اریتریا او د شرقي اروپا هېوادونو هغه تحولات څنګه توجیه کوي چې د کمونیزم په ګټه ترسره شول. پدې هېوادونو کې خو د لور او څټك په ځای د توپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ټانك په ذريعه او د كارگرانو او بزگرانو په ځای د فوځي افسرانو په لاس د زړو حكامو ځای نويو حكامو ونيو، نه د توليد وسايل بدل شوي او نه په اقتصادي نظام كي تبديلي راغلې.

• د فردي او ټولنيز ملكيت په اړه موږ هغوی ته ويل: ظلم په هر صورت كي ظلم دی، كه دا د "فرد" له لوري د "ټولني" په حقوقو وي او كه د "ټولني" له لوري د "فرد" په حقوقو. كه دا ظلم وي چي د "فردي ملكيت" لپاره "اجتماعي ملكيت" صدمه وگوري؛ نو دا هم ظلم دی چي د اجتماعي ملكيت تر نامه لاندې "فردي ملكيت" تر پښو لاندې شي. دا له عدالت او انصاف نه لري كار دی چي انسان د خپل كار هغه ثمره تر لاسه نكړی شي چي د ده د خولو او تناكو نتيجه ده او پدې كي هغه څوك ورسره برابر شريك كړی شي چي نه ئې خولې توی كړې او نه ئې لاس تناكي شوی. كه دا حالت په ده تحميل شي د كار او زيار انگيزه له لاسه وركوي، د كاركولو شوق او ذوق ئی‌صدمه گوري، د خولې تويول او د لاس پښو تناكي كول ورته بيهوده بريښی. د فردي ملكيت نفی خطرناك عواقب لري، اجتماعي ملكيت په داسي استبدادي نظام منتج كېږي چي د ټولني هرڅه د واكمنو په لاس كي وركوي، د دې په ځای چي "فردي ملكيت" تحريموو ولې هغه راكړه وركړه او اقتصادي چال چلند نه تحريموو چي د ټولني حقوقو ته صدمه رسوي، د بډاي لاس آزاد پرېږدي چي نيستمن استثمار كړي، د ده له مجبوريتونو نه غلطه استفاده وكړي، د بې وزلو د خولو او تناكو حاصل د ده په جيب كي پرېوزی، شتمن مزيد شتمن كړي او نيستمن لاپسي نيستمن، سرمايه د محدودو كسانو ترمنځ لاس په لاس شي، له هري لاري نه د شتمني ترلاسه كول جائز گڼي، ولې سود، احتكار، انحصار او استثمار نه تحريموو؟

اسلام فردي ملكيت جائز گڼي خو له څو شرطونو سره:

• بايد له جائزی او قانوني لاري ترلاسه شوی وي. نه د بل فرد حق په كي ترپښو لاندې شوی وي او نه د ټولني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له دې ملکیت نه یوازې په جائزو لاروکې استفاده کولی شي.

- د ده په شتمنې کې د ټولنې د محرومانو ثابت او معلوم حق دی، دا حق باید ورکړ شي. دولت مکلف دی له بډای نه دا ثابت حق ترلاسه کړي او بې وزلو محرومانو ته ئې ورکړي . دا ثابت حق د اجتماعي مصلحت په بنا زیاتېدی شي او دولت کولی شي د ټولنې د عام مصلحت لپاره له بډایانو نه هومره وغواړي چې ضرورت رفع شي.

- شتمنې باید د محدودو اغنیاوو تر منځ لاس په لاس نشي او داسې تراکم و نکړي چې ټولنې ته ګواښ متوجه کړي، د شتمنیو تراکم خطرناك عواقب لري.

- اسلام د همدې لپاره د زکات، عشر، خمس، میراث، مصالح مرسله او سد ذرایع قواعد وضع کړي او سود، احتکار، انحصار، استثمار او د نیستمن له مجبوریتونو نه ناروا استفاده ئې تحریم کړې.

- مورږ به کمونستانو ته ویل: ستاسو دا ادعا چې په کمونستې ټولنیکې د "دولت" ضرورت په مدا رمدار منتفی کېږي او بې دولته ټولنه رامنځته کېږي، یوه واهی او بې بنیاده ادعا ده، د عملي واقعیتونو خلاف، ستاسو په کمونستې ټولنې کې نه د دولت ضرورت منتفی شو، نه له منځه ولاړ او نه تضعیف شو، برعکس هومره ځواکمن شو چې د انسان په اوږده تاریخ کې ئې مثال نشو موندلی، پدې نظام کې چې فوځ، پولیس، استخبارات او امنیتی ځواکونو او ځواکمنو حزبی حلقو ته کوم ضرورت دی په نورو نظامونو کې ئې مثال نه ګورو، تجربی ثابته کړه چې کمونستې نظام د ځواکمن دولت نه پرته دوام نشي کولی که دولت ضعیف شو او په ټولنې ئې تسلط کمزوری شو د نظام مانۍ نسکورېږي او د کمونیزم ټغر ټولېږي.

- کمونستانو به د اسلام په هکله ویل: که اسلام د طبقاتی نظام حامي نه وی ولې ئې مریيتوب تائید کړ، ولې ئې د مریی ساتل او خرڅول جایز وګڼل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د دوی په ځواب کي ویل: دا اسلام وو چي د بشري تاریخ په اوږدو کي ئې د لومړی ځل لپاره د مریې د آزادولو غږ اوچت کړ، له اسلام نه مخکي هیڅ مسلك د انسانانو د برابری او د مریې د آزادي خبره نده کړې، اسلام اعلان وکړ چي لدې نه وروسته هیڅوك آزاد انسان نشي مریې کولی. لا څوکاله نه وو تېر شوي چي د اسلام تر واکمنی لاندې ټولو سیمو کي د غلامی سلسله ختمه شوه او مریېتوب پای ته ورسېدو. دا په داسي حال کي چي په اروپا، امریکا او ټولو غیر اسلامي هېوادونو کي د غلامی بازار گرم وو او هیچا د انسانانو د برابری شعار نشو منلی. اما دا چي اسلام ولې له بري نه وروسته او په ټول حجاز له تسلط نه بعد غلامي تحریم نکړه او د ټولو غلامانو د آزادولو اعلان ئې ونکړ، ځواب ئې باید له یوې خوا د هغه وخت په اجتماعي ظروفو او شرایطو کي ولټوو او له بلې خوا د اجتماعي ستونزو په حلولو کي د اسلام په خاصي کړنلاري کې. اسلام د ځینو خاصو اجتماعي ستونزو د حل کولو لپاره دا کړنلاره خپله کړې چي ورو ورو د هغوی جرړی باسی، تدریجی بدلون غوره گڼي، لومړی د داسي تبدیلي لپاره ذهني شرایط برابروي، مقدماتې کارونه سر ته رسوي، ریښی یوه په بل پسې قطع کوي او په پای کي د دې اجتماعي ستونزي کرغېړن بوټی له بیخه باسی، د شراب او قمار په هکله اسلام همدا اسلوب غوره کړ، په تدریج سره ئې د دې خبیثه بوټو جرړی وایستلې، د مریېتوب په اړه ئې هم همدا طریقه اختیار کړه، لومړی ئې وویل: ټول انسانان د یوه بل ورونه او د یوه خدای بندگان دي او له یوه مور پلار نه پیدا شوي. بیا ئې وویل: د مریې آزادول د گناهونو د جبران وسیله ده. بیا ئې وویل: هیڅ "حر" او آزاد انسان نشي مریې کېدی، هیڅوك دا حق نلري چي د "حر" او آزاد انسان په غاړه کي د مریېتوب کړی واچوي. بیائی وویل: هر غلام دا حق لري چي له خپل مالك سره "مكاتبه" وکړي، یعنی خپله آزادي په بیه واخلي، له غلامی نه آزاد شي او په مقابل کي ئې مالك ته څه ورکړي. او په پای کي ئې وویل: د دولت د مصرفي بودجې یو مورد د غلامانو اخیستل او آزادول دي.

د غلامانو د آزادولو او د غلامی د تدریجی ختمولو دا طریقه د یته ورته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کوم دولت د فیوډالي نظام د ختمولو او د ځمکو د عادلانه ویش په اړه دا فیصله وکړي چي د زیاتو ځمکو له خاوندانو نه ځمکي په بیه واخلي او په بې ځمکو ئې وویښبی او پدې خاطر د ځمکو له مصادرې نه ډډه کوي چي پدې سره کېدی شي په ډېرو هغو کسانو ناروا تېری وشي چي شتمني او ځمکي ئې له جائزو لارو ترلاسه کړې. اسلام نه غواړي په هیچا، تر هیڅ نامه لاندې تېری وشي او جائز حق ئې تر پښو لاندې شي.

امریکا تقریباً زر کاله وروسته د غلامۍ د ختمولو فیصله وکړه، د امریکا د هغه وخت جمهور رئیس ابرهام لینکلن د یوه فوق العاده فرمان په ترڅ کي غلامي لغو او د غلامانو آزادي ئې اعلان کړه، که څه هم پدې سره د امریکا ټول غلامان آزاد شول، خو پدې خاطر چي د دې اعلان لپاره مقدماتې کار نه وو شوی او د غلامانو ذهني روزنه نه وه شوې، اکثر غلامان پس له لنډې مودې آزاد ژوند نه بېرته خپلو بادارانو ته راوګرځېدل، غوښتل ئې د سابق په څېر په غلامۍ کي ژوند وکړي، نه د آزاد ژوند په خوند پوهېدل او نه ئې په ځان کي د آزاد ژوند توان او کفایت لیدلو، په ظاهر کي غلامي ختمه شوه خو په حقیقت کي تر کلونو کلونو، په بېلا بېلو بڼوکي په خپل حال پاتې وه.

کمونستانو به په اسلام دا اعتراض کاوو چي ولې ئې نارینه ته اجازه ورکړې چي څلور ښځي په نکاح کولی شي، دا څرګنده بې عدالتي ده او د ښځي په هکله شدید تبعیض، د اسلام پیغمبر ولې "نه" ښځي په نکاح کړي؟ اسلام ولې د طلاق اختیار نارینه ته ورکړی؟ اسلام ولې په میراث کي ښځي ته یوه برخه او نارینه ته دوه برخي منلې؟ اسلام ولې د دوو ښځو شهادت له یوه نارینه سره برابر ګڼلی؟

موږ هغوی ته ویل:

- اسلام د یوې ستري اجتماعي ستونزي د حلولو لپاره د څلورو ښځو نکاح کول جائز کړې، که تاسو قرآن ته رجوع وکړي وبه ګوری چي قرآن په هغه ځای کي دا جواز ورکړی چي د یتیمانو او کونډو په هکله بحث کوي او وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ ءَاتُوا الْيَتَمَى أَمْوَلَهُمْ وَ لا تَتَبَدَّلُوا الخَبِيث بالطَّيِّب وَ لاتاكلُوا أَمْوَلَهُمْ إلى أَمْوَالكُمْ إنَّهُ كانَ حُوباً كَبِيراً* وَ إنْ خفْتُمْ أَلا تُقْسطوا فى الْيَتَمَى فَانكحُوا مَا طاب لَكُم مِّنَ النِّساء مَثْنى وَ ثُلَث وَ رُبَعَ فَإنْ خفْتُمْ أَلا تَعْدلُوا فَوَاحدَةً أَوْ مَا مَلَكَت أَيْمَنُكُمْ ذَلك أَدْنى أَلا تَعُولُوا*

النساء : ۲ــ ۳

او يتيمانو ته د دوی مالونه وسپارئ، ناولی په غوره مه بدلوئ، د دوی مالونه د خپل مال په لوري مه خورئ، دا ستره گناه ده، كه ووېرېدئ چي په يتيمانو كي عدالت نشي كولی نو له دغو ښځو څخه چي ځوك مو خوښي وي، دوه، درې او څلور په نكاح كړئ ، خو كه ووېرېدئ چي عدالت نشئ كولی بيا يوه ده او هغه چي ستاسو په واك كي دي، دا دې ته نږدې ده چي تېری ونكړئ .

يعنی له يوې نه زياتي ښځي كول هم د عدالت لپاره او په يوې اكتفا هم د عدالت لپاره، كه وموليدل چي د يتيمانو له معضلې سره مخامخ ياست او د همدغو يتيمانو مصلحت دا غوښتنه كوي چي د دوی د ښی روزني او پالني لپاره د دوی كونډې ميندي په نكاح كړی شي نو دا كار كولی شي، پدې كي نه يوازې څه حرج نشته بلكي دا د ستايني وړ كار دی، باهمته كسان به دې كار ته ملا تړي، په يتيمانو زړه سوند او بارحمه انسانان به دا مسئوليت په غاړه اخلي.

كه په يوې ټولني كي د خاصو عواملو په وجه د ښځو شمېر تر نارينه وو زيات شي، دا ستونزه به څنگه حل كوو؟ د دغو ښځو كفالت به څوك په غاړه اخلي؟ مخصوصاً كه دوی كونډې وي او يتيمان ورته پاتې وي؟! آيا د دې اجتماعي ستونزي د حل بله داسي چاره په نظر راځي چي هم په يوې ښځي اكتفا وشي او هم د دغو ښځو انساني اړتياوي له معقولي او قانوني لاري مرفوع شي؟!

په اكثرو ټولنو كي د ښځو شمېر تر نارينه وو زيات دی، د دې وجه يا دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د کورنيو په غيږ کي د پيدا شوو لوښو شمېر تر زامنو زيات وي او يا دا چي په سترو سترو جگړو کي اکثراً نارينه مري او عادتاً ښځي له مرگ ژوبلي نه خوندي پاتې کېږي، داسي جگړي په هر هېواد تېل شوې او تل ئې د تکرار وېره شته، که کومه ټولنه لداسي ستونزي سره مخامخ شي د اسلام لدغه علاج نه پرته څنگه کولی شو دا ستونزه حل کړو؟!

دا خبره بايد په پام کي ولرو چي "نکاح" د ښځي او نارينه ترمنځ د هغي موافقې نوم دی چي د گډ ژوند په اړه ئې په خپله خوښه کوي. که ښځه په خپله خوښه، لداسي ميړه سره په گډ ژوند راضی کېږي چي تر يوې زياتي ښځي لري، هيڅوك پدې کار د اعتراض حق نلري او دې ته د تبعيض نوم نشي ورکولی. اعتراض په هغه صورت کي وارد گڼل کېږي چي ښځه د خپلي خوښي خلاف نکاح ته اړه کړی شي.

نه پوهيږو هغه کسان څنگه ځانته د دې حق ورکوي چي د اسلام پدې اصل اعتراض وکړي، پداسي حال کي چي د يوې قانوني ښځي تر څنگ د گڼ شمېر غيرقانوني جنسي ارتباطاتو په درلودو اعتراض نلري!! کمونستان خو د "کورنۍ جوړېدل" د "فردي ملکيت" په څېر د غير کمونستي ټولني نښه گڼي او پدې باور دي چي پدې برخي کي هم بايد فردي ملکيت له منځه ولاړ شي، بايد کورنۍ منحل او آزاد جنسي تعلقات رايج شي اولاد د کورنۍ "مال" نه بلکي د ټولني "مال" وگڼلی شي، دولت د دوی روزنه په غاړه واخلي، د کورنۍ د غيږ پر ځای بايد په وړکتون کي وروزل شي، په کورنۍ کي د دوی روزنه پدوی کي د "فردي ملکيت" غلط افکار راولاړوي!! خو راشئ وگورو چي د غير قانوني او آزادو جنسي تعلقاتو نتائج څه وو او نن "علم" پدې هکله څه وايي او د کومو خطرناکو اجتماعي ستونزو او نا علاجه ناروغيو منشأ ئې گڼي!! د " ايډز" په شان ناعلاجه ناروغي، د گڼ شمېر نورو جسمي او رواني ناروغيو په شمول، د همدې فاجعی نتائج گڼي او وايي: اکثر ستر ستر جانيان هغه دي چي د مور په غيږ کي ندي روزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، د پلار د ترحم او میني لاس ئې په سر ندی تېر شوی، داسي څوك ئې ندی موندلی چي صادقانه ترحم، عاطفه، زړه سوي او ربښتیني مینه ئې له هغه زده کړې وی.

د اسلام له نظره کورنۍ د ټولني د لویي ماڼۍ لومړنۍ خښته ده که کورنۍ ورانه شوه ټولنه ورانېږي.

اما دا چي پیغمبر(ص) ته ولې د "نه" ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دلیل څه دی او دا کار په کومي زمانې کي او د پیغمبر علیه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کي تر سره شوی؟

ټولو ته جوته ده چي رسول الله (ص) په پنځه ویشت کلنۍ کي واده وکړ، "خدیجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلویښت کلنه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري ئې یوازې یوه ښځه درلوده، د خدیجی رضي الله عنها له وفات نه وروسته ئې سوده رضي الله عنها چي کونډه وه، په نکاح کړه، سوده له لومړیو مسلمانانو ښځه وه، له خپل مخکني میړه سره ئې یو ځای حبشي ته هجرت وکړ او د هجرت سختی شپې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او ښکلتوب، امتیاز ئې قوي ایمان او د ایمان په لاري کي قرباني وه، پیغمبر علیه السلام صرف یوه ښځه په ښکلتوب کې کړې. نوری بي بیانی ئې کونډې وې، هره یوه ئې د یوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې، شاید د حفصه رضي الله عنها د نکاح څرنګوالی د پاتې ودونو د انګیزو لپاره ښه مثال وي:

حفصه رضي الله عنها د عمر رضي الله عنه لور وه، مخکنی میړه ئې د بدر په جګړي کي برخه اخیستی وه، هغه وفات شو، عمر رضي الله عنه، ابوبکر او حضرت عثمان رضي الله عنهما ته ورغی او له هغوی نه ئې وغوښتل چي حفصه په نکاح کړي، خو دوی د خپلو معاذیرو په وجه ډډه وکړه، عمر رضي الله عنه دا مشکل له پیغمبر علیه السلام سره یاد کړ او هغه پدې خاطر له حفصی رضي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنها سره د نکاح اراده وکړه چي له خپل نږدې او مخلص ملګری سره د یوې داسي ستونزي په حل کي مرسته وکړي چي نورو ورته حل نکړی شوه.

همدا راز زینب رضي الله عنها چي میړه ئې د بدر په جګړي کي په شهادت ورسېدو، عمر خوړلې کونډه وه، په نیکو کارونو کي هومره مشهوره وه چي خلکو به د "بی وزلو د مور" په نامه یادوله. پیغمبر علیه السلام هغه پدې خاطر ځانته نکاح کړه چي له یوې خوا ئې د یوه بدرې مجاهد په هکله خپله خواخوږی ښودلې وي او له بلې خوا ئې د یوې داسي نومیالۍ، خیبري او با ایمانه ښځي ستونزه حل کړې وي. دا نیکه بي بي یوازې دوه کاله نور ژوندۍ وه.

همدا راز ام سلمه چي ۲ اولاده ئې درلودل، میړه ئې د احد په جګړي کي زخمي شو، د بلي جګړي په دوران کي د ده زوړ پرهار پری شو او له همدې نه وفات شو، پیغمیر علیه السلام د ده په مړیني هومره خواشینی شو چي اوښکي ئې تویي شوې، د ده له مړیني ۴ میاشتي وروسته ئې ام سلمی ته ځوك د خطبی لپاره ورولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي کړ: زه عمر خوړلې یم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذیت باعث شم. خو پیغمبر علیه السلام غوښتل پدې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو دیني وروڼو په نسبت د وفادارۍ او د کونډو او یتیمانو د پالني او روزني نه هیرېدونکې اسوه وړاندي کړې. ام سلمی ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح ترسره شوه. د پیغمبر علیه السلام ټول ودونه همداسي وو.

په دې ودونو کي یو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چي د پیغمبر علیه السلام د بي بیانو له لاري د دین یوه لویه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونکو حیثیت درلود، نورو ښځو به لدوی نه دین زده کاوو، که تاسو د روایاتو کتابونه وڅېړي په ځرګنده به وګوری چي د دې کتابونو په هر مخ کي له همدې بیبیانو نه یو په بل پسې روایتونه ستاسو مخي ته راځي.

• د کمونستانو د دې اعتراض په هکله چي اسلام ولې د طلاق حق نارینه ته ورکړی، زموږ ځواب دا وو: د طلاق د لاندې ممکنوځلورو صورتونو ځخه اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو غوره کړی:

الف: ښځه او میړه په ګډه د طلاق فیصله وکړي.

ب: اختلاف محکمې ته وړاندي شي او محکمه پدې هکله وروستی فیصله وکړي.

ج: د طلاق حق ښځې ته ورکړی شي.

د: د طلاق پرېکړه د میړه په لاس کي وي.

مخکي لدې چي وګورو اسلام ولې څلورم صورت غوره کړی باید څو خبري په پام کي ولرو:

- اسلام له طلاق نه کرکه لري، د مجبوریت په خاطر جواز ورکوي، خو هغه تر ټولو کرکجن حلال کار ګڼي.

- په اسلام کي نارینه له یوې خوا پدې مکلف شوی چي د کورنۍ ټول لازم ورځني مصارف په غاړه واخلي، هغه به د کورنۍ د ټولو مصارفو متکفل وي. له بلي خوا پدې مکلف شوی چي د نکاح په ورځ به هومره مهر په غاړه اخلي چي ښځه ورباندي راضی شي، دا "مهر" د ښځې حق دی او د دې د راتلونکې لپاره یو مهم تضمین. "ښځه" کولی شي له "میړه" نه هومره مهر ترلاسه کړی چي د دې راتلونکې تضمین کړې او د وخت ناوخت، بې ځایه او بې موجبه طلاق مخه ونیسي، میړه ونشي کولی چي له یوې خوند واخلي، پس له لنډې مودې هغې ته طلاق ورکړي او د هوس په حکم بله په نکاح کړي، طلاق نباید په یوې ملعبی بدل شي، د نکاح په ورځ باید داسي تدابیر ونیول شي چي دا مقدسه رابطه دوام وکړي، اسلام د همدې لپاره د مهر حق د ښځې د مستقبل لپاره د یوه تضمین په حیث وضع کړی.

اسلام دوه دلیله د دې لپاره وړاندي کړي چي نارینه به د کورنۍ قیم وي او د طلاق پرېکړه به د ده له لوري کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: "مهر" ورکوي او د کورنۍ مصارف ئې په غاړه دي.

ب: د قیمومیت لپاره چي کومو مواصفاتو ته اړتیا ده، په نارینه کي دا مواصفات تر ښځو زیات دي. د ښځي طبیعي وظایف دا ایجابوي چي قوي عاطفه ولري. قوي عاطفه اکثراً د انسان "تعقل" تر اغیزی لاندې نیسي، ښځه د همدې "قوي عاطفی" په حکم د اولاد د روزني ټولي ستونزي په ورین تندي قبلوي، بې خوبی ګالي، خپل ژوند او صحت په خطر کي اچوي، د اولاد د هري غلطۍ په وړاندي صبر کوي او حتی د پردیو په مقابل کي د دوی له هري غلطۍ نه دفاع کوي، د "قیادت" او "قضاوت" لپاره د "قوي عاطفی" په ځای داسي "تعقل" ته اړتیا ده چي د عاطفی تر اغیزی لاندې رانشي. د نارینه روحی جوړښت داسي دی چي د "عقل" او "عاطفی" ترمنځ ئې تعادل او توازن شته او د "عاطفی" تله ئې د ښځو په شان تر "تعقل" درنه نده.

- پداسي حال کي چي اسلامي شریعت د طلاق حق نارینه ته سپارلی، خوله دې حق نه د ښځي د ځورولو او د هغې په حقوقو د تېري په لاره کي ناروا استفاده نشي کولی، که خبره دې حد ته ورسېده ښځه حق لري "محکمې" ته مراجعه وکړي، چي محکمه به یا د دې حقوق احیاء کوي او یا به دا رابطه فسخ کوي.

- همدا راز په محکمې کي د شهادت لپاره د یوه نارینه په څنګ کي د دوو ښځو حضور، پدې خاطر ضروري ګڼل شوی چي که یوه په شهادت ورکولو کي اشتباه وکړي او څه ترې هیر شي بله ئې ورپه یاد کړي. لکه چي ګوری د دې حکم منشأ د ښځو په هکله د تبعیض او توپیر اعمال نه، بلکي د عدالت په هکله جدي احتیاط دي، وجه ئې هغه فطری تفاوت دی چي د ښځو او نارینه وو ترمنځ د "شهادت ورکولو" په ارتباط شته، احیاناً د ښځي قوي عاطفه د دې په "حافظی" هم اغیزه کوي او د هغه چا په اړه ډېر داسي شیان ترې هیروي چي د زړه سواند وړ ئې ګڼي، دا د زړه سواند طبیعت دی چي په لومړی سر کي د "غلطۍ" لپاره "توجیهات" کوي او ورو ورو د غلطۍ د هیرولو باعث شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• د میراث د ویش د څرنګوالي په هکله که لږ ځیر شو نو په ډاګه به وګورو چي اسلام ښځو ته ډېر امتیازات ورکړي، په ډېرو مواردو کي ئې ښځو ته تر نارینه وو زیات حقوق ورکړي، لاندې څو مواردو ته ستاسو پام را اړوم:

ـ ښځه پداسي حال کي له خپلوانو او له خپل مېړه نه "میراث" ترلاسه کوي چي هیڅ اقتصادي مکلفیت نلري، له واده نه مخکي ئي پلار د دې متکفل وي او له واده نه وروسته مېړه، کور، کالي او ډوډۍ ئې د "متکفل" له خوا تأمین کېږي.

ـ له مېړه نه مهر ترلاسه کوي، مهر په حقیقت کي یو فوق العاده امتیاز دی چي د ښځي د مستقبل د تضمین لپاره منل شوی.

ـ ښځه کولی شي خپله هغه "سرمایه" چي د "مهر" یا "میراث" له لاري او یا د کار کولو په نتیجه کي ئې ترلاسه کوي، له خپلي خوښي سره سم، په "کار" واچوي او عواید ولري، لدې شتمنیو او عوایدو سره سره، هغه اقتصادي مکلفیت نلري.

ـ ښځه د "نفیر عام" له حالت نه پرته سنګر ته په تلو مکلف نده، مګر دا چي په خپله وغواړي.

ـ ښځه جومات ته په تلو هم مکلف نده، خو که په خپله وغواړي چي لمونځونه په جمع او په جومات کي وکړي څوك ئې مخنیوی نشي کولی.

دا ځیني هغه مسائل وو چي زموږ او کمونستانو ترمنځ به په هري وړې او لویي غونډې کي مناقشه کېدل. که څه هم کمونستان د فرهنګی موادو له ناحیې په موږ برلاسی وو، دوی د مجاني ویش لپاره کافی کتابونه درلودل، د روسیی او چین سفارتونو لدوی سره بې دریغه مرستي کولې، د ایراني "حزب توده" په لاس لیکل شوي او ترجمه شوي ډېر کتابونه ئې په واك کي وو، هر چاته ئې وړیا ورکول، خو موږ لدې ناحیې ډېر مشکلات درلودل، نه مو داسي کتابونه موندل چي پدغو مناقشاتو کي زموږ مرسته وکړي، د کمونستانو سؤالونه ځواب کړي، په اسلام د کمونستانو اعتراضاتو ته ځواب ووایي، د مدرسو په کتابونو کي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسائل نه وو څېړل شوي، نه په قدوری او کنز کي دا مسائل څېړل شوي وو او نه په هغه یوناني فلسفی، حکمت او منطق کي چي په مدرسو کي لوستل کېدل، د مدرسی ملا نه لدغو مسائلو نه واقف وو او نه ئې داسي ځواب ویلی شو چي د شلمي پیړۍ په فضاء کي روزل شوي ځوانان قانع کړي، موږ دې ته اړ وو چي په خپله د کمونستانو کتابونه ولولو، د ضعف نقاط ئې پیدا کړو، د دوی مقابلې ته ځان چمتو کړو او د دوی سؤالونو ته ځوابونه تیار کړو.

ما د "شعور او ماده" تر نامه لاندې یوه داسي رساله ولیکله چي له کمونستانو سره د هغه وخت مطرح سؤالونه پکي څېړل شوي وو، خو د دې رسالې د تکثیر او توزیع له کړاو سره مخامخ وو، نه مو د چاپ امکانات درلودل او نه د مجاني توزیع توان. د کتابونو د توزیع په هکله موږ دې ته اړ وو چي ملګرو ته وواېو: دا کتاب پدې شرط د مطالعی لپاره درکوو چي درې نسخی به ترې لیکي، یوه به له ځان سره ساتي او دوه به موږ ته راکوي، چي په نورو ئې وویښو، زما دغه لومړنی کتاب چي په شل کلنۍ کي مي لیکلی وو، په ۱۳۵۵ کال په پشاور کي د حزب اسلامي د ارشاد او فرهنګ ریاست چاپ او خور کړ.

الحمدلله له کمونستانو سره په خپلو مناقشاتو کي تل برلاسی وو او همدا برلاسی پدې منتج شوه چي د بااستعداده، باشخصیته او هدفمندو ځوانانو مطلق اکثریت له موږ سره یوځای شي. که تاسو د پوهنتون د هغه وخت یوه مقطع راواخلئ او ورته ځیر شئ وبه ګورئ چي په هر ټولګی کي د لومړۍ درجی بااخلاقه او باشخصیته زده کوونکي زموږ ملګری وو او بې سویې، بد اخلاق او بې شخصیته افراد کمونستانو ته پاتې شوي وو، کمونستان اکثراً هغه کسان وو چي د خپل ټولګی په ورځنیو درسونو کي هم ترټولو وروسته وو او په ډېر تکلیف به کامیابېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن بې حرمتي

د مناقشاتو دغه بهير کمونستان وهڅول چي کوم جدي عکس العمل ونښيي، شايد د عکس العمل په ډېرو صورتونو ئې غور کړی وي، يو لدغو صورتونو نه هغه وو چي په پوهنتون کي ترسره شو، خو عواقب ئې د دوی د زعم او گمان خلاف. د دوی يو شقي او بدبخته انسان، د شپې له خوا د ليليې مسجد ته ننوتی، د قرآن مجيد پاڼې ئې شکولې او ټوټې ټوټې پاڼې ئې له کړکۍ بهر اچولې، چي ځيني شمال خورې کړې او ځيني د بام په سر په يخ کي ننښتي وي.

لومړی کس چي د سحر لمانځه لپاره مسجد ته راغلی وو، صوفی سعيد د هرات او سېدونکی وو، هغه په جومات کي خورې پاڼې غونډې کړې وې، خو له مسجد نه بهر د يخ نيوليو پاڼو په راغونډولو نه وو موفق شوی، ورپسې موږ مسجد ته راغلو او د لمونځ کوونکو شمېر ورو ورو زيات شو، صحنه ډېره دردوونکې وه، ځيني له غم او غصې نه پړېدل، د ځينو اوښکي بهېدې او ځينو غاښونه چيچل، لمونځ په ډېرې غمناکي فضاءکي ترسره شو، همالته د قضيې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېړني او مناسب اقدام لپاره خبرو ته کښېناستلو، ټول پدې سلا شول چې د پوهنتون د رياست مخې ته احتجاجي غونډه وکړو او د پوهنتون له ادارې نه وغواړو چې حتماً مجرم پيدا او محاکمې ته ئې وسپاري، د ټولو هغو کسانو شمېر تقريباً شپېتو ته رسېدو چې پدې احتجاجي غونډې کې ئې برخه واخيسته، د غونډې وضعيت هم زموږ دوستانو ته حيرانوونکی وو او هم زموږ مخالفينو ته، دوستانو ته لدې لحاظه چې د داسې يوې ستړې پېښې او له قرآن نه د دفاع په خاطر څنگه يوازې شپېتو کسانو پدې احتجاجي غونډې کې برخه واخيسته!! او مخالفينو ته لدې لحاظه چې دا د گوتو په شمېر کسان څنگه کولی شي کوم مؤثر کار وکړي!! خو موږ مصمم وو، د دې پروا راسره نه وه چې ملگری مو څومره دی او په مبارزې به مو څه نتائج مرتب کېږي.

دا غونډه زموږ لومړی عملي حرکت وو، پدې سره زموږ د غونډو لړۍ پيل شوه، هيچا دا گمان نه کاوو چې دا غونډه به د يوه داسې ځواکمن او خوځنده بهير پيلامه وي چې ټولې ځواکمنې سياسي ډلې به له سختی ماتې سره مخامخ کړي، په ټول پوهنتون به مسلط شي، پوهنتون به د همدې حرکت په يوې ډاډمنې اډې بدل شي. د نهضت دا حالت د قرآن دا آيت ډېر ښه انځوروي:

**كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شطئَهُ فَئَازَرَهُ فَاستَغْلَظ فَاستَوَى عَلى سوقِهِ يُعْجِب الزُّرَّاعَ لِيَغِيظ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَ عَمِلُوا الصلِحَتِ مِنهُم مَّغْفِرَةً وَ أَجْراً عَظِيمًا*** الفتح: ۲۹

لکه داسې کشت چې تيغ ووهي، بيائې پياوړی کړي، نو گڼ شي، بيا په خپلې ساقې ودرېږي، داسې چې بزگران حيران کړي، د دې لپاره چې کافران ورباندې خواشينې کړي.

دا د الله په نامه پيل شوی نهضت همداسې وو، د څو تنکيو ځوانانو په لاس پيل شو، ورو ورو ئې وده وکړه، پياوړی شو، گڼ شو، ځواکمن شو، لمن ئې خوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، د ټولني ټول هغه کسان ئې ورو ورو په خپلي غيږ کي راغونډ کړل چي د ايمان څه بڅرکي ئې په زړه کي وو، سريع او چټکي ودي ئې هرڅوك حيرانول، حتی هماغه کسان چي دا حرکت ئې پيل کړ، دوی هم گمان نه کاوو چي دومره ژر به د ضعف او ناتوانۍ له هاغه لومړني حالت نه د قوت او غلبې دې پوړي ته ورسېږي، سريع ودي ئې دښمنان هك پك کړل او د دوی غوصه ئې را وپاروله. که ووايو چي زموږ په هېواد کي د اسلامي نهضت د پياوړي تبارز له ورځي نه بيا ترهغي ورځي چي روسي فوځونو زموږ په هېواد تېری وکړ، مقاومت پيل شو، روسان وتلو ته اړ شول او ورپسې روسانو او امريکائيانو پدې خاطر يوه بل ته لاس ورکړ چي په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخنيوی وکړي، دا ټولي پېښې د دې مبارك اسلامي بهير په وړاندي د داخلي او خارجي دښمنانو عکس العمل وو، پدې تحليل کي مو نه يوازې مبالغه نده کړې بلکي يو داسي حقيقت مو څرگند کړی چي ټولو هغو افغانانو ته پوره واضح دی چي د تاريخ د دغه پړاو حوادث او د هغوی لاملونه ئې په دقت سره څېړلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محصلینو اتحادیه

پس له هغه چي په ۱۳۲۹ کي د نادري کورنۍ واکدارانو د محصلینو لومړۍ اتحادیه وځپله، شل کاله وروسته په ۱۳۴۹ کي محصلینو یو ځل بیا د یوې اتحادیی د جوړولو هڅه وکړه، دا ځل د اتحادیی د جوړولو ابتکار د کمونستانو په لاس کي وو. موږ پدې اتحادیی کي د فعالي ونډې اخیستو فیصله وکړه او په هغو انتخاباتو کي مو برخه واخیستله چي د اتحادیی د مؤسسانو مجلس لپاره ترسره کېدل، پدې انتخاباتو کي زموږ ۹ کسان بریالي او د مجلس مؤسسان غړیتوب ئې ترلاسه کړ، زه هم پدې ډلي کي وم، که څه هم د "جوانان مسلمان" د غړو شمېر د "شعله جاوید" او "پرچم" له غړو نه کم وو، یوه څوارلس، بل دوولس او موږ نه غړي مجلس ته لېږلي وو، خو زموږ لپاره دا یو لوی بری وو، موږ تر نورو ډلو ډېر وروسته خپل کار پیل کړی وو، لدې نه مخکي موږ ډېر محدود څرګند فعالیتونه درلودل، نه په پوهنتون کي د لویو غونډو په جوړولو موفق شوي وو او نه په مظاهرو. کمونستان په پوهنتون داسي مسلط وو چي ویلی شو دا ځای په څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستیوکلونو کي د دوی لویه اډه وه، موږ یوازې ځو میاشتي د مخه راڅرګند شوي وو.

## د مؤسسانو د مجلس داخلي جریانات

په مجلس مؤسسان کي د "جوانان مسلمان" دغړو مشري ماته سپارل شوې وه، زموږ انتظار دا وو چي استاد عبدالرحیم نیازی به له خپل ټولګی نه مجلس مؤسسان ته انتخاب شي او دی به زموږ د ډلي مشري کوي، خو داسي ونشول، ځینو بې عقله کسانو د شخصي ملاحظاتو او حسادت په وجه ده ته رأی ورنکړه، مجلس ته د ده په راوستلو کي زموږ هلي ځلي بې نتیجی پاتې شوې.

د مجلس لومړی کار دا وو چي ځانته رئیس انتخاب کړي، زموږ هڅه دا وه چي له کمونستانو نه څوك د رئیس په توګه انتخاب نشي، پدې کار کي بریالي شوو، داؤد فراهی د یوه مشهور بډای زوی پدې موفق شو چي اکثریت ترلاسه کړي او د رئیس په توګه انتخاب شي. زموږ غړو ما ته رأی راکړه، کمونستانو او بې طرفانو د فراهی ملاتړ وکړ، موږ عملاً او علناً د فراهی مخالفت وکړ، هدف مو دا وو چي محصلینو ته وښیو: دا دی کمونستان د یوه فیوډال مرسته کوي او غواړي هغه د محصلینو د اتحادیی رئیس شي، حال دا چي د فیوډالانو د مخالفت او د کارګرانو او بزګرانو د حمایت دعوا کوي، دې خبري په هغه وخت کښخاص اهمیت درلود.

په مجلس کي د بحث دوهمه موضوع د اساسنامې تدوین وو، مسوده جوړه او د بحث لپاره مجلس ته وړاندي شوه، موږ د اساسنامې په سر کي د "بسم الله الرحمن الرحیم" په لیکلو ټینګار کاوو، کمونستانو د مخالفت لپاره کلکه ملا تړلې وه. مناقشه دوه ورځي طولاني شوه، د کمونستانو د مخالفت ګټه دا وه چي د دوی حقیقت ټولو ته څرګند شو، د ټولو خلکو مخصوصاً د کابل د منورینو سترګي د پوهنتون جریاناتو ته اوښتی وې، هر چا به پوښتنه کوله چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محصلینو د اتحادیې کار نن کوم ځای ته رسېدلی، د بسم الله په سر تودې او اوږدې مناقشې په بهرکې منعکس کېدې. ډېر خلك ترې خبرېدل، هغه حلقې چې د کمونستانو له ماهیت نه بې خبره او د غفلت په خوب ویده وو، دا پېښې ورته د جدي خطر زنگ وو، بالآخره زموږ شرط ومنل شو خو لدې تعدیل سره چې د "بسم الله" په ځای "د خدای په نوم" الفاظ ولیکل شوو او پدې توگه اساسنامه تصویب شوه.

## د اساسنامې مطابق انتخابات

پس له څه مودې، د اتحادیې د فعالولو لپاره د اساسنامې مطابق انتخابات ترسره شول، دا ځل موږ پدې وتوانېدلو چې دوولس کسان شورى ته ولېږو، د شورى په لومړنیو غونډو کې د اتحادیې د رئیس په هکله انتخابات وشول، کمونستانو ذبیح الله عصمتی ته رأی ورکړه، هغه د رئیس په توگه انتخاب شو، د اتحادیې اجرائیه کمیټې ته له هري ډلي دوه دوه کسان معرفي شول، شاکر او حیدرعلي لهیب د شعله جاوید له لوري، خلیل زمر او ډاکتر نجیب د پرچم له خوا، امان الله استوار او خلیل کوهستاني د خلق له خوا، ډاکتر عمر شهید او زه د "جوانان مسلمان" له خوا، د ذبیح الله عصمتی په شمول څلور نور کسان د ننگرهار د پوهنتون، د بې طرفانو او وړو ډلو استازی وو. په اجرائیه کمیټې کې مو د صنفی مسائلو ترڅنگ په ایدیولوژیکي مسائلو د مفصل بحث او مناقشې فرصتونه ترلاسه کول، په بحث کې به د شعله جاوید له خوا شاکر او د پرچم له خوا خلیل زمر برخه اخیسته، ډاکتر نجیب چې وروسته جمهور رئیس شو، د خلیل مرستیال وو. علمي او ایدیولوژیکي سویه ئې هومره نه وه چې په هغو بحثونو کې د پرچمیانو نمایندگی وکړي، د خلقیانو استازی هم په بحثونو کې د برخې اخیستو جوگه نه وو، دغو بحثونو به اکثراً ډېره جدي بڼه غوره کوله، هره وړه خبره به په مناقشې بدله شوه او ورو ورو به بحثونه هغه ځای ته ورسېدل چې ناظرانو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مداخلې ته اړګڼلو، د دوی د مداخلې په نتیجه کي به مناقشه پای ته رسېده، ډېر ځله داسي شوي چي نجیب به خلیل زمر او لهیب به شاکر له لاسه نیولو او لدوی نه به ئې یا د بحث ختمولو یا له جلسی نه د وتلو غوښتنه کوله.

زه د خپل مهربان رب له پیرزوینو نه سخت ممنون یم چي پدغو مناقشو کي ئې تل ماته بری را په برخه کړي. په ایدیولوژیکي مسائلو مناقشې مي مخکي وخېړلې، دلته د سیاسي بحثونو دوه مناقشې د یادولو وړ ګڼم:

د پښتونستان په هلکه مو مناقشه وه، پرچمیانو د پښتونستان د آزادي خبره وکړه!! ما ورته وویل: د پښتونستان د آزادي خبره که له افغانستان سره د یو ځای کېدو خبره؟ د پښتونستان آزادي د چا د متېو په زور، د افغانانو که د روسانو او هندوانو؟! غلامان غلامان نشي آزادولی، که افغانان پښتونستان آزادوی لومړی باید ځان آزاد کړئ!! شعله یانو زما د خبري ملاتړ وکړ او وئی ویل: نه افغانان پدې موقعیت کي دی او نه د روسانو د متېو په زور د پښتونستان د آزادي خبره معقوله ده.

له ډاکتر نجیب سره مي مناقشه وه، ډېرکسان مو شا او خوا ته ولاړ ول، له شوروي اتحاد سره د افغانستان د نږدیوالي په بدو او خطر ناکو عواقبو مي خبره کوله، نجیب ته مي وویل: ستاسو د سیاستونو پایله فقط دا کېدی شي چي افغانستان د مرکزي آسیا د هېوادونو په څېر د روسانو په منګولو کي پرېوزی!! هغه وویل: څه پروا کوي، دا د افغانانو لپاره غوره ده، د مرکزي آسیا د ولسونو وضعیت تر موږ ډېر ښه دی!!

د محصلینو په اتحادیی کي زموږ برخي اخیستلو، د اسلامي نهضت لپاره په زړه پوري نتائج درلودل، ځوانانو ته د خپلو نظراتو د وړاندي کولو لپاره موږ تر دې نه مؤثر ستیج نشو موندلی، په اعتصاباتو او احتجاجی غونډو کي به موږ او دوی له یوه ستیج نه وېناوي کولې، پدې سره به ځوانانو ته د دې موقع په لاس ورتله چي زموږ او کمونستانو ترمنځ په آسانی قضاوت وکولی شي، که زه ادعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم چې د "جوانان مسلمان" له مبارك بهير سره د ځوانانو د فوځ فوځ يو ځای‌کېدو لویه وجه په اتحادیی کې زموږ فعاله ونډه وه، مبالغه مې نده کړې. د دې برخې اخیستلو نتائج هلته ځرګند شول چې د اتحادیی لپاره يو ځل بیا انتخابات ترسره شول، پدې انتخاباتو کې موږ په دریو کې دوې برخې څوکۍ ترلاسه کړې، له ۵۲ غړو نه ۳۷ د "جوانان مسلمان" متعهدین وو. نورو ډلو په ګډه صرف ۱۹ څوکۍ ترلاسه کړې وې چې پدې کې هم ځینې بې طرفان ول.

## د پوهنتون اعتصابات

د کمونستانو د سیاسي مبارزې یوه مهمه برخه دا وه چې د تظاهراتو او اعتصاباتو له لارې له خپلو مخاطبینو سره مخامخ شي، له کارګرانو، مأمورینو او محصلینو سره خواخوږي وښيي، ځان د محرومانو ملګری معرفي کړي او نوي غړي جلب کړي. د ټولني په نورو پرګنو کې د دې کار لپاره شرايط نه وو برابر، علمي مؤسسات ئې د دې لپاره غوره کړی وو، کله په یوه او کله په بل نامه به ئې ځوانان تظاهراتو او اعتصاباتو ته هڅول، پوهنتون د داسي اعتصاباتو په تود انګړ بدل شوی وو.

په ۱۳۵۰ کې د اتحادیی له خوا عمومي اعتصابات اعلان شول، د استادانو اتحادیه هم لدوی سره یو ځای شوه، د استادانو د اتحادیی واګی کاملاً د کمونستانو په لاس کې وې، زموږ انتظار دا وو چې د پوهنتون مسلمان استادان به پدې اتحادیی کې فعاله برخه واخلي، کم له کمه خپل موجودیت به ثابت کړي او د کمونستانو په لاس کې د دې اتحادیی له پرېوتو به مخنیوی وکړي، د شرعیاتو د پوهنځي له استادانو نه مو وغوښتل چې پدې اتحادیی کې برخه واخلي، خو د دوی هیڅوك دې کار ته تیار نشو. موږ ته دې خبرې خاص اهمیت درلود، دا ځکه چې په ګډو غونډو کې به یوه کس د محصلینو له اتحادیی نه او یوه کس د استادانو له اتحادیی نه په خپل وار وینا کوله، هره ورځ به زموږ یوه، یا دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو ته وار رارسېدو، کله ما ته او کله ډاکتر عمر شهید ته، خو د دوی ګڼ شمېر کسانو به د خبرو فرصت ترلاسه کاوو، همدا راز لدې حالت نه ځوانانو دا انتباه اخیستله چې په ټول پوهنتون کې شاید یو داسې استاد نه وي چې د مبارزې په کار کې زموږ ملګرتیا ته تیار وي، نورو به موږ ته د دې خبرې پېغور راکاوو چې د شرعیاتو د پوهنځي استادان او محصلین پدې عمومي اعتصاب کې له برخې اخیستو ډډه کوي او هماغه څه کوي چې دولت ئې خوښوي!! یو ځل د محصلینو یوه بهیر د شرعیاتو د پوهنځي هغو ټولګیو ته د ننوتو هڅه وکړه چې زده کوونکي ئې په اعتصاب کې د برخې اخیستو په ځای په خپلو ټولګیو کې د درس لپاره ناست وو، غوښتل ئې هغوی توهین کړي، موږ د دوی مخنیوی وکړ او په ټولګیو کې ناستو محصلینو ته مو وویل چې که په اعتصاب کې برخه نه اخلئ کم له کمه دا کار مه کوئ چې له دولت سره په ملګرتیا متهم شي او د محصلینو د جایزو غوښتنو د مخالفت الزام تاسو ته متوجه شي اوکمونستان ستاسو لدې دریځ نه د اسلام په ضد استفاده وکړي او ووایي: موږ تل ویل چې دین د ارتجاع په خدمت کې وي، دا دی عملي او ژوندی مثال ئې!

که څه هم د شرعیاتو په پوهنځي کې د مخلصو محصلینو شمېر ښه زیات وو او په اسلامي نهضت کې د دوی ونډه ډېره څرګنده وه، خو پدې پوهنځي حاکم ذهنیت همدا وو چې له نظام سره له هر راز تصادم نه باید ځان لرې وساتي. د همدې لپاره د استاد عبدالرحیم نیازی او مولوي حبیب الرحمن شهید په څېر زموږ مهم غړي پدې ونتوانېدل چې په انتخاباتو کې رأی ترلاسه کړي او د خپلو ټولګیو د استازو په حیث د اتحادیې شورى ته معرفي شي. شاید یوه کیسه د دې پوهنځي وضعیت تاسو ته ښه انځور کړی شي او هغه دا چې: یوه ورځ مې مشر ورور عبدالرحیم نیازی له خپلو ځینو همصنفیانو سره د داسې مناقشې په حال کې وموند چې ماته د ده خبرې او له مخاطبینو سره چلند لږ شانته تند معلوم شو، له مناقشې وروسته مې ګوښه کړ او ورته ومې ویل: ګمان کوم ستا خبرې لږ تندې او ترخې وې، لدوی سره حوصله په کار ده، نیازی صاحب راته مخ کړ او وئی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتيار صاحب! د دغو له لاسه زموږ زړونه داغ داغ دي، دوی نه په خپله څه کوي او نه نور کار ته پرېږدي، ستا او سيف الدين نصرتيار په هکله وايي: دا قطب الدين او شيخ الدين ځوك دي چي د دين ټيکه داران ئې له ځانه جوړ کړي، دوی دي خپله انجنيري کوي، د دوی ئې له دين سره څه کار؟!! موږ ورته وايو: که همدا قطب الدين او شيخ الدين نه وی ستا به د ذلت او سپکاوي هماغه وضعيت وو چي لدې نه مخکي دي درلود!!

متأسفانه زموږ د هغه وخت په ديني مدرسو باندي له دولت نه د وېری خپکۍ پرته وه. د ټولني جوړښت داسي وو چي ديندارانو او واکدارانو بايد له يوه بل سره خواخوږی ولري. واکدارانو به لدوی نه د خپل واك د بقا لپاره استفاده کوله او دوی به د واکدارانو د اقتدار د دوام لپاره دعا کوله او د مخالفينو په ضد به ئې فتوی گاني صادرولې. زه به وروسته پدې هکله ځو مثالونه وړاندي کړم خو دلته په دوو مثالونو اکتفاء کوم:

زه په لومړی سمستر کي ناروغ شوم، درسونه را نه پاتې شول، کور ته ستون شوم، يوه ورځ مي اراده وکړه چي د جمعې د لمانځه په وخت کې، د امام صاحب د روضی په مسجد کي خلکو ته وينا وکړم، زما وينا ټولو لمونځ کوونکو په ډېر دقت واورېده، سبا ولسوالۍ ته وغوښتل شوم او له هغه ځايه د دوو پوليسانو په نظارت کي کندز ته ولېږلی شوم، هلته راته وويل شو چي تا خلك بغاوت ته هڅولي او د پاچا په خلاف دي وينا کړې او افغانستان دي دارالحرب گڼلی، وروسته راته معلومه شوه چي د روضی د جومات امام مولوي قمرالدين ولسوالۍ ته همدا راپور ورکړی وو، د ده دا راپور هلته زما لاس ته راغی چي د امام صاحب ولسوالۍ زموږ د مجاهدينو په لاس فتح شوه او د ولسوالۍ ټول اسناد زموږ په لاس کي پرېوتل، پدې اسنادو کي هغه خط هم وو چي همدې مولوي په "شنه قلم" او خپلي امضاء سره زما په خلاف ولسوالۍ ته لېږلی وو.

په يوې رخصتي کي کور ته تلم، پلخمری ته ورسېدم، شپه مي د شهيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصرتیار په کورکي وه، دوی او نورو ورونیو تینگار وکړ چي سبا د اختر ورځ ده، دلته د اختر د لمانځه ډېره ستره جمع وي، خطیب د انجنیر محمد شاه تره دی، له هغه سره خبره کوو چي تا ته د خبرو موقع درکړي، ما موافقه وکړه، سبا د لمانځه لپاره وخوځېدو، د پلخمری په ستر چمن کي خلك را غونډ شوي وو، خطیب ځو دقیقی خبري وکړي، ما ته ئي بلنه راکړه، خبري مي پیل کړې، د خلکو شمېر ډېر زیات وو، په لومړی صف کي والي له نورو لوړ رتبه مأمورینو سره، د سلیمان لایق پلار چي د قلعه جواد د حضرتانو خلیفه وو او د پلخمری نور مخور مشران ناست وو، ما تقریباً ۴۵ دقیقی خبري وکړي، د خلکو استقبال او په ډېر دقت سره زما خبرو ته د دوی پاملرنه ډېره عجیبه وه، نه پوهیږم وجه ئي زما خبري وې که دا چي یو شل کلن بې ږیري ځوان د منبر په سر گوري او د معمول خلاف له منبر نه د رژیم په ضد داسي خبري اوري چي مخکي ئې هیڅکله نه وې اورېدلې. سلیمان لایق د پرچم د کمونستي ډلي د مرکزي کمیتی غړی هم له خپل پلار سره لمانځه ته راغلی وو، له لمانځه نه وروسته ئي خپلو ملگرو ته زما د وینا په هلکه ویلي وو: معلومه نده چي دا به ځو کاله د حضرتانو په زیر خانو کي روزل شوی وي!! دا خبره ده پداسي حال کي کوله چي پلا رئی د حضرتانو خلیفه وو او په ده ئې د "غلام مجددي" نوم ایښی وو، چي وروسته ده دا نوم په سلیمان لایق بدل کړ.

په هر صورت، د لمانځه وخت را رسېدلی وو، ما خپلي خبري ختمي کړې او په خپل ځای کښېنستم، له لمانځه نه مخکي مولوي لقمان پورته شو او وئی ویل: پری ئې نه ښودو چي ځو حدیثه مو ویلي وی او ستاسو زړه مو له ژوند نه تور کړی وی، لدې نه وروسته داسي خلکو ته موقع نه ورکوو!! همدا دوه درې جملي ئې وویلې او له خلکو نه ئې وغوښتل چي د لمانځه لپاره خپل صفوف برابر کړی. لدې خبرو نه د ده مقصد دا وو چي چارواکو ته خپل اخلاص او زما له وینا سره خپل مخالفت څرگند کړي او هغوی پدې پوه کړي چي ما ته د خبرو موقع ده نده ورکړې. له لمانځه نه وروسته ډېرو لمونځ کوونکو مولوي لقمان ته بد او رد وویل او ځینو خو سختی ښکنځلي ورته وکړي. مولوي لقمان د جهاد په وخت کي د سابق په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رژیم په خدمت کې وو او د موټر په یوه تصادم کې په قتل ورسېدو.

د پوهنتون اعتصابات طولاني شول، دولت د لیلیی اعاشه قطع کړه، اتحادیې فیصله وکړه چې سره لدې اعتصاباتو ته دوام ورکړي او د لیلیې د اکمال لپاره له خلکو نه بسپنې راټولي کړي، پدغو بسپنو وتوانېدو چې د لیلیې مشکل حل او اعتصابات جاري وساتو، خو وروسته، له یوې خوا په اتحادیې کې اختلاف راولاړ شو، پرچمیانو د اعتصاب پای ته رسول غوښتل او په یوه اړخیزه توګه له اعتصاباتو لاس په سر شول، له بلې خوا دولت پوهنتون تعطیل کړ.

د دغو جریاناتو په ترڅ کې موږ د یوه ځواکمن، درونډ او فعال ځواك په څېر راڅرګند شوو، په ځوانانو کې زموږ نفوذ ورځ په ورځ زیات شو، د هر وخت نه وو تېر شوی چې موږ په ټول پوهنتون مسلط شوو، د مبارزې دا سنګر زموږ په لاس فتح شو او پوهنتون زموږ په ډاډمنې اډې بدل شو.

## د عقرب ۳ او تظاهرات

د ظاهر خان شپږ وروستی کلونه له تظاهراتو نه ډك کلونه وو، د مظاهرو لړۍ خپل اوج ته رسېدلې او لمن ئې تر اطراف خوره شوې وه، دغه لړۍ د عقرب د ۳ له پېښې نه وروسته پیل شوه. د ۱۳۴۵ کال د عقرب په درېیمې، دولتي ځواکونو په هغو کسانو د ماشینګڼو ډزې وکړې چې د پارلمان په لوري پدې خاطر خوځېدلي وو چې ډاکتر یوسف ته په پټې غونډې کې د اعتماد د رأیې په ورکولو ئې اعتراض درلود، دا حرکت په اصل کې د سردار داؤد په اشاره د کمونستانو له لوري پیل شوی وو، سردار داؤد له صدارات نه په لرې کېدو ناراض وو، تل ئې هڅه کوله چې د فرمایشي دیموکراسي هغه سلسله مختل کړي چې دی پکې د صدرات له مقام نه لرې شو او پدې مقام د شاهي کورنۍ د غړو ټاکل له منځه ولاړ. له چپي عناصرو سره ئې په همدې خاطر خواخوږی درلوده، غوښتل ئې د دوی په اتکاء ظاهر خان ته خپل زور وښیي. په ولسی جرګه کې د ډاکتر یوسف کابینې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رأی ورکولو په څرنګوالي د جرګې د غړو ترمنځ توده مناقشه وشوه، ځينو په پټې رأی اخيستنې ټينګار کاوو او ځينو په علني، د جرګې‌کمونستو غړو خپل ګڼ شمېر پلويان د غونډې تالار ته داخل کړي وو، غونډه مختل شوه، په سبا ئې کمونستانو د ولسی جرګې په لوري د يوې مظاهرې بند وبست وکړ، ولسی جرګې پټه غونډه درلوده، دولتي ځواکونو ته ويل شوي وو چې د ولسی جرګې د ماڼۍ شا او خوا کلك امنيتی تدابير ونيسي، د ولسی جرګې په تالار کې کابينې ته د اعتماد رأی ورکولو په اړه بحثونه روان وو چې د مظاهره کوونکو په ډلي د دولتي ځواکونو له خوا ډزی وشوې، مظاهره کوونکو ته مرګ ژوبله واووښته، مظاهره کوونکو د مرګ ژوبلي شمېر ډېر زيات ښودو، کم له کمه ئې د مړو شمېر شپيته کسان ښودل، خو دولت د دريو کسانو په مړيني اعتراف وکړ، دا پېښه په اصل کې د شاهي کورنۍ ترمنځ د رقابتونو نتيجه وه. د مظاهرو مهار د سردار داؤد او د ده د چپي ملګرو په لاس کې وو او د ډزو امر سردار ولي ورکړی وو، ظاهر خان د دې په ځای چې خپل مشکل له سردار داؤد سره حل کړي او سردار ولي ته څه ووايي، ډاکټر يوسف ئې عزل او د ده حکومت ئې منحل کړ او د ده په ځای ئې محمد هاشم ميوندوال ته وظيفه ورکړه چې نوی حکومت جوړکړي. ميوندوال د ډاکټر يوسف په کابينې کې د اطلاعات او کلتور وزير وو، چې د عقرب په ۷، صرف څلور ورځې د ۳ عقر ب له پېښې نه وروسته د صدراعظم په توګه وګمارل شو.

د تظاهراتو لړۍ له همدې ځايه پيل شوه، نه ميوندوال پدې موقعيت کې وو چې د تظاهراتو مخنيوی وکړي شي، برعکس هغه غوښتل چې د ځوانانو ملاتړ ترلاسه کړي او نه شاهي کورنۍ غوښتل چې د تظاهراتو د مخنيوی په ارتباط يو ځل بيا د عقرب دريېمه تکرار شي.

د تظاهراتو سلسله د کمونستانو په لاس پيل شوه، په لومړی سر کې نامنظم او د ګډون کوونکو شمېرئی کم وو، دا نوې پديده وه، په ابتداء کې ځينو له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره حساسیت درلود، ځینو د دولت له وېرې په هغوی کې له برخې اخیستو ډډه کوله، خو د دولت انفعالي دریځ، سیاسي ځواکونو ته دا فرصت په لاس ورکړ چې لدې نه یو مهم سیاسي حرکت جوړ کړي.

چپي ډلو به د "کارګر بین المللي ورځ" د "عقرب۳" او دې ته ورته نوری ورځې په مظاهرو سره لمانځلې، کله کله به صنفی اعتصابات په مظاهرو بدل شول، دولت په ابتداء کې له مظاهرو سره آشنا نه وو، خو ورو ورو ئې له مظاهرو نه وېره راکمه شوه، که څه هم مظاهرې له کمي او کیفی لحاظه تشدید شوې وې خو د دولت عکس العمل هغه د لومړیو ورځو عکس العمل نه وو.

موږ تقریباً پنځه کاله وروسته په ۱۳۴۹ کې دې ډګر ته د راوتلو جوګه شوو، په لومړی سر کې زموږ مظاهرې نامنظمې او وړې وې، خو په ډېر سرعت سره ئې هم له کمي لحاظه وده کوله او هم له کیفی لحاظه. لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې پدې برخه کې هم ترکمونستانو مخکې شوو، یو وخت خو داسې راورسېدو چې زموږ مظاهرو به د میوند لویه جاده، د پامیر له سینما نه تر سپاهی ګمنام پورې ډکه کړې وه، ټولو یوه بل ته لاسونه ورکړي، په منظمو لیکو کې روان، له یوه ځایه شعار او د مظاهرې له سر نه تر پایه د ټولو له خوا منظم بدرګه کېدل، د مظاهرې سر په سپاهی ګم نام کې او پای ئې د پامیر سینما خوا ته. مخکې به د زرنګار پارك هغه غونډۍ چې د غونډو لپاره ډېره مناسبه سیمه او جوړښت ئې داسې وو چې ستره غونډه په کې جوړېدی شوی او له ټولو خواوو په څرګند طور لیدل کېدی شوی، د هغو ډلو په واك کې پرېوته چې ترنورو ستره او په مظاهرو کې به ئې برخه اخیستونکي زیات وو، په لومړیو کلونوکې دا ځای روس پلوه کمونستانو ته مختص وو، وروسته شعله یانو ترلاسه کړ، خو په وروستیو دوه کلونو کې زموږ لاس ته راغله، هیڅا دا جرأت نشو کولی چې زموږ د مظاهرو په ورځ دلته راغونډ شي.

په مظاهرو کې زموږ شعارونه دا وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ په شرقي او غربی استعمار.

مرگ په امپرياليزم او سوسيل امپرياليزم.

په پرديو پوري تړلو ډلو باندي مرگ.

دولت د فقر او لوږي عامل دی.

دولت د جهل او بې سوادي عامل دی.

دولت د بې کاری او بې روزگاری عامل دی.

کمونستان د دولت په غيږ کي روزل شوي.

خلك خپل اولاد د مسلماني مور له غيږ نه راجلا کړي او دولت ته ئې وسپاری، دولت ورنه کارمل او تره کي جوړ کړي.

مرگ په سردار داؤد د کمونستي ډلي مؤسس.

موږ اسلامي نظام غواړو.

اسلام زموږ د ټولو ستونزو د حل ضامن دی.

موږ د اسلامي امت د تېر برم او عظمت اعاده غواړو.

سرلوړی دي وي اسلام.

مړه دي وي د اسلام دښمنان.

مړه دي وي د اسلام په جامه کي د اسلام دښمنان.

زموږ دغه شانداري مظاهرې چي د افغانستان په تاريخ کي ئې سارى نه ليدل کېږي، پداسي حال کي ترسره کېدی چي له موږ نه ئې يوازې لاندې مصارف غوښتل:

د امپليفاير او لاوډ سپيکرو کرايه.

د شعارونو لپاره تکه او رنگ اخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو مصارفو لپاره به موږ په خپلو منځونو کي بسپنه کوله، په متوسطو کورنیو پوري مربوطو کسانو به له خپل جیب خرڅ نه څو افغاني د همدې لپاره وقف کړي.

د یوه امپلیفایر او لاوډسپیکرو په اخیستلو هلته موفق شوو چي زه بندي شوم، محبس ته راتلونکو ورونو به چا له ځان سره میوه راوړه او چا هم نقدي پیسې، لدغو پیسو نه مي څلرویشت زره افغاني ورونو ته ورکړې چي یو امپلیفایر او څو لاوډسپیکری واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له موږ او نورو سره د دولت چلند

دولت له نورو ډلو سره په خپل چلند کي محتاط وو، د دوی په خلاف ئې له داسي اقدام نه ډډه کوله چي د دوی د بهرنيو حاميانو په اعتراض او مداخلې منتج شي. لدوی نه ئې خاصه وېره هم نه درلوده، گمان ئې دا وو چي د دوی شمېر کم دی، په ولس کي نفوذ نشي کولی، د دوی په خلاف د عام ولس راپارول آسانه دی. د دولت اصلي وېره له موږ څخه وه، زموږ حرکت ته ئې د يوه جدي گواښ په سترگه کتل، مخصوصاً هلته چي وئی ليدل د دې حرکت لمن له ځوانانو نه تر علماوو او عوامو پوري خوره شوه او پوهنتون او نور علمي مؤسسات د "جوانان مسلمان" په ډاډمنو اډو بدل شول.

غلام سرور ناشر چي د ظاهرشاه نږدې ملگری او د دولت له مهمو ارکانو څخه وو، د کمونستانو د اقتدار په لومړيو ورځوکي زنداني شو، په محبس کي ئې ځينو ورونو ته داسي قصه کوله: يوه ورځ له پاچا سره د ده په مخصوص موټر کي له کابل نه پغمان ته تلم، دا هغه ورځي وې چي سياسي ډلي ډېرى فعالي شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او مظاهرو زور اخیستی وو، هغه ته مې وویل: اعلیحضرت! د دغو سرو بیرغونو څه چاره په کار ده، که وضعیت همداسې پاتې شي ما ته راتلونکې خطرناك برېښي، هغه راته وویل: اشتباه کوې، سره بیرغونه نه، شنه بیرغونه خطرناك دي، د سرو بیرغونو په آسانۍ سره مخنیوی کېدی شي، خو شنه بیرغونه کېدی شي پداسې ګواښ بدل شي چې مخنیوی ئې ګران وي!! له موږ او کمونستانو سره د دولت بېل بېل چلند له همدې تصور نه راولاړ شوی وو، تل ئې زموږ په مقابل کې د چپي ډلو مرسته کوله، ښېلګې به ئې په راتلونکو پاڼو کې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي نهضت قيادت

## او د مشر ورور عبدالرحيم نيازى فراق

عبدالرحيم نيازى ډېر ژر د داسي يوه مشر په څېر راڅرگند شو چي هرچا د ده په څېرې کي د يوه لوى شخصيت نښې له ورايه ليدلې، زموږ په غونډو کي به هغه ډېرى اوږدې، ژوري، علمي او په زړه پوري ويناوي کولې، هرڅوك به د ده له وينا نه متأثره کېدو، د ستيج په سر به د ده لنډه وينا تر يوې گنټې زياته وه، د ده علمي او په زړه پورو ويناگانو زموږ د تحريك په پياوړتيا او خورېدو کي ډېره لويه ونډه درلوده، موږ هغه د مشر په حيث نه وو ټاکلى، خداى هغه ته د مشر توب کفايت او اهليت ورکړى وو. دى د فارياب د پښتونکوټ اوسېدونکى وو، کورنۍ ئې له شاه جوى نه فارياب ته منتقل شوې وه، په خټه نيازى وو، مورنۍ ژبه ئې پښتو وه، په فارسي ډېر مسلط وو، عربي ئې په مدرسى او د شرعياتو په پوهنځي کي زده کړې وه او ازبکي ئې له محيط نه. په ۱۳۵۰ کي ناروغ او د علي آباد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتون کي بستري شو ، د ده معالجه ډاکتر فتاح نجم ته چي د همدې روغتون مؤظف ډاکتر وو، وسپارل شوه، دا زموږ لويه غلطي وه، فتاح نجم د شاهي کورنۍ مخصوص ډاکتر وو ، د نيازی په شان د يوه لوی شخصيت د تداوي په اړه په داسي يوه ډاکتر اعتماد کول، ستره اشتباه وه. دی په خپلو پښو روغتون ته تللی وو ، صحی وضع ئې زياته د تشويش وړ نه وه، خو له څو ورځو تداوي نه وروسته د ده وضعه هومره خرابه شوه چي بهر ته د ده په لېږلو مجبور شوو ، دوه لکه افغانۍ بهر ته د ده د لېږلو او د تداوي لپاره راغونډې شوې او هند ته مو ولېږو ، تر روغتون پوري روغ رمټ ونه رسېدو ، د ۱۳۵۰ کال د جوزا په ۲۹ ئې د روح امانت خپل مولی ته تسليم کړه او جنازه ئې بېرته کابل ته را انتقال شوه. د ده ناڅاپی مړينه زموږ لپاره درنه پېښه وه او جبران ئې راته گران. زموږ ځوان تحريك له يوه داسي مؤثر مشر نه محروم شو چي په هغو حساسو شېبو کي د ده قيادت ته سخت اړ وو. د دښمنانو گمان دا وو چي د ده په تلو سره به د مسلمانو ځوانانو د ځوان نهضت د ملا تېر مات شي، بل داسي څوك به پيدا نکړي چي دا خلا ډکه کړي او ټول ورباندي راغونډ شي!! خو دوی هك پك پاتې شول چي څنگه د مرحوم نيازی له تلو سره سره دا ځوان تحريك نه يوازې متلاشي او حتی ضعيف نشو بلکي ترمخکي نه زيات پياوړی شو.

د مرحوم نيازی د جنازی د رارسېدو په وخت کي د کابل هوايي ډگر د يوې داسي ستري غونډې شاهد وو چي مثال ئې نه مخکي ليدل شوی وو او نه وروسته او سبا ته د فارياب په لوري د ده د جنازی د لېږلو مراسم هومره شانداره وو چي مثال ئې نشو په گوته کولی.

د همدې مراسمو په دوران کي يوه خاصه خبره د يادولو وړگنم: له وروستيو ليکو نه څوك په منډه راغی او په وارخطا لهجه ئې راته وويل: مجددي له خپل موټر نه راکوز شو او غواړي په لاريون کي داخل شي، له هغه سره څه وکړو؟ ما ورته وويل: په لاريون کي د برخي اخيستو اجازه مه ورکوئ او ورته ووايي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ او ستاسو لار بېله ده، ورغی، هغه ته ئې دا خبره وکړه. او په همدې سره خپل موټر ته وخوت او په خپله مخه ولاړ. موږ نه غوښتل چې د "جوانان مسلمان" صف له هغو کسانو سره په اړیکو درلودو متهم شي چې له دولت سره نږدې اړیکې لري او په ځوانانو کې د دوی په هکله منفی ذهنیت دی. کمونستانو به زموږ په خلاف همدا تبلیغات کول چې دوی په درباري روحانیونو پوري تړلي دي. موږ مجبور وو لدوی نه خپل برائت اعلان کړو. که په مظاهرو کي د دغو کسانو په خلاف زموږ له لیکو نه شعارونه ورکول کېدل اصلي وجه ئې همدا وه.

د مرحوم عبدالرحیم نیازی له وفات نه وروسته څه موده موږ د دې هڅه کوله چې دا خلأ د هغو کسانو په دعوت او له نهضت سره په یو ځای کېدو ډکه کړو چې دیني، اجتماعي، علمي یا سیاسي وجاهت لري، کله کله به مو داسي گمان کاوو چې:"څه پروا کوي که داسي یو څوك د نهضت د مشر په حیث وټاکو چې علمي، دیني او اجتماعي وجاهت لري، موږ ځوانان یو ، که وغواړو چې د دې تحریك لمن تر نورو اقشارو خوره شي، باید یو مخور مشر غوره کړو. د همدې ذهنیت په حکم مو له ډېرو همداسي کسانو سره لیدني کتني کړې، دوی ته مو بلنه ورکړې چې د دې نهضت په لارښووني کي مرسته وکړي، موږ ستاسو په شان شخصیتونو لارښودني ته اړ یو!! دا یوه لویه اشتباه وه، زه ټولو مسلمانو مبارزینو ته د خپلي تجربی په رڼا کي دا مشوره ورکوم چي لداسي غلطي نه په کلکه ډډه وکړي. باید د خپل صف له محدودې نه بهر د "مخور مشر" د موندلو هڅه ونکړي، په خپلو منځونو کي تر ټولو مستعد او مخلص کس غوره کړي، له هغه چا نه د مشرتابه طمع ونلري چي د یوه مفسد نظام په سیوری کي ستر شوی او په خپل تېر عمر کي ئې له همدې نظام سره د روغی جوړې او سازش لار غوره کړې وه. چاچی په ځوانی کي د فساد او ظلم په مقابل کي حساسیت ونښود ، د عمر د پوخوالي په تناسب به د ده حساسیت ورو ورو مری. څوك چي په همدې نظام کي د وجاهت خاوند شو له هغه نه دا انتظار مه کوئ چي له نظام سره د تصادم او ټکر په لار کي به خپل وجاهت په خطر کي واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوازې او د ځینو ورونړو په شمول داسي ډېرو کسانو ته ورغلی یم او د دوی په وړاندي مي همدا غلطه تمنا څرګنده کړې، د دې غلطۍ په څرنګوالي او بدو عواقبو اوس ښه پوهېږم.

یو ځل فضل غني مجددي د حقوقو د پوهنځي محصل، ما او ځینو کسانو ته په خپل کور کي مېلمستیا کړې وه، د مېلمستیا د انګیزی په هکله څه نشم ویلی، پدې کي د لاندې کسانو په شمول ځینو دوستانو برخه اخیستې وه:

محمدهاشم مجددي

صبغة الله مجددي

برهان الدین رباني

شهید غفوری

انجنیر احمدشاه

فضل غني مجددي وویل چي ما ځینو نورو کسانو ته هم بلنه ورکړې وه خو د خاصو معاذیرو په وجه رانغلل، استاد غلام محمد نیازی د شرعیاتو د پوهنځي رئیس یو لدغو کسانو څخه وو، "هغه پداسي موقعیت کي وو چي دا راز غونډو کي ئې برخه نشوی اخیستی"، خبري داسي پیل شوې چي باید ټول اسلام غوښتونکي یوه بل ته لاس ورکړي او په ګډه د ګوابنونو مقابله وکړي.

ما وویل: د ځوانانو دا بهیر د خدای په مرسته پیل شو، دا دی امید بخښونکې مرحلې ته رسېدلی، ټول باید د دې ملاتړ وکړي، دا به له ځان او خپل ایمان سره لویه جفا وي چي څوك د دې حرکت د مزید پیاوړتیا په اړه څه کولی شي خو هغه وسپموي، دا ځوانان نه تجربه لري او نه کافی دیني پوهه، دوی لارښودني ته ضرورت لري. خو موږ د ملګرتیا دوه شرطونه لرو:

• څرګنده ملګرتیا به کوي، نه پټه ملګرتیا، دا به نه وایي چي زه ستاسو ملګری یم خو په څرګنده ستاسو په خوا کي نشم ودرېدی، دا عذر له ځینو خاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو څخه منل کېدی شي نه له ټولو نه، نه له هغه چا نه چي د فعالي ونډي طمع تري کېدی شي.

• له نظام سره به مقاطعه کوي، د نظام په ضد مبارزه به همدومره ضروري ګڼي لکه له کمونستانو سره. د "جوانان مسلمان" په لیکو کي چي څوك تنظیم شوي ټول همدا روحیه لري.

صبغة الله مجددي ماته مخ کړ او ویې ویل: زه ستا له لومړی شرط سره موافق یم خو له دوم سره نه!! زه دا معقوله نه ګڼم چي په یوه وخت کي په دوو جبهو کي ځان مصروف کړو، برعکس دا غوره ګڼم چي یوازې د کمونستانو مقابله وکړو او پدې مقابلې کي د دولت مرسته هم ترلاسه کړو.

ما ورته وویل: دولت د فساد اصلي عامل دی، کمونستان د دولت په غېږ کي روزل شوي، ځوانانو پدې خاطر اسلامي نهضت ته په کمونستانو ترجیح ورکړه او د دوی لوی اکثریت لدې نهضت سره یوځای شو چي هم د دولت د ظلم او فساد مقابله کوي او هم په پردیو پوري د تړلو ډلو. که موږ پدې متهم شو چي لدې فاسد او بې دینه دولت سره په پټه ملګرتیا لرو، دغه ټول مخلص مبارزین زموږ له څنګ نه بېلېږي...

نورو هم څه نا څه خبري وکړي، جلسه مو له کومي خاصي نتیجی نه پرته پای ته ورسېده.

یوه خاصه قصه چي له همدې غونډې سره ارتباط لري د یادولو وړګنم او هغه دا چي: په توقیف کي د تحقیقاتو لپاره خاص ځای ته بوول کېدم، په دهلیز کي د کابل د امنیی له قومندان مینه پال سره مخامخ شوم، هغه ودرولم او له روغبړ نه وروسته ئې راته وویل: موږ ډېره هڅه وکړه چي له تاسو سره تفاهم ته ورسیږو او په خاصو قضایاوو کي توافق وکړو، خو تاسو ونه منله او زموږ پیغامونو ته مو منفي ځواب ورکړ، ما ورته وویل: زه پوه نشوم، ستاسو کوم پیغام او د چا په لاس؟! ما ته خو نه ستاسو استازی راغلی او نه کوم پیغام!! ده راته وویل: موږ څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلي صبغة الله مجددي تاسو ته درولېږو خو تاسو هغه ته منفي ځواب ووايو. زه همدلته پوه شوم چي د فضل غني مجددي په کورکي د صبغة الله مجددي د هغي وينا معنا څه وه!!

## د پنځه کسيزی شوری انتخاب

د مرحوم عبدالرحيم نيازی له وفات نه وروسته د وضعيت د څېړني او د يوه مناسب تصميم د نيولو لپاره د ځوانانو د اسلامي نهضت تقريباً "۲۲۰" اهل الرأی کسان د پوليتخنيك په مسجد کي راغونډ شول. د تفصيلي بحثونو نه وروسته فيصله وشوه چي د نهضت د ښه تنظيم لپاره بايد يوه پنځه کسيزه قيادي شوری انتخاب شي. له رأی اخيستني نه مخکي د غونډې ځينو برخه والو تپوس وکړ چي آيا موږ له محصلينو نه پرته، د دولت په مأمورينو يا نورو برخوکي متعهد غړي لرو که نه؟ شهيد سيف الدين نصرتيار د دوی په ځواب کي وويل: زموږ دوه متعهد ورونه پروسږ کال له پوهنتون نه فارغ شوي، مولوي حبيب الرحمن او غلام رباني عطيش، لدوی نه پرته د دولت په مأمورينو کي د يادولو وړ کسان نلرو. رأی اخيستل پيل شول، مشخص کانديدان نه وو، هر چا هرچا ته رأيه ورکولی شوه، پنځه زياتي رأی وړونکي به د قيادي شوری لپاره غوره کېدل. د رأی کاغذونه راغونډ شول، له شمارلو وروسته د لاندې پنځو کسانو نومونه اعلان شول:

۱ـ مولوي حبيب الرحمن

۲ـ انجنير حبيب الرحمن

۳ـ سيف الدين نصرتيار

۴ـ غلام رباني عطيش

۵ـ انجنير حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامی نهضت قیادت ---------------------------------------------------- اسلامی نهضت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمونستانو د نښتو لار غوره کړه

د اسلامي نهضت چټکي ودي او په علمي مؤسساتو د هغه ورځ په ورځ زياتېدونکي سلطې کمونستان وارخطا کړل، دوی د دې بهير پايلي خطرناکي وګڼلې، د مقابلې نوری لاري په نظر نه ورتلې، ناچار ئې د نښتو لار غوره کړه. لومړۍ نښته د خلقيانو له لوري وه چي په هغې کي زه ټپی شوم، قصه ئې داسي وه: خلقيانو د پوهنتون په صحن کي غونډه درلوده، د مسلمانو ځوانانو څو کسانو لدوی نه غوښتی وو چي اجازه ورکړي د دوی له ستيج نه څو خبري وکړي، هغوی اجازه نه ورکوله. په همدې حالت کي زه هغه ځای ته نږدې راورسېدم، ځيني ورونه راغلل او ما ته ئې جريان ووايو، زه هلته ورغلم، وضعيت مي داسي وليد چي نږدې ده نښته وشي، ورونو ته مي وويل چي صحنه تخليه کړي او د خلقيانو له ستيج نه په خبرو کولو ټينګار پرېږدي، ما همدا خبره اعلانوله چي خلقيانو په شهيد انجنير محمدشاه حمله وکړه، زه خلاصون ته ورغلم چي ناڅاپی له څلورو خواوو ئې په ما بريد وکړ، د غوږ اړخ ته ټپی شوم، په ځمکه ولوېدم، له ورونو نه يوه کس په ما ځان وغورځاوو چي په ما د بريد مخه ونيسي، خلقيان خواره شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه ئې په شا د علي آباد روغتون ته ورسولم چي له معمولي تداوي نه وروسته لیلیې ته ولاړم.

د نښتې په ورځ ما د سروې امتحان درلود، داسي امتحان چي څرنګوالی ئې زما د وروستۍ آزموینې لپاره ډېر مهم وو. د امتحان لپاره روان وم چي نښته وشوه، د وروستۍ آزموینې په ورځو کي هم سخت مصروف وم، دومره فرصت مي ترلاسه کړ چي د آزموینې په شپه له خپل هم صنفی انجنیرمحمد اسحاق نه چي خپلو درسونو ته ئې ډېر زیات اهمیت ورکاوو او پوره زیار ئې ایستو، د سروې د مضمون هغې برخې واورم چي د استاد د لیکچر په وخت کي ئې حاضر نه وم. هغه دوه ګنټې له ماسره کار وکړ، سبا دواړه د آزموینې لپاره ټولګې ته ولاړو، استاد راته وویل چي ستا اوسط له هغو آزموینو نه نیسم چي برخه دې په کې اخیستې، هغه آزموینې په پام کې نه نیسم چي درنه پاتې دې. له استاد نه مي مننه وکړه. چي کله د آزموینې نتائج اعلان شول، ګورم چي په سروې کي زما نمرې تر انجنیر اسحاق نه زیاتې دي. د نوموړي استاد زوی شهید معروف له نهضت سره یوځای شو او د اسلام په لار کي په شهادت ورسېدو.

## دوهمه نښته

د کمونستانو په لومړی برید سره د نښتو لړۍ پیل شوه. دوهمه نښته هلته وشوه چي دوی د پولیتخنیك د پوهنځي په لیلیې کي د نښتې لپاره تیاری نیولی وو او بهانه ئې لټوله، د روژې د میاشتې په یوه ماخستن ئې په طعام خوري کي غونډه درلوده، هلته ئې موږ ته ډېر بد او رد وویل او اعلان ئې وکړ چي لدې نه وروسته له "اخوان الشیاطین"سره قاطع او جدي چلند کوو، نوك په سوك ځوابوو!! دوی موږ د "اخوان الشیاطین" په نامه یادولو، هدف ئې دا وو چي موږ د مصر د اخوان المسلمین په څېر یو. "داخوان المسلمین حزب پدې ورځو کي د جمال ناصر حکومت سخت ځپلې وو، د دوی ځیني کسان په شهادت رسېدلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو ئې د مصر په تورو زندانونو کې تر وحشيانه تعذيبونو لاندې ترخې شپې ورځې تېرولې او په ټولې عربې نړۍ او په روسانو پورې تړلو مطبوعاتو کې د دوی په خلاف شديد تبليغات روان وو، دوی ئې د اخوان الشياطين به نامه يادول" د وياند دا ترخې او تندې خبرې لانه وې ختمې شوې چې له طعام خورې نه بهر نښته وشوه. نښته داسې پيل شوه چې له مسلمانو ځوانانو څخه يوکس د هغه چا مخې ته ودرېدو چې ډوډۍ ئې له ځان سره خپل اطاق ته وړه، "د روژې په مياشت کې دا کار د روژې خوړلو نښه ګڼل کېده، موږ اعلان کړی وو چې هيڅوک په ښکاره توګه روژه نشي خوړلی" لدې کس نه ئې پوښتنه وکړه چې ولې دا کار کوې؟ هغه پتنوس يوې خوا ته کېښود او په ده ئې بريد وکړ، نور ورسره ملګرې شول، ترکلکو ګوزارونو لاندې ئې ونيو، په غاړې کې ئې پګړۍ وراچولې او د طعامخورې په لورې ئې کشولو. له همدې سره په ټولو هغو مسلمانو ځوانانو بريدونه پيل شول چې د پوليتخنيك په ليليه کې مېشت وو. مرکزې ليليه ته د دې نښتې اطلاع ورسېده، پدې وخت کې زه، مولوي صاحب حبيب الرحمن او استاد ګل محمد "د ده بورې په يوه کرايې کورکې په ګډه اوسېدو، د ختم په لمانځه ولاړ وو، هغه شپه اولسم جزء ته ورسېدو، لا مو دعا نه وه تمامه کړې چې دا اطلاع ئې راکړه، نه پوهېږم ولې په ډېر شور او شوق د مرکزې ليليه په لورې وخوځېدم. ګورم چې د ليليه په جومات کې ګڼه ګونه ده، سيد نورالله د هرات اوسېدونکې خبرې کوې او ورونو ته وايې: موږ پدې وخت کې هيڅ نشو کولی، سبا دلته راغونډيږو او د پوهنتون رياست په لورې مارش کوو او د کمونستانو دا بريد محکوموو او له رياست نه غواړو چې پدې هکله عاجل او مناسب اقدام وکړې... ورونه زما وينا ته منتظر وو، ما وويل: که جګړه پای ته رسېدلې وې او زموږ ورونه تر بريد لاندې نه وې نو کېدی شو د راتلونکې عکس العمل په هکله مو خبرې کړې وی، خو اوس هلته زموږ ځينې ورونه تر حملو لاندې دې، ځينې ټپې شوې، ځينې محاصره دې، سؤال دا دی چې آيا موږ د دغو ورونو په وړاندې څه مسئوليت لروکه نه؟ لدوی نه دفاع کوو که نه؟ زما نظر دا دی چې حتماً بايد له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو مظلومو ورونړو نه دفاع وکړو، خپلو اطاقونو ته لاړ شئ، تیاری ونیسئ، همدا اوس د پولي تخنيك په لوري خوځيږو. په همدې سره ټول په منډه له جومات نه ووتل، څو شېبې وروسته د اوياوو په شا او خوا کې با ايمانه زلميان د پوليتخنيك په لوري روان شوو، د پوليتخنيك جومات په مخکې مې ټول ودرول او ورته ومې ويل: څوك چې د سر قرباني ته تيار وي او په هيڅ بيه په شا نه راځي له موږ سره دې وخوځيږي او څوك چې دې قرباني ته تيار نه وي او د نښتې په وخت کې تښتي، همدا اوس دې له موږ نه بېل شي او د شپې له تياری نه په استفادې سره دې بېرته وګرځي، وروسته ما ته وويل شو چې يوازې دوه کسان له هغې ډلې نه بېل شول او له صحنې نه ووتل" ما ورونړه په دوو ډلو ووېشل، يو شمېر مې له ډاکتر محمد عمر شهيد سره په يوه استقامت ولېږل او زه له نورو سره مخامخ په هغه استقامت وخوځېدم چې کمونستان راغونډ شوي او د بامونو په سرئی ګڼ شمېر کسان ګمارلي وو ترڅو موږ د تيږو تر بريد لاندې ونيسي. له يوې خوا په موږ د تيږو باران وو له بلې خوا هغو کسانو د تکبير په نعرو زموږ استقبال کاوو چې په خپلو اطاقونو کې تر محاصرې لاندې ول. موږ همداسې سريع او تند مخکې روان وو، د تيږو ځواب مو ورکاوو، مقابل طرف ورو ورو شا ته تلو، خو هغه وخت په تېښته شول چې د زلميانو هغه ډله هم له موږ سره يوځای شوه چې په بل استقامت لېږل شوې وه، د دوی په يوځای کېدو سره مقابل طرف داسې ګمان وکړ چې زموږ نورې ډلې هم يو په بل پسې راروانې دي، وارخطا او په تېښته شول، د تېښتې په دوران کې ډېر کسان تر پښو لاندې شول، مخصوصاً هلته چې د دوی ګڼ شمېر کسانو څلورم بلاك ته د ننوتلو هڅه کوله، ځينو ورونړو غوښتل چې پدوی پسې بلاکونو ته ننوځي خو ما د دې کار مخنيوی وکړ، ټول مو په هغه ځای کې غونډ کړل چې د نښتې په سر کې مقابل طرف هلته راغونډ شوي وو، له لنډو خبرو او څو شعارونو نه وروسته مې د مرکزي ليليې په لوري د خوځېدو اعلان وکړ.

د دوی شمېر زموږ په نسبت لس ځله زيات وو، د دوی ۴۲ کسان ټپيان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زموږ درې کسان: مولوي صاحب حبيب الرحمن او استاد عبدالودود د ټيپيانو په جمله کې وو.

په دې نښتي کې ټول چپي عناصر او غير ديني ډلي يوې خوا ته او موږ بلي خوا ته وو. د دوی د ماتې طبيعي نتيجه دا وه چې لدې نه وروسته نه په ګډه زموږ د مقابلې جرأت وکړي او نه يوازې يوازې. دا په پوليتخنيك او په ټول پوهنتون زموږ د کامل تسلط په لوري يو مؤثر ګام وو.

پوليتخنيك د پوليسو له خوا په کلکه محاصره شوی وو، موږ ته ئې د لوډسپيکر په ذريعه ګوابنونه کول چې خواره شئ، وروښو ته مې وويل چې له خوربدو نه ډډه وکړئ، يوځای به د مرکزي ليليې په لوري خوځيږو. د يوځای راتلو په وجه پوليس ونتوانېدو چې څوك ونيسي.

له دې نښتي نه وروسته نږدې وه د پوهنتون په صحن کې بله نښته وشي، خو موږ د هغې مخنيوی وکړ، جريان داسې وو: کمونستانو غوښتل د پوليتخنيك د پېښې په اړه څه عکس العمل وښيي، کم له کمه خپلو کسانو ته روحيه ورکړي. د پوهنتون په صحن کې راغونډ شول، لدوی نه آخوا د ساينس پوهنځي مخي ته د مسلمانو ځوانانو محدود شمېر کسان راغونډ شوي وو، زه پداسې حالت کې دې ځای ته راورسېدم چې هره شېبه د لويې نښتي احتمال په نظر راتلو. د نښتي عواقب راته ښه نه معلومېدل، زموږ شمېر د دوی په نسبت ډېر کم وو، ما ورونه راغونډ کړل او اعلان مې وکړ چې موږ د ښار په لوري خوځيږو او غواړو چې د پوهنتون د پېښو په هکله عام ولس مطلع او خپل دريځ څرګند کړو، د دارالمعلمين او ابن سينا په لوري وخوځېدو، د ابن سينا ليسې مخي ته له رسېدو سره سم ګڼ شمېر ټولګی له يوې خوا بلې خوا راورسېدل او له موږ سره يوځای شول، پدې ډلو کې د يکه توت د مولوي صاحب په مشرۍ د ده د طالبانو او د کلي د ځوانانو ډله د خاصي پاملرنې وړ وه، مولوي صاحب ډېر زړه ور، با ايمانه او مجاهد عالم، په حالاتو پوه، د ژورې ديني پوهې او وسيع نظر خاوند وو. نوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټولگیو، مخصوصاً مولوي صاحب ټینگار کاوو چي باید بېرته د پوهنتون په لوري وگرځو، مبادا کمونستي ډلي زموږ راوتل داسي توجیه کړي چي له وېرې مو صحنه پرېښوده او پدې سره هغوی خپله تېره ماتې جبران کړي. گڼه گوڼه زیاته وه، زه ورونو په اوږو پورته کړم او ومي ویل: له هغو ورونو نه مننه چي پدې سخت حالت کي ئې ځان راورساوو، خو اوس موږ د ښار په لوري د تلو اعلان کړی، له پوهنتون نه راوتلي یو، بېرته گرځېدل مو ښه تأثیر نلري، محصلین ترې غلط انتباه اخلي، پرېږدئ د ښار په لوري خپل لاریون ته دوام ورکړو. خو هغوی نه قانع کېدل، د پوهنتون منار په شا او خوا کي کمونستان راغونډ شوي وو د دوی غونډې زموږ ورونه هڅول. مجبور شوم د دوی خبره ومنم او د بېرته گرځېدو اعلان وکړم. خو زموږ له روانېدوسره سم، کمونستانو خپله غونډه ختمه کړه او خواره شول، چي کله د منار په لوري وخوځېدو، د تېري شپې خوب مي مخي ته ودرېدو. تېره شپه مي خوب لیدو چي موږ د پوهنتون په همدې سړك راروان یو، شمېر مو ډېر زیات دی، د ځینو په لاسونو کي بیرغونه، د ځینو په لاسونو کي لرگی، چا ملاوي تړلې او چا په سر څادرونه تاو کړي، په ډېر شور او ځوك د منار په استقامت راروان یو او شعارونه ورکوو، د منار گرد چاپیر کمونستان راغونډ دي، خو زموږ په لیدو سره خواره شول. چي د منار څنگ ته راورسېدو، گورم چي زما په ښې او کیڼ لاس کي دوه شیان دي، له خوبه راویښ شوم اوس ټوله صحنه هماغسی گورم چي په خوب کي مي لیدلې وه، چي منار ته راورسېدو او ودرېدو له ځان سره مي وویل: هغه دوه شیان چي په خوب کي مي په ښې او کیڼ لاس کي لیدلي وو، چېري دي؟! ناڅاپی مي ښې او چپ جیب ته لاس کړ او هماغه دوه شیان مي لاسونو ته راغلل!!

دې کار موږ ته د پولیتخنیك په څېر یو بل ستر بری راپه برخه کړ، دا له نښتي پرته بری وو، زه د پولي تخنیك جگړه د اسلامي نهضت "د بدر جگړه" گڼم او دا پېښه د احد د جگړي نه وروسته له هغي پېښي سره ورته شمېرم چي قریشو د احد له بري نه وروسته غوښتل په مدیني حمله وکړي، پیغمبر علیه السلام له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو یارانو سره مخي ته ورغی، خو قریش له نیمایي لاري او له جګړي نه پرته ستانه شول.

### دربیمه نښته

دا نښته یوازې له شعله یانو سره وه. دوی د یوې نښتي شوق کړی وو. په مخکنیو نښتو کي د خپلي ماتې په هکله به ئی‌خپلو غړو ته ویل: زموږ صفوف مختلط وو، پرچمیان او خلقیان د ماتې باعث شول، دوی په خپلي تېښتی سره په نورو کي وېره راپیدا کړه، دا ځل له اخوانیانو سره یوازې مقابله کوو او سم ځواب به ورکوو... دلته او هلته نیغ نیغ کېدل او د نښتي لپاره ئې هڅوني کولې. په همدې ترڅ کي ئې د تعلیم او تربیی یوه محصل ته چي نوی له نهضت سره یوځای شوی وو لاس واچاوو، هغه ته ئې ډېری سپکي سپوري خبري کړې وې او څو څپیړی ئې وهلی وو. موږ د "ده بوری" په هغه کور کي غونډه وکړه، ترڅو دا پېښه، لاملونه او عواقب ئې وڅېړو او د مناسب عکس العمل فیصله وکړو. زما نظر دا وو چي شعله یان د یوې قاطع نښتي لپاره تیاری نیسي او بهانه لټوي. په خپل هر تصمیم کي باید دا خبره په نظرکي ولرو او د دوی د احتمالي برید د مقابلي لپاره خاص تدابیر ونیسو، وړاندیز مي دا دی چي سبا یو شمېر وروڼه د تعلیم او تربیی هماغه صنف ته ورشي چي دا پېښه په کي شوې او محصلینو ته ووایې: موږ نه غواړو د پوهنتون علمي فضاء خړه پړه شي او مزید نښتي وشي، خو په خپلو متعهدینو تېری نشو زغملي، امید دی داسي پېښه بیا تکرار نشي. زما د وړاندیز له یوې برخي سره وروڼو توافق وکړ خو له بلي برخي سره نه. د شهید انجنیر حبیب الرحمن او نورو وروڼو رأی دا وه چي زه د څو محدودو کسانو سره د تعلیم او تربیی پوهنځي ته ورشم او همدا خبره اعلان کړم، ویل ئی: نه د زیاتو کسانو تلو ته ضرورت دی او نه خاصو تدابیرو ته. د دوی استدلال دا وو چي د زیاتو کسانو تګ بې طرفه محصلینو ته بده انتباه ورکوي. ما وویل: که څه هم زه لدې تحلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره موافق نه یم خو د اکثریت پرېکړي ته احترام لرم، غوښتنه مي دا ده چي دا کار له ما نه پرته بل چا ته وسپارئ. زما غوښتنه ونه منل شوه، مجبور شوم د دې دندي مسئولیت په غاړه واخلم. سبا له لسو دوولسو ورونو سره د تعلیم او تربیی پوهنځي ته ورغلم، استاد نهضت فراهی درس ورکاوو، له هغه نه مي احترامانه وغوښتل چي اجازه راکړي د دې ټولگی له محصلینو سره څو خبري وکړم. محصلینو ته مي وویل: پرون پدې ټولگی کي یوه د کرکي وړ پېښه شوې، تفصیلات ئې تاسو ته معلوم دي، د څرنگوالي په هکله ئې څه ویل نه غواړم، موږ په پوهنتون کي د سالمي او سوله ییزي فضاء غوښتونکي یو، له نښتو نه کرکه لرو، نه غواړو د پوهنتون علمي فضاء متشنجه شي، امید دی بې طرفه کسان مداخله وکړي او د داسي پېښو مخنیوی وکړي. خو که څوك خپل زور ښیي، په نورو تېری کوي، ناچار به د هغه مخي ته ودرېږو. په څو لنډو خبرو مي خپله وینا پای ته ورسوله او له ټولگی نه ووتم. له پوهنځي نه بهر ځیني ورونه په ډېره عجله راغلل او وئی ویل: هلته په ځینگله کي شعله یان د راغونډېدو په حالت کي دي، شمېر ئې لحظه په لحظه زیاتېږي، له وضعي نه معلومېږي چي په موږ د حملي اراده لري!! ورونو ته مي وویل: اوس نباید میدان پرېږدو، لدې نه دوی غلطه استفاده کوي. د مرکزي لیلیی، دارالمعلمین، ابن سینا، رحمن بابا، دارالعلوم او نورو نږدې مراکزو ورونو ته اطلاع ورکړئ چي ځانونه راورسوي، خپل تیاری ونیسي. دوه کسان مي شعله یانو ته ورولېږل ترڅو پوښتنه وکړي چي د څه لپاره راغونډ شوي، موږ خو د جنگ اراده نلرو، په هغه ټولگی کي مو څو خبري وکړي، کار مو خلاص شوی، لدې ځایه روان وو چي ستاسو له غونډېدو نه خبر شوو، مقصد مو څه دی؟ که د نښتي اراده لري موږ به ناچار له ځان نه دفاع کوو، مسؤلیت به ستاسو په غاړه وي. شاکر او لهیب د خبرو لپاره راغلل، پدې ئې ټینگار کاوو چي موږ خپله غونډه ختمه کړو. د خبرو په جریان کي وو چي د دوی ملگری له ځنگله نه راووتل او د منار جنوب ته راغونډ شول. ما ورته وویل: موږ خو دلته د غونډې د جوړولو قصد نه درلود، غوښتل مو خواره شو، تاسو بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجبه زموږ په خلاف راغونډ شوئ اوس فيصله ستاسو په لاس کي ده، که د نښتي اراده نلرئ نو خپله غونډه ختمه کړئ، چي تاسو ولاړ شئ موږ هم خپله غونډه ختموو. دوی ويل: په يوه وخت دواړه غونډې ختموو. ما ويل: نه، لومړی به تاسو لدې ځايه ځئ بيا موږ. پدې وخت کي زموږ د ورونو شمېر هم زيات شوی وو، دوی وضعيت داسي وليد چي مجبور د نښتي فکر له سره وباسی او زما خبره ومني او ووايي: دا دی موږ ځو او خپله غونډه ختموو، زموږ له تلو وروسته تاسو هم غونډه ختمه کړئ. دوی خپلو ملګرو ته ورغلل او پس له څو شېبو له هغه ځايه د کفتريا او ساينس پوهنځي په لوري وخوځېدل. د دوی پخوانی ځای خالي شو، زموږ ورونه په همدې ځای کي را غونډ شول. زه د پوستی د غرفی په بام وختلم چي د غونډې پای اعلان کړم. ما لا خبري نه وې پيل کړې چي د شعله يانو لخوا زموږ لوري ته څو تېږي راګوزاري شوي، پدې سره زموږ له ډلي نه محمد طبيب فرقانيار د کندهار اوسېدونکی پداسي حال کي له غونډې ووت او د شعله يانو په لوري په زغاسته ولاړ چي هيڅوك د ده په راګرځولو موفق نشو. د غونډې کنترول کوونکي ونتوانېدل چي له غونډې نه د ده د وتلو مخنيوی وکړي. هلته پده بريد وشو، له هري خوا تر ګوزارونو لاندې ونيول شو، ټپی شو او په ځمکه پرېووت. په همدې سره نښته پيل شوه، دوی د کفتريا مخي ته د وړو تيږو يوې لوبي کوټی خوا ته سنګر ونيو او په موږ ئې د تيږو باران پيل کړ. موږ په پاخه سړك ولاړ وو، زموږ شا او خوا ته تېږي نه وې، د دوی لخوا ويشتل شوې تيږي به مو را اخيستلې او بېرته به مو دوی ورباندي ويشتل. ماله نښتي نه د مخه يوه ډله د هغه ځنګله مخي ته لېږلې وه چي په لومړي سر کي شعله يان هلته راغونډ شوي وو، د دې لپاره چي مبادا له شانه په موږ بريد وشي. نښته توده روانه وه، تېږي ورېدې، ناڅاپی هغه ډله هم بېرته راوګرځېده، د دوی تکبيرونو او ناڅاپی له نورو سره يوځای کېدو، شعله يان وارخطا کړل او په تېښته شول. په لوی چمن کي هري خواته تښتېدل او د چمن غاړي کورونو ته ئې پناه وړه، زخميان ئې په ميدان دلته هلته پراته. د دې لپاره چي ټپيان په قتل ونه رسېږي، ما د هر ټپی په سر څو کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤظف کړل چې د دوی حفاظت وکړي. د دوی لومړۍ ټپی سیدال سخندان وو، دې د نښتې په پیل کې د پاخه سړك په سر ټپی شو او همالته په ځمکه پرېووت، په سر لګېدلی وو، همالته ئې سا وختله. د دوی تقریباً شل کسان کم او زیات ټپیان شول، شاکر هم په ټپیانو کې وو، که د ټپیانو په سر محافظین نه وی ګمارل شوي دی هم په قتل رسېدو، "د شاکر پلار یو وخت د منني لپاره ماته راغی او وئی ویل: ستا په وجه زما زوی له مرګ نه وژغورل شو" پولیس او د غونډ ضربه مجهز ډلګی، پلي او سواره د نښتې ځای ته راورسېدل، پوهنتون او لیلیه ئې محاصره کړه. موږ له شا نه د آشپزخانې له لارې لیلیې ته داخل شوو او پدې سره هغه لویه نښته پای ته ورسېده.

دا نښته د شعله جاوید لپاره په ډېر ګران قیمت تمامه شوه، په همدې سره دا ډله متلاشي او په وړو وړو ټولګیو ووېشل شوه. همدا د دوی وروستۍ ګډه غونډه وه، بیا نه د مظاهرې په جوړولو توانېدلي او نه د غونډو په دائرولو. وجه ئې دا وه چې دوی تر نورو ډلو ځان انقلابي ګڼلو، سوله ایزه مبارزه ئې غندله، په مسلحانه مبارزې ئې ټینګارکاوو، دغې ماتې د دوی د شعارونو او باورونو ماهیت بربنډکر.

په یوې نښتې کې د ماتې په وجه د شعله یانو له متلاشي کېدو نه معلومېږي چې د پوهنتون د هغه وخت نښتو او پدې کې د برې او ماتې نتائج څومره مهم او ټاکونکي وو. زما باور دا دی چې همدا نښتې د وروستیو لویو جګړو مقدمه وه، په همدغو نښتو کې د ماتې نه وروسته د کمونستانو بهرنیو حامیانو د سیاسي وضعې د بدلولو او د نظامې کودتا فیصله وکړه.

پوهنتون همداسې محاصره وو، سبا ته ټولو غیر اسلامي ډلو د پوهنتون په انګړ کې غونډه درلوده، هاشم میوندوال هم پدې غونډې کې برخه واخیسته، نطاقانو حادثه غندله، موږ ئې ملامتولو، له دولت نه ئې غوښتل چې زموږ په خلاف جدي اقدامات وکړي، د شعله یانو په نسبت ئې خواخوږی ښودله. موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیلیی کي محاصره وو، غوښتل مو د پوهنتون په انګړ کي غونډه ولرو او د پېښې ځرنګوالی توضیح کړو او محصلین پدې پوه کړو چي د نښتي عامل څوك وو او مسئولیت ئې د چا په غاړه دی. سورو او پیاده پولیسانو اجازه نه راکوله، د لیلیی مخي ته له ټولو خواوو محاصره وو. یو ځل مو د پوهنتون په لوري د تلو اعلان وکړ خو په آسونو سورو پولیسانو زموږ مخه ونیوله. بیا مو د کوټه سنګی له لاري د ښار په لوري د تلو اعلان وکړ خو آخوا ته هم د آسونو قطارونه ودرېدل. ټولو محصلینو دا صحنه په سترګو لیدله، د دولت د ډېر قبیح تبعیضی سلوك شاهدان ول. دې صحنې ځو ساعته دوام وکړ، په پای کي موږ مجبور شوو چي غونډه پای ته ورسوو.

پولیسانو ته ویل شوي وو چي ما حتماً ونیسي. په لیلیه ئې د حملي جرأت نشوکولی. له لیلیی نه تدریسی ته په تلو راتلو کي به له ماسره ګڼ شمېر ورونه ملګری وو. د پوهنځي رئیس ته ئې ویلي وو چي اجازه ورکړي زما د نیولو لپاره پوهنځي ته داخل شي. هغه نه یوازې موافقه ونکړه بلکي ما ته ئې اطلاع راکړه. سردار ولي د پاچا زوم د کابل امنیی قومندان ته امر کړی وو چي په هر قیمت ما ونیسي، حتی که له محصلینو سره د نښتي په بیه وي. دا جریان ماته مینه پال د امنیی قومندان په هغه ماشام ووایو چي زه پولیسانو ته تسلیم شوم او له ځان سره ئې د امنیی قومندانی ته بوتلم. مینه پال په خپل دفترکي راته وویل: سردار ولي راته امر وکړ چي په پوهنتون حمله وکړم، که چا مقاومت وکړ د ډزو امر ورکړم، پولیس باید د مقاومت کوونکو پښې په نښنه کړي... خو ما دا کار ونکړ او د دې په ځای مي ستا پلار راوغوښت او هغه ته مي وویل چي یا به حکمتیار تسلیمېږي او یا به ته زندان ته درومي، دا ده قضیه په ښه شان حل شوه!! ما د محاصری په هغه سخت حالت کي خپلي آزمویني پای ته ورسولې. پدې دوران کي مي استخاره وکړه چي آیا ځان تسلیم کړم که مخفی شم او لدې نه وروسته د مخفیانه او ځمکي لاندې مبارزې لار غوره کړم. د استخاری نتیجه دا وه چي محبس به ما ته مدرسه شي. دولت زما کورنۍ ترفشار لاندې نیولې وه، زما محترم پلار ئې له امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب نه کابل ته راغوښتی وو، هغه ئې لیلیی ته راولېږو، له مانه ئې وغوښتل چي پولیس ته تسلیم شم. د ده په وینا مي له ورونو نه رخصت واخیست، له لیلیی راکوز شوم او د پولیسانو له راغلي ډلگی سره په جیپانو کي د ولایت په لور وخوځېدو. د امنیی له قومندان سره له لیدو وروسته ئې د اطفایې یوه اطاق ته بوتلم، زما نور ملگری ئې هم یو په بل پسې همالته راوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د توقیف شپې ورځې

دولت زموږ لاندې ۹ کسان بندیان کړل، چې پنځه د کابل ولایت په توقیف خانه کې او څلور په اطفائیه کې ساتل کېدل:

ډاکتر محمد عمر، سیف الدین نصرتیار، انجنیر حبیب الرحمن او زه (حکمتیار) په اطفائیه کې او مولوي سلطان جان د لوګر اوسېدونکی او په کابل کې د یوه جامع مسجد امام چې د کمونستانو د اقتدار په وخت کې په شهادت ورسېدو، استاذ نذیر د لغمان اوسېدونکی چې د کمونستانو په لاس شهید شو، احمد شاه د پنجشیر اوسېدونکی د مولوي صاحب مولاداد زوی چې دی، پلار او څلور ورونه ئې د کمونستانو په لاس په شهادت ورسېدل، محمد طیب فرقانیار د کندهار اوسېدونکی چې د شعله یانو سره په نښتې کې ټپی شو او شریف الله د تخار اوسېدونکی او د ثانوي تخنیك متعلم د کابل ولایت په توقیف خانه کې ځای په ځای شول.

انجنیر حبیب الرحمن او سیف الدین نصرتیار په نښتې کې د نه موجودیت په وجه پس له شپږو میاشتو خوشي شول، نور په لومړۍ محکمه کې په څلور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونیم کال او په وروستیو کې په یوه او یونیم کال بند محکوم شوو. د شعله یانو پنځه عادي کسان څو ورځې په توقیف کې پاتې او ژر خوشي شول.

موږ د محکمې له وروستۍ پرېکړې نه وروسته د دهمزنگ قلعه جدید ته انتقال شوو، د بند پاتې موده مو د قلعه جدید په تیارو او له خسکو"کټ ملو" نه ډکو خونو کې تېره کړه.

د بند د اوږدې مودې څو په زړه پوري خبري د یادوني وړ دي:

- زما لپاره محبس په رښتیا یوه مدرسه وه. ما په محبس کي دا فرصت تر لاسه کړ چې د آفاقی مطالعی ترڅنگ د قرآن تفسیر او د احادیثو کتابونه ولولم او د قرآن حفظ پیل کړم "چې الحمدلله تر اوسه توانېدلي یم د قرآن دوه ثلثه حفظ کړم"، زندان د مبارزینو په روحي او معنوي روزني کي ډېر بنیادي اغیز لري. ډېر داسي څه په زندان کي زده کوي چي له زندان نه بهر په هیڅ ځای کي هغه نشي زده کولی. زه په هغه چا چې د مبارزې په لارکي ئې یو کال په زندان کي تېر کړی وي تر هغه چا زیات اعتماد کوم چې همدا کال ئې په تاوده سنگرکي تېرکړی وي.

- د توقیف او زندان په دوران کي کم له کمه پنځلس زره کسان زموږ لیدو ته راغلي. زه باور لرم چي د نهضت د پراخوالي په ارتباط چي زندان ته زموږ په تلو کوم کار شوی شاید له زندان نه بهر په دومره کار نه وی توانېدلي.

- دولت له موږ نه پرته یوازې یو سیاسي بندي درلود، وزیر عبدالرحیم زی چي د داؤد د صدارت په دوران کي د کودتا په اتهام نیول شوی وو، په خپله ئې نه غوښتل چي له محبس نه ووځي، زموږ خوا ته په یوه بېل ځای کي اوسېدو، ما ورته گڼ شمېر کتابونه ولېږل، هغه دا کتابونه په ډېر دقت سره مطالعه کړل، له موږ سره ئې د ملگرتیا ژمنه وکړه، د جهاد په دوران کي د ده کورنۍ له موږ سره ملگری شوه. کمونستانو هیڅ سیاسي بندي نه درلود، دې خبري په خلکو کي د دوی په نسبت شکوك او شبهات زیاتول او په موږ د هغو کسانو د اعتماد لامل وو چي په حاکم نظام معترض وو، تبدیلي ئې غوښتله او د انقلابي مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت ئې احساساوو.

زه په ډېر ډاډ او اطمینان سره ویلی شم چې له اسلامي نهضت سره د ځوانانو د لوی شمېر د یوځای کېدو یوه لویه وجه همدا زندان ته زموږ تگ وو. یوه نتیجه ئې هلته ځرگنده شوه چې د محصلینو د اتحادیې درېیم انتخابات ترسره شول او موږ پدې انتخاباتو کې دوه ثلثه څوکۍ ترلاسه کړې.

زه ټولو مسلمانو مبارزینو ته توصیه کوم چې زندان ته له تلو مه وېرېږي، برعکس په ځینو شرایطو کې دا کار یو ضرورت وگڼئ، د ابراهیم علیه السلام، یوسف علیه السلام او د عیسی علیه السلام سنت ئې وشمېرئ.

• یو مازدیگر د کنړ د پاچایانو یو کس، اطفائیي ته زموږ د لیدو لپاره راغی، رالېږل شوی وو، موږ ورسره مخکنی معرفت نه درلود. له ناستي سره سم ئې د ظاهر خان ستاینه پیل کړه. د پاچایانو له دود دستور سره سم ئې د ظاهرخان د کراماتو خبره کوله او ویل ئې: یو ځلي زه ورسره ښکار ته تللی وم، داسي ځای ته ورسېدو چې ځمکه ډېره ښوینده وه، شین چمن چې د پرخې په وجه لوند شوی وو، څو گامه مسلسل ورباندي نشو تلی، موږ ټول یو په بل پسې پس له هر څو گامه شوېدو خو پاچا "ستوری دي لوړ وي" تر پایه ونښوېدو!! ما ورته وویل: د خپلو مناسبو بوټونو په وجه؟! هغه وویل: نه، دا د ده د کرامت نښه وه!! ما ورته وویل: وایي چې خواجه غلطان ولې ئې هم نشي رغړولی!! هغه سر وخوځاوو چې هو!! پوښتنه مي وکړه: آیا عمل ممل هم لري که نه؟! هغه په ځواب کې راته وویل: هو، کله کله سگریټي وهی "سگریټي هغه سگریټ ته ویل کېدل چې تنباکو به ئې ترې وایستل، چرس به ئې ورسره گډ کړل او بېرته به ئې په هغه کې واچول او سر به ئې راتاو کړ، بیا به ئې اورلگیت ورته ونیو او د سگریټ په څېر به ئې څکاوو. له ځان سره مي ویل: دا ئې زموږ د هېواد پادشاه او دا ئې هم د ده بې عقله درباریان!!

• د توقیف په همدې مودې کې مي یوه شپه خوب ولید چې زما مشر ورور اختر محمد، په توقیف کې زموږ اطاق ته د لیدو لپاره راغی، د روغبړ نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه کټ کښېنستو، د سرو زرو گوتي ئې چې د فیروزی غمی پکي لگېدلی وو په گوته وه، د څو دقیقو خبروآترو نه وروسته ئې دا گوتي راوایستله او ماته ئې راکړه، د خدای په اماني په وخت کي ئې جیب ته لاس کړ او درې د سلو افغانیو نوټونه ئې راوایستل او ماته ئې راکړل. د هغې شپې په سبا، زما همدا مشر ورور ناڅاپی او پرته لدې چې کابل ته د ده له راتگ نه خبر وم، زموږ لیدو ته راغی، پولیسو هماغه اطاق ته راووست، په هماغه کټ کښېنستو، هماغه گوتي ئې په گوته، له څو شېبو خبرو آترو نه وروسته ئې خپله گوتي راوایستله او ماته ئې راکړه، د تلو په وخت کي ئې جیب ته لاس کړ او هماغه درې نوټونه ئې راوایستل او ماته ئې راکړل. ما تر لاس ونیو او ورته ومې ویل: په خدای قسم چې ستا دغه راتگ او د هغه ټولي صحنې مي تېره شپه په خوب کي لیدلې، دې ته منتظر وم چې دا آخری برخه ئې هم وگورم او بیا ئې تا ته ووایم.

زه د داسي خوبونو پراخه تجربه لرم، همدغو تجربو دې نتیجې ته رسولی یم چې باور وکړم د انسان د روحی جوړښت او یا د دماغ هغه برخي چې په وینښه کي د زمان او مکان له قید نه وځي، وړاندوینه کوي، ابتکار کوي، د راتلونکې په هکله حدس وهی او ډېر ځله ئې حدسونه دقیق او صحیح ثابتېږي، له مقدماتو نه نتائجو ته ځان رسوي او د پېښو پیلامې په گوته کوي، دا برخي د "خوب" په حالت کي هم فعاله وي. داسي نده چې د خوب په حالت کي د انسان د روحی جوړښت ټولي حساسی برخي خپل فعالیت متوقف کوي. په خوب کي د دماغ ځیني برخي له فعالیت نه لاس واخلي، ځیني نیمه فعاله شي، ځیني د انتظار حالت غوره کړي، خو ځیني نوری برخي ئې داسي دي چې د خوب حالت هغوی ته د لا ښه فعالیت کولو موقع په لاس ورکړي. د خوب په حالت کي د انسان دماغ د ورځنیو پراخو مصروفیتونو نه فارغ وي، د ده پنځگوني حواس چې هریو ئې د ورځي له لوري پراخ فعالیتونه لري او د دماغ لویه برخه مصروفوي، د خوب په وخت کي خپل کار متوقف کړي، دماغ آرام پرېږدي او هغه ته دا موقع ورکړي چې په پوره انهماک سره په هغو قضایاوو غور وکړي چې ده ته مهمي برېښی، هغه چې د ورځي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري، د پراخو مصروفیتونو په وجه نه توانېدو وربانديي غور وکړي. دا داسي وګڼئ لکه متفکر، عالم، شاعر، لیکوال چي د یوې مهمي څېړني، لیکني او شعر لپاره له خلکو ګوښه شي او ځانته د ښه فکر کولو او په خپل کار د ښه ترکیز لپاره مناسب شرایط برابر کړي. خوب همدا شرایط د دماغ لپاره برابروي.

انسان د خپل پیچلي دماغ د پراخو فعالیتونو یوه وړوکې برخه په خپل واک کي لري، داسي چي د ده له ارادې سره سم کار کوي، دا برخه په خوب کي خپل فعالیت متوقف کړي، خو د دماغ هغه لویه برخه چي د انسان تر واك لاندې عمل نکوي بلکي خپلواکه ده او خپل ټول فعالیتونه په اتوماتیکه توګه ترسره کوي، دا برخه تل فعاله وي او د یوې شپې لپاره خپل فعالیت نه متوقف کوي. د خوب په حالت کي د انسان د دماغ دا برخه د لا ښه فعالیت فرصت ترلاسه کوي. که انسان په ویښه کي وړاندوینه کولی شي، د راتلونکې په هکله حدس وهی، اختراعات کوي، نوي نوي ابتکارات کوي، څو مقدماتي خبري د یوې بلي خواته کیږدي او له همدې نه د راتلونکو نتائجو په هکله قضاوت کوي. هیڅ دلیل نلرو چي همدا کار دي د خوب په حالت کي ونشي کولی، د اکثرو انسانانو ذاتی تجربو دا خبره ثابته کړې.

په خوب کي د مثلثاتو د هغه پیچلي سؤال حل کول او زندان ته زما د شهید ورور اختر محمد د راتګ هغه صحنې چي ما تېره شپه په خوب کي لیدلې وې، کم له کمه زما لپاره کفایت کوي.

دا غوره ګڼم چي دلته دوه نوري بېلګي هم وړاندي کړم:

- تل پدې تشویش کي وم چي په هېواد کي د یوې ژوري اجتماعي تبدیلي راوستلو لپاره شاید مسلحانه مبارزې ته اړشو، که لداسي حالت سره مخامخ شوو چي نوری لاري زموږ په مخ بندي شي او مسلحانه مبارزې ته مجبور شو، د مسلح ټولګیو د تجهیز او اکمال مشکل به څنګه او له کومي لاري حل کوو؟! په پردیو پوري تړلي ډلي خو د اکمالاتو لپاره بهرنی منابع لري، اما موږ چي اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انقلاب غواړو او په ټولي نړۍ کي داسي اسلامي هېواد نه ګورو چي له مسلمانو انقلابیونو سره مرستي ته چمتو وي، دا مشکل به څنګه حل کوو؟ په توقیف کي مي یوه شپه په همدې هکله استخاره وکړه، په خوب کي ګورم چي زه له خپلو ګڼ شمېر مسلح ملګرو سره د یوه جګ غره په اړخ کي روان یو، د ټولو په لاسونو کي مشین ګنې، غر د سینځلو په ونو پوښل شوی، میوې ئې پخې او نیم خامي، له ځان سره وایم: دا دی هم مو د وسلې ستونزه حل شوې او هم د غلې، ټول غر له میوې ډك، داسي میوه چي هم نن ترې استفاده کولی شو او هم ئې سبا ته ذخیره کولی شو، سحر چي له خوبه راویښ شوم او له نمانځه نه وروسته مي د قرآن تلاوت کولو، د عنکبوت د سورې لدې آیت سره مخامخ شوم:

وَ كَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لا تحمِلُ رِزقَهَا اللَّهُ يَرزُقُهَا وَ إِيَّاكُمْ وَ هُوَ السمِيعُ الَعَلِيمُ* العنکبوت: ٢٠

او څومره ډېر خزندګان چي خپل رزق په شا نه وړي، خدای ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم او هغه اورېدونکی پوه ذات دی.

د همدې آیت په تفسیرکي د پیغمبر علیه السلام هغه حدیث مخي ته راغی چي فرمایي:

خدای له دریو کسانو سره مرسته په خپله ذمه اخیستی:

- هغه ځوان چي د عفاف لپاره د نکاح اراده کوي.
- هغه مریی چي د آزادۍ لپاره له خپل آقا سره مکاتبه کوي.
- او هغه مجاهد چي د الله په لاره کي د جهاد لپاره ملا تړي.

له دې ورځي نه وروسته ما تل داسي ګمان کاوو چي موږ به حتماً په مسلحانه مبارزې آزمویل کیږو، غرونو ته به پورته کیږو او الله (ج) به زموږ د وسلې او غلې ستونزه په خپله حل کوي. د خوب هغه صحنه مو په وینښه په خپل ژوند کي ولیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• د همدې توقيف په دوران کې مې يو ځل بيا پدې هکله استخاره وکړه چې د هېواد راتلونکې به څنګه وي؟ د روسانو پراخو لاس وهنو، په افغاني فوځ کې د دوی ژور نفوذ، د کمونستانو هڅو او د شاهي نظام فساد مشوش کړی وم، راتلونکې راته تياره بريښېده، غوښتل مې پدې پوه شم چې زموږ هېواد په کوم لوري روان دی او له کومو پېښو سره به مخامخ کيږو؟! خوب مې وليدو چې شاهي رژيم نسکور شوی، ګڼ شمېر حکومتونه يو په بل پسې راغلي او نسکور شوي، دغو حکومتونو روسانو ته د هند تر سمندر پوري د رسېدو لار ورکړې اوس قدرت د مسلمانانو په لاس کې دی. د ايران له لوري زموږ په هېواد بريد شوی، فوځونه ئې مخکې راروان دي، ځيني برخې ئې نيولې او په همدې نيول شويو برخو کې پښتونستانيان ځای په ځای کوي، زه د هغې لارې په سر ودريږم چې تېرو حکومتونو د روسانو لپاره پرانستلې وه. د سړك يوې بلې خوا ته وګورم او خپلو ملګروته ووايم: تېرو خائنو حکومتونو، روسانو ته دا لار جوړه کړه!! په نيول شويو سيموکې چې کوم کسان ځای په ځای کېدل لدوی نه مې ځيني پېژندل، هغوی ته ورغلم چې پوښتنه ترې وکړم، لدوی سره په خبرو آترو مصروف وم چې ايراني فوځونه له موږ نه تېر شول، زه په نيول شوې خوا کې پاتې شوم او ملګری مې بلې خوا ته. زه د ايراني فوځ له ليکې نه د هېواد په لور راتېر شوم چې ناڅاپې يوه ايراني افسر راباندې ډزی وکړې، زه ودرېدم، هغه مې په نښه کړ، ډزی مې ورباندې وکړې، ولګېدو، په ځمکه پرېووت، ورغلم او د ده توپك او تمانچه مې راواخيسته او د خپلو ملګرو په لور وخوځېدم. دوی د يوه پاخه کاريز د خولې شا او خوا ولاړ ول، له ما نه ئې تپوس وکړ چې څه وکړو؟ په ځواب کې مې ورته وويل: په همدې کاريز کې سنګر نيسو، پرېږدو چې دښمن وړاندې راشي، چې کله دې سيمې ته راورسېدل له کاريز نه راوځو او تر ډزو لاندې ئې نيسو، دوی دا رأی ومنله او په همدې سره له خوبه راويښ شوم.

د دې خوب ډېری برخې رښتونې شوې، وبه ګورو چې د نورو برخو تعبير ئې څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



• مور له شپږو مياشتو وروسته، له اطفائيې نه د دهمزنګ زندان ته انتقال او د "قلعه جديد" په هغه بلاك كې ځاى په ځاى شوو چې معمولاً به ئې خطرناك كسان په بېلو بېلو وړو وړو خونو كې د ترلو دروازو شاته ساتل. د همدې برخې د تور دهليز په پاى كې يو كس په زنځيرونو ترل شوى، په لاس پښو كې ئې ولچك او زولانه وه او ويل كېدل چې ليونى دى. خوني له خسكو نه هومره ډكي وې چې نه ئې د شپې خوب ته پرېښودولو او نه د ورځې. ځيني زندانيان به مو ليدل چې ګهيځ وختى به ئې د زندان دننه كارځى ته بيول، لس ساعته به ئې په هغوى كار كاوو او مازديګر به د هر يوه په لاس كې د سيلو وچه مړى، خپلو خونو ته راګرځېدل، همدا د دوى اجوره او مزد وو او په همدې سره به هغوى ګوزاره كوله. دولت له زندانيانو سره هيڅ مرسته نكوله، كه چا كار نشوكولى او له خپلې كورنۍ نه ئې څه مرسته نه ترلاسه كوله، هغه به سؤال كولو ته اړ وو. په ياد مې ده چې يو وخت به ئې داسې زندانيان د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو كې بازار ته ايستل، پوليسان به ورسره وو، په لاس، پښو او غاړو كې ئې ځينځيرونه، په دكانونو به ئې ګرځول، ترڅو له خلكو په سؤال څه ترلاسه كړي او پدې سره له مرګ نه وژغورل شي. دا صحنه به هومره دردونكې وه چې هيڅ ليدونكي هغه د ژوند تر پايه نشوى هيرولى.

• په زندان كې مو ځينې داسې كسان هم وليدل چې د ټولنې خرابو شرائطو جنايت او جرم ته اړ كړي او له سالمې روزنې نه محروم پاتې شوي وو. داسې څوك ئې نه وو موندلى چې دوى ته سمه لار وښيي، ګناه ترې شوې، خو يا په ناپوهۍ كې او يا اوس نادم وو او د جبران په لټه كې. بسم الله كوچي د ننګرهار اوسېدونكي چې د سيمې خلكو هغه د يوې خطرناكې مسلح ډلې د مشر په نامه پيژاندو او د مسلح شوكو په اتهام نيول شوى وو او ټيپر د لوګر اوسېدونكى چې د سيمې لوى ووړ د ده له نامه سره آشنا وو، د همدې كسانو له جملې نه وو. پداسې كسانو موكار پيل كړ. د دوى روزنې ته مو خاصه پاملرنه درلوده، دواړو په اخلاص تعهد وكړ او د دې پرېكړه ئې وكړه چې خپله سابقه به جبرانوي. ټيپر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سواد نه درلود، له الف ب نه ئې کار پیل کړ، څو میاشتې وروسته ئې ټول قرآن ختم کړ، له زندان نه آزاد شو، په جهاد کې ئې برخه واخیسته او ټپی شو. بسم الله کوچې هم له زندان نه آزاد شو، په جهاد کې ئې برخه واخیسته او په سنګر کې په شهادت ورسېدو.

- اکثراً به له فجر نه د مخه د کلا د منځنۍ برخې په غولې کې ګرځېدم او د قرآن په حفظ به لګیا وم. یوه زندانې د غولې لورې ته د یوې وړې کړکۍ خوا ته د دوو مرغیو قفس ځوړند کړی وو. هر سهار به مې لیدل چې د سباوون له راختو سره سم به لومړی یوه مرغۍ راویښه شوه، په خپلو وزرونو به ئې بله وهله او هغه به ئې هم راویښه کړه او بیا به دواړو په ډېر خوندور او خوږ غږ ناری پیل کړې او تر هغه به لګیا وې چې د لمر لومړۍ وړانګې به راښکاره شوې. دوی په ډېر منظم طور، د یوې د قیقې وروسته مخکې کېدو نه پرته، هر سحر همدا کارکولو، د ورځو لنډېدو او اوږدېدو سره به دوی خپل ځان عیاراوو. او همداسې د فجر له لومړۍ رڼا نه بیا د لمر د لومړیو وړانګو تر ځرګندېدو به هره ورځ په همدې کار لګیا وې. د دوی منظم ژوند او له یوه بل سره مینې ته سخت حیران وم او خاص لذت مې ترې اخیست، شاید همدا وجه وه چې کله له زندان نه ووتم، یوه ورځ له ځینو ورونو سره د کابل باغ وحش هغې برخې ته ورغلو چې واړه مرغان پکې ساتل شوي وو، د دوی له ښایست، لطافت، له یوه بل سره مینې، الوتنې، ناستې پاستې هومره متأثره کړم چې بې اختیاره مې اوښکې په مخ وبهېدې.

- په همداسې یوه سباوون کې چې په هغه غولې کې ګرځېدم او د قفس هغو دوو وړو آشنایانو تماشا مې کوله او د دوی له ښایسته او خوندور غږ سره مې خپل تلاوت هم یوځای کاوو، ناڅاپه د محبس له دیوار نه آخوا د کلشنکوفونو مسلسلې ډزې پیل شوې، ډزې زیاتې او موږ ته نږدې وې. ټول بندیان را ویښ شول او له یوه بل نه ئې د ډزو په هکله تپوس کاوو. هیڅوك نه پوهېدو چې څه روان دي او ډزې د څه لپاره. دا د سرطان ۲۲ تیاره سباوون وو، په کابل کې کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وه، ظاهرخان له هېواد نه بهر وو، کودتاچیانو ټول حساس ځایونه نیولي وو، له هیڅ مقاومت سره نه وو مخامخ شوي، هیچا له منحط شاهي نظام نه د دفاع په خاطر یوه شېبه مقاومت ونکړ او د خپل توپك ماشې ته ئې لاس نکړ. د توری شپې سپینه کودتا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سردار داؤد کودتا

د سرطان د ۲۲ شپې په یوې نیمې بجې، کودتاچیانو خپل عملیات پیل کړل، د زرهدارو ۱۵ او ۴ فرقو او د گارد، کوماندو او انضباط قطعاتو پدې عملیاتو کې محوری ونډه درلوده. په کودتا کې د برخې اخیستونکو قطعاتو سوق او اداره د لاندې افسرانو په لاس کې وه:

۱ـ حبیب الله د گارد د قطعې افسر چې د کودتا په ورځ ئې ټانك له لارې منحرف شو او د کابل په سیند کې پرېووت او په قتل ورسېدو.

۲ـ ضیاء مجید د سردار ولي محافظ او د انضباط د قطعې افسر چې د نوموړې قطعې اداره ئې په لاس کې وه.

۳ـ فیض محمد د کوماندو د قطعې افسر چې د کودتا په شپه ئې د دې قطعې اداره ترلاسه کړه.

۴ـ سرور نورستاني، مولی داد، محمد یوسف او شیرعلي خان د زرهدار د قطعاتو افسران چې ټانکونه ئې د کابل په لورې وخوځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵.** پاچا گل وفادار او عبدالحمید محتاط د هوایي قطعاتو د سوق او اداري وظیفه په غاړه درلوده.

**۶.** سید عبدالاله، عبدالقدیر او غوث الدین فایق چي له ځینو قطعاتو سره ئې د ارتباط دنده په غاړه وه.

د کودتا قومنده د سردار داؤد په لاس کي وه، د قومندي مرکز د ده کور وو، په یوې نیمي بجې ده د مخابرې له لاري قطعاتو ته د عملیاتو د شروع کولو قومنده ورکړه. ظاهر خان د سترګي د تداوي لپاره اروپا ته تللی وو. سردار ولي چي د شاه په غیاب کي د فوځ سوق او اداراه د ده په اختیار کي وه او د کوماندو او انضباط دوه مهمي قطعې مستقیماً د ده تر واك لاندې وې، تر دوو بجو په خپل کور کي ونیولی شو. شهزاده احمدشاه هم له خپل کور نه او مارشال شاه ولي خان له پغمان نه ونیول شول او د عبدالقدیر کور ته انتقال او همالته تر نظارت لاندې وساتلی شول. نور نو نه په ټول هېواد کي داسي څوك وو چي له شاهي رژیم نه دفاع وکړي او نه دا سی عسکري قطعه وه چي د کودتاچیانو مخي ته راووځي. د سحر تر شپږو بجو کودتاچیان په ټول کابل مسلط شوي وو. په ۷ بجو سردار داؤد له خپل کور نه کابل راډیو ته ولاړ او خپله لنډه وینا ئې واوروله او ولس ته ئې د جمهوری نظام زیری ورکړ، هغه جمهوری نظام چي د کودتا له لاري مسلط شوی، هغه هم د شاهي کورنۍ د یوه مستبد غړي په لاس چي پدې نظام کي لس کاله صدراعظم وو او کلونه کلونه ئې د دفاع د وزارت دنده هم په غاړه وه، د پاچا د تره زوی وو او له وروستۍ لسیزې نه پرته د پاچا د اقتدار په ټول دوران کي د هېواد واګی د ده په اختیار کي وې. داسي جمهوریت چي نه په هغه کي انتخابات شته، نه منتخب جمهور رئیس، نه منتخب پارلمان، نه سیاسي احزاب، نه د قلم او وینا آزادي او آزاد مطبوعات!!!

مونږ د دهمزنګ د محبس په هغې توری خونیکي د سردار داؤد د کودتا د بري خبر او د سردار داؤد لومړۍ وینا واورېده. ما ته تر هغه وخته د ژوند تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخه او غمناکه خبره همدا وه. که له زندان نه بهر مي دا خبر اورېدلي وی شاید هومره را باندي سخته نه وی تمامه شوي. زموږ د شدید تشویش وجوهات دا وو.

• موږ تل سردار داؤد په هېواد کي د کمونیزم باني او حامي ګڼلو او په خپلو تظاهراتو او اجتماعاتو کي به مو د ده په خلاف د کمونستي ډلو د مؤسس په نامه شعارونه ورکول.

• ده په خپلي لومړۍ وینا کي په ډېر صراحت سره وویل چي د اقدام اصلي لامل ئې دا وو چي پدې وروستیو کي مترقي ځواکونه د ارتجاعی ځواکونو تر بریدونو لاندي وو، د ځوانانو د مصئونیت او د ارتجاعی ځواکونو د ودي د مخنیوی لپاره باید دا اقدام ترسره شوی وی. موږ ته د ده د دې پیغام معنا څرګنده وه، موږ پدې وینا کي د اسلامي نهضت لپاره د بربنډ ګوابن نښې له ورایه لیدلې.

• د ده په کودتا کي د برخي اخیستونکو افسرانو **٩۵%** هغه کسان وو چي یا د خلق او پرچم غړي وو، یا په روسیه کي تربیه شوي وو او یا د کمونستي افکارو تر تأثیر لاندي تللي وو او له کمونستانو سره ئې ملګرتیا وه . پدغي کودتا کي چي کومو څېرو برخه درلوده، ځینو د ثور د اوومي په کودتا کي برخه واخیسته او ځینو په یوې او بلیمرحلې کې، په یوه او بل شکل د کمونستانو مرسته کړې.

• له کودتا نه د مخه موږ ته د هېواد د سیاسي جریاناتو وضعیت داسي معلومېدو چي روسان به حتماً په کوم اقدام لاس پوري کوي. د اسلامي نهضت چټکي او پراخې ودي، په ټولو علمي مؤسساتو د دې نهضت تسلط، د افغاني ټولني د ځوان نسل او د منورینو لوی شمېر له هغه سره یو ځای کېدل، د کمونستي ډلو په شاتګ، ضعف او تیاری راتلونکې دوی وېرول او د دې بهیر توقف او د افغانستان په حالاتو کي د یوې داسي تبدیلي راوستلو ته ئې هڅول چي له یوې خوا د اسلامي نهضت د مزید تقویې او پراخوالي مخه ونیسي او له بلي خوا د کمونستانو د زوال مخنیوی وکړي او پدې ترتیب خپلي ګټې پدې منطقې کي خوندي وساتي. له روسانو نه پرته بل داسي ځواك په نظر نه راتلو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې شرایطو کې دې په افغانستان کې د یوه سیاسي تحول ضرورت احساس کړي او د عسکري کودتا توان دې ولري.

• د کودتاچیانو د نومونو له مزید څرګندېدو او د مرکزي کمیټې د غړو او د کابینې له اعلان سره زمونږ تشویش لا زیات شو، دې نتیجې ته ورسېدو چې دا د روسانو په اشاره او د کمونستو افسرانو په لاس ترسره شوې کودتا ده، د اسلامي نهضت د ټکولو دنده په غاړه لري، د کمونستانو کاملې سلطې لپاره به لار آواروي او زمونږ هېواد به د مرکزي آسیا د نیول شویو هېوادو له برخلیك سره مخامخ کوي.

• ولس ته د خطاب ترنامه لاندې چې سردار داؤد کومه راډیوئی وینا درلوده، د هېواد د هغه وخت د سیاسي فرهنګ په اصطلاحاتو پوه کسانو دا وینا د ببرك کارمل د ویناګانو کاپی وګڼله، محتوی او الفاظ ئې داسې وو چې هر چا ګمان کولو چې دا وینا یا کارمل لیکلې او یا د ده له لیکنو نه کاپي شوې.

• روسیه او هند دوه هغه هېوادونه وو چې د داؤد جمهوریت ئې تر نورو د مخه په رسمیت وپېژاندو. د روسیې او هند مطبوعاتو سردار داؤد د افغانستان د مترقي نهضت "کمونستي بهیر " مؤسس او باني ګاڼو او د ده کلکه ستاینه ئې کوله.

• ګمان مو دا وو چې د سردار داؤد په لاس به نه یوازې د کمونیزم مخالف ځواکونه ټکول کېږي بلکې زمونږ هېواد به له پاکستان سره په جګړې کې ښکیل کېږي او پدې ترتیب به افغانستان د روسانو په نظامي اډې بدلېږي.

• د سردار داؤد د کابینې جوړښت داسې وو:

۱ـ سردار داؤد، جمهور رئیس، صدراعظم، د خارجه چارو وزیر او د دفاع وزیر.

۲ـ حسن شرق د صدراعظم معاون.

۳ـ ډاکتر عبدالمجید د عدلیې وزیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. عبدالاله د مالیی وزیر.

۵. فیض محمد د کورنیو چارو وزیر.

۶. پاچاګل وفادار د سرحداتو وزیر.

۷. ډاکتر نظرمحمد سکندر د صحت عامې وزیر.

۸. پوهاند عبدالقیوم وردك د صنایعو وزیر.

۹. نعمت الله پژواك د معارف وزیر.

۱۰. جیلاني باختری د زراعت وزیر.

۱۱. د پلان او تجارت وزارتونو چاري د همدې وزارتونو مخکنیو معاونینو ته وسپارل شوي.

پداسي حال کي چي سردار داؤد کوشش کاوو د کمونستانو له پېژندل شویو کسانو نه زیات شمېر په کابینه کي و نه نیسي تر څو د کمونستانو په ملګرتیا متهم نشي، سره لدې د ده د کابینې له غړو لاندې کسان د کمونستي ډلو ملګری وو.

۱. فیض محمد چي د خلق ډلي غړی وو، په روسیی کي ئې تحصیلات کړي وو، د کمونستانو په دوهمي کودتا کي ئې برخه واخیسته او په ځدرانو کي د یوه مجاهد په لاس هله په قتل ورسېدو چي د دولت له لوري سیمي ته لېږل شوی وو، د خپلي درې مشران ئې له خلقی دولت سره ملګرتیا ته چمتو کول او هغوی ته ئې له ځان سره ۲۸۰۰۰ ډالر وړي وو.

۲. عبدالحمید محتاط چي د کمونستانو د اقتدار په وخت کي تر پایه د دوی په څنګ کي وو، د دوی مرسته ئې کوله او په پای کي ئې د کمونستانو او مسعود ترمنځ د رابط وظیفه تر سره کړه.

۳. حسن شرق چي د نجیب په وخت کي د صدراعظم په حیث و ټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. پژواك چي تر پايه ئې د کمونستانو ملګرتيا وکړه.

۵. پاچا ګل وفادار چي تحصيلات ئې په روسيه کي ترسره کړي او همالته ئې واده کړی وو او خلقيانو هغه خپل غړی ګاڼو.

۶. غوث الدين فايق چي تر پايه د کمونستانو په څنګ کي پاتې شو.

په لاندې سطح کي د دولت ټول حساس پستونه د کمونستانو په لاس کي پرېوتل. د کورنيو چارو وزارت د دوی په اصلي اډې بدل شو. هغوی د فوځ په بېلا بېلو برخو خپلي منګولي داسي ټينګي کړې چي د خپلي دوهمي کودتا لپاره ئې لار اواره کړه.

ځيني حلقی داسي فکر کوي چي د سرطان د ۲۶ کودتا د سردار داؤد د ځان غوښتني او قدرت ته د رسېدو له تلوسی راولاړه شوې، ده له کمونستانو سره د ملګرتيا له لاري غوښتل قدرت ته ورسېږي، بل داسي ځواك ئې نه ليدو چي د هغوی په مرسته دا کودتا ترسره کړي. خو حقيقت دا دی چي د دغي کودتا پلان په مسکو کي جوړ شوی، د عملي کولو دنده ئې په کابل کي د روسيی سفارت ته سپارل شوې وه. د روسيی سفارت، هغه افسران چي په مسکو کي روزل شوي او د کمونست حزب غړي وو، مؤظف کړل چي د سردار داؤد تر قيادت لاندې کودتا کي برخي اخيستو ته ملا وتړي. په کابل کي د روسيی سفارت ته همدا راز دنده هغه وخت يو ځل بيا وسپارل شوه چي مسکو د سردار داؤد د لري کولو فيصله وکړه، دا ځل ئې وغوښتل چي حسن شرق د داؤد په خلاف يوې کودتا ته چمتو کړي. حسن شرق پدې هکله ليکي. "د ۱۳۵۴ کال د حوت په مياشت کي د شوروي اتحاد سفير جلالتمآب پوزانف، د صدارت په ماڼۍ کې، پداسي حال کي چي ښاغلي ايرشف د سفارت مستشار هم د ترجمانۍ لپاره د ده ملګرتيا کوله، ما ته وړانديز وکړ چي: د فوځ ځيني افسران او سياسي شخصيتونه چي زموږ د هېوادونو ترمنځ د ښو علايقو سره خاصه علاقه لري، که تاسو تمايل لرئ د شوروي اتحاد سفارت حاضر دي دا کسان تاسو ته معرفي کړي، ترڅو ستاسو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوری سره سم مبارزه وکړي... کرباس پوش ها... ۱۳۹ مخ"

همدغه سفارت سردار داؤد ته هم دا خبره کړې وه او هغه ئې یوې داسي کودتا ته چمتو کړی وو چي همدغو افسرانو او سیاسي شخصیتونو ترسره کړه.

روسانو د افغانستان اجتماعي جوړښت داسي ګاڼو چي کمونستان ئې د یوې لویې تبدیلي لپاره جوګه نه ګڼل. د دوی مجموعی شمېر ډېر محدود ورته برېښېدو. پدې موقعیت کي نه وو چي په یوازې سر نظام رانسکور او قدرت تر لاسه کړي او پدې هېواد حکومت وکړي شي. دوی سردار داؤد د دې لپاره انتخاب کړ چي هغه د شاهي کورنۍ غړی دی، افغان ولس به د ده په لاس تبدیلي د شاهي کورنۍ د داخلي منازعې نتیجه ګڼي او خاص عکس العمل او حساسیت به نه ښيي. د سردار داؤد په لاس باید مقدماتې کار ترسره شي او د کمونستانو د دوهمي کودتا لپاره لار آواره شي. پدې وخت کي د کمونستانو مجموعی شمېر په فوځ او له فوځ نه بهر تقریباً ۳۰۰۰ کسانو ته رسېدو، دې وړوکي ټولګي په افغانستان د حکومت کولو توان نه درلود. روسانو حتی د داؤد د راپرځولو لپاره هم کمونست حزب پداسي موقعیت کي نه ګاڼو چي یوازې اقدام وکړي او په برېنډه توګه په افغانستان حکومت وکړي که څه هم د سردار داؤد په راوستلو سره ئې د هېواد ټول ملکي او نظامي حساس پستونه ترلاسه کړي وو، د همدې لپاره ئې د حسن شرق په خبر یوکس د دې لپاره غوره ګاڼو چي د داؤد د راپرځولو لپاره د کمونستانو په مرسته کودتا وکړي. که څه هم کمونستانو د سردار داؤد تر سیوری لاندې خپل ګڼ شمېر مخالفین په ډېره بې رحمۍ وځپل، ځیني ئې اعدام کړل، ځیني ئې په اوږدو مودو بند محکوم کړل او ډېر نور ئې د هېواد پرېښودو ته اړ کړل.

## له شاهي کورنۍ سره څه وشول؟

د شاهي کورنۍ ټول غړي د څه مودې لپاره په کابل کي وساتل شول. سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤد ډېر احتیاط کاوو چې د ده انقلابي ملگری د شاهي کورنۍ غړي توهین او تحقیر نکړي او مخصوصاً سردارولي ته صدمه و نه رسوي. که څه هم سردار ولي د ده ترټولو ستر رقیب وو. ده له نورو مخالفینو سره هره معامله جائزه گڼله، د دوی اعدام، د اوږدې مودې لپاره بندي کول، ځورول، تحقیر، توهین او د شتمنیو مصادره، هرڅه ورته جائز بریښېدو خو له شاهي کورنۍ سره دا راز سلوك ئې نشو زغملي. ظاهر خان خپله استعفاء په لیکلې توگه را ولېږله، داؤد ته ئې د ورور خطاب وکړ او د ده د بریا هیله ئې څرگنده کړه، په مقابل کې سردار داؤد د ده کورنۍ ته له هېواد نه د وتلو اجازه ورکړه، د کابل تر هوایي ډگر پورې په ډېر اعزاز، احترام او احتیاط ورسول شوه، خو هلته د څارندوی د قومندان په امر د دوی ټول بکسونه او حتی جامې ولټول شول، گاڼې، پیسې او جواهرات ترې واخیستل شول. داؤد د کمونستانو له لورې داسې محاصره شوی وو چې حتی د خپلې کورنۍ غړي ئې هم لداسې توهین او تحقیر نه نشو ژغورلی.

داؤد خان د پاچا لپاره د میاشتې ۵۰۰۰ دالر معاش وټاکو. پدې هکله په مرکزي کمیټې کې د بحث په دوران کې، عبدالحمید محتاط وویل: که پاچا ښه سړی وي او د دومره معاش مستحق وي نو ښه ده چې بېرته راوغوښتل شي او که نه نو د هېواد پدې بد اقتصادي حالت کې هره میاشت ۵۰۰۰ دالر هغه ته لېږل نامناسب کار دی!! که څه هم دا مقدار مالي مرسته د افغانستان په څېر هېواد لپاره له توانه زیاته وه، خو د ظاهرخان لپاره ئې کفایت نه کاوو، د ده انتظار دا وو چې د سعودي پاچا به د ده ستونزه حل کړي، له ریاض نه ئې د کافی مرستې طمع درلوده، خو داسې ونشول. د سعودي حکومت د ده پوښتنه هم ونکړه، د ده هیڅ لیك ته ئې ځواب هم ونه وایو او څه خواخوږی ئې هم ونښوده. په مقابل کې د ایران پاچا په روم کې خپل سفیر ته وظیفه ورکړه چې د ظاهرشاه مصارف په غاړه واخلي.

میر اسدالله علم د رضاشاه د دربار وزیر په خپل کتاب "یادداشتهای علم"

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د هغه لیك متن نقل کړي چي په روم کي د ایران سفیر د دربار خدمت ته لیږلی:

سفارت شاهنشاهي ایران

بیست و سوم فروردین ماه ۱۳۵۳

سرور معظم قربان حضرتعالي گردم

پس از تقدیم عرض احترام مراتب زیر را به طور مختصر به استحضار می‌رساند.

مطالبی را که طی نا مه اخیر مرقوم فرموده بودید به استحضارشان رسانیدم. عنایت مخصوص همایوني در مورد تهیه منزل، مژده سلامت سردار عبدالولي، اشتغال والاحضرت شاه محمود در ایران ایر "شرکت هواپیمائی ایران" از مراحم اعلیحضرت همایوني شاهنشاه مدت نیم ساعت با قیافه بسیار حق شناس سپاسگزاری نمودند و والاحضرت بلقیس نیز از خوشحالی گریه کرد و خواست که مراتب تشکر و حق شناسی خود و دخترانش را به پیشگاه ملوکانه تقدیم دارم. والاحضرت بلقیس و شخص اعلیحضرت محمد ظاهرشاه از ویلائی که پیدا شده بازدید نموده اند. ویلائی است با ۵ اطاق خواب، ۲ سالن و ناهار خوري، سه طبقه که بیش از ۴۰۰ متر زیربنا دارد. آقای خسروی با توجه به محرمانه بودن امر و اینکه واقعاً مرد مطمئن و قابل اعتماد است مأمور انجام و تعقیب کار شده است. نقشه و مشخصات ساختمان را خواسته ام.

قیمت آن در حدود یك ملیون و دویست هزار تومان می‌شود که می‌گویند اکازیون است و شانس آنها بوده که درست مطابق احتیاجات و سلیقه شان می‌باشد. البته یکی دو نوع مالیات و تاکس و ۵ درصد حق آژانس نیز به آن تعلق می‌گیرد که قرار است با وکیل مذاکره و مشورت نمایند. البته مبلمان هم لازم دارد.

به دلائلی که مجدداً به تفصیل می‌گفتند از عدم توجه کشورهای مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخصوص ملك فيصل بسيار نگرانند و تقاضا داشتند درصورتیکه اراده مبارك ملوکانه تعلق گیرد ، اقدامی شود که دربار مغرب با ایشان در روم تماس بگیرد. جزئیات امر و نظریاتشان را هر موقع که سعادت شرفیابی دست داد به عرض می‌رسانم و نامه ام را به درازا نمی‌کشم.

از ایران ایر سؤال کردم هنوز دستوری برای استخدام شاه محمود نرسېده تحصیلات عالیه کمبریج دارد.

والاحضرت بلقیس تقاضای مقداری برنج و پسته ایراني دارد چنانچه ممکن باشد امر بفرمایند کار پردازی دربار به اسم سفارت ارسال دارند.

مشروب و سیگار و غیره(!!) به وسیله خسروی فرستادم. اعلیحضرت محمد ظاهرشاه شخصاً تلفن فرمود ، از عنایات شاهنشاه تشکر کرد.

معظم سرور! له حضرت عالي نه جار شم.

د درنښت له وړاندي کولو نه وروسته په لنډه توگه عرض کوم:

کوم څه چي تاسو په وروستی لیك کي لیکلي وو هغه مي وروړسول، د دوی په هکله د همايوني ذات خاص عنایت، د کور برابرول، د سردار ولي د روغوالي زیری او په ایران کي والاحضرت شاه محمود "د پاچا د زوی" د توظیف په وجه، تقریباً نیم ساعت د شاهنشاه له مراحمو او پیرزوینو نه ئې په حق پېژندونکې څېرې مننه کوله او د والاحضرت بلقیس "د سردار ولي ښځې" له ډېری خوشحالۍ د مننې اوښکي په مخ وبهېدې او دا ئې وغوښتل چي د دې او د لوڼو مننه ئې ملوکانه ذات ته وړاندي کړم. والاحضرت بلقیس او په خپله اعلیحضرت محمد ظاهرشاه هغه ویلایي کور ولیدو چي موږ ورته غوره کړی، پنځه د خوب خوني، ۲ د ناستي او ډوډی خوړلو سالونونه، درې پوړیزه کور چي په ۴۰۰ متره ځمکه باندي جوړ شوی. ښاغلی خسروی چي مطمئن سړی دی، مؤظف شوی چي دا کار په پوره محرمانه ډول ترسره کړي، د کور نقشه او مشخصات مي راغوښتی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمت ئې یو ملیون دوسوه زره تومانه کېږي، ویل کېږي چي داسي کور پدې بیه په نادره توگه ترلاسه کېدای شي، دوی ئې د خپلي سلیقی او احتیاج سره سم گنې. خو یوه دوه ډوله مالیه او ټکس او ۵% د نمایندگی کمیشن هم وربانديې اضافه کېږي. چي له وکیل سره به وربانديې خبري وشي. کور ضروري سامان ته هم اړ دی.

دوی"شاهي کورنۍ" د اسلامي هېوادونو مخصوصاً د ملك فیصل له عدم التفات او اعتناء نه ډېره اندیښنه درلوده، د دې عدم توجه دلایل ئې په مکرره توگه او په تفصیل سره بیانول. تقاضا ئې دا وه چي ملوکانه ذات د داسي څه کولو امر وکړي چي په روم کي د المغرب د دربار سفیر لدوی سره تماس ونیسي. د دې لیدني او د دوی د نظریاتو جزئیات به هلته عرض کړم چي ستاسو د ملاقات شرف ترلاسه کړم. خپل لیك نه اوږدوم.

والاحضرت بلقیس د ایراني پستو او وریجو تقاضا درلوده، که ممکن وي د دربار کوم کارمند ته امر وکړي چي د سفارت په نامه ئې راولېږي. د خسروي په لاس مي دوی ته شراب، سیگریټ او نور!! ورولېږل. اعلیحضرت ظاهرشاه په خپله تلفون وکړ او د شاهنشاه د عنایاتو مننه ئې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی تصفیه

پس له هغه چي د سردار داؤد کمونست ملگری پدې وتوانېدل چي د دولت په حساسو ملکي او نظامي مقاماتو کي خپل اعتمادي غړي توظیف کړي، دوی ته دوهم مهم او اساسي کار د خپلو مخالفینو تصفیه وه. دا کار باید له ځنډ نه پرته ترسره شوی وی. د تصفیې لپاره ترټولو د مخه هاشم میوندوال په نښه شو. د کمونستانو له نظره دی ترټولو خطرناك عنصر وو. په داخل او خارج کي د نوم خاوند وو، د دولت د مخالفینو لپاره په یوه مؤثر محور بدلېدی شو. له ملت پاله منورینو سره ئې ښې اړیکي درلودی. امریکا ته د منلو وړ وو. له روسانو سره ئې هم د نږدې اړیکو د ټینگولو هڅه کوله. کمونستانو ډېر د مخه هغه د "CIA" د جاسوس په حیث معرفیکړی او د ده په ضد ئې پراخ تبلیغات کړي وو. له کودتا نه لا څو اونۍ نه وې تېرې شوې چي د ده کور تر نظارت لاندې ونیول شو، ده سردار نعیم د داؤد ورور ته شکایت وکړ، خو گټه ئې ونکړه. له کودتا نه دوه میاشتي وروسته د سنبلې د میاشتي په ۲۹ د کودتا په تور له ۴۲ نظامي او ملکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو سره ونیول شو. مهم نیول شوي نظامیان دا وو:

خان محمد خان مرستیال، ډگرجنرال عبدالرزاق، جنرال گلبهار، جنرال عبدالسلام ملکیار، جنرال نیك محمد سهاك، جنرال محمد رحیم ناصری، ډگروال زرغون شاه، ډگرمن نقیب الله، ډگرمن نوراحمد خان، ډگرمن سید هاشم کامه وال، ډگرمن محمد اکبر، ډگرمن محمد اکرم، ډگرمن ممتاز.

لاندې مخور قومي مشران او تجاران هم د همدې کودتا ترنامه لاندې ونیول شول:

سیف الرحمن خان د ولسی جرگې غړی، محمد عارف خان شینواري، جنت خان غروال د پښتني تجارتي بانك رئیس، د عبدالحکیم خان کتوازی دوه ورونه، سعدالله کمالي د مهمندرې وکیل، حاجي الله گل هودخیل او ورورئی مولی‌گل، حاجي حنان ځائی، حاجي فقیرمحمد خان او الله نظر خان د ستوخیل.

اکثر نیول شوي کسان ئې هماغه قلعه جدید ته راوستل چې موږ پکې اوسېدو. د قلعه جدید یوه برخه ئې د دوی لپاره تخلیه کړې وه. د شپې له خوایې دوی ورته راوستل، موږ د دوی له وهلو ټکولو او دردوونکو چیغو نه پوه شوو چې دلته ئې داسې بندیان راوستی چې په کودتا تورن دي. وهل ټکول هومره وحشیانه او چیغی‌کوکاری هومره دردوونکې وې چې گمان موکاوو ځیني به حتماً په همدې دوران کې له وهلو ټکولو مری. ډاکتر محمد عمر شهید په یوه دیوال وخوت او له کړکۍ نه ئې د یوه بندي د حالت د لیدو هڅه وکړه، موفق شو، د هغه پرېشان حالت ئې په سترگو ولید، تپوس ئې وکړ چې دا ولې؟ هغه ورته وویل: زه بې گناه یم، له خپل کور نه ئې راوستی یم، د کودتا په تور، دا مې حالت دی... راکوز شو او موږ ته ئې د خپلو سترگو لیدلی حالت بیان کړ، ویل ئې له ډېرو وهلو ئې سترگې پړسېدلې، مخ ئې تك شین وو او ویني ورباندې بهېدې.

د میزان د اتمې په ماښام مو له کابل راډیو نه واورېدل چې محمد هاشم میوندوال له خپلې نیکتائی نه په استفادې سره ځان وژنه کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې وحشیانه تصفیې په هکله ځو خبرې د یادونې وړ دي.

• د کودتا خبره هسې یوه خندونکې ډرامه وه چې پرچمیانو جوړه کړې وه. دوی د خلکو د غولولو لپاره داسې یو جعلي لیك خور کړ چې په پېښوری پښتو لیکل شوی وو او په هغه کې یوه نا معلوم پاکستاني مقام مولوي سیف الرحمن د شنوارو وکیل ته لیکلی وو چې که خلك د داؤد په هکله ستاسو دا تبلیغات نه مني چې کافر شوی، نو ورته ووایاست چې: کودتاچیان خدای نه منونکي پرچمیان دي!

ما ته د هغې دورې یوه مهم شخصیت چې د نوم نه ښرگندولو وعده مې ورسره کړې، پدې هکله وویل: دا خط د مصئونیت ملي یوه داسې افسر لیکلی وو چې د شنوارو اوسېدونکی وو او اوس په پېښور کې مېشت دی. دا کودتا سل په سلو کې جعلي وه. ټول هغه کسان ښه پېژنم چې دا ډرامه ئې د میوندوال د نیولو لپاره جوړه کړې وه.

د دې کسانو نیونکي، تحقیقات کوونکي، تعذیبونکي او محاکمه کوونکي ټول پرچمیان وو. د میوندوال نیونه د جنرال نبي عظیمي په لاس ترسره شوې، د وهلو ټکولو دنده ئې د صمد اظهر په غاړه وه، تحقیقات ئې هغې ډلې ترسره کړې چې عبدالقدیر د ژاندارم او پولیس قومندان ټاکلې وه او محاکمه ئې د هغې عسکري محکمې لخوا وه چې سرور نورستاني او د نبي عظیمي په شان پرچمي ئې غړي وو.

نبی عظیمي پدې هکله لیکي:

"من بنابر امر مستقیم محمد داؤد روز پنجشنبه حوالی ساعت دو بجه بعد از ظهر به منزل محمد هاشم میوندوال رفته و مؤظف بودم تا نامبرده را با خود به ارگ ریاست جمهوری برسانم. من افراد امنیتی را در مدخل دروازه منزلش که در شهر نو جنوب چهار راهی شهید شهرنو واقع بود جابجا نموده و به نفر خدمت وی گفتم که چه کاره هستم و چه مي خواهم؟ وی بعد از چند لحظه کوتاهی مرا بداخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزل دعوت کرد، در محیط منزل او خاموشي و سکوت عجیبی حکمفرما بود. مرا در یك اتاقك کوچکی که در جنب عمارت اصلي واقع بود رهنمایی کرد، لحظاتی گذشت و بالآخره محمد هاشم میوندوال در حالیکه ریشش را چند روزی نگرفته بود، با چشمان سرخ و آماس کرده و ظاهر نه چندان خوش آیند، به اتاقك مذکور داخل شد و از دیر آمدن خود معذرت خواست. احساس کردم که نامبرده سخت مضطرب گردیده است، پرسید برادر چه کار داشتید. من خودم را معرفي کردم و گفتم رئیس صاحب دولت آرزو دارند تا همین لحظه شما را ملاقات نمایند. او گفت امروز رخصتي است شما بروید و به رئیس صاحب دولت بگوئید که روز شنبه مشرف می‌شوم. اضطراب او وقتی بیشتر شد که من برایش گفتم: صدراعظم صاحب! چون به من امر داده شده است که شما را همین اکنون به نزد رئیس صاحب دولت ببرم بناءً من نمی توانم خلاف امر عمل نمایم زیرا که من یك فرد نظامي هستم. نمی‌دانم در آن لحظات او به چه می‌اندیشید، دقایقی به فکر فرو رفت، به ریش خویش دست کشید و به سر و پای خویش نظاره کرده و بالآخره گفت، برادر پس اجازه دهید تا ریش خود را بگیرم و دریشي بپوشم، من گفتم بسیار خوب، من همینجا منتظر شما هستم. خیال من در مورد اینکه او فرار کرده نمی تواند، راحت بود، زیرا که بصورت غیر محسوس منزل او را محاصره کرده بودم. بعد از چند دقیقه او که دریشي سرمه ئي رنگی پوشیده بود و تر و تازه معلوم می‌شد مرا صدا زد و به سواری موتر به طرف ارگ ریاست جمهوری حرکت کردیم، محمد هاشم میوندوال در طول راه پرسید، قوماندان صاحب من بارها خواهش ملاقات با رئیس دولت را کرده بودم و همکاری بیدریغ خود را حین مسافرتم در خارج به ایشان اعلان نمودم، نمی‌دانم چرا نپذیرفتند و اکنون که روز پنجشنبه است، بدون اطلاع قبلی به این شکل مضحك مرا خواسته اند؟ من که جوابی برای گفتن نداشتم خاموش بودم.

موتر ما در مقابل کوتی باغچه ارگ توقف کرد. میوندوال گفت، رئیس صاحب دولت در گلخانه هستند شما چرا مرا به اینجا آورده اید؟ من چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نداشتم، برایش گفتم که شما بنابر امر رئیس دولت توقیف شده اید"

"زه د سردار داؤد د مخامخ امر په اساس د پنجشنبې په ورځ د ماپښین د دوو بجو په شا او خوا کي د محمد هاشم میوندوال کور ته ولاړم، وظیفه راکړی شوې وه چي هغه له ځان سره د جمهوری ریاست ارګ ته راورسوم. ما امنیتی غړي د ده دکور د وره خوا ته ځای په ځای کړل. دا کور د شهر نو د شهید څلور لاري جنوب ته پروت وو. د ده نفر خدمت ته مي ځان معرفي کړ او ورته ومي ویل چي څه غواړم. ده له څو شېبو ځنډ نه وروسته بلنه راکړه چي کور ته ننوځم. د ده په کور کي عجیب شانته چپتیا وه. زه ئې په یوه داسي وړوکي اطاق کي کښېنولم چي د اصل کور په اړخ کي پروت وو. څو شېبې وروسته محمدهاشم میوندوال پداسي حال کي راغی چي ډیره ئې څو ورځنۍ شوې وه، سترګي ئې سرې او پرېسېدلې او وضع ئې ډېره په زړه پوري نه وه. له وروسته راتلو ئې بخښنه وغوښتله. د ده له وضعي مي داسي احساس کړه چي مضطرب شوی، ویې پوښتل: وروره! له ما سره مو څه کار درلود؟ ما خپل ځان معرفي کړ او ومي ویل: د دولت ښاغلی رئیس غواړي چي همدا اوس له تاسو سره ملاقات ولري. هغه وویل: نن خو رخصتي ده، ته ولاړ شه او رئیس صاحب ته ووایه چي د شنبی په ورځ به په لیدني مشرف شم. خو کله چي ما ورته وویل: صدراعظم صاحب! ما ته امر شوی چي همدا اوس تاسو د دولت رئیس صاحب ته بوځم، زه یو نظامي فرد یم، له امر نه مخالفت نشم کولی. پدې سره د ده اضطراب لا زیات شو. نه پوهیږم هغه وخت ده څه فکر کاوو، څو شېبې په ژوري اندیښني کي ولاړ، په خپلي ډیري ئې لاس راوکاږو، ښکته پورته ئې ځانته وکتل او وئې ویل: نو وروره! اجازه راکړه چي خپله ږیره وخریم او دریشي راواغوندم. ما ورته وویل: ډېر ښه، زه همدلته منتظر یم. لدې ناحیې ډاډه وم چي تښتېدلی نشي ځکه د ده کور مي له شا او خوا په پټه محاصره کړی وو. له څو دقیقو وروسته پداسي حال کي راغی چي سرمه ئې دریشي ئې اغوستی وه او خوښ تازه معلومېدو. ماته ئې غږ کړ، د موټر په سورلۍ د جمهوری ریاست د ارګ په لوري وخوځېدو. د لاري په اوږدو کي میوندوال رانه وپوښتل: قومندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب! ما څو څو ځله د دولت له رئیس سره د لیدني غوښتنه وکړه، خارج ته د سفر په دوران کي مي د ملګرتیا او مرستي اعلان وکړ، نه پوهیږم ولې ئې نه منلم او نن چي د پنجشنبی ورځ ده، دا څنګه له مخکنی اطلاع نه پرته ئې پدې مضحك ډول د ملاقات لپاره غوښتی یم؟! ما د ویلو لپاره څه نه درلودل، نو ځکه ساکت وم. زموږ موټر د ارګ د کوټه باغچه مخي ته ودرېدو. میوندوال وویل: د دولت رئیس صاحب خو د ګلخانې په مانی کي دی تاسو ولې دې ځای ته راوستم؟ ما "نبی عظیمي" بله چاره نه درلوده، هغه ته مي وویل: تاسو د دولت د رئیس په امر توقیف شوي یاست.

- کودتا نه د تجارانو، بډایانو، وکیلانو کار دی او نه هم د جنرالانو. کودتا هغه افسران ترسره کولی شي چي د مسلح قطعاتو قومنده ئې مخامخ په لاس کي وي، د ټولي او کندك د قومندانانو له موافقې او برخي اخیستو نه پرته هیڅوك کودتا نشي کولی. که تاسو د داؤد کودتا او بیا د ثور د اوومي کودتا وڅېړئ و به ګورئ چي په دواړو کي مهمه ونډه د وړو ضابطانو، برید منانو او تورنانو وه. د هاشم میوندوال په څنګ کي د نیول شویو افسرانو یو کس هم داسي نشو موندلی چي عملاً ئې کومه قطعه ترقومندې لاندې وه.

- ویل کېږي چي د کودتا په نامه نیول شوي کسان ټول پښتانه وو. لدې نه په څرګنده معلومېږي چي د کودتا ډرامه د پرچمیانو د هغي ډلي له خوا جوړه شوې وه چي له پښتنو سره د دښمني خپکی ورباندي سپره وه. له پرچمیانو نه پرته بل چا ته ګوته نشي نیول کېدی. همدا دوی وو چي له دین سره د دښمنی ترڅنګ د شدید ژبني تعصب او د پښتنو په نسبت د ژوري کرکي په خبیثی بیماری مبتلا وو.

- له تورنو کسانو نه دا پنځه کسان په اعدام محکوم شول: تورنجنرال خان محمد خان مرستیال، ډګروال سیدامیر، ډګروال ماما زرغون شاه، مولوي سیف الرحمن او عارف شینواری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د بند په مختلفو مودو محکوم شول چي لدوی نه د جنت گل غروال، حنان ځاځی، الله نظر کوچي، الله گل او حاجي مولی‌گل شتمني هم مصادره شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه تصفیه

سردار داؤد او پرچمي ملگرو ئې د دوهمي تصفيې لپاره اسلامي نهضت غوره کړی وو. د سردار د کودتا په ماهيت او د کودتا د روسي حاميانو په موخو پوه کسان پدې ښه پوهېدل چي د هاشم ميوندوال د ملگرو له ځپلو نه وروسته به کودتاچيان د هېواد په اسلامي نهضت بريد کوي او د خپل اصلي او تر ټولو خطرناك هغه حريف د ځپلو لپاره به متې رابډوهی چي د دوی په خاطر ئې د کودتا لار غوره کړه. دوی د سياسي مبارزې په ډگر کي د اسلامي نهضت په وړاندي ماتې خوړلې وه، روسانو ته د دې ماتې پايلي خطرناکي برېښېدې، له وضعيت سره د مقابلې لپاره ئې خپلو برېڅو ته د کودتا امر وکړ،اوس هغه وخت رارسېدلی وو چي د دې خطر د ختمولو لپاره بايد ډېر ژر په دوهمي تصفيې لاس پوري کړي. موږ هره شېبه د همداسي يوه بريد انتظار کاوو. هر چا دا تپوس کاوو چي موږ به لدې حالت سره د مقابلې او د نهضت د ژغورلو لپاره کومه لار غوره کوو؟ د سکوت، سازش او د مجهول مستقبل لپاره د انتظار له سياست سره اکثر غړي مخالف وو، له مسئولينو نه ئې غوښتل چي د دوی سوالونو ته ځواب ووايي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی تشویشونه رفع کړي. زه او ډاکتر صاحب محمدعمر شهید لا د دهمزنګ په زندان کې وو، نورو مسئولینو ورونو د ګڼ شمېر غونډو، جلسو او بېلابیلو پرېکړو نه وروسته، په تنظیمي برخو او د نوي تګلاري په اړه څه تصمیمونه نیولي وو چي تفصیلات ئې په هغي غونډي کي وڅېړل شوو چي له زندان نه د وتلو په لومړۍ شپه مو درلوده.

زموږ د حبس موده تکمیل شوه، له تنګ محبس نه ووتو، خو سردار او د ده پرچمي ملګرو له ټول هېواد نه لوی زندان جوړ کړی وو. ورونو ته مو ویلي وو چي له محبس نه د وتلو په وخت کي به له دوو دریو کسانو نه علاوه نه څوك زموږ له وتلو نه خبروي او نه به استقبال ته څوك راځي. ورونو داسي ترتیبات نیولي وو چي موږ به لومړی په کارته پروان کي د یوه ورور ځای ته ځو او بیا به ماښام له هغه ځایه جمال مېني ته د انجنیر صاحب کریم کور ته ځو. هلته د پنځه کسیزی شوری له غړو نه علاوه ځیني نور فعال ورونه هم رابلل شوي وو، د غونډي په پیل کي نصرتیار شهید، انجنیر حبیب الرحمن شهید ته مخ کړ او له هغه نه ئې وغوښتل چي د غونډي د پیل کولو لپاره څه ووایي، خو هغه دا کار په خپله د نصرتیار صاحب په غاړه واچاوو. د نصرتیارصاحب د تفصیلي خبرو مهمي برخي دا وې:

- تاسو ته ښه راغلاست وایو، په خوشي کېدو مو ټول خوشحاله شوي یو او همدې ته منتظر وو.
- موږ له یوه سخت امتحان سره مخامخ شوي یو، له الله ج نه توفیق غواړو چي پدې امتحان کي ناکام نه شو.
- د سردار داؤد کمونست ملګری به خامخا په موږ ګوزار کوي، د میوندوال نه وروسته زموږ وار دی.
- د دې حساسی‌مرحلې د غوښتنو په حکم مو له ګڼ شمېر داسي کسانو سره ولیدل چي د ملګرتیا طمع تري کېده، خو تاسو پوهېږي چي د خطر پداسیمرحلې کي ډېر کم کسان ملګرتیا ته چمتو کېږي. ځینو په پټو غونډو کي د ملګرتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعدې وکړي، موږ هغوی ته څه وظایف وسپارل، په تنظیم کي د فعالي ونډې اخیستو لپاره مو مکرر وهڅول، نوی تنظیم مو جوړ کړ، خو هغوی نه په خپلو ژمنو عمل وکړ او نه کوم واړه عملي کار ته تیار شول. د یوه داسي کس نوم ئې واخیست چي وروسته په پېښور کي د یوه تنظیم مشر شو او وئی ویل: ده ته مو د یوې مرامنامې د لیکلو او د کوم بل اسلامي تحریك د مرامنامې د ترجمې خبره وکړه، هغه دا وظیفه په غاړه واخیسته خو تر اوسه چي له هغه وخت نه څو میاشتي تېرېږي دا کار ئې ونکړ، هغه د ۲۰ افغانیو په مقابل کي د شرعیاتو د پوهنځي د مجلې لپاره مقالې لیکلی شي خو زموږ لپاره د ترجمې له کار نه هم ډډه کوي. دې نتیجې ته ورسېدو چي لدې نه وروسته لدغو خلکو نه د مرستي او ملگرتیا طمع ونکړو او فقط په خپلو مخلصو ملگرو اکتفاء وکړو.

- موږ د کارونو د ښه تنظیم لپاره انجنیر صاحب حبیب الرحمن د مشر په حیث غوره کړي، متأسف یو چي ستاسو په غیاب کي مو دا کار کړی، موږ بله چاره نه درلوده. غواړو پدې پوه شو چي زموږ لدې پرېکړي سره موافق یاست که څنگه؟

- د داؤد کودتا ډېر خلك همداسي یوه اقدام ته هڅولي، مخصوصاً د فوځ د هغو افسرانو په لیکو کي چي اسلامي احساسات لري او پر هېواد باندي د روسانو د لاس پوځو تسلط نه مني. هغوی هري خوا ته تماسونه نیسي، زموږ له ملگرو سره هم ډېرو کسانو خبري کړې او په ورته اقدام کي د برخي اخیستو اشاری ئې ورکړې. د داسي کسانو شمېر ډېر زیات دی، د فوځ اکثر افسران له کمونستانو نه کرکه لري. کمونستانو چي له بري نه وروسته د بدمعاشۍ کوم سلوك غوره کړی او په ځرگند او ډېر وقیحانه طور د خلکو په دیني او مذهبي شعایرو تېری او استهزاء کوي، د فوځ غیرتی او باایمانه افسران دا وضعیت نشي زغملي.

- تاسو به د څه وخت لپاره کور ته ځئ، امید دی ژر بېرته کابل ته راشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو ارتباطاتو تنظیول په غاړه واخلي.

ما د نصرتیار شهید د وینا په ځواب کي په څو لنډو جملو کي وویل:

- له کودتا نه وروسته د هېواد د وضعیت په هکله ستاسو له تحلیل سره کاملاً موافق یو، د داؤد کودتا په حقیقت کي د کمونستانو کودتا وه چي د روسانو په وینا او مرسته ترسره شوې، د کمونستانو لومړی مأموریت د هېواد د اسلامي نهضت ځپل دي، که موږ او ټول افغان ولس دا حقایق درك نکړواو له دې خطرناك وضعیت سره د مقابلې لپاره عاجل او مناسب اقدامات ونکړو، شاید له داسي عواقبو سره مخامخ شو چي چاره به ئې ممکنه نه وي، د مرکزي آسیا دردناك تاریخ زموږ مخي ته پروت دی.
- موږ ستاسو ټولي مخکنۍ پرېکړي تائیدوو.
- انجنیر حبیب الرحمن شهید ته مي مخ کړ او ورته ومي ویل: موږ ته ووایه څه وکړو، کور ته ولاړ شو که نه، د څومره وخت لپاره هلته پاتې کېدی شو؟

هغه په ځواب کي وویل: تاسو حتماً کور ته ولاړ شئ، خو هلته فقط یوه میاشت تېره کړي او بېرته کابل ته راستانه شئ، وضعیت حساس دی، دلته ستاسو شته والی ضروري دی. ما اطمئنان ورکړ او په همدې سره هغه غونډه پای ته ورسېده. دا باید ووایم چي د هغي تاریخي غونډې له ټولو غړو څخه نن فقط زه او انجنیر کریم د شهادت له افتخار څخه محروم پاتې شوي یو، نورو له الله سره په خپلو ژمنو صادقانه وفا وکړه او د الله په لار کي په شهادت ورسېدل. څه موده مخکي انجنیر صاحب تهران ته راغلی وو او هلته ئې ما ته وویل: په خپل ایمان وبریږم چي د مبارزې ملګری مو ټول په شهادت ورسېدل او زه لا ژوندی یم.

ما ۲۸ ورځي له خپلي کورنۍ سره تېري کړې، که څه هم یو نیم کال وروسته د کورنۍ په لیدو موفق شوي وم، خو د ورونو د وینا مخالفت مي نشو کولی، د دوی له غوښتني سره سم بېرته کابل ته راوګرځېدم. له کورنۍ سره د هغو شپو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو يوه قصه ما ته نه هيرېدونکې ده او گمان کوم چي د مجاهدينو لپاره به ئې اورېدل مفيد وي:

يوه ورځ پداسي حال کي چي د کورنۍ ټول غړي پلار، مور، ورونه، خوندي، ښځه او ماشومان مي او د تره ټوله کورنۍ ئې په يوې خوني کي راغونډ شوي وو، پلار مي راته مخ کړ او وئی ويل: تا دا څه کارونه شروع کړي، ستا ئې له حکومت سره څه، چي ملايان، پيران، شيخان او نور څه نه وايي، د حکومت مخالفت نه کوي، نه اسلام په خطر کي گڼي او نه وضع د اسلام په خلاف بولي، ته څه ته دا خبري کوې، سر له غره سره جنگوې، ولې ځان او ټوله کورنۍ تباه کوې، زموږ ئې له حکومت سره څه، يا لدې کارونو نه لاس واخله او يا دي کډه او ماشومان درسره واخله چي چېري دي خوښه وي هلته ولاړ شه... هر يوه له يوې بلي گوښې دا خبري تائيدولې او ما د ويلو لپاره هيڅ نه درلودل، داسي څه په نظر نه راتلو چي په ويلو سره ئې دوی قانع کړی شم، ساکت او حيران ناست وم او دا خبري مي اورېدلې. تصميم مي دا وو چي په هيڅ صورت کي به له مبارزې نه لاس نه اخلم، خدای ته مي سؤال وکړ چي صبر او استقامت راپه برخه کړي. زه گمان کوم چي د يوه مجاهد لپاره تر ټولو لويه او سخته آزموينه د کورنۍ مخالفت دی. عظيم الشأن قرآن د ابراهيم عليه السلام، نوح عليه السلام، لوط عليه السلام او يعقوب عليه السلام په لارښودونکو قصو کي دغي ستري ابتلاء ته اشاره کړې. زما شهيد پلار پداسي حال کي چي زما له مبارزې سره موافق نه وو، خو زما په خاطر ئې بې شمېره کړاوونه وگالل، درې کلونه ئې د سردار په واکمنۍ کي او پاتې عمر ئې د تره کي او امين د حکومت په دوران کي د زندان په تورو خونو کي تېر کړ او په پای کي د جلاد امين د بې رحمه ملگرو په لاس په ډېر مظلوانه طور په شهادت ورسېدو، هغه ئې د کندز او امام صاحب ترمنځ لويه دښته کې، ژوندی او په داسي حال کي چي په لاس پښو کي ئې زولنې وې په موټر پسې وتاړو او په کشولو کشولو ئې شهيد کړ. له شهادت نه څو اونۍ مخکي ئې د يوه زنداني په لاس ما ته احوال لېږلی وو چي اوس درسره موافق يم او دعا درته کوم. ما ته لاتراوسه نه د ده قبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوم دی او نه زما د دوو شهیدانو وروښو.

کابل ته له راستنېدو وروسته، شهید انجنیر حبیب الرحمن په لومړۍ لیدني کي د فوځ د ځینو مسلمانو افسرانو د تماسونو په هکله راته وویل چي دوی له وضعیت او پایلو ئې ډېر مشوش دي، غواړي ځه وکړي، اکثرو د خپلو هغو خپلوانو له لاري له موږ سره تماسونه نیولي چي زموږ ملګری دي، دوی وایي چي په اردو کي د مسلمانو او با احساسه افسرانو شمېر ډېر زیات دی او کمونستان ډېر کم او د ګوتو په شمېر دی. وطن غوښتونکي افسران له کمونستانو نه کرکه لري، هغوی وطن پلورونکي ګڼي او د دوی له سلطې نه د هېواد ژغورنه غواړي. موږ پدې توافق وکړ چي دې کار ته جدي توجه وکړو.

متأسفانه پس له څو میاشتو، شهید انجنیر حبیب الرحمن له ځینو افسرانو سره ونیول شو، د ده د نیوني په وجه د کارونو چټك بهیر د لنډې مودې لپاره مختل شو، خو الحمدلله موږ پدې وتوانېدو چي هم له ده سره ډېر ژر ارتباطات قائم کړو او هم له هغو کسانو سره چي نه وو نیول شوي، د دوی او د ارتباطی کسانو نومونه ئې انجنیر صاحب د هغه خطونو په ترځ کي ماته راولېږل چي له زندان نه ئې په ډېر احتیاط او مهارت سره رالېږل. خطونه به د لاس پاکولو په نرم کاغذ لیکل شوي او د جامو په ګنډه، ګریوان یا لستوڼی کي به ګنډل شوي وو، لومړی به شفر ولېږل شو او د شفر له رسېدو نه د مطمئن کېدو نه وروسته به خطونه تبادله کېدل. موږ د انجنیر حبیب الرحمن د نیول کېدو په هکله جدي څېړنه وکړه، معلومه شوه چي د ده د فعالیتونو په هکله عبدالمقتدر نومي کس دولت ته جاسوسی کړې وه، د مقتدر د نامه له اورېدو سره مي هغه صحنه سترګو ته ودرېده چي نوموړی مي د مرکزي لیلیی په یوه ګوښه کي له ډاکتر نجیب سره پداسي حال کي په خبرو بوخت ولید چي دواړو یوه بل ته خندل او داسي معلومېده چي دوی نه یوازې په خپلو کي اختلاف نلري بلکي شاید ملګری وي، لدې صحنې نه زما انتباه دا وه چي د مقتدر په هکله باید احتیاط وشي. نه پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي حبیب الرحمن شهید څنګه په ده اعتماد کړی وو او له ځینو اسرارو ئې خبر کړی وو. دا کس د جهاد په وروستیو کلونو کي پېښور ته راغی خو موږ پدې خاطر هغه ته څه ونه ویل چي له جمعیت سره یوځای شوی وو.

ماته دا کار په ډېر سخت حالت کي په غاړه راولوېدو، هره شېبه د دې امکان وو چي د سردار پرچمي ملګری خپل برید پیل کړي او په پراخو نیونو لاس پوري کړي. باید د دوی له اقدام نه د مخه مو څه کړي وی. څو کارونه مي تر ټولو د مخه ضروري ګڼل:

- د اوسېدو څو سري او ډاډمن ځایونه
- له اعتمادي ورونړو سره سري لیدني، لدوی سره د وضعیت په هکله تفصیلي خبري، روحیه ئې معلومول، که پدې ظروفو کي له کار سره موافق وو، نو خاص وظایف ورکول، که په فوځ کي خپلوان لري یا مسلمان افسران پېژني د هغوی د لیدلو او کار ته د تیارولو وظیفه ورکول.
- د اردو له هغو افسرانو سره لیدني کتني چي د ورونړو له لوري معرفي کېږي، مقدماتي خبري ورسره شوې او د کار لپاره ئې چمتووالی ښودلی.

په کم وخت کي موږ ته ډېر مطمئن، فعال او د کار کسان په لاس راغلو. په دوی کي دوه کسان داسي وو چي یوازې دوی د یوه موفق عسکري اقدام لپاره کافی وو:

- جګتورن شیرعلي خان د زرهدارو د څلورمي فرقې رئیس ارکان چي د داؤد په کودتا کي ئې ډېره لویه ونډه وه او اوس په ډېر حساس موقعیت کي وو، دا فرقه د ده په واك کي وه. ده غوښتل خپله مخکنۍ غلطي جبران کړي، پدې ډېر ځورېدو چي په مخکنۍ کودتا کي ئې د داؤد په ګټه برخه اخیستی او نن د هېواد واګی د کمونستانو په لاس کي دي.
- ډګروال ضیاءالدین د هوایي قواوو د su غونډ قومندان، چي زړه ور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



درونند او بادرایته افسر او په خپلو سیالانو کي منلی شخصیت وو. د ده په هکله ما ته شیرعلي خان، کله چي د نوموړي له ملګرتیا نه مو خبر کړ، وویل: یوازې زه او دی د اقدام لپاره کافی وو، تاسو هسي د شمېر په زیاتولو پسي ګرځېدئ!!

په فوځ کي زموږ د ملګرو شمېر او په قطعاتو کي د دوی موقعیت داسي وو چي نه یوازې د بریالي اقدام لپاره کافی وو بلکي د شهید شیرعلي خان په وینا له ضرورت نه زیات وو. متأسفانه د داسي کارونو په اړه هغه فراست او تجربه چي نن ئې لرو په هغه وخت کي مو نه درلوده، د ځینو ورونړو د ټینګار په وجه مو د شمېر د زیاتولو هڅه کوله چي پدې سره د اسرارو د افشاء او د ضعیفو کسانو او حتی د جاسوسانو د نفوذ احتمالات تقویه کېدل. پدې جریان کي زموږ یوه افسر ملګری، لومړی بریدمن صادق د جبل السراج اوسېدونکي، له خپلو دوو داسي وطندارو افسرانو سره تماس نیولی وو چي په ظاهر کي ئې له ده سره د ملګرتیا وعده کړې وه خو په همغه ورځ ئې د خپلو آمرانو له لاري دولت ته اطلاع ورکړې وه، له لوړو مقاماتو نه دوی ته هدایت ورکړی شوی وو چي د مزید معلومات ترلاسه کولو لپاره هم له ما سره د ملاقات غوښتنه وکړي او هم د مسئولینو په سطح په ګډه غونډه ټینګار وکړي. ما له دوی سره ولیدل، یو ئې جګتورن عزیزالرحمن د قوای مرکز افسر او بل ئې جګتورن خلیل د مهتاب قلعی د توپچی افسر وو. دولت په موږ باندي خپل دوهم ګوزار او زموږ په ډله کي د پراخو نیونو پیل په فوځ کي زموږ د ملګرو تر پېژندلو پوري ځنډولی وو، دغو دوو جاسوسانو هغه څه په لاس ورکړو چي د نیونو د پیل لپاره ئې کافی ګڼل. د نیونو لړۍ پیل شوه، د ټولو پېژندل شوو کسانو د نیولو پرېکړه شوې وه، تقریباً پنځه سوه کسان په مرکز او ولایاتو کي ونیول شول، چي چا د ظاهرخان په وخت کي په کومي غونډې او مظاهرې کي یا خبري کړې وې، یا ئې شعار ورکړی وو، په کومي ورځپاڼی کي ئې له اسلام نه دفاع کړې وه او د کمونستانو په ضد ئې څه لیکلي وو، په جومات یا مدرسه او مکتب کي ئې پدې اړه څه ویلي وو او پرچمیانو پېژندلي وو، ټول په یوه وخت کي ونیول شول، د دوی په خپلوانو ئې هم رحم ونکړ. زما د نیولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه شپه د فرزې په ولسوالۍ کې د میر صفی الله پاچا کور ته راغلل. ما لدې نه یوه شپه د مخه خوب لیدلی وو چې د پاچا صاحب کور د کوماندو او پولیسانو له خوا محاصره شو، خو زه د کور شرقي لوري ته یوه گڼ باغ ته واوښتم او له محاصرې نه ووتم، د همدې خوب په وجه مې دا شپه په بل ځای کې تېره کړه، سحر مې لمونځ په لومړی وخت کې وکړ او په تیاره کې د دې کور په لوري راوخوځېدم تر څو وگورم چې که له مرکز نه څوك راغلي وي او د وضعیت په هکله مې خبر کړي. چې کله د کور خوا ته راورسېدم نو د کور مخې ته د حوض په غاړه، تر ونو لاندې مې څه کسان ولیدل، گمان مې وکړ چې دا به زموږ ملگري وي چې له کابل نه به راغلي وي، حال دا چې دوی د ولسوالۍ مربوط پرسونل وو او له کابل نه راغلې مسلح قطعې له ځان سره دلته راوستې وو، مسلح کسان کلا ته ننوتي او د کور په تلاشي لگیا وو، د دې کسانو له منځ نه د ولسوالۍ د امنیې قومندان راووت او پر ما ئې غږ وکړ چې دریش!! ما د ټوپك لټ وواهه او ورپسې مې تفنگچه راوایسته او گولۍ مې پکې تېره کړه، د امنیې قومندان ځای په ځای ودرېدو او زه لکه څنگه چې مې په خوب کې لیدلی وو د هماغه باغ له دیوال نه واوښتم او د غره په لوري ولاړم.

د نیونو د پیل په شپه زه د شیرعلي خان په کور کې وم، هغه د استخباراتو بې دریشې کسانو مازدیگر له خپل کور نه بیولی وو، زه د ده له نیولو نه وروسته د ده کورته راغلم، له نفرخدمت نه مې د ده تپوس وکړ، راته وئی ویل چې له څو کسانو سره ووت، شاید راشي، زه هملته منتظر پاتې شوم، شپه مې تېره کړه، سحر له کور نه د وتلو په وخت کې متوجه شوم چې دا کور د استخباراتو له خوا تر څارنې لاندې دی. نور بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مات وزرو خیل کې

هغه شپه مې هېره نه ده
آ سړه، تیاره اوږده
ټول په ژور خوب وو ویده
هره خوا چوپه چوپتیا
هد برې شانته فضا
*****
د ژوندو دې هد برې کې
نه خوځښت شو چا لیدلی
نه ئې ځوږ شو اورېدلی
د مات ځلې په سر ناست کونګ
وازو سترګو سره ویښ وو
خو ساکت او یخ وهلی
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينکۍ فاختې وې غلې
برگ کارغان شور نه لوېدلي
وزر مات د عقابانو
جگ پرواز نه وو لوېدلي
*****
سيلۍ يخې د سرې شپې
که هيبت د دې تيارې شپې
د ويدو د خوځولو په خاطر چا
د پرتو د هځولو په غرض چا
نه پوهېږم چا راويښ کړم؟
نه پوهېږم څنگه ويښ شوم؟
****
د ويدو د ويښولو
د پرتو د هځولو
د کاروان د خوځولو
په دې هيله او خاطر مې
خپل وزرونه وڅنډل کلك
په وار وار مې په اوچت غږ
په هرچا او په هر لوري
دا نارې کړلې اوچتې:
که په منډه راويښ نشو خوبولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خوځښت ته تيار نشو يخ وهلو
ټول وزرونه کرخت کېږي
لندې پښې مو کنګل کېږي
ننګين مرګ را ته کمين کي
سور صياد را ته مرصاد کي

*****

باري ربه!
زما دا هيلې دي شېرازه
زما خوبونه دي رښتيا کړل
زما وزرونه دي پياوړي
زما غړونه دي رسا کړل

*****

چي په چا کي څه شيمه وه
په کوم زړه کي د الوت چي تلوسه وه
په وزر کي ئې چي توان د الوتو وو
چي ئې عزم له تيارو نه د وتو وو
زما په غږ شو رابيداره
خپل وزر به ئې څنډلو
د الوت لپاره ځرك او ناقراره

*****

د تياره سباوون هغه شور او ځوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الوت لپاره هغه تياري
د یوه بل د هڅولو هغه هڅي
هله هله له هر لوري په جګ غږ
نه شور ځوږ د دې سحر د هېرېدو دئ
نه داستان د دې سفر د هېرېدو دئ

*****

زه اوچت شو مه له ځمکي،
د سرلوړو خیل په ما پسې
ځني نه پرته ټول اوچت شوو په هوا کي
هر يو پوه چي اوږد سفر لرو په مخکي
جګو غرو نه اوښتل لرو په مخکي
خړي وربځي مو په لار کي
د رڼا په لوري تګ دئ له تور تم نه
د خپلواك او ډاډه ژوند او تودې هيلي
ګران سفر دئ له ټاټوبي د ماتم نه

*****

ما ويل له دغو تورو غرونو آخوا
آ د سره شامار د ځالي،
جګي ځوكي د مغرور غره
سر كوو بل لور ته اوړو
د سفر ياران هك پك شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځوك چې خپل وزر کې
نه د لوړ پرواز زور ګوري
نه سینه کې د اوږده سفر شور ګوري
خو نه کوز شول نه په شا شول
نه له خیل څخه جلا شول

*****

د نګ دنګ غرونه ټول زموږ تر نظر لاندي
لوړې څوکې ټولې زموږ تر وزر لاندي
ټولو غرونو نه تېر شوي
مزل پای ته نږدې شوی
سرمنزل راته له لرې ځان ښودلو
زړونه شوق نه دربېدلو
رڼې اوښکې د شادۍ مو
په لېمو کې رغړېدلې

*****

ناڅاپي له یوې ګوښې نه
یوه بوډا ، ضعیف، طماع
په پریوتي غږ ناري کړې
د سفر سترو ملګرو!
نور وزر نشو وهلی
نور مزل نشو کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوې ساه خو اوږد مزل نشو وهلی
مگر نگورئ چي لاندي په دې خوږ کي
د مرغانو سیل کوز شوی
که له رنگه تور تور برېښي
خو زموږ له خپله بریښي
*****
اندیښنې ئې راپیدا کړې
دې بلني د سترړیا او کوزېدا
له ضعیف زړه خوتېدلې دې وینا
مخ مي واړاوو ملگرو ته چي پام کړئ
د سفر صبور ملگرو اوچت گام کړئ
نه دا ځای د کوزېدو دئ
نه دا خیل د ملگرتیا
نور نو یو وزر وهل دئ تر هدفه
نور نو یوه ساه اخستل دئ تر تم ځایه
****
د ضعیف په رفاقت کي
د طماع متابعت کي
یو په بل پسې داسي کوز شول
چي ئې نه کتل زما خوا ته،
نه ئې غوږ وو زما وینا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ئې پام وو د دې ډلي دود دستور ته
چي له خپل امام نه مخکي کوزېدل ئې
حرام کړي دي هر چاته
*****
له ناچاري ورځې زه هم
هلته کوز شوم
پریشانۍ او اندیښنې کي
د سپېره ډاگ یوې گوښې کي
*****
کله زړه راته ویل چي دا خپل پرېږده
له درنې کرکي نفرت سره اعلان کړه
بې زاري د نیمې لارې له یارانو
یا پرواز کړه د الله په لور یوازې
یا په لټه د بل خپل شه
د ملگرو مصممو وفادارو
*****
زه لا نه وم فارغ شوی له دې فکره
چي ناڅاپه ډزې پیل شوې
له ښي لورې، له کیڼ لورې
له شماله، له جنوبه
له ختیزه، له لوېدیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغو لوریو هم
چي پناه ځای به مو ګڼلو
ځیني پرېوتل په ځمکه
ځینو وخوړل سرونه
د چا ماتې دواړه پښې شوې
د چا مات شولو وزرونه
ځیني والوتل پښې ماتې، وزر مات
سرو مرمیو ئې بڼکي سوځولې،
د دښمن ناڅاپه ډزو وېرولي
زه هم والوتم ناچاره
د مات زړو، مات وزرو په دې خېل کي
دا دئ ګورئ د هدف په لوري درومو
*****
په دې هیلي چي دا خېل به بیا جوړېږي
د وفا صفا یاران به بیا غونډېږي
تش ځایونه به ډکېږي
دا کاروان به روانېږي
هغه تول به ئې په لیکو کي ودرېږي
چي پیاوړي ئې وزرونه
له شوق او میني ډك ئې تاوده زړونه
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بی رحمه ګاونډی

ګاونډیه خو بې رحمه!
له میړاني او حیاء نه عاري خصمه!
د مظلوم ګاونډ په ضد دې
له ظالم سره لاس مل کړ
د خپل قصر له جګ بام دې
زما جونګړې کې اور بل کړ
د دې اور د لګولو اورلګیت دې
زما ناپوه ماشوم په جیب کې واچولو
د تالان لپاره راغلې
په پلمه د اور وژلو
*****
د دې مېنې په ویجاړو سردرو کې
سوځېدلي ئې کورونه
نسکور شوي دیوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه مات څلي په څنګ کي
د یوې وچي وني لاندي
ورانې شوې خوني خوا کي
څو شېبې مي آرام پرېږده
لږ د غور فرصت راکړه
یا د کرکي د اظهار لږ مهلت راکړه
له هغو چي ملك ئې وران کړ
په خپل ولس کي ئې د وینو سیل روان کړ
زما د کلیو ورانولو په بها ئې
زما د ورونو د وژلو په قیمت ئې
د غلیم پوره ارمان کړ

*****

لږ مي پرېږده د ستومانه خلکو خوا کي
چي جګرو ځورولي،
فقر وېرې کړولي
ځوریدلي لږ د زړه خواله ته پرېږده
شړل شوي لږ خپل کور کاله ته پرېږده
له یوه بل نه ئې د درد پوښتو ته پرېږده
د زخمونو د علاج پوښتو ته پرېږده
پلار د زوی د پرهارو لیدو ته پرېږده

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وران هیواد چي تل ئې په لمن کي
کله ګورو طوفانونه له ختیځه
کله تېزې سیلۍ راشي له لوېدیځه
کله سره سیلونه راشي له ښي لوري
کله واورو د مرګ چیغې له چپ لوري
ټول کورونه راویجاړ کړي
ټولې ځالې کړي راورانې
لږ موقع راکړه چي ووایو په جګ غږ
لږ خاموش شئ سرو اورونو
لږ آرام شئ طوفانونو
ترڅو جوړې ورانې ځالې
ترڅو جوړ کړو وران کورونه
ترڅو وښندو له مخ نه تور ګردونه

*****

ما تاوده سلام ته پرېږده
د سر لوړې سروې پښو کي
چي ئې سر وي تل اوچت
مخ ئې تل د آسمان لور ته
چي ئې نشي طوفانونه لړزولی
نه سیلۍ ئې شي د ملا تیر کږولی
نه سیلاب ئې شي له ځایه خوځولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

د ښو ماتو وزر سوو په دې خېل کې
چې ئې ځالې طوفانونو ورانې کړې
سرو اورونو ئې منګولې وریتې کړې
نه د ونو په شاخونو کښېښستی شي
نه وهلی شي وزرونه
نه ګامونه اخیستی شي
پرېږده واورو فریادونه یو د بل
پرېږده پاك کړو سره وزرونه یو د بل
د دعا او اسوېليو په څپو
اووم اسمان کې د عرش ور وټکوو
او په چیغو چیغو وغواړو له خدایه
دا تیاره شپه مو سبا کړې
د دښمن دا سرې لښکرې ټول په شا کړې
زموږ دا مېنه نور خوندې کړې
له سیلیو له طوفانه
د دې مېنې زیږی منی
ته تلپاتې پسرلی کړې
او سمسوره پسرلی ئې
ته ایمن کړې له خزانه
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ګیله له غلیم نشته

زه که ژاړم نو د دوست نادودې ژاړم
آ چې غوړې کې ورته وویل غلیم پټ:
که ښیرازه ژوند دې خوښ وي زموږ خوا کې
که زموږ له غېږ نه غواړې ځان پناه کې
د یاغیانو د باغیانو قطار پرېږده
د سرتېرو ، بې پرواوو قمار پرېږده
د غلیم په وینا بېل شو له دوستانو
په غوږو ئې کړه حلقه د غلامانو
دښمن خپل ټوپك د ده په اوږه کېښود
زموږ په لوري ئې خپل لاس په ماشه کېښود
دا دئ زموږ وزرونه پښې ئې کړې راماتې
وروستي نسل ته ئې تور تاریخ کړ پاتې

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


عنوان — صفحه

د ناشر وينا ----------------------------------------------------------أ
سريزه------------------------------------------------------------ ۱
نادري کورنۍ څنگه قدرت ته ورسېده؟ ------------------------------------------ ۷
د نادر خان پاچايي ---------------------------------------------------- ۲۱
د ظاهر خان واکمني -------------------------------------------------- ۴۱
شاهي نظام او د يموکراسی --------------------------------------------- ۲۷
اساسي قانون او سياسي احزاب------------------------------------------ ۸۲
د کمونستانو په وړاندي عکس العمل ----------------------------------------۱۰۴
د مبارزې پرېکړه-----------------------------------------------------۱۰۸
نشرات-----------------------------------------------------------۱۲۲
د پوهنتون سياسي فضاء ---------------------------------------------۱۲۸
د تودو مناقشو بحثونه -----------------------------------------------۱۴۲
د قرآن بې حرمتی ---------------------------------------------------۱۷۷
د محصلينو اتحاديه -------------------------------------------------۱۸۱
له موږ او نورو سره د دولت چلند -----------------------------------------۱۹۴
د اسلامي نهضت قيادت -----------------------------------------------۱۹۲
کمونستانو د نښتو لار غوره کړه------------------------------------------۲۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توقیف شپې ورځې -----------------------------------------------۲۱۵
د سردار داؤد کودتا ------------------------------------------------۲۲۵
لومړۍ تصفیه -----------------------------------------------------۲۳۲
دوهمه تصفیه -----------------------------------------------------۲۴۳
د مات وزرو خیل کي ----------------------------------------------۲۵۲
بی رحمه گاونډی ---------------------------------------------------۲۶۱

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library